قَالَ تَعَالَىٰ: ﴿مِّنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا۟ مَا عَٰهَدُوا۟ ٱللَّهَ عَلَيْهِ ۖ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُۥ ۖ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوا۟ تَبْدِيلًا ﴿٢٣﴾﴾ [الأحزاب: ٢٣].

**شهيد امير المؤمنين**

# ملا اختر محمد منصور - تقبله الله-

**شخصيت، زعامت او كارنامې**


**ليكـــوال: ببلابېل عالمان، څېړونكي او قلموال**

**مرتـــب: ســـيد شـــريف**

## دکتاب ځانګړتیاوې


**نوم:** شهید امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور رحمه الله

**لیکوالان:** بیلابیل عالمان، څېړونکي او لیکوالان

**ترتیب :** سید شریف

**چاپ کال:** ۱۳۹۷هش،تله /۱۴۴۰هق،صفر المظفر

**چاپ وار:** لومړی

**تېراژ:** ۲۰۰۰

**خپرونکی:** فرهنګي کمیسیون

**چاپ او ترتیب:** د ژباړې او تالیف اداره

# إهداء

هغه یتیم طالب ته چې دسرو لښکرو قطارونه یې تارومار کړل.هغه قوماندان ته چې داسلامي انقلاب تر بریالیتوب وروسته یې وسله کښښوده، تعلیم او تعلم ته یې ملاوتړله. دخړې حجرې هغه اتل طالب ته چې دګران هیواد له ۹۵سلنې یې د شر اوفساد کرغیړن ټغر ټول کړ. هغه عادل امیر ته چې عدالت او امنیت ته یې نړۍ کوته په غاښ شوه.هغه امیرالمؤمنین ته چې له پیړیو وروسته یې اسلامي نظام نافذ کړ. دیویشتمې پیړۍ هغه مجدد ته چې دنړیوال صلیبي یرغل پر ضد یې جهاد اعلان او پیل کړ.داسلامي نړۍ هغه ستر محسن ته چې خوبوړې ضمیرونه یې بیدار کړل اودخپلواکۍ روحیه یې پکې پوه کړه.هغه ستر مجاهد ته چې دحي علی الجهاد نارې یې داستعمار په ځنځیرونو تړل شوي فکرونه او جبن ځپلي زړونه قربانۍ ته چمتو کړل. هغه عُمر ته چې د عمرینو دعدالت یاد یې تازه کړ او په ثالث عمر ونومول شو.

هو! همدغه ارزښتمن کتاب داسلامي امارت دمؤسس مرحوم امیرالمومنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه اللّٰه پاک روح ته ډالۍ کوو .

# لړليک

د خپرونکې اداري يادښت ..... ۱
د کتاب دترتيب په اړه څو خبرې ..... ۳
د شهيد اميرالمؤمنين ملا اخترمحمد (منصور) ﷺ ژوندليک ..... ۵

## لومړی څپرکی

### دشهيد اميرالمؤمنين رحمه الله ويناوې، پيغامونه او داسلامي امارت دمشرتابه اعلاميې، تاثرات او خاطرې

د اسلامي امارت د نوي امير د ټاکلو په اړه د اسلامي امارت د رهبري شوری اعلاميه..... ۲۶
د بيعت اخيستلو په غونډه کې داسلامي امارت دنوي زعيم ملا اختر محمد منصوردوينا متن .....۲۸
سلګونو جهادي مشرانو، علماء کرامو او مخورو داسلامي امارت له نوي ټاکل شوي زعيم سره بيعت وکړ ..... ۳۸
د اسلامي امارت د نوي امير له طرفه د ټولو بيعت کوونکو له بيعت کولو څخه دقبوليت او مننې پيغام ..... ۴۰
ټولو مجاهدينو وروڼو ته د اسلامي امارت د زعيم پيغام.....۴۲
دنيکمرغه لوی اختر د را رسېدو په مناسبت د اميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور حفظه الله پيغام.....۴۴
د ولسي درنښت او انساني کرامت ساتل شرعي او اخلاقي مکلفيت دی..... ۵۳
د کندز ښار د فتحې په مناسبت د اسلامي امارت دمقام اعلاميه..... ۵۵

د اسلامي امارت زعيم اميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور حفظه الله مجاهدينو ته د مخابرې له لارې ارزښتناکه وينا وکړه ..... ۵۸
د مجاهدينو کلنيو شرعي دورو ته د اميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور (حفظه الله) پيغام ..... ٦٠
استشهادي مجاهدينو ته د اميرالمؤمنين منصور صاحب ليک .....٦٦
د اميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور د شهادت او نوي أمير د ټاکنې په اړه د اسلامي امارت د رهبري شوری اعلاميه .....٧٠
د شهيد اميرالمؤمنين د شخصيت او کارنامو په اړه داسلامي امارت د محترمو مرستيالانو تأثرات.....٧٤
د شهيد اميرالمؤمنين په هکله د اسلامي‌امارت د مرستيال خليفه صاحب الحاج ملا سراج الدين حقاني حفظه الله تأثرات: .....٧٤
دشهيد اميرالمؤمنين په هکله د اسلامي امارت د مرستيال مولوي محمديعقوب (مجاهد) حفظه الله تأثرات .....٧٦
د شهيد اميرالمؤمنين د شخصيت او کارنامو په اړه د اسلامي امارت د ويانديانو تأثرات ۸۰
د شهيد منصور صاحب د شخصيت په اړه د اسلامي‌امارت د ويانديبح الله مجاهد تاثرات ..... ۸۰
د شهيد منصورصاحب دشخصيت په اړه د اسلامي‌امارت د ويانديقاري‌محمد يوسف احمدي تاثرات.....۸۲
له يرغلګر دښمن څخه دشهيد اميرالمؤمنين دشهادت دانتقام يوه بېلګه ..... ۸۳
د پسرلنيو منصوري عملياتو د پيلولو په اړه د افغانستان د اسلامي امارت اعلاميه ..... ۸۸
شهيد اميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ د خپل ولس په غم کې ..... ۹۱

## دوهم څپرکی

### د شهید امیرالمؤمنین ملا اخترمحمدمنصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ دزعامت، خدمتونو او دجهادي صف دوحدت په اړه دځپړونکو، پوهانو او لیکوالو شننې، مشورې او څېړنې


طالبانو د څو پیړیو سیاسي بدعت ختم کړ ..... ۹۷
داسلامي امارت د نوي زعیم څو مواصفات ..... ۹۹
د ملا اختر محمد منصور په اړه زما څو یادونې ..... ۱۰۲
د اسلامي امارت د نوي امیر د لومړۍ غږیزې وینا ارزښتمن پیغامونه ..... ۱۰۴
د طالبانو نوی امیر، ټاکنه، اعتراضونه او ځوابونه ..... ۱۰۶
د طالبانو نوی زعامت هوښیار او زیرک دی! ..... ۱۱۴
د اسلامي امارت له خیرخواهۍ او تدبر مالامال موقف ..... ۱۱۶
د طالبانو نوی بدلون، د اټکلونو او حقایقو په رڼا کې ..... ۱۲۱
د ملا محمد عمر وفات او د دښمن تبلیغات ..... ۱۲۶
که متحد اسلامي امارت نه وي نو څه به وي؟ ..... ۱۲۸
اشغالګر او د کابل اداره زمور په ګران هیواد کي سوله نه غواړي ..... ۱۳۳
طالبان د صف د وحدت لپاره څه باید وکړي؟! ..... ۱۳۷
مجاهدین دې دا خبرې د زړه په غوږو واوري! ..... ۱۴۰
مور ولې په اسلامي امارت عاشقان یو ؟! ..... ۱۴۴
د دښمنانو څرګندونې د امیرالمومنین شخصیت پیاوړی کوي ..... ۱۴۶
طالبان اوس هم په خپل اتحاد ویاړي ..... ۱۴۸
طالبانو کې رهبري څومره مهمه ده؟ ..... ۱۵۰

## دريم څپرکی

**د شهيد اميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ دشخصيت، زعامت، کارنامو او شهادت په اړه د بيلابيلو عالمانو، شنونکو او ليکوالو تاثرات، خاطرې، څېړنې او ارزونې.**

أميرالمؤمنين شهيد شو... ..... ١٥٤
آه رهبر شهيدم... ! ..... ١٥٦
احمق دښمن ته سر خلاصی ليک ..... ١٥٩
د أميرالمؤمنين په شهادت دښمن ته ګټه که تاوان ورسېد؟ ..... ١٦٢
وا منصوراه...! ..... ١٦٤
د جهاد قافله د اميرانو او مشرانو په وژل کېدو کمزورې کيږي؟! ..... ١٦٧
ژوند دي هم افتخار و او شهادت دي هم افتخار دی ..... ١٧٠
هغه أمير چې په ديدن يې سيراب نه شوو ..... ١٧٣
د امريکايانو پيغام او د طالبانو ځواب! ..... ١٧٩
يک ديدار تا هميشه... ! ..... ١٨٢
هغه امير چې طاغوت ترې وېره لرله ..... ١٨٥
منصور صيب، ما وبښه! ..... ١٨٧
اسلامي امارت او نوی مشرتابه ..... ١٩١
د شهيد قايد څو ځانګړنې! ..... ١٩٣
د طالبانو د مشر د شهادت په اړه څو ناويلي حقايق! ..... ١٩٧
پر افغانانو د ملا منصور شهيد احسان ..... ٢٠٣
منصور په ژوند هم مظلوم او له شهادت نه پس هم مظلوم ..... ٢٠٦

د منصور صاحب څو بعديز شخصيت ..... ٢١٤
مخ را لوڅ کړه جعلي منصور يې که اصلي؟..... ٢١٩
په طالب پوهنه کې ناکام شاګرد ..... ٢٢٣
د اميرالمؤمنين شهادت او د امريکانا معقول وحشي دريځ ..... ٢٢٥
په ننني عصرکي دمسلمانانو دسر تاجونه..... ٢٣٦
د مبتکر قايد د شهادت دردونکې پېښه!! ..... ٢٣٧
د شهيد اميرالمؤمنين قيادي شخصيت .....٢٤٢
د عاليقدر منصور صاحب (رحمه الله) لار او مسير! .....٢٤٤
مورِ تلپاتې نړۍ ته په همدغه لاره ورځو! ..... ٢٤٧
ملا اختر محمد منصور تاريخي طالب رهبر .....٢٥٠

## څلورم څپرکی

### دشهيد اميرالمؤمنين د شهادت دلومړي تلين په مناسبت د څېړونکو او ليکوالو تاثرات، څېړنې او ارزونې

شهيد منصور د افغان مقاومت نوښتکره څېره..... ٢٦٦
ملا اخترمحمد (منصور) د محراب، سنګر او دفتر نوښتګر نابغه .....٢٦٩
د شهيد امير المؤمنين د قيادي شخصيت په اړه څو ټکي... ..... ٢٧٣
دامير المؤمنين ملا اختر محمد منصور له ويارِ نه ډکې کارنامې! ..... ٢٨٣
يا ته کوم خوب وې يا مونږ لا ويده يو!! ..... ٢٨٥
حاوي شخصيت... ..... ٢٨٧
د منصور صاحب سره دانډيوالۍ عجيبې خاطرې .....٢٩٢
شهيد منصور رح، د امارت او ملت لپاره څه وکړل ؟! ..... ٢٩٥

منصور؛ رهبری که برای دین خدا کباب شد! ..... ۲۹۸
د اسلامي امارت په تېره دوره کې د شهيد اميرالمؤمنين مقام او خدمتونه..... ۳۰۱

## پنځم څپرکی

### د شهيد اميرالمؤمنين رَحِمَهُ ٱللَّهُ دشهادت ددوهم تلين په مناسبت دنوموړي دخدمتونو او شهادت په هکله د ليکوالو او سياسي شنونکو شننې، معلومات او تاثرات

شهيدمنصور دجګړې او ډيپلوماسۍ اتل .....۳۰۷
شهيد منصور ولې شهيد کړای شو؟! .....۳۰۹
ملا اخترمحمد منصور د خپل بې درېغه زړورتوب قرباني شو.....۳۱۳
شخصيت چند بُعدی وابتکارات جهادی شهيد اميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ .....۳۱۸
کاش چې شهيد رهبر خو مې يو ځل ليدلی وی! ..... ۳۲۶
دررثای منصور! ..... ۳۲۹

# د خپرونکې اداري یادانښت

دفرهنګي کمیسیون دتالیف او ترجمې اداره ویاړي چې (شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور شخصیت، زعامت او کارنامې) په نوم کتاب چاپوي. په دغه اثر کې دشهید امیرالمؤمنین تقبله الله دژوند او خدمتونو په اړه دبیلابیلولیکوالو او عالمانو ګټوري لیکنې او ارزونې را ټولې شوې دي.

شهید امیرالمؤمنین منصور صاحب هغه ستر شخصیت و چې په ډیرو سختو حالاتو او ترینګلو شرایطو کې یې اسلامي امارت په پوځي او سیاسي ډګرونو کې داسي وځلاوه، چې ځلا یې ددښمن سترګې وبرېښولې او دجهادي مقاومت پر پیاوړتیا اعتراف ته مجبور شو. دمنصور صاحب قیادي او شخصیتي ځانګړتیاوو ته په پام د نوموړي دژوندانه پر نظامي، سیاسي، اداري او ټولنیزو اړخونو او شخصیتي ځانګړتیاوو لاډیر څه بایدولیکل شي.

دفرهنګي کمیسیون دتالیف او ترجمې څانګه غواړي دخپلو امکاناتو په چوکاټ کې علمي، جهادي، تاریخي او ادبي کتابونه چاپ او خپاره کړي. همدې اداري څه موده وړاندي مجاهدینو ته دامیرالمؤمنین لارښوونې په نوم اصلاحي کتاب چاپ او توزیع کړ. د فرهنګي کمیسیون دتالیف او ترجمې اداري تر لس عنوانه ډیر علمي، جهادي او ادبي کتابونه چاپ او خپاره کړي اوارادە یې کړې چې په راتلونکي کې د کتاب چاپولوسلسله پراخه او دوامداره کړي. ان شاءالله

الله تعالی دې مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله اوشهیدامیرالمؤمنین منصور تقبله الله د انبیاوو، صدیقینو او شهداوو په انعامونو

ونازوي. ددوی برکتونه دې لوی څښتن پر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظـه الله نـازل کړي. امین!

**دافغانســتان اســلامي امــارت**

**دفرهــنگي چارو کمیــسیون**

**دتالــیف او ترجــمې اداره**

**۱۴۴۰هق،صفر المظفر**

**۱۳۹۷هش،تله**

# د کتاب دترتیب په اړه څو خبرې

درنو لوستونکو ستاسو په لاس کې کتاب دشهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور تقبله الله د شخصیت، زعامت او کارنامو په اړه د بېلابیلو عالمانو، سیاسي څېړونکو او لیکوالانو پرتاثراتو، خاطرو، څېړنو او ارزونو مشتمل دی.

مورِ دخپلو اسلافو، مشاهیرو او غازیانو دژوند او کارنامو په اړه یا خو څه لیکلي نه دي اوکه مو لږ څه لیکلي، نو خلکو ته په رسولو کې یې موفق شوي نه یو. زمورِ له همدې تشې څخه دښمن سوء استفاده کړې، دتاریخي اوتحقیقي څېړنو په عنوان یې زمورِ دنومیالیو دشخصیت او کارنامو په اړه د یوه مثبت ټکي سره لس تورونه او تهمتونه یو ځای کړي. زمورِ داسلافو زرینې کانامې یې دتعصب او دښمنۍ له زاویو داسې سپېرلې چې لوستونکي په ځانګړي ډول ځوان کهول د خپلو اتلانو پر شهکارونوسرچپه قضاوت ته هڅوي.

مورِ دهمدې خلا د ډکولو د یوې وړې هڅې په توګه دصلیبي یرغل پر ضد دروان سپېڅلې مقاومت د دوهم رهبر اتل شهیدملا اختر محمد منصور صاحب دخدمتونو او ژوند په اړه همدغه ټولګه ترتیب کړه.

دغه کتاب دمنصور صاحب تاریخ نه دی، خو بې له شکه چې په منصور پیژندنه اوتاریخ لیکلوکې به یې مرستندوی واقع شي. مؤرخین او محققین په همدغه اثر کې دمنصور صاحب دشخصیت او کارنامو په اړه کره معلومات او دخپل وخت د پوهانو او څېړونکو تاثرات، معلومات او شننې موندلی شي.

دکتاب زیات مواد په مختلفو ویب پاڼو او مجلو کې د پلټنې په واسطه تر لاسه شوي او په کتاب کې د سایټونو دنشر له تاریخ سره سم اوډل شوي دي. مثلا کوم مطالب چې د۲۰۱۶\۵\۲۵مه، یا ۲۶مه او یا۲۷مه په کومه پاڼه کې خپاره شوي په هماغه ترتیب په کتاب کې هم ځای شوي.

ددې کتاب لیکوالان دافغانستان او نړۍ په ښلابیلو سیمو او ښارونو کې اوسي، دامنیتي ملحوظاتو له امله یې لیکنې په مستعار نومونو خپرې کړې دي. موږ هم دا غوره وبلله چې دبیان او مطبوعاتو په حاکم یو طرفه او ظالمانه سانسور کې دهمدې قدرمنو لیکوالو مستعارو او فرعي نومونو ته ترجیح ورکړو.

کتاب دشهید امیرالمؤمنین تقبله الله له ژوند لیک پرته پر لاندې برخو ویشل شوی دی:

دکتاب په لومړي څپرکي کې دشهید امیرالمؤمنین ویناوې، پیغامونه، داسلامي امارت اعلامیې، د شهید منصور صاحب دخدمتونو او شهادت په اړه دمشرتابه بیانونه او تاثرات اوډل شوي دي.

په دوهم څپرکي کې دشهید امیرالمؤمنین د زعامت او کارنامو او دجهادي صف دوحدت په اړه د بیلابیلو عالمانو، شنونکو او قلموالو تاثرات، شننې او څېړنې رایوځای شوې دي.

په دریم څپرکي کې د شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ دشخصیت، کارنامو او شهادت په اړه د ښلابیلو عالمانو او لیکوالو تاثرات، خاطرې، څېړنې او ارزونې دي.

په څلورم څپرکي کې دمنصور صاحب دشهادت دلومړي تلین په مناسبت لیکل شوې مقالې اوتبصرې را ټولې شوې دي او په پنځم څپرکي کې د شهید امیرالمؤمنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ د شهادت ددوهم تلین په مهال دلیکوالانو او څېړونکو له خوا وړاندي شوي نظریات او معلومات راغونډ شوي دي.

په دې هیله چې الله تعالی همدغه کتاب راڅخه قبول کړي او دلوستونکو داستفادې وړ یې وګرځوي.

والسلام

سید شریف

۱۴۴۰\۲\٦هق

# د شهید امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد (منصور) رحمه الله ژوندلیک

د افغانستان اسلامي امارت چې په معاصر دور کې په نړیواله کچه د کفر او استبداد پرخلاف د جهاد او مبارزې یو مستحکم سنګر بلل کیږي تأسیسي قائدین یې لله الحمد په موهوبوي شکل د رهبري او مشرتابه له فوق العاده صلاحیتونو او مهارتونو څخه برخمن وي.

خپله د افغانستان د اسلامي امارت مؤسس مرحوم ملامحمد عمر (مجاهد) رَحِمَهُ ٱللَّهُ د قیادي صلاحیتونو یوه ژوندی مجموعه وه. نوموړي وکړای شول د نړیوال کفر سره د مقابلې په ډګر کې د مسلمانانو د قیادت او رهبري صلاحیتونه په عملي ډول ځینو هغو مجاهدینوته تلقین کړي چې له ده سره په دې لاره کې د الله تعالی د نظام د حاکمیت لپاره ملګري وو.

د نوموړي په قیادت کې عمري جهادي مدرسې ډیر داسې اشخاص تربیه اوروزلي چې هر یو یې دمسلمانانو د قیادت او د عصر په تر ټولو حساسو شرائطو کې د جهادي قیادت پوره وړتیا او صلاحیت لري.

په فکري او جهادي نهضتونو کې هسي هم تر شخصیاتو زیات محوري رول د مذهبي اساساتو وي، هلته هرڅه د جهادي اوفکري انګیزې له مخې تنظیم وي. قرآني ارشادات او د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم او خلفاء راشدینو کارنامې د نهضت د لارویانو اساسي تګلاره وي.

د دغو بابصیرته شخصیتونو او د عُمري مدرسې د متانت لرونکو شاګردانو له جملې څخه یو هم د اسلامي امارت دوهم ټاکل شوی زعیم شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد (منصور) تقبله الله و، چې په عملي ډول یې د اسلامي امارت د قیادت

چارې د عالیقدر امیر المؤمنین په حیات کې پیل کړې او د هغه د وفات تر اعلان وروسته د اسلامي امارت د اهل الحل والعقد (معتبرو اشخاصو، علماء کرامو، جهادي مخورو او ملي شخصیتونو) لخوا د اسلامي امارت د نوي زعیم په حیث وټاکل شو او بیا یې د شهادت تر شیبې په پوره ایمانداري، تدبیر، متانت او میړانه ددغه ستر کاروان د رهبرۍ درنه وظیفه ترسره کړه.

په لاندې کرښو کې د نوموړي ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه کوو هیله ده چې راسره ویې لولئ.

**زوکړه یې:**

شهید ملا اختر محمد منصورد الحاج محمدجان زوی، په ۱۳۴۷هـش ـ ۱۹٦۸ م کال د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ په بند تیمور کلي کې زېږیدلی دی.

داچې د نوموړي کورنۍ د خپلې سیمې په کچه یوه متدینه اوعلم دوسته کورنۍ او جناب والد صاحب یې یو علم خوښوونکی شخصیت و، نو د جناب منصور صاحب د سالمې روزنې لپاره یې هغه ته لومړنی انتخاب د دیني زده کړو ترلاسه کول و.

**زده کړې:**

شهید منصور صاحب په اووه کلنۍ کې د خپل والد صاحب په لارښونه د خپلې سیمې ابتدایي مکتب او دخپل کلي مسجدکې ددیني زدکړوشعبې ته شامل کړای شو، داچې پر نوموړي باندې له ماشومتوب څخه د پوهې، ذکاوت او بصیرت علامې ښکاره وې نو د خپل پلار ترڅنګ د استادانو لخوا هم تر خاصې روزنې او پالنې لاندې ونیول شو.

ځرنګه چې د نوموړي کورنۍ د هجرت په مهال د بلوچستان په ګردي ځنګل کمپ کې اوسېده نو دیني زده کړې یې څه موده همدلته او بیا د پنج پای په سیمه کې ترسره کړې. له هغه وروسته کوټې ښار ته لاړ، څه وخت په کوټه او وروسته یې د عبدالله خان کراس په سیمه کې په یوه مدرسه کې دیني کتابونه ولوستل. وروسته

نوموړی د ديني علومو په تلاش پيښور ته لاړ او هلته يې په کچه ګړۍ او نورو سيمو کې دينی درسونه وويل او وړه دوره يې د پيښور د جلوزو په کمپ کې ولوسته.

هغه مهال چې نوموړی په ديني زده کړو بوخت و د افغانستان سياسي واک د کمونستانو لاس ته ولويد او افغان مجاهد ولس د هغوی پرخلاف اسلامي پاڅون وکړ.

## جهاد او سياسي مبارزه يې:

په کال ۱۹۷۸م کې په افغانستان باندې د شوروي اشغالګرو تر تيري وروسته افغان مجاهد ولس د هغوی پرخلاف اسلامي مقاومت پيل کړ. جناب منصور صاحب چې هغه مهال اتلس کلن و، د يوه تکړه او باشهامته ځوان په توګه ديوه غيرتي مجاهد په حيث يې په شعوري ډول له خپل دين او هيواد څخه د دفاع په غرض د يرغلګرو شورويانو او داخلي کمونستانو په خلاف د وسله وال جهاد لاره ونيوله. نوموړی به د کال په اوږدو کې په ديني درسونو بوخت و او چې سبقونه به يې خلاص شول نو به يې د جهادي جبهو پر خوا مخه کړه.

نوموړي په کال ۱۹۸۵ م کې د جهادي فعاليت لپاره د کندهار ولايت د مشهور جهادي قومندان شهيد قاري عزيزالله جبهه دخپل جهادي سنګر په حيث غوره او د پنجوايي ولسوالۍ په پاشمول سيمه کې يې د افغانستان په کچه د مشهور جهادي شخصيت الحاج ملامحمد حسن اخند چې داسلامي امارت په واکمنۍ کې درياست الوزرا مرستيال و، تر سرپرستي لاندې د شوروي اشغالګرو او داخلي کمونستانو پر خلاف جهادي فعاليت ته دوام ورکړ، د شهيدقاري عزيزالله جبهه دجهادي شخصيت مرحوم مولوي محمدنبي محمدي د حرکت انقلاب اسلامي په تنظيم پوري ملحق وه چې دقاري صاحب تر شهادت وروسته يي دقومندان ملا حاجي محمد اخند په مشرۍ د جهادي رهبر مولوي محمد يونس خالص په اسلامي حزب کې رسميت ترلاسه کړ.

محترم منصور صاحب په کندهار کې د شوروي اشغالګرو او د هغوی د داخلي ملاتړو پر خلاف په ډيرو پوځي عملياتو کې فعاله برخه لرلې اويو ځلې په کال ۱۹۸۷ م

کې دکندهارولایت د ژړې ولسوالۍ دسنځري په سیمه کې دروسانو په یوه ستراتیژیک مرکز باندې دمخامخ عملیاتو په ترڅ کې په داسې ډول زخمي شو چې بدن یې دیارلس ځایه خوږ و، خو الله تعالی ورته شفاورکړه، دوهم ځل بیا د۱۹۹۷ م کال دمی په میاشت کې داسلامي امارت په واکمني کې د مزار شریف په هوایې ډګر کې زخمي شو او په هغه زخمي حالت کې د مخالفینو لخوا اسیر هم شو.

## د طالبانو په اسلامي تحریک کې یې تأسیسي رول:

په کال ۱۹۹۲ م په افغانستان کې د کمونستي نظام تر سقوط او د اخلي جګړو پیلیدو وروسته جناب منصور صاحب د خپلې جبهې د نورو مخلصو مجاهدینو په څیر وسله پر ځمکه کیښودله او د واک پرسر دپیل کړل شوې ناروا جګړې په تداوم کې یې د هیڅا پلوي و نه کړه.

منصور صاحب چې دا مهال یو نوم وتی مجاهد او د مجاهدینو په منځ کې له ښه شهرت نه برخمن و، د یادې سیمې د نورو جهادي شخصیتونو او نظامي قومندانانو لکه مرحوم ملامحمد رباني، شهید ملامحمد آخند، او شهید ملا بورجان په څیر د خپل عادي ژوند په غوره کولو سره له هرډول تنظیمي فعالیتونو څخه لاس په سر او په ځینو علمي او تربیوي فعالیتونو مصروف شو.

په کال ۱۴۱۵ هجري قمري\ ۱۹۹۴میلادي کې چې د امیر المؤمنین ملامحمد عمر مجاهد لخوا د طالبانو اسلامي تحریک تأسیس شو، شهید منصور صاحب دغه مهال په پیښور کې د جلوزو کمپ د هجرت کلي په امینیه مدرسه کې له شیخ الحدیث مولوي شهاب الدین دلاور صاحب او مشهور مدرس مرحوم سید قریش بابا سره سبقونه ویل او ورسره د جنوب غرب حوزې نور هم ډیر طالبان ملګري همدرسه وو. کله چې دوی له رسنیو د طالبانو د تحریک د تأسیس خبره واورېده نو تر خپل منځ یې مشوره وکړه چې ددې نوي تحریک د حقیقت معلومولو لپاره باید څو کسان کندهار ته ولیږي. دوی خپله دوه ملګري ملا محمد قاسم اخند او ملا عبدالسلام محبور کندهار ته راولیږل. هغوی د اسلامي تحریک له مشر او چارواکو سره ولیدل او

له پوره اطمینان او قناعت وروسته یې خپلو د مدرسې ملګرو ته حال راووړ چې دا واقعا د طالبانو او مجاهدینو تحریک دی. له دې سره ملا اختر محمد منصور او نور ملګري یې را روان شول، په کومه شپه چې دوی بولدک ته راورسیدل طالبانو دتختې پول سیمه نیولې وه او د کندهار پر خوا روان ول.

په بولدک کې ملا اختر محمد منصور او ورسره ملګرو طالبانو خپل منځي غونډه وکړه تر څو خپل مشر وټاکي په دې طالبانو کې ډیر داسې کسان و چې وروسته یې په اسلامي امارت کې ستر ستر خدمتونه وکړل لکه د نظامي کمیسیون اوسنی مشر صدر محمد ابراهیم، د هلمند ولایت برحال والي ملا عبدالمنان اخند، د کندهار د هوایي ډګر پخوانی مسؤل ملا محمد قاسم اخند، د شیندنډ د میدان پخوانی مسؤل ملاعبدالسلام محبور، د هلمند پخوانی والي ملا محمد نعیم اخند، د زابل پخوانی والي مولوي مطیع الله صاحب، شهید مولوي احمد جان او نور ډیر مجاهدین او مسؤلین. له سلا مشورو وروسته دوی د خپلو ملګرو له منځه ملا اختر محمد منصور صاحب د خپل مشر په حیث انتخاب کړ او بیا دوی ټولو د هغه تر مشرۍ لاندې په اسلامي تحریک کې شمولیت وکړ او خدمت یې پیل کړ.

نوموړي د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال لاندې وظائف او مسؤلیتونه ترسره کړل.

۱ـ دکندهار ښار له نیولو وروسته نوموړی د کندهار د هوایي ډګر د مسؤل په حیث وټاکل شو.

۲ـ د طالبانو په لاس د کندهار ولایت تر نیول کېدو وروسته په کندهار کې د هوایي ځواکونو او هوایي مدافعي مسؤلیت ورته وسپارل شو.

۳ـ په کال ۱۹۹۶م کې د پلازمینې کابل ترنیولو وروسته د هوایي چلنداوسیاحت وزیر وټاکل شو.

۴ـ له وزارت سره هم مهاله دمرحوم امیرالمومنین د ځانګړي هدایت او حکم پر اساس د دفاع وزارت مربوط د هوایي مدافعې عمومي قومندانې مسؤلیت هم ورته وسپارل شو.

د افغانستان د هوایي چلند او توریزم وزارت په ساحه کې یې یو زیات شمیر عمراني او رغنیز فعالیتونه تر سره کړي چې په مختصر ډول یې د ځینو تذکر کوو:

هغه مهال چې کابل ښار د اسلامي امارت تر ولکې لاندې راغی په دې ښارکې د هوانوردي وزارت تأسیسات او مربوط ملکیتونه د داخلي جګړو له کبله سخت متضرر شوي ول. دا هغه مهال و چې اسلامي امارت له سختو اقتصادي ستونزو او نړیوالو محدودیتونو سره مخ و، خو منصور صاحب په هماغو ترینګلو اقتصادي شرائطو کې لومړی د کابل بین المللي هوایي ډګر او د هغه اړوند تأسیسات ټول له سره ورغول او بیایې د آریانا افغان نړیواله هوایي کرښه د کورنیو او بهرنیو الوتنو لپاره په نړیوال سټنډرډ برابره اومجهز ه کړه.

د هغه په تعقیب یې د کندهار، هرات، ننګرهار، مزار شریف او کندز ولایت هوایي ډګرونه د هرډول ملکي او پوځي الوتنو لپاره اماده او په پرمختللیو وسائلو مجهز کړل. دغه راز یې دافغانستان په دننه کې د شپې او ورځې لپاره د داخلي الوتنو سهولت برابر او له کلونو ځنډ وروسته یې په لومړی ځل په زرګونو افغاني حاجیانوته د اریانا افغان هوایي کرښې له لاري حج ته د تللو زمینه مساعده کړه.

محترم ملا اختر محمد منصور چې د اسلامي امارت د ټولې واکمنۍ پرمهال د هوایي چلند وزیر و د خپل وزارت پرمهال یې دافغانستان د ملکي هوایي چلند وزارت داحیاء او پرمخ بیولو په لاره کې ډیرې هلې ځلې وکړې چې غواړو د مشت نمونه خروار په توګه یې دلته مختصر یادښت وکړو.

جناب منصورصاحب دملکي هوایي چلند د ښې رهنمایي اودنړۍ دنورو هیوادونود ترانزیټ پروازونوپه خاطر چې دافغانستان له فضانه به تېرېدل د (ویست

دستگاه) دافغانستان په بین المللي مشهوروهوایې ډګرونو لکه کابل، کندهار، ننګرهار، مزار اوهرات کې ځا ی پر ځای کړه چې اوس یې هم لیدونکي شاهدان دي، اوهغه مهال یې په میلیونونو امریکایې ډالر دبهرنیو الوتکوله تیریدو نه دټکس په ډول دافغانستان بودیجي ته را تلل چي تر اوسه دوام لري. د هغه مهال د افغانستان د هوانوردی وزارت اوهوایې مدافعې د یوه راپور له مخې د منصور صاحب د وزارت پرمهال شاوخوا ۴۴ بیلابیلې ترانسپورتي الوتکې او جنګي چورلکې چې د جګړو پرمهال زیانمنې شوې او له الوتنې لویدلې وې له سره ترمیم او په ملکي هوایي چلند او هوایي ځواک کې د استفادي وړوګرځولې چې لنډ تفصیل یې په لاندې ډول دی:

ـــ هغه ۴۴ مختلف النوع الوتکې چې د منصور صاحب د وزارت پرمهال له سره ترمیم او رغول شوې عبارت دي:

**ترانسپورتي الوتکې:**

دری این ۱۲ – څلور این۳۲ – دوه این ۲٦

**جنګي الوتکې**

اته جیت میګ۲۱ – دری جیت سو – M٤۲۰پنځه جیت سو۲۲

**هلیکوپتر:**

شپږ می ۸ – اته می۳۵ – پنځه ایل ۳۹

له دې علاوه د ملکي ترانسپورت اړوند یوه روسي ساخته ٤۱ ډوله او یوه این۲۴ او د اریانا افغان هوایي شرکت امریکایي بوینګ الوتکې هم په خپل وخت کې په بهرنیو هیوادونوکې ترمیم اود استفادې وړ وګرځیدې. دغه راز یې ۵روسي ساخته ترانسپورتي الوتکې په ازادبازارکې خریداري او د افغانستان هوایي خدماتو ته وسپارلې.

په دې یوشمیرترمیم شویو اوخریداري شویوالوتکو سربیره هغه مهال افغانستان نورې هم په لسګونو روغې جنګي، ترانسپورتي الوتکې او چورلکې درلودې، چې د یوه

بشپړ هوایي ځواک رول یې درلود او د فعالیت ښه بېلګه یې په کندز او ځینو نورو لري پرتو سیمو کې دمجاهدینو دمحاصره ځواکونواو مختلفو لري پرتومقدموجبهو او جنګي خطونوته دوام داره اکمال او هوایې مرسته بللای شواوهم دهیواد لویو ښارونو او له هیواده بهرته په منظم ډول دمسافر وړونکو الوتکو الوتنې جاري وې. خو دامریکایانو په یرغل او دهوایي ډګرونو په بمبارولو سره دغه ملي شتمني په یومخیز ډول تباه او له منځه ولاړه.

محترم ملا اخترمحمد منصور د اسلامي امارت د واکمني په مهال د جنرال مالک د غداری له کبله په شمال کې څه باندي شپږ میاشتي بندي شو، خو وروسته د الله تعالی په فضل هغه وخت بیرته ژوندی راخلاص شوچي جنرال مالک د جنرال دوستم په بیرته را څرګندیدوسره له فاریابه وتښتیده اوله بندیخانو څخه یې بندیانو ته د وتلو زمینه مساعده شوه.

## د امریکایانو د یرغل په خلاف وسله وال مقاومت:

په ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر په اوومه نیټه په افغانستان باندې د امریکا تر یرغل وروسته محترم منصور صاحب د هغوی په خلاف مسلح جهاد پیل کړ.

د امریکا په ضد د نوموړي د جهاد یو د یاد وړ مرحله د کندهار د هوایي ډګر په شاوخوا کې د امریکایي بمبار په مقابل کې مقاومت او د امریکا له ګوډاګیانو سره مخامخ جنګونه دي چې اوږده موده یې دوام وکړ. د یادونې وړ ده چې امریکایانو خپل لومړنی یرغل او بمبار هم د کندهار له هوایي ډګر څخه پیل کړ. په لومړي ځل یې د هوایي ډګر په ساحه کې د پیچور په نوم د مدافع هوایي دستګاه وویشتله وروسته یې د مرحوم امیر المؤمنین ملا محمد عمرمجاهد کور، دغه راز د هوایي ډګر رادار، ځغاست لیکه او د هوایي ډګر په ساحه کې د شهید منصور صاحب کور او په خاص ډول دده د اوسیدلو اطاق یې په نښه کړ. خو دا چې هلته څوک موجود نه ول چاته تلفات ونه رسیدل.

وروسته چې د پلازمینې کابل په شمول له ډیرو ولایاتو څخه مجاهدینو عقب نشیني وکړه د کندهار په ولایت کې تر یوې میاشتې پورې بیا هم مقاومت روان و. په دې مهال د ګل اغا شیرزي په مشرۍ د امریکا ګوډاګیانو د ارغسان د پله له خوا مسلسلې حملې کولې او دامریکایي الوتکو بمبار هم روان و منصور صاحب او ملګرو یې تر وروستۍ شیبې پورې مقاومت وکړ او بیا بیا یې ددښمن تعرضونه په شا وتمبول.

منصور صاحب دغه مهال چې د امریکایانو سخت بمبار روان و تر هغه وخته چې د اسلامي امارت مشرانو له کندهار ښار څخه د وتلو پرېکړه کوله همیشه دمیدان په شاوخوا کې اوسیده او ددښمن په خلاف یې مقاومت ته ادامه ورکوله. مولوي مطیع الله صاحب وایي دغه وخت ورته د امریکایانو او ګل اغا شیرزي لخوا یو چا خط راوړ چې منصور صاحب ته یې په کې لیکلي وچې: نور راشه تسلیم شه، سر به دې په امن وي او کنه زمونږ زور نلرې او له شکست سره به مخامخ شې. منصور صاحب د دښمن استازي ته وویل چې ورشه ورته ووایه چې څه زور لرئ ټول وکاروئ، زما د تسلیمۍ فکر مه کوئ او نه به هم کله تسلیم شم. خپل وس کوئ او خپل وس به کوم.

مولوي مطیع الله وایي منصور صاحب د کندهار په دفاعي خط کې تر وروستۍ شیبې د مقاومت اراده درلوده یو وخت ورته یوه ملګري وویل چې له میدان څخه به مهمات او درنې مرمۍ دریګ او میوند خواته انتقال کړو. ده ورته وویل چې له هغه ځایه یې بیا نه شو راوړلی تر څو چې یو همدلته به یې مصرفوو.

ملا عزیز الرحمن هم د منصور صاحب اړوند د همدې وخت یوه خاطره ذکر کوي او وایي: په همدې سخت وخت کې چې د افغانستان ډیرې سیمې داسلامي امارت له واکه وتلې وې او یوازې کندهار ښار پاته و او سخت بمبار هم شروع وو، یوه ورځ ورسره له ترنک پله تر ښار پورې په موټر کې ملګری وم نو یې همدا مذاکره کوله چې: حالات ډیر سخت دي، خو باید زمونږ عزم متزلزل نه کړي، دا د الله تعالی تقدیر دی چې کله سړی پاچا وي او کله بیا ګدا شي. دا هر څه د بندګانو دازمویلو لپاره کیږي نو مونږ باید خپله عقیده او عزم ونه بایلو او له دین سره خپل تعهد وساتو.

خو کله چې د اسلامي امارت مجاهدینو له کندهار ښار څخه د وتلو پریکړه وکړه منصور صاحب هم په هماغه وروستۍ ورځ لـه کنـدهار ښـار څخـه ووت او د میونـد ولسوالۍ بند تیمور ته لاړ او د امریکایي یرغل په خلاف یې له سره د جهادي مقاومـت د تداوم هڅې پیل کړې.

د محترم منصور صاحب په جهادي ژوند کې د امریکا په ضـد د جهـاد مرحلـه د ده لپاره له سـختو آزمایښـتونو او چیلنجونـو ډکـه دوره وه. دغـه وخـت نومـوړي تـه د مرحوم امیر المؤمنین لخوا د اسلامي امارت د رهبري شـوری پـر عضـویت سربیـره د کندهار ولایت جهادي مسؤلیت هم وسپارل شو.

دا مهال د کندهار ولایت د افغانستان د نورو ولایتونو په څېر د امریکایانو خلاف جهاد کې یو تکړه، او ماهر جهادي مسؤل ته اړتیالرله ؛ ځکه امریکایـانو د ټـول جنـوب لویدیځ زون په سطحه جنګي پلانونه له همدې ولایت څخه د مجاهدینو په خلاف طرح کول او همدا لامل و چې تر هلمند وروسته د ټول زون په کچه په کنـدهار ولایـت کـې زیات شمیر امریکایي، کاناډایي او نور بهرني یرغلګر ځای پرځای او تر بګرام وروسـته لویه مرکزي اډه یې هم د کندهار ولایت په هوایي ډګرکې فعاله کړه.خومنصور صـاحب دخپل جهادي بصیرت له مخې په کندهار ولایت کې د ټولـو موجـودو خـارجي یرغلګـرو پرخلاف داسې جهادي پلانونه طرح کړل چې د هغوی د وخت مشهور پـوځي جـنرالان او نظامي ماهرین یې له مخنیوي او مقابلې څخه عاجز ول.

په کال ۲۰۰۳ م او ۲۰۰۸ م کې د کندهار ولایت د مرکز ي محبس د مجاهدینو په لاس دوه ځلې په حیرانوونکې توګه ماتیدل چې له مخې یې په دواړه ځـلي مجموعـا تـر یونیم زر زیات اسیر مجاهدین د دښمن له اسارت څخـه راخـلاص کـړای شـول هـم د منصور صاحب د مسؤلیت په مهال تر سره شول. دغـه راز د کنـدهار ښـار تـه څیرمـه سیمو سربیره په جنوبي او شمالي ولسوالیو کې د جهادي قیام پیـل او اطـرافي سـیمې ددښمن له واکه ایستل، په کندهار ښار کې د چریکي ښاري جګړې تداوم، د دښمن په مراکزو د سترو استشهادي عملیاتو ترسره کیدل او ډیرې نورې جهادي کارنـامې هغـه

څه دي چې د شهید منصور صاحب د مسؤلیت په مهال یې په کندهار ولایت کې صورت موندلی.

## د اسلامي امارت د نائب په توګه:

کله چې په۲۰۰۷ م کال کې داسلامي امارت پخوانی مرستیال الحاج ملا عبیدالله اخند د پاکستاني حکومت لخوا اسیر شو، نومرحوم عالیقدرامیرالمؤمنین رحمه الله، ملا اختر محمد منصورداسلامي امارت له بل مرستیال محترم ملا برادراخند سره داسلامي امارت ددوهم مرستیال په حیث وټاکه او دا هدایت یې هم ورته وکړ چې کندهار ډیر مهم دی دهغه ولایت مشرتوب به هم نه پریږدي او دواړه دندي به پرمخ وړي.

په کال ۲۰۱۰ میلادي کې هغه مهال چې د اسلامي امارت یو مرستیال الحاج ملاعبید الله اخند د پاکستاني ځواکونو په اسارت کې شهید او بل مرستیال یې ملاعبدالغني برادر د امریکایي او پاکستاني مشترکو قواوو لخوا په پاکستان کې اسیر کړای شو، امیر المؤ منین ملامحمد عمر (مجاهد) محترم منصور صاحب د اسلامي امارت د مرستیال او د امارت د ټولو چارو د عمومي مسؤل په توګه وټاکه.

دا هغه مهال و چې د اوباما لخوا افغانستان ته ۳۰۰۰۰ نوي اضافي ځواکونه را لیږل شوي او په افغانستان کې جهادي مقاومت له سترو ننګونو سره مخ و. ځکه د یرغلګرو تر یولک زیات په تر ټولو پرمخ تللیو وسلو مجهز خارجي ځواکونه د سلګونه زره داخلي پوځیانو ترڅنګ له مجاهدینو سره د هیواد په ګوټ ګوټ کې په جګړو کې ښکیل ول.

له یوې خوا د نهایت حساسو امنیتي شرائطو له وجې د مقاومت د پوځي رهبري لپاره د اسلامي امارت امیر ملامحمد عمر (مجاهد) راڅرګندیدل ناشونی کار ګڼل کیده له بلې خوا په جهادي جبهه کې د پوځي او اداري قیادت تشه هغه څه ول چې دمقاومت پله یې په بشپړه توګه د دښمن په لور درنوله.

په مجاهدینو باندې پر پوځي فشار سربیره د دښمن لخوا نور سیاسي او تبلیغاتي فشارونو هم ډیر زیات شوي او د مقاومت په سنګرو کې یې ډیر شمیر جهادي چارواکي په شهادت رسیدلي ول اوګڼ شمیر مشران مسئولین اسیران ول.

په دغسي یو حساس وضعیت کې د مرحوم امیر المؤمنین ملامحمد عمر (مجاهد) لخوا د صلیبي یرغلګرو په وړاندې د مجاهدینودسمبالښت مسؤلیت د محترم منصور صاحب په غاړه ور واچول شو. محترم منصور صاحب عملا وکړای شول چې دالله تعالی په نصرت اودرهبري شوری په مرسته د مقاومت په تر ټولو حساسو شیبو کې هغه په داسې ډول رهبري کړي چې مجاهدین په هیڅ ډول د عملي قیادت تشه احساس نه کړي.

هماغه و چې ۲۰۱۰م کال په افغانستان کې د صلیبي ځواکونو لپاره د هغوی په خپل اعتراف تر ټولو خونړی کال ثابت او مجاهدینو وکړای شول تر بل هروخت په همدي کال کې ډیر موثر او کاري ګوزارونه پر دښمن ترسره او په ترڅ کې یې خپله د دښمن په اعتراف ۷۷۰ تنه خارجي یرغلګر و وژني. همدا راز مجاهدینو د منصورصاحب په قیادت کې وکړای شول چې له دښمن نه ډیري پراخي سیمي فتحه او منظمه اسلامي اداره پکې رامنځ ته کړي.

## د امیر المؤمنین ملامحمدعمر (مجاهد) تر وفات وروسته:

د ۱۳۹۲ هجري شمسي کال د ثور د میاشتې په څلورمه نیټه چې کله امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد وفات شو نو داسلامي امارت د رهبري شوری مهمو غړیو، جیدوعلماء کرامو، په تیرو دوولسو کلونو کې د مرحوم ملا محمدعمر (مجاهد) د ځانګړي قاصداو د نوموړي دائمي ملګرو چې د وفات تر وخته له نوموړي سره یوځای اوسیدل ټولو له منصور صاحب سره بیعت وکړ او نوموړی یې د اسلامي امارت د امیر په حیث تعین کړ.

دا چې ۲۰۱۳ کال د صلیبي اشغالګرو او له هغو سره مقاومت کوونکو مجاهدینو ترمنځ د مقابلې او زور آزمویلو وروستی کال و نو د اسلامي امارت د رهبري شورا مهمو قیادي اعضاوو اویوشمیرشیوخو علماءکرامو دا پریکړه وکړه چې اوس مهال د امریکاپه مشرۍ د صلیبي اشغال د زور ازمو یلو وروستۍ شیبې دي او ۲۰۱۴م برخلیک ټاکونکی کال چې اشغالګرو د خپلو ځواکونو د پرشاتګ لپاره د وروستي کال په حیث تعین کړی په مخ کې دی، نو د جهادي مصلحت او علماء کرامو د موافقې له مخې به دا غوره وي چې د مرحوم امیرالمؤ منین د وفات خبره دې له همدغو محدودوکسانو پرته بل چاته ښکاره نشي. هماغه و چې دا اساسي راز په ډیر خارق العادة ډول د خاص جهادي مصلحت پر اساس د ۲۰۱۵ کال د جولای د میاشتې تر ۳۰ نیټې پوري پټ وساتل شو.

## د اسلامي امارت د منتخب امیر په توګه:

کله چې د ۱۴۳٦ هجري قمري کال د شوال المکرم میاشتې په ۱۴ نیټه چې د ۲۰۱۵ میلادي کال د جولای د میاشتې له ۳۰ نیټې سره سمون خوري د اسلامي امارت د رهبري شورى له لوري د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ وفات رسما اعلان شو.

منصور صاحب د مجاهدینو د لاښه اطمینان په خاطر د رهبري شورى غړواوعلماء کرامو ته د خپل برخلیک او د نوي زعیم د ټاکلوپه اړه اختیار ورکړ او داخبره یې ورته وکړه چې تاسو کوم شخص د زعیم په حیث غوره کوئ زما پرې خوښه او موافقه ده. هماغه و چې د افغانستان د اسلامي امارت د رهبري شورى اعضاوو، د مشائخو او مخورو علماء کرامو په ګډون یوې غونډې چې د اهل الحل و العقد له اعتبار څخه برخمن ول د محترم منصور صاحب له حضور اوموجودیت پرته تر اوړدو بحثونو، مصلحت سنجولو او مشورو وروسته نوموړی د اسلامي امارت د نوي امیر په حیث وټاکه.

د اسلامي امارت د امیر په توګه د محترم ملا اختر محمد (منصور) له ټاکل کېدو سره سم د اسلامي امارت د رهبري شورا غړیو، داسلامي امارت دټولو کمیسونونو مشرانو، د قضاء او محاکمو عمومي مسؤلینو، نظامي قومندانانو او د افغانستان د ۳۴ ولایتونو جهادي مسؤلینو، د نظامي کمیسیونونو مشرانو، د هیواد علمي، ملي، جهادي، سیاسي او فرهنګي شخصیتونو او د اسلامي امارت ټولو وسله والو ځواکونو او ملکي چارواکو په یوه غږ د اسلامي امارت له نوي امیر منصور صاحب سره بیعت اعلان کړ. دغو ټولو پوځي او ملکي لوړیو او د هیواد ملي، علمي او جهادي شخصیتونو خپل بیعتونه په صوتي او کتابتي بڼه د افغانستان د اسلامي امارت نشراتي څانګي ته ولیږل چې وروسته د هغوی لخوا د اسلامي امارت په مرکزي ویب پاڼې الماره ویب سایټ کې نشر هم شول.

## د نوي امیر په توګه تقرر یې د شریعت له نظره:

علماء کرام او اسلامي سیاست پوهان په اسلام کې د زعیم دانتخاب لپاره تر ټولو سمه او غوره لاره د شوری یا اهل الحل والعقد لخوا څخه ټاکنه بولي، د اهل الحل والعقد اطلاق په هغه ټولي کېږي چې په علم، تجربې او هوښیارۍ لرونکو اشخاصو باندې مشتمل وي او معمولا د یوې شوری اطلاق ورباندې کیدلی شي.

د خلفاء راشدینو د ټاکل کیدو له بیلابیلو طریقو څخه په عمومي استنباط د شوری له لارې د زعیم ټاکلوته دری مرحلې معلومې شوي دي، چې لومړۍ دترشیح مرحله، دوهمه د انتخاب او دریمه د بیعت مرحله ده.

ترشیح یا د مشورۍ لپاره نوماند کیدل به خپله د هغه کس لخوا څخه نه وي چې زعیم ټاکل کېږي ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

إنا والله لا نولي هذا العمل أحدا سأله , أو أحدا حرص عليه( متفق علیه) (اخرجه البخاری (۷۱٤۹) ومسلم (۱۷۳۳)

ژباړه: په والله چې مور به هغه څوک په دې (د مشرۍ په کار) ونه ټاکو چې خپله یې غواړي او یا یې حرص لري.

نو ترشیح به د بل چا لخوا یا د یوه تن وي لکه عمرفاروق رضی الله عنه چې د ابوبکر صدیق رضی الله عنه لاس ونیو او د زعامت لپاره یې وړاندې کړاو بیا صحابه کرامو د امام په حیث انتخاب کړ او یا به د ډیرو کسانو وي لکه عمرفاروق رضی الله عنه چې له شهادت وړاندې څو صحابه د خلافت لپاره ونومول او د هغو له منځه حضرت عثمان رضی الله عنه وټاکل شو.

ملا اختر محمد منصور صاحب هیڅکله ځان په خپله د مشرۍ لپاره نه دی نوماند کړی، بلکې نوموړی په لومړنۍ غونډه کې هم د مشرۍ لپاره د یوازیني کاندید په حیث د شورا لخوا نوماند شو او په دوهمه غونډه کې یې هم صراحتا شوری ته وویل چې زه د مشرۍ غوښتونکی نه یم، بلکې د یوه مأمور په حیث خدمت مې زړه غواړي، خو شوری نوموړی د زعامت د یوازیني وړ کس په حیث نوماند کړ، وروسته له اوږدو بحثونو نوموړی د همدې شوری لخوا چې په علماء کرامو، شیوخو او د اسلامي امارت د رهبري شوری په غړو مشتمله وه - چېټول د علم، سیاسي اوجهادي تجربې خاوندان دي- د زعیم په حیث انتخاب او ورپسې لومړی د شوری غړو او وروسته نورو مسئولینواو عامو مجاهدینو او مؤمنینو ورسره د بیعت لړۍ پیل کړه.

په دې توګه ویلی شو چې د نوموړي انتخاب په بشپړه شرعي طریقه ترسره شو چې له همدې امله د هیواد له ساره او اوږده څخه په نورو لکونوانسانانو سربیره سلګونو د قرآن او احادیثو مشائخو د نوموړي زعامت قبول کړ، شرعي یې وباله او بیعتونه یې ورسره وکړل.

## د شخصیت په اړه یې:

د افغانستان د اسلامي امارت دوهم زعیم امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد (منصور) د اسلامي امارت په تأسیسي غړیو کې یو خورا مدبر، مؤثر او مسلط شخصیت ګڼل

کیده. نوموړی په موهوبوي شکل د قیادت او رهبرۍ له ځانګړو مشخصاتو څخه برخمن و. تقوی، اخلاص، جهادي بصیرت، سیاسي درایت او د کارونو په عملي کولو کې اداري نظم او جرأت یې کاري مشخصات و.

شهید ملا اخترمحمد منصور صاحب د اسلامي امارت د اړونده جهادي فعالیتونو په تعقیب او تنفیذ کې د خپل جهادي رهنما مرحوم ملامحمد عمر (مجاهد) په نقش قدم روان و، د جهادي اهدافو تحقق، له خارجي اشغال څخه د هیواد خپلواکي او په هغه کې د شرعي نظام ټینګښت یې د جهاد او مبارزي اساسي هدف و، د (وامرهم شوری بینهم) په اساس یې په کارونو کې د ملګرو سالمې مشورې په غورسره اوریدلې، اهل کار کسانوته مسؤلیت سپارل او تر مسؤلیت سپارلو وروسته وروباندې پوره اعتماد کول، مسؤلو کسانوته تل پر ولس باندې د ترحم او خواخوږي سپارښتنه کول د نوموړي ښکاره مشخصات و. پردې خبره یې ډیر ترکیز درلود (چې اسلامي امارت دټولو افغانانو ګډ کوردی، نو ټول باید خپل ځان پکې وویني)

د شهیدمنصور صاحب د شخصیت په اړه دده نږدې ملګري وایي چې نوموړی متواضع، مخلص او جرأتمن شخصیت و. له بیت المال سره یې احتیاط کاوه. ساده ژوند یې خوښ و. د نوموړي ملګری ملا عبدالباقي اخند وایي چې د امارت د واکمنۍ په وخت چې وزیر و، لیدلی یې دی چې تر ولایاتو پورې به یې د لین په عادي موټرو کې سفر کاوه. نوموړی وایي په شل کلنه ملګرتیا کې یې د منصور صاحب کومه بده خبره او تر خه وینا نه په یادیږي. له خپلو تحت الامر کسانو سره یې د یوه ملګري په حیث چلند کاوه.

حاجي اغاجان چې د منصور صاحب له نږدې ملګرو څخه و، وایي چې منصور صاحب ډیر متوکل سړی و او سره له دې چې ډیر خطرات ورته متوجه و، نوموړی به همیشه پیدا کیدلای شوای. دده په خبره د معاونیت او امارت په ټوله موده کې یوازې دوه ورځې داسې شوي چې له مجاهدینو سره د منصور صاحب رابطه پرې شوي وي او

د احتیاط په خاطر یې ځان غائب کړی وي. نور به هر وخت د ځانګړو استازو په توسط له ده سره د مجاهدینو رابطه کیدلای شوای.

حاجي اغاجان منصو رصاحب دقناعت او له دنیایي وسایلو، موټرو او هوس سره دعلاقې نه درلودلو یادونه کوي او وایې: منصور صاحب کله هم د ښه موټر او هوسا ژوند هوس نه دی کړی. همیشه یې دیو عادي شخص په حیث ګوزاره کوله. یو وخت مې ولید چې موټر یې حتی تر عادي حده هم زوړ و، ماورته وویل چې زه به یو نوی موټر درته رانیسم، ځکه داډیر زوړ دی. ده ځواب راکړ چې په عادي ګوزاره کې زماهدف داسلامي امارت دلایحې په هغه ماده عمل کول دي چې وایې مجاهدین دي دعادي خلګو په شان ګوزاره کوي. نو که زه وربانديي عمل وکړم شاید نورو مجاهدینو کې هم په دې مادې عمل کول دود شي او که خدای مکړه زه دامساده هیره کړم او امتیازي ژوند اختیار کړم نو بیا به نور مجاهدین هم دامتیازي ژوند هوس کوي.

د شهید منصور صاحب زوی ملافتح الله وایي چې منصور صاحب ورته همیشه په علم او استعداد لوړولو باندې تاکید کاوه او ویل به یې چې د ښه خدمت لپاره لومړی ښه استعداد ضرور دی او د هر دیني خدمت لپاره د علم زده کړه شرط بلل کیږي. نوموړی وایي چې منصور صاحب له شهادت نه یوه نیمه میاشت مخکې یوه ورځ وویل چې د ژوند تر تولو ستر ارمان مې پاک او مخلصانه شهادت دی.

## فکري او مذهبي لید لوری یې:

محترم ملا اختر محمد منصور په مذهبي لحاظ د اهل سنت والجماعت پلوی او د امام اعظم ابوحنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ د مذهب مقلد و. د وخت او زمان د سیاسي جریاناتو په نزاکت ښه بلد و.

له نوموړي سره د مخامخ کیدو پرمهال سړي د ده سنجیده ګي، وقار او متانت ښه درک کولای شوای، سادګي او بي تکلفي یې د ژوند ځانګړې مشخصه وه.

د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم او خلفاء راشدینو د سیرت له مطالعې سره یې خاصه دلچسپي درلوده، همیشه یې له خپلو ټولو جهادي او اداري بوختیاووسره سره رسنۍ په ډیر دقت تعقیبولې، جهادي لیکوالانو او د امارت فرهنګي اونشراتي کارکوونکوته یې د هغوي په نشراتي فعالیتونو کې خاصې مشوري او ځانګړې توصیې ورکولې.

## د شهید منصور رصاحب یو مهم خصوصیت:

شهید منصور صاحب داسلامي امارت دزعیم په حیث همیشه قضایاوو ته متوجه و. نوموړي به همیشه مطبوعات تعقیبول ترڅو دهیواد له پیښو ځان خبر کړي، دغه راز یې یو ملګري ته دنده سپارلې وه چې دبهرنۍ نړۍ دبیلابیلو ژبو مطبوعات تعقیب کړي او هغو خبرونو او تبصرو خلاصه یې له ده سره شریکه کړي چې دافغانستان له موضوع سره یې تړاو پیداکاوه.

دمنصور صاحب یو ډیر نژدې ملګری (حاجي اغاجان) وایې چې منصور صاحب په هرحالت کې له جریاناتو ځان باخبره ساته، حتی یوه شپه چې ټوله ورځ او د شپې ترناوخته درهبري شوری په مجلس کې و، کله چې له مجلس نه فارغ شو ددې په ځای چې خوب وکړي لومړی یې ماته امر وکړ چې یو ځل خبري ویب پاڼې راواړاوه چې څه حالت روان دی.

حاجي اغاجان وایې منصور صاحب به چې کوم خبر ترلاسه کړنو سمدستي به یې دخپلو رابطینو په توسط دهغه حقیقت معلوماوه، او خپل معلومات به یې بشپړول. مثلاکه چیري به کومه چاودنه شوې وه او ملکي خلګو ته به په پکې تلفات رسیدلي وو، یابه یو ځای دمجاهدینو په اړه خلګو په رسنیو کې شکایت کړی و، یا به دمجاهدینو له خوا دزور زیاتي کومه ویډیو یاخبر نشر شوی و، نو سمدستي به یې دپیښې عاملین معلومول او مسؤلینو ته یې امر کاوه چې قانوني چلند ورسره وکړي، چې په ډیرو مواردو کې دداسي پیښو عاملین خلع سلاح، بندیان او محکمې ته معرفي کړل شوي دي.

## له شهادت نه مخکې:

منصور صاحب له شهادت نه مخکې دافغانستان دهلمند او نیمروز ترمنځ په یوه کلیوالي سیمه کې له خپلو څو تنو خاصو ملګرو مجاهدینو سره ژوند کاوه. ملا اغاجان چې په همدې مرحله کې څه وخت له شهید منصور صاحب سره یو ځای پاته شوی، وایې چې دامې دژوند ترټولو خوږه خاطره وه. ځکه داسلامي امارت زعیم دخپل وطن په سپېرو کوډلو کې داسي ساده ژونددرلود لکه یو عام دسنګر مجاهد.

په دې سیمه کې نومورې د۸ کسو مجاهدینو سره اوسیده، دوی دعامو مجاهدینو په شان مسلح ګرځیدل او دسیمې مجاهدینو او عامو خلګو ته یې ځانونه د یوه محلي ډلګي مشر په انډیوالانو معرفي کړي وو، ترڅو داوسیدو ځای یې افشانه شي. داړټیاپه وخت یې شاوخوانورو سیمو ته هم سفر کاوه.

په د ې مرحله کې منصور صاحب داحتیاط په خاطر له مجاهدینو سره مخامخ لیده کاته نه کول. بلکې دځانکړو استازو په توسط یې هغوی ته احکام صادرول، دغه راز به کله یوې داسي سیمې ته له خپلو ملګرو سره نژدې شو چې انټرنیټ به کار کاوه، بیا به یې دایمیل او واټساپ له لاري له مسولینو سره رابطه کوله او دوظایفو په باره کې یې ورسره سلا مشوره کوله. په د ې میشت ځای کې په جهادي او ورځینو رسمي وظایفو سربیره نومورې ډیر وخت مطالعه کوله او یابه له ملګرو سره په موټر کې ګرځیده او دجهاد او اولس حالت به یې ځان ته معلوماوه.

شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور صاحب دخپل هیواد پر ځمکه او دجهادي حاکمیت په ساحه کې ژوند کاوه او په دې لاره کې یې ټول خطرات په ځان منلي و، خو مزدورو رسینو بیاهم په هغه پسې تبلیغات کول چې په ایران یا پاکستان کې اوسیده چې دغه اتهام یو بې ځایه او له حقیقته لرې اتهام و. نومورې له شهادت وړاندي کټ مټ دخپل سلف مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په شان دسپېرو کوډلو او سنګرونو ژوند دځان لپاره اختیار کړی و.

**شهادت يې:**

**بالاخره د حق د لارې دغه مخلص او فداکار مجاهد چې د اسلامي امارت د زعیم په حیث د ټاکل کیدو يي لا کال نه و پوره شوی، د امریکا د بي پیلوټه الوتکې په بریـد کې د شهادت لوړ مقام ته ورسید. دمنصور صاحب دشهادت په اړه داسـلامي امـارت درهبري شوری داعلان شوي اعلامیې په یوه برخه کې لولو چې: « د افغانستان اسلامي امارت په الهي قضاء د رضا اومحکم ایـمان لـه روحیـې سره اعلانـوي چـې د افغانسـان داسلامي امارت زعیم أمیرالمؤمنین ملا أختر محمد منصور تقبلـه الله د ۱۴۳۷ هجـري قمري کال د شعبان المعظم د میاشتې په ۱۴ مه نیټـه د شـنبې پـه ور ځ چـې د ۱۳۹۵ لمریز کال د جوزا له لومړۍ نیټې سره سمون خوري د کندهار ریګستان اود بلوچستان نوشکي ته څیرمه په یوه سرحدي سیمه کې د امریکایي طاغوت د بي پیلوټه الوتکې پـه برید کې د شهادت لوړ مقام ته ورسېد». انا لله و انا الیه راجعون.**

**۱۸/۸/۱۴۳۷هـ ق**

**۵/۳/۱۳۹۵هـ ش ـــ ۲۵\۵\۲۰۱۶**

**ترتیب: د فرهنګي کمیسیون دتاریخ څانګه**

# لومړۍ څپرکی

## دشـــهید امیرالمـــؤمنین رحمـــه الله وینـــاوې، پیغامونـــه او داســـلامي امـــارت دمشرتابه اعلامیې، تاثرات او خاطرې

# د اسلامي امارت د نوي امیر د ټاکلو په اړه
# د اســلامي امــارت
# د رهـبري شــوری اعــلامیه

الحمدلله رب العلمین والصلوة والسلام علی رسوله محمـد و علـی آلـه وأصـحابه أجمعین و بعد

مسلمانانو وروڼو!

لکه څنګه چې خبر یاست دافغانستان د اسلامي امارت مؤسس او زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمة الله علیه څه موده وړاندې د ورپیښې شوې ناروغۍ له امله خپل روح الله تعالی ته وسپاره او له دې دنیا څخـه یـې رحلـت وکـړ. د نوموړي له وفات وروسته د اسلامي امارت رهبري شورا او د هیواد جیدو علماء کرامـو اومشائخو د زعامت دټاکلو په چاره لاس پورې کړ، د اسلامي امارت د رهبري شوراغړو، مشائخو او علماء کرامو چې داهل الحل والعقد له شرعي اعتبار څخه برخمن و د یـوې غونډې په ترڅ کې یې له اوږدو سلامشورو وروسته د ملامحمد عمر مجاهد نږدې او د اعتماد وړ ملګری او داسلامي امارت پخوانی مرستیال ملا اخترمحمدمنصور د اسلامي امارت دامیر په حیث وټاکه.

ملااختر محمد منصور چې د مرحوم ملامحمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ لخوا هـم پـه خپل ژوند کې داعتماد وړ او د درانه مسئولیت د تحمل لپاره وړ کس بلل شوی و او په کلونو د اسلامي امـارت ټـولې اجرایـوي چـارې ورسـپارل شـوې وې، داسـلامي امـارت رهبري شورا او علماء کرامو هم نوموړی د راتلونکي لپاره د افغانستان داسلامي امـارت د رهبرۍ لپاره مناسب او مستعد شخص وباله او دشرعي امیر په حیث یې غوره کړ.

د زعیم ټاکلو په غونډه کې د علماء کرامو، مشائخو او اسلامي امارت د مشرانو لخوا له ملااخترمحمد منصور سره د امیرالمؤمنین په حیث علی السمع و الطاعة بیعت ترسره شو او نوموړي هم د شرعي امیر په حیث، شریعت ته دالتزام تعهد وکړ. همدا راز د یادې غونډې په مشوره او تائید هر یو د اسلامي امارت د محاکمو پخوانی عمومي رئیس شیخ الحدیث مولوي هبت الله اخندزاده اود مشهورجهادي او علمي شخصیت مولوي جلال الدین حقاني حفظه الله زوی داسلامي امارت پیژندل شوی جهادي قومندان ملا سراج الدین حقاني د اسلامي امارت د مرستیالانو په حیث وټاکل شول.

د اسلامي امارت رهبري شورا د اسلامي امارت دغه تعین شوي زعامت ته دالله تعالی له دربار ځخه د استقامت، امانت داری او الهي شریعت ته د وفاداری خواست کوي، او مسلمان ملت په ځانګړي ډول د اسلامي امارت ټول مجاهدین یې د شرعي امیر په حیث اطاعت ته رابولي.

د افغانستان د اسلامي امارت رهبري شوری

۱۴۳٦ هـ ق کال د شوال المکرم ۱۴مه

۱۳۹۴هـ ش کال د اسد ۸ مه

۲۰۱۵میلادي کال د جولای ۳۰ مه

# د بیعت اخیستلو په غونډه کې د اسلامي امارت د نوي زعیم ملا اختر محمد منصور د وینا متن

یادونه: د۱۳۹۴هـ ش کال د اسد ۸ مه باندي داسلامي امارت رهبري شوری، جیدو علماء کرامو او جهادي مسؤلینو په یوه پرتمینه غونډه کې داسلامي امارت دمؤسس امیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ وفات رسما اعلان کړ، پر کارنامو یې خبرې وکړې، د نوموړي وفات یې لویه ضایعه وبلله، داسلامي امارت او جهادي صف پر یو والي او ټینګ ساتلو یې ټینګار وکړ او دامیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور صاحب سره یې داسلامي امارت دنوي زعیم په حیث علی السمع والطاعة بیعت وکړ. ددې شانداړې غونډې په وروستۍ برخه کې امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور صاحب خورا جالبه او هراړخیزه وینا واورولـه. د محترم منصور صاحب وینا لیکل شوې نه وه، نو دهمدې غږیزې وینا اهمیت ته په پام سره مو همدغه غږیزه وینا په لږ اختصار سره لیکنیزې بڼې ته واړوله.

اعوذ بالله من شیطان الرجیم

بسم الله الرحمن الرحیم

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ الله جَمِیعًا وَلَا تَفَرَّقُوا

ټولو محترمو علماء کرامو، مجاهدینو ورونو!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

ټولو مشرانو او کشرانو ملګرو، سپین ږیرو علماء کرامو ته سترې مه شې وایم.

تاسي ته د ډېرو خبرو ضرورت نشته، ځکه تر مورِ مخکې علماء کرامو او زمورِ مشرانو تاسي ته ډېر بیانونه وکړل. زمورِ سره دومره استعداد هم نشته، خو بیا هم د دوی په اجازه باندې یو څو خبرې د تذکر په توګه له تاسې سره شریکوم.

لکه دا آیت شریف چې ما ذکر کړ، موږ ټولو تـه ارشـاد، اطمینـان او یـو هـدایت دی، موږ باید پر دې آیت باندې عمل وکړو او پر دغه مسیر باندې خپـل آینـده ژونـد، خپله اجماع او خپل اتفاق وساتو. نو بیا به زموږ په کارو نو او مشـکلاتو کـې الله تعـالی راسره نصرت وکړي. په تفرق، بېلوالي او بې اتفاقي کـې بـه الله پـاک ډېـر ناراضـه شي، دښمنان به مو ډېر خوشحاله شي، په خپل منځ کې بـه مـو سر نـه سره خلاصـېږي او د نورو مشکلاتو سره به مو الله تعالی مخ کړي.

موږ خو یوه هسته لرله، د ټول مسلمه امت لپاره یوه هسـته وه او بیـا بالخصـوص زموږ د ملک لپاره، نو هغه خو د الله تعالی په کار وه او دا دی هغه مشر (عالیقدر امیـر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله) یې زموږ له سر څخـه واخیسـت. الله پـاک دې هغه ته جنت الفردوس ور نصیب کړي او الله جل جلاله دې هغه ته هغسې مرتبـې ورکړي، لکه شهداوو ته چې یې ورکوي.

نو اوس موږ ته د هغه کارنامې، د هغه کردار، موقف او د هغه چې کوم سـلوک و له خپلو مجاهدینو او نورو عامو مسلمانانو سره راپاته دی، موږ ته دې هـم الله تعـالی د هغه د طریقې توفیق راکړي چې و یې ساتو، هغه به زموږ او ستاسو لپاره یـوه رهنمایـي وي، د هغه اخلاق، د هغه نیت، د هغه تقوا، د هغه جرئـت او د هغـه عـزم دا بـه ډېـره ګرانه وي، چې د هغه دا ټولې ځانګړتیاوې به په موږ کې موجودیږي، خو بیا به هم ټـول دا کوښښ کوو، چې هغسې کردار وکړو اود هغه تګلاره او موقف ټینګ ونیسو. د هغـه موقف داو چې د الله جل جلاله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم پر هدایاتو باندې یې عمل کړی و، موږ به هم پر دغه لاره باندې ځو، خپل عزم، کردار، کړه وړه او موقف به هماغسې جوړوو.

دا درونده بار چې اوس موږ ته را پاته شو، دا ډېره ګرانه خبره ده. ځکه دا نه د یوه سړي کار دی، نه د دوو او درو کسانو ؛ دا بـار پورتـه کـول او تـر منزلـه پـورې رسـول سخت کار دی، نو په دې ټولو شیانو کې به موږ د الله جل جلالـه څخـه نصرت غـواړو.

همداشان په خپلو منځو کې اخلاص او اتفاق ته ضرورت دی. که مورِ متحد او متفق یوو، نو دښمن به ناکامه وي او کامیابي به زمورِ او ټولو مسلمانانو په نصیب وي.

مرګ حق دی او هر چا ته مرګ راتلونکی دی. دا لاره پر مورِ ودانه ده او دا کاروان روان دی. خو زمورِ په تېر وخت او بیا په دې اوس موجوده وخت کې چې دا مسؤلیت زمورِ اوږو ته را ولویدی ؛ نو د ټولو بارونه درانه شول او مشکلات او مسؤلیتونه مو تر پخوا یو په دوه شول.

د دنیا کفارو او د هغو ملګرو پر دې ډېر کوښښ وکړ، چې په دې صف کې درز پیدا کړي او په دې صف کې بې اتفاقي پیدا کړي او یا دا د جهاد لارې کمزوري کړي، خو دا د الله تعالی نصرت و اودی، چې تر اوسه پورې نه د هغوی پیسو کار وکړ، نه د هغوی زور کار وکړ او نه د هغوی له لورې د هیوادوالو شهیدانولو، زخمیانولو او د کورونو ورانولو دا اتفاق سره ختم کړ.

زمورِ لپاره اوس دا په کار ده، چې د امیرالمؤمنین (رحمة الله تعالی علیه) په وخت کې چې کوم تشکیلات اوترتیب و او یا کوم کار اوس روان دی، دغه ترتیب او تشکیلات د هغه په هدایت جوړ او معلوم شوي دي، نو اوس هم هغه تګلاره ده، چې د خرابېدو هڅې یې ونشي او د جوړولو کوښښ یې بایدوشي، ترڅو دا د ټولو مسلمانانو لپاره د کامیابۍ یوه ذریعه وګرځي.

د ټولو مسلمانانو په تېره بیا زمورِ د ولس همدغو خلکو ته تمه ده. نور خلک خو ظاهراً مورِ نه دي لیدلي ؛ نو باید ډېر کوښښ وشي، چې دا موقف او دا چوکاټ وساتل شي. که په هره منطقه کې یو څوک ووایي، چې دا مشکلات یوازې زما پر سر دي، نو زه به دا برداشتوم او زغمم به یې، خبره خلاصه ده ؛ خو که یو و بل ته یې سره منسوبوو؛ نو د مشکلاتو حل به نه راځي. دا مسؤلیت اوس مورِ و تاسو ته را پاته شو، د هر یوه سره به د دې صف د متفق کېدا او یووالي سوچ وي، کوښښ به کوي او دا یې مسؤلیت دی. هر چا ته په خپله مرتبه کې ضرورت دی. که کوم ملګري خپه وي، یا لیرې وي

اویا څه اعتراض لري ؟! د ټولو زړه ساتل پکار دي، د هغو د خوشحالۍ لپاره د تکلیف او برداشت اړتیا ده او له دې صف سره دهغوی د یو ځای کولو ضرورت دی.

موږ چې وایو او د خلکو هم را ته تمه ده، چې د خدای جل جلاله لار مو نیولې، نو زموږ ظاهر او باطن باید سره یو ډول وي، لکه څرنګه مو چې ظاهراً د ځان عنوان جوړ کړی او شعار مو هم دا دی چې: اسلامي نظام راولو، په عمل کې یې باید ثابته کړو، دا ظاهري عنوان الله تعالی ته منظور نه دی، موږ مکلف یو. یو څو ورځې به یو، چې په اخلاص یې سره تیرې کړو، ټول ملګري په دې کار کې سره ملګري شو او تر هغه وخته به دا مبارزه روانه وي، چې په دې ملک کې اسلامي نظام نافذیږي.

د دښمن تبلیغات ډېر زیات دي، د پیسو، رسنیو او د علماء سوء له لارې څخه یې ډېر کوښښ کړی، چې دا د جهاد سلسله کمزورې کړي او دا اتفاق له منځه یوسي. دا جهاد به تر هغه پورې جاري وي، چې ترڅو په ملک کې اعلاء کلمة الله او اسلامي نظام قایمیږي. شکر دی دا دی شل کاله، بلکې دېرش پنځه دېرش کاله په دې جریان کې تیر شوي دي، نور به هم دا کوښښ کوو، چې په اخر کې دا خپلې لاسته راوړني د لاسه ورنکړو، موږ ټول به پر دې خپل کور، خپل صف او سنګر باندې پیره کوو. یو له بل سره به بدګماني نه کوو او له بدګمانۍ او بې اتفاقۍ څخه به ځان ژغورو، زموږ مسیر د الله جل جلاله کلام او د رسول صلی الله علیه وسلم سنت دی، دا زموږ تګلاره ده، پر همدې باندې عمل کوو او تر وروستۍ سلګۍ پورې به مو همدغه موقف او دریځ وي، نو د خلکو خبرو او د نړۍ تبلیغاتو ته به غوږ نه نیسو.

زموږ هسته یعني امیرالمؤمنین دا دی په حق ورسیدی، نو بیا هم شکر دی، دین خو له منځه نه دی تللی، ځوانان له منځه نه دي تللي، علماء او مشایخ له منځه نه دي تللي، مشران له منځه نه دي تللي، نو په دې کې به موږ یو له بله ډېره همکاري کوو؛ ځکه ضرورت مو دی. برداشت به کوو، تحمل به کوو، نو بیا ان شاء الله تعالی دا کار کامیابیدلای شي. که چېرې هره اساسي پروسه را منځته کېدله، هغه به د شریعت سره سمه وي او د شریعت په رڼا کې به ټول اجراأت کېږي، هغه که په توره باندې

جهاد و، که په خبرو او دعوت باندې تر منزله رسېدل وي، د جهاد ټول کارونه به مو د شریعت په رڼا کې وي، مورِ بل مسیر نلرو، نه نورې لارې پکې ځاییږي، نه پکې دیموکراسي ځاییږي او نه نور داسې شیان پکې ځاییږي، چې مورِ دې تر دې منزله ورسوي، او مورِ به پدې کې نهایي کوښښ کوو، ان شاء الله! ټول به ملګري یو، په دې به مو یقین وي، چې یو طرفه فیصله به نه وي او تنهایي فیصله به نه وي، ځکه دا هر څه چې مورِ کوو، دا دومره قربانۍ چې ورکوو، نه یې د ځان د څوکۍ لپاره ورکوو، نه یې د مادیاتو لپاره ورکوو، خپل موقف ته باید دوام ورکړو او پر دې مستحکم پاته شو.

دا د مسلمانانو ترمنځ چې د بدمرغۍ تخمونه پاشل کېږي او یاکه راتلونکي کې ځینې ځایونو کې سیمه ییز، قومي او لساني تفرق ته لمن وهل کېږي، په هر عنوان چې وي، دښمن د دې کوښښ کوي، چې په دې نظام کې یو درز پیدا شي او سره بېل شي. مورِ و تاسو خو شکر دی علم لرو، که علم نه لرو علماؤ سره خو اوسېږو، کنه وي دا خبره خو هر چا ته رسیدلې ده، چې باید داسې خبرو ته ډېر غورِ ونه نیسو. که څه مو واوریدل، باید د مافوقې او مسؤلې مرجع څخه پوښتنه وکړو، چې حقیقت لري که یې نلري؛ نو که یې حقیقت درلود او یا بې ځایه خبره وه، نو بیا خو هر سړی د شریعت په رڼا کې تر لاس نیول کېږي او باید یو څوک یې تر لاس ونیسي. که ما فوق یا ماتحت مقام دی، د شریعت په رڼا کې به دا هر یو تر لاس او ګریوان نیول کېږي او د شریعت په رڼا کې به یې سزا او جرم معلومیږي. زمورِ کارونه ټول د شریعت په رڼا کې سرته رسېږي، که فرض کړو اوس یو اختلاف پیښېږي یا نور څه مشکلات پیښېږي نو دا دی آیت شریف مورِ و تاسو ته رهنمایي کوي.

که په یو شي کې مو تنازع راغله او یا په یو شي کې مشکلات پیښ شول، نو د الله کلام ته به مراجعه کوو، نو زمورِ د اختلافاتو او مشکلاتو لپاره د حل لارې هم معلومي دي او د اجراتو لارې هم معلومي دي او د سزا لار هم معلومه ده. که مورِ سره متحد یو، نه دښمن اغېز کولای شي او نه یو بل منافق اغېز کولای شي او که زمورِ په عزم کې سستي راځي او یا نور داسې خواهشات راسره موجود ول، نو بیا هر شی تاثیر را باندې

کوي. دا زموږ یو مسؤلیت دی، دا بار دی، پورته کېدل غواړي او تر منزله رسېدل غواړي. که چېرته چا ته یو مسؤلیت سپارل شوی وي او د یو کار په رأس کې راغلی وي، د خپل مسؤلیت په رڼا کې یې کوم غیر شرعي کار وکړ، دا لار و هر چا ته خلاصه ده، مراجعه کولای شي او تر لاس او ګریوان یې نیولای شي. که چېرې په هر مقام کې داسې یو شی موجود و، زموږ مسیر معلوم دی.

زموږ له ټولو څخه دا خواهش او غوښتنه ده، چې خپل جهاد ته دوام ورکړو او خپل خدمت ته دوام ورکړو، هر څوک چې په خپله وظیفه کې دی، هغه به پر خپل مسیر باندې روان وي او خپل کار به کوي. نظام پر هغه حال دی او د دې کوښښ به کوو، چې کوم کمبودات په تشکیلاتو کې دي یا کومې نیمګړتیاوې په اداري چوکاټ اویا رهبري کې وي، د هغو د حل او توجه کوښښ به کوو. ان شاء الله زموږ مشران او زموږ مسؤل کسان به همېشه دې ته متوجه وي.

دا صف به ساتل کېږي او الله تعالی به یې نصرت کوي، که زموږ په خپل منځ کې اخلاص موجود نه وي، بدګماني او تعصب وي، دا زموږ خپل تاوان دی، الله به هم په دې را څخه ناخوښه شي او ملګري هم. د کوم شخص او قضیې په اړه که کومه خبره واوریدل شي، باید پوښتنه یې وشي، فیصله باید مخکې ونه شي.

په جهادي تشکیلاتو کې دا دی فتوحات را روان دي. باید خپل کار ته متوجه و اوسیږو. که سیاسي ملګري دي، که د دعوت ملګري دي، که د سنګر ملګري دي، دا ټول به په دې کې کوښښ کوي، چې په خپل ور سپارل شوي مسؤلیت کې اخلاص وکړي. موږ ټول سره وروڼه یو، موقف او هدف مو یو دی، ولې تفرق سره کوو، سهې ده خپګان راځي، مګر یو بل ته به انعطاف کوو، بیا به کامیابي راځي. زموږ لپاره اخلاص، تقوا او اطاعت په کار دی، او په کوم څه چې الله تعالی امر کړي یو باید هغه وکړو او د څه شي څخه یې چې منع کړي یو د هغه څخه به پرهیز کوو، نو بیا به موږ ته کامیابي راځي. نهایي کوښښ به مو دا وي، چې رهنمایي به مو علماء کوي، پر خپلو مشرانو

باندې به بد ګماني نه کوو، مشران به يې پر کشرانو باندې نه کوي، نو بيا به ان شاء الله نصرت راځي.

زمونږ له ټولو ملګرو څخه دا خواهش او غوښتنه ده، چې په اوس او راتلونکې وخت کې به صبر او تحمل کوو، د اختلافاتو مخه به نيسو او جهاد ته به متوجه کيږو. که څه سوال او يا په يوه خبره کې څه شک راته پيدا کېده، دا علماء کرام او مشران دي، له دوی څخه به هدايت اخلو او پر هغه باندې به عمل کوو.

زمونږ سره څه استعداد نشته، له مجبوری څخه دغه دروند بار غاړې ته را ولويدی. دغو ملګرو پوښتنه راڅخه وکړه، چې دغه مسؤليت ته تيار يې. ورته ومې ويل دغه مسؤليت چې ما ته د اميرالمؤمنين رَحِمَهُ ٱللَّهُ له وفات څخه وروسته راسپارل شوی دی. لکه دا غر چې زما پر اوږو پروت وي، خو داچې اوس د خدمت وخت دی، د قربانۍ وخت دی او د پاچاهۍ وخت نه دی ؛ نو قبول مې کړ. په دا اوس شپو کې له ما څخه چا مخامخ پوښتنه وکړه، چې دا مسؤليت ته زړه ښه کوې او که يو بل فکر درسره شته؟، ما ورته وويل: موږ چې دا قربانۍ ورکړي، دا ستړيا وي مو وړې، په دې خدمت کې مو ږېره سپينه شوه او لا هم پکې اخته يو. د خدمت شوق لرو او د مسؤليت شوق نلرو. دا چې مسؤليت مو ما ته سپارلی، دازما پر اوږو باندي يو بار دی. نومورې ورور دا هم وويل چې: که چېرې مصلح او اهل کسان د دې غوښتنه وکړي، چې دغه مسؤليت موږ يو بل چا ته پر اوږه ور اچوو، ته تيار يې؟! ما ويل، زه به د دې حمد ووايم، چې دا بار زما له اوږو څخه واوړي او که چېرې دا مسؤليت بېرته ما ته وسپارل شي، نو بيا د الله تعالی څخه نصرت او د دې ملګرو او نړيوالانو ملګرتيا ته ضرروت دی، په يوازيتوب دا کار نه کېږي.

مهمه خبره داده چې دا مسؤليت به يو دوه ورځې وي يابه نه وي، خو په دې چې د دې صف اتفاق او يووالی پر ما راځي، زه دې ته تيار يم، ملګرو که ما ته هر خدمت را وسپاره زه هغه ترسره کوم او هوسا به شم. دا ما له خدای جل جلاله سره وعده کړې

ده، دخدمت څخه به لاس نه اخلم. ملګرو ته مې وویل چې که د دې صف اتحاد پر بل چا راځي، نو الله شاهد دی، زه په دې خوشحاله کیږم او دهرې فیصلې منلو ته تیار یم.

مسؤلیت د پنځو ورځو شی دی؛ خو خدمت د همېشه لپاره دی او په هر چوکاټ کې چې وي. د الله تعالی رضا زمونږ مطلوب ده. ملګرو (درهبري شوری غړو، جیدو علماوو او جهادي شخصیتونو او مسؤلینو) تر ډېر زیات بحث وروسته، پرون مازدیګر او ماښام حال را وکړ، ما ویل چې داسې فیصله وکړئ، چې الله پاک درڅخه راضي شي او کار روان شي. وروسته چې ورغلو نو دا مسؤلیت یې زمونږ غاړې ته را واچاوه، ملګرو ته موتر دعا وروسته دا خبره وکړله، چې دا مسؤلیت زه یوازې نشم ترسره کولای دا به د ټولو په ملګرتیا سر ته رسوو.

علماء کرام او د شورا ټول مشران ملګري موجود وو، لکه دا اوس چې دلته حاضر دي. ما وویل چې زه دا دوه درې خبرې درته کوم، الله به حاضر ګڼو، فیصله به کوو، د چا تر تاثیر لاندې به یې نکوو، په یو شخصي توافق باندې به یې نه کوو، دا کار ډېر دروند دی، شیخ هبت الله اخندزاده صاحب او خلیفه سراج الدین حقاني صاحب مو د معاونینو په صفت معرفي کړل او شوری تایید کړل.

شورا باید څه پراخه شي، د خلکو مشکلات او ضرورت ډېر وي، د بصیرت لرونکي خلک، اهل خلک، مجاهدین خلک. بنیادي خلک همدا دوی دي، چې د نظام په جوړولو به بحث کوي او په نظام کې که کوم نقص وي، هغه به مشخص کوي. په نورو تشکیلاتو کې چې کومې کمزورتیاوې او یا کومې نیمګړتیاوې وي، شوری باید ورته متوجه وي. زمونږ به دا مسؤلیت وي، چې خلکو ته د کار زمینه برابره کړو، د مجاهدینو خدمت به کوو، مونږ ته یو مسؤلیت را سپارل شوی دی، پاچاهي نه ده را سپارل شوې، مونږ ته قرباني را سپارل شوې ده، مونږ ته خدمت را سپارل شوی دی، چې مسؤلیت درنیږي، مشکلات یې هم درنیږي، مونږ په دې کې تجربه لرو، چې مجاهدین اکمال غواړي او رهبري غواړي نو مسولیت مو درووند دی. د الله تعالی څخه به نصرت غواړو، چې یاالله ته په دې جامعه باندې فضل وکړې، رحم وکړې او ته یې کامیابه کړې.

مورِ به دعا کوو، او په را سپارلې وظیفه کې به خلکو ته د کـار، خـدمت او نظـام جوړولو زمینه برابروو، په هر بخش کې چې وفادار او اهل کسان وي، ملګري دې یې را مخ ته کوي او په کار کې دې یې روانوي. ماته چې خلکو داد مسـؤلیت بـار را سـپارلی دي، په دنیا کې دا دود وي، چې دا خو یو اعزاز دی، خو په اصل کې تکلیف دي، اعـزاز خو هله وي، چې یو سړی یو خدمت یوې ثمرې ته ورسوي او نتیجـه یـې بیـا الله تعـالی اجرونه ورکړي، که د الله تعالی نصرت نه وي، نو هیڅ نه کیږي، مسؤلیت عدل غـواړي، ښه اخلاق غواړي، حوصله غواړي، د الله څخـه نصرت غـواړو او د ملګـرو همکـاری تـه ضرورت دی، همکاري به سره کوو، که چیرې په ښه ډول د مسؤلیت په ترسره کولـوکې کوښښ ونکړو، د دنیا او آخرت له رسوایي سره به مخامخ شو.

نو د ټولو لپاره دا په کار ده، چې تر خپلو نفسي خواهشـاتو تېـر شـو، اطاعـت تـه متوجه شو. چې کله تر خپل اختیار او خپل موقف علاوه امـر وشي، د اطاعـت ثـواب ا وکامیابي په دې کې ده، چې سړی ترخپل اختیار تېر شي، اطاعت ته ترجیح ورکړي.

مورِ خپل صف په نااهلو کسانو نه ډبرِوو، پنځه نفـره دې وي، لـس نفـره دې وي، خو چې تقوی داره کسان وي، جهادي صف تـه وفـادار وي او لـه خلګـو سره ښـه رویـه کوي، ان شاء الله په دې کې به د الله نصرت وي. کوم کسان چې دجهاد پـه نامـه خلـګ ځوروي، په کلکه یې باید مخنیـوی وکـړو، د دې ولـس زړه بایـد د ځـان کـړو، پـر زړو باندې یې حکومت وکړو، له کبر او غرور څخه باید ځانونه وساتو، که دا ولـس نـه وي، کامیابي نشو ترلاسه کولای. د الله نصرت به شامل حال وي، خو اسباب غواړي.

د ولس سره ښه سلوک کوئ، د شریعت په چوکاټ کې خپل جهاد کوئ، د جهـاد څخه ناوړه استفاده مه کوئ، نو به مو الله نصرت کوي. تاسي وګوروئ د امارت لـه خـوا مجاهدینو ته ډیره کمه اعاشه ورکولـه کیـږي، خـو دا جهـاد پـه دې نـه دی روان، دا د اتفاق برکت دی، د الله نصرت دی او د خلکو همکاري ده، له دې ولس سره به ډبـر ښـه سلوک کوواو له دښمن سره به په هغسې طریقه چلند کوو، لکه څرنګه چې شریعـت را ته وایي، له شریعت څخه وتلی تجاوز یا له شریعت څخه وتلی چلند به نه کوو.

زمونږ هدف دالله تعالی رضاء، دافغانستان خپلواکي او داسلامي نظام نافذول دي، کوښښ به کوو چې دې اهدافو ته دټولو ممکنه مشروع لارو څخه ورسېږو. هر سړی په خپل کار کې مسؤل دی، باید یو د بل په کارونو کې مداخله ونکړي، لایحه موجوده ده، لایحه د شریعت په رڼا کې جوړه شوې، نو هر چا ته خپل مسؤلیت معلوم دی، باید د هغه په چوکاټ کې وچلیږي، که هر څوک په خپله لاره روان شي، نو ان شاء الله مشکلات به بیا کم او نه به وي.

محاکمو ته باید ښه متوجه واوسیږو، که چیري مو دا قانون د خدای له قانون سره سم وي، نو کامیابي راځي او که د الله د قانون سره مو عمل او اجراأت برابر نه وي؛ نو صرف برای نام جهاد به وی، پر مخ به نه ځي او ناکامي به هم وي. په ډېرو پیسو که کامیابي ترلاسه کیدلای، دښمن به موکامیاب شوی وای. دالله په کتاب او قانون کې مو کامیابي ده؛په ټینګ عزم به خپله مبارزه جاري ساتو، په دې لږ کار کې به الله تعالی برکت اچوي او ډېر فتوحات به راځي. مشرتابه به کوښښ کوي چې مجاهدین اکمال کړي، ټولې اداري او کمیسیونونه به خپل وظایف په ښه ډول ترسره کوي.

همدومره خبرې به کافي وي، تاسي به مورږ ته دعاوې کوئ، مورږ به تاسو ته دعا کوو، په دې صف کې به سره ملګري یو، ترڅو چې ژوندي یو، خپل خدمت به کوو، بیا که مورږ نه وو، نور به راځي. په خپل وخت کې به مسؤلیت په ښه طریقه سره سرته رسوو، په ښه اخلاص او په ښه محبت به خپله وظیفه ادا کوو.

نور مو الله ته سپارم.

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

۱۴۳٦ هـ ق کال د شوال المکرم ۱۴مه

۱۳۹۴هـ ش کال د اسد ۸ مه

۲۰۱۵میلادي کال د جولای ۳۰ مه

# سلګونو جهادي مشرانو، علماء کرامو او مخورو داسلامي امارت له نوي ټاکل شوي زعیم سره بیعت وکړ

**د الاماره ویب پاڼې راپور**

د ۲۰۱۵م کال، دجولای په ۳۰مه لـه غرمـې وروسـته د اسـلامي امـارت د رهـبري شوری اکثریـت غـړو، د عـالي کمیسـونونو رئیسـانو او اعضـاوو، والیـانو، ولسـوالانو، د ولایتي کمیسیونو مشرانو او اعضاوو، د هیواد له بیلابیلو ولایاتو څخه لوی شمیر محـاذ مشرانو او ډلګی مشرانو، د مدارسو استادانو، شیوخو او نورو مخورو شخصـیتونو د یـو لړ مراسمو په ترڅ کې د اسلامي امارت له نوي امیر ملا اختر محمـد منصـور سره لاس په لاس بیعت وکړ.

په دې مراسمو کې چې د اسلامي امارت زعیم ملا اختر محمـد منصـور او نائـب یې شیخ الحدیث مولوي هیبت الله اخندزاده او ګڼ شمیر نورو علماء کرامـو، شـیوخو، امارتي مشرانو او مجاهدینو په کې ګـډون درلـود، د څـو تنـو علـماء کرامـو او امـارتي مشرانو له وینا وروسته د اسلامي امارت مشر ملا اختر محمدمنصور صـاحب تفصـیلي خبرې وکړې د مرحوم امیرالمؤمنین د وفات او نوي امیر د ټاکلو په اړه یـې ګـډونوالو ته معلومات ورکړل، او ویې ویل چې یوازې د الهي دین د خدمت او روان جهادي بهیر د بقاء او جاري پاته کیدلو په خاطر یې د اهل الحل والعقد علماء کرامو لخوا ورسپارل شوی درونـد مسؤلیت قبول کړی دی.

منصور صاحب وویل په دې سختو او پیچلو شرایطـو کـې د زعامـت منصـب پـه یقین سره یو درونـد بار دی، ددې مسؤلیت د سم ترسره کیدلو لپاره باید لـه الله تعـالی څخه د توفیق او استقامت خواست وکړو او ټول مسؤلین دې لـه مشرتابه سره همکـار واوسي، ترڅو د څو لسیزو د جهاد قربانی مو ضائع نشي او الله تعالی دا کاروان په بریا سره تر منزل مقصودپورې ورسوي.

دمنصور صاحب له وینا وروسته له نوموړي سره د دشرعي أمیر په حیث لاس په لاس بیعت ترسره شو او وروسته د نوموړي په امامت د مازدیګر لمونځ ادا شو.

د یو بل خبره له مخې دهجرت په دیارکې هغوپه زرهاوو تنو علمای کرامو، مشایخو، مجاهدینواوعاموسلمانانوچې دشیخ القران والحدیث مولناعبدالستارجان رَحِمَهُ ٱللَّهُ په جنازه کې ګډون وال وو، کله چې دمحترموشیوخوله لوري ورته اعلان وشوچې عالیقدر امیرالمومنین ملامحمدعمر مجاهد وفات شوی اوپه ځای یې محترم ملا اختر محمد منصور داسلامي امارت دمشر، شیخ الحدیث مولوي هبت الله اخندزاده اومحترم ملا سراج الدین حقاني یې دمرستیالانوپه توګه ټاکل شوي اوباید شرعي بیعت ورسره ترسره شي، په دغه غمجنوشیبوکې چې داکثرومسلمانانوله سترګو اوښکي تویېدې په ډیراخلاص یې دبیعت لپاره لاسونه پورته کړل داسلامي امارت له نوي مشرتابه څخه یي ملاتړ وکړ اودتکبیرسپیځلي اوپرجوشه نارې یي زمزمه کړي.

د یادونې وړ ده چې د هیواد له مختلفو برخو څخه شیبه په شیبه د اسلامي امارت له نوي زعامت څخه په صوتي او کتابي شکل د ملاتړ اوبیعتونو بیانونه او خبرونه رارسیږي چې تفصیلات یي په الاماره ویب پاڼې کې کتلی شئ.

۳۱\۷\۲۰۱۵

# د اسلامي امارت د نـوي امــير له طرفه د ټولو بيـعت کوونکو له بيعت کولو څخه دقبوليت او مننې پيغام

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله رب العالمين، والعاقبة للمتقين، والصلاة والسلام علي خير خلقه محمد وعلى آله وصحبه اجمعين وبعد! يقول الله عزوجل: وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ (٥) القصص

ویاړم چې په داسې حال کې له تاسي سره مخاطب یم چې په مجاهـد افغانسـتان کې د امریکا په مشري کفري ایتلاف شکست خوړلی او ماتې خـوړلي ځواکونـه یـې پـه ذلت او شرمنده ګي له افغانستان څخه په وتو دي.

لِلَّهِ الْأَمْرُ مِن قَبْلُ وَمِن بَعْدُ وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ (٤) الروم

مونږ په دې پوره باورلرو چې دا لویه بریا لومړی د الله پـه نصرت اوبیـا د افغـان مسلمان ولس په بیسارو قربانیو او د اسلامي امت د هر اړخیزه معنوي او مادي مرستو په برکت زمونږ په برخه شوې.

د بهرنیو یرغلګرو په مقابل کې زمونږ ۱۴ کلن مقدس جهاد چې اوس لله الحمد د موفقیت وروستۍ مرحلې ته رسیدلی د امیر المؤمنین ملامحمد عمر مجاهـد رَحِمَهُ ٱللَّهُ په قیادت کې تر سره شوی چې د ا افتخار او ویاړ به دتل لپاره د مسـلمانانو پـه تـاریخ کې د ده په نوم ثبت وي.

اوس چې نومـوړی د الله دتقـدیر او قضـا لـه مخـې وفـات شـوی او د زعامـت او مسؤلیت دروند پیټی د علماوو، جهادي قومندانانو، مجاهـدینو او ټـول مجاهـد ولـس

لخوا زمونږ په غاړه را اچول شوی له الله تعالی څخه ځانته په دې درانه مسؤلیت حسن توفیق غواړم.

غواړم د خپل دې پیغام په وسیله له ټولو هغو قدرمنو وروڼو څخه چې له مونږ سره یې د اسلامي امت په دغو حساسو او سختو شېبو کې خواخوږي او مواسات ښکاره کړی مونږ ته یې د امیر المؤمنین د وفات له امله د تعزیت پیغامونه رالیږلی، او یایې هم له مونږ سره د اسلامي امارت د نوي امیر او د مسلمانانو دخدمتګار په تو ګه بیعت کړی له هغو ټولو محترمو څخه د زړه له کومې مننه کوم.

د دغو محترمو وروڼو له جملې څخه تر ټولو له مخه د نړیوال جهادي تنظیم (قاعدة الجهاد) محترم امیر جناب ډاکټر صاحب ایمن الظواهري حفظه الله څخه دهغه بیعت قبلوم، ترې مننه او شکرګذاري کوم چې دتعزیت او مواسات ترڅنګ یې دخپل ځان او خپلو اړونده مجاهدینو بیعت هم مونږ ته راولیږه، همداراز د جهاد په سنګرونو کې د ناستو مجاهدینو، دمدارسو، پوهنتونو او علمي مراکزو استاذانو، د هیواد ملي شخصیتونو او نورو ټولو هغو اسلامي او جهادي شخصیتونو، جهادي تنظیمونو چې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه یې د خپلو ځانګړیو پیغامونو په وسیله له مونږ سره غمشریکي کړې او یایې هم له مونږ سره دجهادي امیر په توګه بیعت کړی مقابلتا ورڅخه مننه او شکر ګذاري کوو او له الله تعالی څخه د ځان او ټولو وروڼو لپاره د اسلام او مسلمانانو د ښه خدمت کولو توفیق غواړو.

والسلام

ستاسوددعاپه هیله

امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد منصور

۲۹/۱۰/۱۴۳٦هـ ق

۲۳/۵/۱۳۹۴هـ ش ــ ۱۴\۸\۲۰۱۵م

# ټولو مجاهـدینو وروڼو ته د اسلامي امارت د زعیم پیغام

**الحمد لله رب العلمین و الصلوة والسلام علی رسوله محمد و علـی آلـه واصـحابه أجمعین و بعد:**

**د اسلامي امارت ټولو منسوبینو، مشرانو او کشرانو مجاهدینو او طالبـانو وروڼـو! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!**

**د الله تعالی له لوی دربار څخه امیدوار یم، چې په ټولو دیني او مشرـوعو دنیـوي چارو کې به کامیاب، سرلوړي او د صحت او عافیت په جامو پټ یاست.**

**وروڼو! د بې حده شکرونو او حمد ځای دی، چې زمـوږ او ستاسـو دغـه مشـترک کور، د مظلومانو، مجاهدینو، مهاجرینو، بندیانو او مخلصو غازیانو دغه د امیـد مرجـع اسلامي امارت الله تعالی په خپل فضل او کرم سره د پخوا په شان فعال، متحد او بـاقي وساته، لله الحمـد د مجاهـدینو تـرمنځ د تفـرق او نـزاع هـیڅ کومـه خطرناکـه حادثـه رامنځته نه شوه، د مجاهدینو کشرانو او مشرانو په خپل تدبر، فراست او د اسلام عالي منافعو ته په تعهد سره د دغه کور په محافظت او اصلاح کې خپله وندې ډیره ښه انجام کړه.**

**وروڼو! زه د دې پیغام له لارې یو ځل بیا دا خبره اعلانوم، چې اسـلامي امـارت د کوم چا، فرد یا ډلې شخــصي ملکیـت نـه دی، دا د هـر مسـلمان او مجاهـد کـور او د خدمت سنګر دی، هغوی چې په دې صف کې عملا ځان شامل بـولي او خـدمت سرتـه رسوي له الله تعالی څخه ورته کامل کامل اجرونه او توفیق غواړم او کوم وروڼه چـې د اسلامي امارت د رهبرۍ په نوي تغیر کوم ملاحظات لري، موږ امیـد لـرو چـې د دوی نیتونه به له خیرخواهۍ ډک وي، ځکه د اسلامي امارت په صف کې یي ډیـر خدمتونـه کړي او قربانۍ یې ورکړې دي او په اسلامي امارت یې زړه خوږیږي، خو له دوی نه زما**

خواست دادی، چې ځانونه دې پردي او طرف نه بولي، ځکه له دغسې موقعیت څخه یې دښمنان بده استفاده کوي چې ګټه یې دښمن او زیان یې یوازې اسلامي او جهادي صف ته رسیږي، دوی چې د خیرخواهۍ هره مشوره او د اصلاح هره خبره لري باید د امارت په دننه کې یې مطرح کړي د دوی د خیرخواهۍ هر اقدام او جهادي صف د اصلاح او پرمختګ لپاره هرې مشورې ته مورږ هرکلی وایو.

زه له خپل جانبه د خپل الهي مسؤلیت د رفع کولو لپاره یو ځل بیا دا خبره واضحه کوم، چې هغه وروڼه چې تراوسه یې ځانونه د څه ملاحظاتو له امله په فاصله کې ساتلي مورږ دوی ته د خپلو وروڼو او مجاهدینو په نظر ګورو او د وروري او اتحاد لاس وراوږدوو، اسلامي امارت د دوی او زمورږ ګډ کور او د خدمت صف دی، په دې صف کې د خدمت بلنه ورکوم، دغه صف دوی ته اړتیا لري او باید د فعال ساتلو او پرمختګ لپاره یې خپل خدمت ونه سپموي، په دې صف کې به دوی ته تر هیڅا کم ونه کتل شي او نه به درأیې او نظر د دې مخالفت له امله ورسره کوم توپیري چلند وشي بلکې لکه څنګه چې د اسلامي امارت پالیسي ده له ټولو مجاهدینو او منسوبینو سره به یوازې د شریعت په رڼا کې چلند کیږي.

زه ټولو مجاهدینو او امارتي منسوبینو ته هم د اخبره واضحه کوم چې هیڅ مجاهد ورور بل ورور پردی ونه بولي، یو د بل په وړاندې بد الفاظ ونه کاروي او نه غلط ګومانونه وربانديې وکړي اونه هم داسې چا ته په کم نظر وګوري څوک چې پنځه ورځې په فاصله کې پاته شوی وي، بلکې د لازیاتې خوشحالۍ او نزدیکت کوښښ دې وشي اوله ذهنه دې د لریوالي تصور لیري شي.

مصلحت په دې کې دی، چې په دغسې شرایطو کې د جهاد او مسلمانانو عالي اهدافو ته نظر وشي او که کومه نیکه مشوره وي هغه په کور دننه د تفاهم، خواخوږۍ او صمیمیت په چوکاټ کې مطرح شي. والسلام

امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد منصور

۱۹۱۹\۲۰۱۵

# دنیکمرغه لوی اختر د را رسیدو په مناسبت د امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور حفظه الله پیغام

**بسم الله الرحمن الرحیم**

الله أَكْبَرُ الله أَكْبَرُ لَا إِلَهَ إِلَّا الله وَالله أَكْبَرُ الله أَكْبَرُ وَلِلهِ الْحَمْدُ

إِنَّ الْحَمْدَ لِلهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْ شُرُورِأَنْفُسِنَا وَسَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، فَمَنْ يَهْدِهِ الله فَلاَ مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلاَ هَادِيَ لَـهُ، وَأَشْـهَدُ أَنْ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ الله وَحْـدَهُ لا شَرِيْـكَ لَـهُ, وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ, إِنَّ أَصْدَقَ الحَدِيْثِ كِتابُ اللهِ وخَيْرَ الهَدْيِ هَدْيُ محمد صلى الله عليه وسلم, وشَرَّ الأُمورِ مُحْدَثاتُها وَ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ.

اما بعد: قال الله تبارک وتعالی: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ الله حَقَّ تُقَاتِهِ وَلاَ تَمُوتُنَّ إِلاَّ وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ١٠٢وَاعْتَصِمُواْ بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعًا وَلاَ تَفَرَّقُواْ وَاذْكُرُواْ نِعْمَةَ الله عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاء فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنتُمْ عَلَىَ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنْهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ) ١٠٣ ال عمران.

**د افغانستان مسلمان ولس، د جهاد په سنګرونو کې ناستو مجاهدینو او ټول اسلامي امت ته د نیکمرغه لوی اختر د رارسیدو په مناسبت مبارکي وایم.**

**الله تعالی دې په دې مبارکو شپو ورځو کې د مسلمانانو ټولې قربانی، صدقات، عبادات او د حج مناسک قبول وګرځوي، په خاص ډول په مکه مکرمه مسجد الحرام کې د کرین د رالوېدو په غمجنه پېښه کې د ټولو شهید ان شویو حجاجو شهادتونه دې الله تعالی قبول او د پېښې زخمیانو ته دې عاجله او کامله شفاء ورنصیب کړي.**

**ــ داسلامي امارت د مؤسس او محترم مشر ـ امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ درحلت له امله ټولومسلمانانو ته د تسلیت او تعزیت مراتب وړاندې**

کوم او هرچا چې په دې سترغم کې له موږ سره خواخوږي ښودلې او د اسلامي امارت په متحد ساتلو کې يې راسره مرسته کړې له هغو ټولو نه مننه کوم الله تعالی دې ټولو ته عظیم اجر ورکړي او د عالیقدر امیرالمومنین رحمة الله علیه لپاره د الله تعالی څخه د مغفرت او مرحمت هیله لرم، الله تعالی دې د ده ستر اسلامي اوجهادي خدمتونه او په دې مقدسه لاره کې ټولې ستړياوې قبولې اوعالي درجات نصیب کړي، درنې کورنۍ ته دې الله تعالی صبر جمیل او غوره بدله ور کړي. آمین یارب العلمین.

ــ غواړم له دې لوی دینی مناسبت اوفرصت نه په استفادې سره د افغانستان د وروستیو جهادي او سیاسي پیښو په اړه د اسلامي امارت د مواقفو څرګندونه وکړم.

مسلمانانو وروڼو!

۱۴ کاله کیږي چې په افغانستان کې د امریکا په مشرۍ داشغالګرو په وړاندې د افغان مسلمان ولس جهاد تر واحد قیادت لاندې دوام لري، په دې کې شک نشته چې په دې سختو حالاتو کې د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد قیادت او رهبري د هغه د خلوص، کلک عزم اوځانګړي معنوي مقام وجه اوکارنامه وه چې داسلامي امارت نظامي، سیاسي، فرهنګي، اداري او نورې بیلابیلې چارې يې په ډیره ښه توګه تنظیم او رهبري کولې.

د مرحوم امیرالمؤمنین تر څنګ د اسلامي امارت د رهبري شوری غړي، لوړ رتبه مشران، جهادي قومندانان، مسؤلین، دسنګرونو مجاهدین او افغان مجاهد ولس په ډیر اخلاص، صداقت، او وفاداری سره ودرېدل ترڅو يې په ګډه د الله تعالی په نصرت دا سپېڅلی کاروان له سختو پرڅاوونو راتېر او د مسلمانانو په مادي اومعنوي مرسته يې د سرتاسري فتحې منزل ته نږدې کړ.

اوس چې د اسلامي امارت د زعیم په حیث زما پر اوږو کوم درونده بار ایښودل شوی دی، زه یوځل بیا تکراروم چې په دې سختو شرائطو او حساس وضعیت کې د الله تعالی له نصرت او د ملګرو له همکاری پرته د دغه مسؤلیت انجامول په یوازې توګه

ممکن نه دي؛ نو ځکه لکه څنګه چې د اسلامي امارت له منسوبینو، مسؤلینو او مجاهدینو څخه د همکارۍ او دعاوو خواست کوم، له ټولو خواخوږو علماء کرامو، پوهانو او د نظر له خاوندانو مې غوښتنه ده چې د اسلامي امارت د سالمې رهبرۍ او په نظامي، سیاسي، تعلیمي، تربیوي، فرهنګي، اقتصادي او نورواجتماعي برخو کې د مثبت، معیاري او مؤثر خدمت په ترسره کولو، پلانونو جوړولو او د هغو د تعمیل په برخه کې خپلې ګټورې مشورې، طرحې او عملي مرستې راڅخه ونه سپموي، اسلامي امارت نه یوازې یو جهادي او سیاسي خوځښت دی، بلکې د خپل مسلمان ولس د بیداریۍ، تربیې او هر اړخیزې ترقۍ ارمانونو ته ژمن نظام هم دی، چې باید د خپل ولس د نیکمرغۍ، هوسایني او پرمختګ په چارو کې ورسره همکاري وکړای شي او په دغه ګډ کور کې د ټولوپرګنو همدارنګه د عصري او دیني استعدادونو ترمنځ نزدیکت، هماهنګي اوکلکه همکاري موجوده شي.

زه خپلو ټولو مجاهدینو او ولس ته ډاډ ور کوم چې د الله تعالی په توفیق سره به ترخپله وسه په مقدس شریعت د عمل کولوکوښښ کوم د عالیقدر امیر المومنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ لاره به تعقیبوم، صف به لکه مخکې چې متحد و همداسي به یې ان شاءالله متحد ساتم او د علماء کرامو د اسلامي لارښوونو په رڼا کې به خپلې چارې پر مخ وړم.

ــ دا چې داشغال په وړاندې زمونږ ځوارلس کلن جهاد بریالیتوب ته نږدې شوی او دښمن په هر ډګر کې ماته خوړلې اوس هڅه کوي چې له تبلیغاتي حربو نه په استفادې د مجاهدینو تر منځ د بې اتفاقۍ او بې باوریۍ فضا رامنځ ته کړي، د مجاهدینو په واحد صف کې د انشعاب بې بنیاده افواهات په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه خپروي، ټول ملت اومجاهدین باید د دښمن دغه ډول دسیسو او پلانونو ته پوره متوجه وي په خاص ډول هغه ملګري چې ګیلې لري په هغوی باندې غږ\ ږغ کوم چې د دښمن د تبلیغاتي اونورو شیطاني دسیسومخه دې ونیسي، ځکه اسلامي امارت زمونږ اوستاسو په قربانیو روان شوی مشترک کاروان دی زمونږ، ستاسو او ټول کړیدلي ولس عزت او حیثیت د همدې کور په متحد ساتلو کې دی، په دې

حساسو شیبو کې خپل صف متحد او یوموټی وساتئ دخپلـو شـهیدانو د پـاکو وینـو او ارمانونو احترام تر هر څه ضرور دی.

مجاهدین باید د دښمن پوچو تبلیغاتو ته غوږ ونه نیـسي او د بـد ګمانـۍ څخـه باید ځان وژغوري، الله تعالی فرمایي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُـوا اجْتَنِبُـوا كَثِـيراً مِـنَ الظَّـنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ.

ترجمه: اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی! له ډېرو بدګمانیو ځان وساتئ؛ ځکـه په یقین سره ځینې بد ګمانۍ ګناوې دي.

د مؤمنانو او د الله تعالی د مکلفو بندګانو په حیث دا زموږ وجیبه ده چې متحـد اویو موټی واوسود قومي، سمتي، او ژبنیو تعصبونو څخـه بایـد پـه کلکـه ځـان وسـاتو، دخپل ولس باید زیات خیال ولرو او په سر یې د شفقت لاس تیر کړو.

ــ د کابل اداره، اشغالګراو ځیني نور مفسد عناصر دهیواد په بیلابیلو برخـو کـې زموږ مظلوم هیواد وال په یوه اوبل نامه ټکوي، عام ولس ته د دښمن په نظـر ګـوري، د ژوند حق ځیني اخلي او په ناحقه تورونویې بندیخانوته اچوي، دبند په دوران کې غیـر انساني چلند ورسره کوي، حتی دمظلوم ولس بندیان په بې رحمانـه او وحشـیانه توګـه پـه شـهادت رسـوي، همدارنګـه ځینـی مفسدکسـان اومغرضـې اسـتخباراتي کـړۍ دمجاهدینو دبدنامۍ لپاره هم بې ګناه خلک ازاروي، مونږ دغه ټولې ظالمانه کړنې نـه تنها دا چې په کلکو ټکو غندو، بلکې عاملینو ته به یې له اسلامي اصـولو سره سـم، سـزا ور کوو، ان شاء الله. که دمجاهدینو په صف کې څوک د ملکي تلفاتو په برخـه کـې بـې پروایي وکړي یا قصدي عمل وکړي یا له بندیانوسره غیر شرعي چلند وکړي موږ به یـې جدي پوښتنه کوو او د مقدس شریعت په رڼا کې به سزا ورکوو، موږ به خپل صـف پـه پاکو او مخلصو انسانانو تقویه کوو او د بې لارې کسانو ملګرتیا ته چې دمجاهد په نامه غیر شرعي اعمال تر سره کوي هیڅ اړتیا نه لرو او په کلکه به یې مخه نیسوان شاءالله.

ــ مجاهدین باید ډیر متوجه وي چې د عملیاتو په وخت د بیګناه خلکو وینې تویې نه شي اسلامي امارت د خپل ولس د تحفظ مسؤلیت په غاړه لري او زه به داسلامي امارت دامیر په حیث هیڅکله اجازه ورنکړم چې د بې احتیاطۍ له امله د خلکو سر یا مال ته زیان ورسیږي.

ــ مجاهدینو ته په هیڅ کارکې اجازه نشته چې له خپله ځانه دا سې اجراآت وکړي چې له مقدس شریعت سره په ټکر کې وي اویامو دا سې مصلحت سنجولی وي چې الله جل جلا له پرې نا را ضه کیږي او ستاسو نفسونه پرې خو شحاله کیږي هغه که دخپلو ملګرو په منځ کې وي که له عام ولس سره وي حتی د دښمن سره به داسې چلند نکوئ چې د الله تعالی ناراضي ورکي راځي د نرمي پر ځای به نرمي کوئ او دسختي پر ځای به سختي کوئ هر عمل به د اسلامي قانون او نبوي اخلا قو په رڼا کې کوئ.

ــ جنګ پرموږ باندي تحمیل شوی، په اسلامي حکومت او ملت مو تیری شوی خاوره مو اشغال شوې نوپه هرلحاظ او هرقانون دا حق لرو چې له خپلې عقیدې اوخپلې خاوري نه دفاع وکړو. آزادي ترلاسه کړو او شرعي نظام حاکم کړو، داسې افغان شموله شرعي نظام چې تر سیوري لاندې یې د ټول ولس حقه حقوق خوندي وي او له یو بل سره د مینې او وروروليۍ په فضا کې ژوند وکړي.، دهغوی د ارادې ممثل، د استقلال او ځمکني تمامیت مدافع او د خپلو ټولو شرعي، جهادي او ملي مصالحو د تحفظ تر څنګ له نړیوالو سره د مثبت تعامل وړتیا ولري.

ــ اشغالګراود هغوی داخلي همکاران چې د مجاهدینوپه وړاندي یې کلکه ماتي خوړلې اوس هڅه کوي چې د افغانستان په شمال کې زموږ فتوحات زموږشمالي ګاونډیانوته د خطرپه توګه معرفي کړي اوپه دې ډول یې دځان ملګري کړي خو زموږ ګاونډیانوته زموږ پالیسي واضحه ده اوموږباید زموږ د دښمنانو په ژبو ونه پیژني.

ــ د هېواد د نوي نسل لپاره دیني او عصري زده کړې لوی او جدي ضرورت دی، زه د اسلامي امارت په مجاهدینو ږغ کوم چې په خپلو سیمو کې د دیني او عصري تعلیم لپاره زمینه برابره او مرسته ور سره وکړي.

ــ دهیواد پوهان، متدینه تعلیمي طبقه، ملي سوداګر، اوټول مسلکي او فني کسان، ددې هیواد دراتلونکې معماران دي مجاهدین به یې داستعدادونو قدراو د شتمنیو ساتنه کوي ټول دې په ډاډه زړه فعالیت اوخدمت کوي، اسلامي امارت ټول عام المنفعه او شخصي تأسیسات اوخدمات د ولس حق او ملي شتمني بولي اوهیڅاته به اجازه ورنه کړي چې زیان ورته ورسوي. د بې غرضه خیریه مؤسساتواواهل خیرو هغه خدمتونه چې زمونږ د ولس د خیراوهوسایي لپاره یې تر سره کوي، د قدر وړ دي، او د کارونو د تسهیل په مورد کې ور سره مرسته کوو.

ــ مورږ په افغانستان کې داشغالګرو هرډول موجودیت، د افغانستان او ټولې سیمې په خلاف یو جګړه زیږوونکی او جګړه اوږدوونکی عامل ګڼو، ځکه د سیمې د سالمیت لپاره قطعي ګواښ او یقیني زیان دی، نوهر هغه څوک چې د افغانستان او سیمې آرامي اوسوکالي غواړي هغوی باید له افغانانو سره د اشغال په خاتمه کې مرسته وکړي.

ــ اسلامي امارت له خپلونوروفعالیتونوسره په څنګ کې سیاسي هلي ځلي هم کوي او په دې لاره کې یې وار له مخې عملي ګامونه هم اخیستي دي اود دې کار لپاره د اسلامي امارت سیاسي دفتر ځانګړی دفتر دی چې له تیرو څو کلونو راهیسې په فعالیت بوخت دی اوله ښلا ښلوجهتونوسره د رابطو اومذاکراتو واک مو ورکړی دی، سیاسي دفتر د اسلامي امارت دا پیغام هرچاته رسولی چې مورږ له ګاونډیو، سیمې او نړۍ له هیوادنو په ځانګړي ډول اسلامي هیوادونوسره حسنه او مشروع روابط غواړواو غوښتنه کوو چې زمورږ د ځوریدلي او جنګ ځپلي هیواد څخه د اشغال په خاتمه کې د نړۍ د آزاد ضمیر خاوندان مرسته راسره وکړي.

ــ مورږ به دمذاکراتو په اړه له وخت اومقتضی سره سم هغه پالیسي پرمخ بیا یو چې د مقدس شریعت له اصولو، جهادي ارمانونواوملي ګټو سره سمون ولري.

ــ اسلامي امارت په دې باور لري چې، که دوطن اشغال نه وي، د افغانانو خپل منځي ستونزې د هغوی د خپل منځي تفاهم په وسیله حل کیدای شي، د افغان لانجې

د هواري په پلمه هر ډول خارجي فشار، نه یوازي دا چې ستونزه نشي حل کولای بلکې د نورو ستونزو د راپیدا کیدو لامل ګرځي.

ـ د کابل اداره که غواړي چې په هیواد کې جګړه ختمه او سوله راشي نو د جګړې پایته رسول د اشغال په پایته رسولو او له اشغالګرو سره د هرډول پوځي او امنیتي تړونو نو په فسخه کولو کې ممکن دی.

دا چې په خوله د سولې شعارونه ورکول کیږي او په عمل کې د جګړې سنګرونه د سمتي، قومي، مذهبي او تنظیمي جګړو په اور ګرم ساتل کیږي، خپلسرو بدنامو جګړه ما رانواو بې مهاره ملیشو ته اختیارات او امکا نات ورکول کیږي او مظلوم ولس پرې ځوروول کیږي دا په سوله باندې له ملنډو وهلو پرته بل مفهوم نه لري.

ـ د اشغال تر سیوري لاندې د مختلفو ډلو ټپلو را پیدا کول او د مجاهدینو په خلاف د هغوی جنګول په افغانستان کې د امریکایانو د نیابتې جګړې د تداوم لپاره د اشغالګرو وروستۍ دسیسه ده، چې له افغانانو څخه د انتقام په غرض یې عملي کوي، خو ان شاء الله افغان مسلمان ولس به یې د خپل وحدت په ټینګښت سره دا دسیسه هم داسې ناکاموي لکه د اشغالګرونوري ټولې هڅې چې یې له ناکامي سره مخ کړي دي.

ـ افغانان باید هوښیار اووسي داشغالګروهیوادونوخفیه کړۍ زمونږ ملت په لوی لاس دقوم، قبیلې اوسمت پالني په ناروغۍ اخته کول غواړي اوزمونږ د واحد هیواد تجزیې ته لاره هواروي، ان تردې چې اوس غواړي زمونږ د تاریخي اسلامي هیواد اسلامي اوافغاني تشخص هم متنازع کړي، چې نه بیلګه یې اوسنۍ بریښنایي تذکرې دي.

ـ اشغالګرو په تیرو څوارلسوکلونوکې د ملیاردونو ډالرو مرستو له اعلان سره سره په افغانستان کې هیڅ کوم داسې اساسي کارنه دی کړی چې افغانانوته تلپاتي اواساسي ګټه ولري، هره پروژه یې لنډمهاله، بې کیفته اوغولوونکې وه، البته د فکري تخریب اوخپلمنځي دښمني لپاره یې پوره زهر وشیندل.

ــ امریکایان او د هغوی ټول ایتلافیان باید دلته د دوی په خپل اعـتراف، د خپلـو زرګونو وژل شویو عسکرو او لسګونوزره ژوبل شویو پوځیانو لـه وینـو او معیوبیـت نـه پند واخلي، نه داچې دلته نـور پوځیـان راولیـږي ترڅـو هغـوی هـم د افغانـانو د روان جهادي غبرګون په ترڅ کې ووژل شي، معیوب شي اوپه رواني مرضونواخته شي.

ــ امریکایانو ته وایو تاسو چې د سپتمبر د پیښې په پلمه افغانستان اشغال کړ نن له هغې ورځې څوارلس کاله تیریږي، د دې پر ځای چې تاسو د افغانسـتان پـه اشـغال سره د سپتمبر د یوولسمې په څېر د نورو پیښو مخنیوی کړی وي، نن ستاسي د ژونـد هره لحظه د نړۍ په هره برخه کې ستاسي لپاره د سپتمبر خونړۍ حادثـه ده، هرځـای تاسو تر برید لاندې یئ او ژوند مو په خطر کې دی، تاسو ته په کـار ده چې د دا شـان حوادثو د مخنیوي او د ځان د امنیت په غرض، په خپلو اسـتعماري تګـلارو بانـدې لـه سره غور وکړئ! نه دا چې د نورو ولسونو په وژلو او اشغالولو کې د خپل ځان د امنیت خیالي خوبونه ووینئ.

–د افغانسـتان اسـلامي امـارت لـه اسـلامي نـړۍ او مسـلمانانو سره د دینـي خواخوږۍ له مخې تړاو لري، او ځان د هغوی په خوښیو او غمیزو کې شریک ګڼي، لـه همدې کبله د فلسطیني ولس د غوښتنو او نورو مستضعفو مسلمانانو د برحقې داعیـې لپاره به هر وخت خپل آواز اوچتوي.

ــ نن ورځ مونږ وینو چې لله الحمد مجاهدینو د الله په نصرت دښـمن تـه پـه هـر میدان کې ښکاره شکسـت ورکـړی، د افغانسـتان پـه هـره برخـه کـې مجاهـدینو ډیـر فتوحات حاصل کړي، د دښمن ټولې دسیسې یې شنډې کړې، د دې لپاره چې نـور هـم د الله د نصرت مورد وګرځو باید مجاهدین وروڼه خپل جهاد د الهي کلمې د لوړوالي او خپلو ځوریدلو هیواد والو د آسودګي او خدمت په نیت پـرمخ یـوسي، د ولـس د ځـان، مال او انساني حیثیت ساتل خپل شرعي او اخلاقي مکلفیت وګڼـي، لـه هغـوی سره پـه تعامل کې له عطوفت، مهرباني او خواخوږي څخه کار واخلي، د جهادي فعـالیتونو پـه تر سره کولو کې ولسي حمایت د ځان او دعاومسـلمانانو سـتونزې لـه علـمای کرامـو،

قومي مشرانو او ولسي متنفذینو سره په مشورې او تفاهم کې حل کړي او له ولس سره دحاکم نه، بلکې د خادم په حیث چلن وکړي.

ــ په پای کې یو ځل بیا افغان مجاهـد ولـس، د سـنګر مجاهـدینو، د دښـمن پـه زندانونو کې اسیرو مجاهدینو او ټول اسلامي امت ته د نیک مرغه لـوی اخـتر مبـارکي وایم الله تعالی دې د مجاهدینو او ټولو مسلمانانو ټولې هغه قربانۍ او فعالیتونه چې د الله د رضا لپاره یې ترسره کوي قبولې کړي، الله تعالی دې ټول اسلامي امت د دښـمنانو د هر ډول دسائسو له شره محفوظ او مصـؤون لـري او الله تعـالی دې ټولوتـه توفیـق را نصیب کړي چې داختر په دغو نیکمرغـه ورځـو کـې دشـهیدانو، بنـدیانو، مجاهـدینو، مهاجرینو اوټولو ناوسه اوبې وزله مسلمانانو کورنۍ هم په خوښیو کـې را سره شریکـې او ترخپله وسه یې احتیاجات پوره کړو.

اللهم حبب إلینا الإیمان وزینه في قلوبنا وکره إلینـا الکفـر والفسـوق والعصـیان، واجعلنا من الراشدین، اللهم انصرنا علی أعدائنا وأصلح أمورنـا واهـدنا لمـا فیـه الخـیر والصلاح في دیننا ودنیانا. آمین

والسلام

د اسلام خادم امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد منصور

٨/١٢/١٤٣٦هـ ق

٣١/٦/١٣٩٤ هـ ش

٢٢/٩/٢٠١٥ م

# د ولسي درنښت او انساني کرامت ساتل شرعي او اخلاقي مکلفیت دی

**دالاماره اونیزه تبصره**

**تېره اونۍ (۳۱ سنبله ۱۳۹۴هـ ش) د ۱۴۳۶هـ ق کال د نیکمرغه لوی اختر په مناسبت د اسلامي امارت د زعیم ملا اختر محمد منصور حفظه الله تعالی د مبارکۍ پیغام خپور شو، د ګران هیواد او نړۍ په مطبوعاتو کې یې له ځان سره تعلیقات او تبصرې لرلې، په حقیقت کې د هیواد اوسنیو حالاتو ته په کتو جامع پیغام و، د جهاد، سولې، تعلیم، سیاست، د اسلامي شریعت حاکمیت، ولسي درنښت، آزادۍ او استقلال په څېر ډېر موضوعات یې په بر کې نیولي وو، چې هره موضوع یې په خپل ذات کې د بحث او سپړلو وړ ده.**

**خو د ولسي درنښت او انساني کرامت مسئله پکې ډېر د پام وړ او څرګنده وه، پیغام وایي چې اسلامي امارت یوازې د یو جهادي او سیاسي خوځښت نوم نه دی بلکې د افغان مسلمان ولس د ښوونې او روزنې، اقتصادي ښیرازۍ، اجتماعي سوکالۍ، هر اړخیزې ترقۍ، تمدن او د عصري ژوند ټولو ارزښتونو ته ژمن نظام دی، پیغام په ډاګه کړې چې افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی، د ټولو پرګنو او قومونو، د دیني او عصري علومو د متخصصینو او په هیواد کې د موجوده علمي او مسلکي کډرونو او د ژوند په مختلفو برخو کې د استعدادونو څخه د هیواد د پرمختګ په لاره کې باید حد اعظمي استفاده و شي او دا ګډ کور په مینه، اتفاق او همغږۍ ودان شي.**

**د ولسي کرامت بله څانګه د عقیدې او مفکورې سره تړاو لري چې د اهمیت له پلوه لومړی مقام لري، د اسلامي شریعت او آسماني قوانینو تنفیذ زمونږ د ولس بر**

حقه غوښتنه ده چې په خپل ټول توان سره يې ملاتړ کوي، بلکې همیشه يې د دغه ستر مقصد د لاسته راوړلو په موخه د جهاد ډګر ته دانګلي دي، د باطل پرستو او تېري کوونکو ککړې يې د الله تعالی په مرسته ورماتې کړي دي، چا چې د افغان ولس عقیدي ته په سپکه کتلي دي هغوی نه یوازي جګړه بایللې بلکې په نړۍ کې د خجالت او رسوايې سره مخ شوي دي، ښه ښلګه يې کمونیستي کودتاه او روسي تېرې دی، پیغام د دې مسئلي پوره وضاحت کړی دی او ولس ته يې د شرعي نظام په هکله ډاډ ورکړی دی: «مونږ په هر لحاظ او هرقانون دا حق لرو چې له خپلې عقیدې او خپلې خاوري نه دفاع وکړو، شرعي نظام حاکم کړو، داسې افغان شموله شرعي نظام چې تر سیوري لاندې يې د ټول ولس حقه حقوق خوندي وي».

د ولسي درنښت بل اړخ د ولس د سر، مال او عزت ساتنه ده، د افغانانو د ژوند لپاره د امن ډاډمن چاپیریال رامنځته کول او د هغوی له حقوقو نه دفاع کول د انساني کرامت مهم باب دی، په دې موضوع باندې بیا بیا تاکید شوی دی، د پیغام په یوه برخه کې د ملکي تلفاتو د مخنیوي په اړه مجاهدینو ته جدي هدایات شوي: "مجاهدین باید ډیر متوجه وي چې د عملیاتو په وخت د بیګناه خلکو وینې تویې نه شي، اسلامي امارت د خپل ولس د تحفظ مسؤلیت په غاړه لري او زه به داسلامي امارت دامیر په حیث هیڅکله اجازه ورنکړم چې د بې احتیاطۍ له امله د خلکو سر یا مال ته زیان ورسیږي". د پیغام په بله برخه کې د ولسي کرامت ساتنه د جهاد د لوړو اهدافو په لړ کې ذکر شوې ده او ستر مسئولیت بلل شوی دی: "باید مجاهدین وروڼه خپل جهاد د الهي کلمې د لوړوالي او خپلو ځوریدلو هیوادوالو د آسوده ګۍ او خدمت په نیت پرمخ یوسي، د ولس د ځان، مال او انساني حیثیت ساتل خپل شرعي او اخلاقي مکلفیت وګڼي، له هغوی سره په تعامل کې له عطوفت، مهربانې او خواخوږي څخه کار واخلي".

همدا شان د ولسي درنښت بله برخه د هیواد په مهمو مسائلو، تصمیم ګیرۍ او فیصلو کې د ملت اشتراک دی، د لمر په شان روښانه ده چې علماء کرام، قومي

مشران، ولسي متنفذین او مسلکي هستۍ د هیواد په امنیت، پرمختګ او د افغانانو په متحد ساتلو کې ارزښتناک رول لري، چا چې د ولس مشورې نه دي منلې او د ولس فیصلو ته یې غوږ نه دی نیولی هغوی ځان هم تباه کړی دی او هیواد هم، ځکه نو پیغام ټینګار کوي: مجاهدین دې د ځان او د عامو مسلمانانو ستونزې له علمای کرامو، قومي مشرانو او ولسي متنفذینو سره په مشورې او تفاهم کې حل کړي، او له ولس سره دحاکم نه، بلکې د خادم په حیث چلن وکړي.“

د دې تر څنګ یې د هیواد تعلیم یافته طبقه او ملي سوداګر د هیواد معماران ګڼلي دي چې باید د استعدادونو قدر او شتمنیو ساتنه یې وشي او د فعالیت او خدمت موقع ورکړل شي، بل خوا یې عام المنفعه تاسیسات د ولس شتمني بللي ده چې باید د هر ډول تعرض او زیان نه محفوظ وي، د ولس د خیر او سوکالۍ په منظور د بې غرضه خیریه مؤسساتو د فعالیت هر کلی شوی دی، په پیغام کې د افغان ولس د نیکمرغۍ او ښیګڼې په موخه د توجه وړ ډېرى نور ټکي هم شته چې د مطالعې په وخت کې به خامخا د لوستونکو سترګې پرې یخې شوې وي. والله الموفق

۲۸\۹\۲۰۱۵

## د کندز ښار د فتحې په مناسبت د اسلامي امارت دمقام اعلامیه

بسم الله الرحمن الرحیم

د حمد او شکر ځای دی چې بالاخره د الله تعالی په بې پایه نصرت او مرحمت سره د هیواد په شمال کې د مهم ولایت کندز مرکزي ښار د لومړني ولایتي مرکز په حیث د اسلامي امارت د مجاهدینو په لاس فتحه شو. الحمدلله و المنة. د افغانستان د اسلامي امارت مشرتابه ټولو مجاهدینو او عام مجاهد اولس ته د دې سترې بریامبارکي وایي او سپارښتنه کوي چې ددې لویې فتحې لمانځنه د الله تعالی په حمدونو او د شکرانې په عباداتو سره وکړي.

د کندز د پیښې په اړه اسلامي امارت لاندې څو ټکي د تذکر وړ بولي چې باید ورته جدي توجه وشي.

۱ ــ مجاهدین دې د عملیاتو له پای ته رسیدو او نظامي اهدافو له ترلاسه کولو وروسته ټوله توجه د کندز ښار د درانه ولس د سر، مال، ملکیتونو او عزت ساتنې ته وګرځوي، ډیر ځله له دغسې جګړه ایز ماحول څخه فرصت طلبان او لوټماران بده استفاده کوي، مجاهدین باید ویښ وي او اجازه ورنکړي چې څوک د عام ولس سراو مال او یا د بیت المال عامه شتمنیو ته زیان ورسوي.

۲ ــ د کندز ښاریان دې په دې خبر وي، چې اسلامي امارت په شخصي اموالو د تعرض، خپلسرو او بې محاکمې وژنو، لوټماریو اویا دچا د کورني حریم د ماتولو نیت او اراده نلري، بلکې ددغسې کړنو او ګډوډیو مخه نیسي، کوم کسان که له جګړه ایز وضعیت نه په بده استفاده ددغسې جرائمو هڅه کوي هغوی مجاهدین نه دي. ښاریان بایددغسې کړنو په مخنیوي او دعاملینو په نیولو او مجازات کې د اسلامي امارت له مجاهدینو سره همکاري وکړي.

۳ ــ دکندز ښاریان دې د خپل سراو مال د حفاظت په اړوند هیڅ تشویش نه کوي، بې غمه دې له معمول سره سم د خپل ورځني ژوند چارو ته دوام ورکړي، ملي تجاران، کارګران، د شفاخانو، ښوونځیو، ښاروالۍ او ټولو خدماتي بنسټونو کارکوونکي دې بیغمه ورځنۍ چارې پیل کړي او د هیڅ ویرې او تشویش احساس دې نه کوي، مجاهدین ددوی وروڼه دي او ددوی د سراو مال ساتنې ته ژمن دي، مجاهدین دهیڅا د ځورولو یا توهین فکر نه لري بلکې د ولس د هوسایني او قدردانۍ نیت یې په زړه کې دی.

۴ ــ د حکومتي اداري اړوند کوم چارواکي یا عسکر چې لا هم په ځینو برخو کې د جنګبدو اراده لري یا د انتقام له ویرې یي ځانونه مخفي کړي دي، زمونږ پیغام ورته دادی چې د اسلامي امارت د مجاهدینو په اړه دې ددښمن تبلیغات او بدګمانۍ له ذهنه وغورځوي.

مجاهدین د انتقام فکر نه لري بلکې د عفوې له پیغام سره راغلي دي، پخوا چې دوی د مجاهدینو په وړاندې هدف و علت یې داو چې دوی د اشغالګرو او اجیر رژیم په صف کې عملا ولاړ وو او دندې یې اجراء کولې، اوس که دوی له هغه کردار څخه منصرف کیږي، له مخالف صف سره خپل تړاو شکوي د اسلامي امارت د عفوې دروازې ددوی په وړاندې خلاصې دي، دوی کولای شي په ډاډه زړه د دعوت او ارشاد د پروګرام په توسط له مجاهدینو سره په رابطه کي شي او خپل د سراو مال حفاظت تضمین کړي.

۵ ــ دا فتوحات دالله تعالی نصرت اوددې مجاهد ولس دقربانیو نتیجه ده، لهذا دکابل اداري چارواکي دې په جرات سره خپله ماتي ومني دمجاهدینو لاس ته راوړني دې پردیو استخباراتوته نه منسوبوي اونه دې هم دخپل شکست انتقام په ړندو بمباریو او تو پونو سره له عام ولس نه اخلي، دمجاهدینو پرمختګونه دې دیوه تریخ حقیقت په ډول ومني او په سړه سینه دې دخپل راتلونکي او ټول هیواد دمصلحت فکر وکړي، نورهغه وخت تېر شوی چې د دوستم غټې خبرې، داشرف غني تیر ایستونکي وعدې او دغربي رسنیوپوچ تبلیغات دې عامه ذهنیت اغفال کړي.

والسلام

داسلام خادم امیر المؤ منین ملا اختر محمد منصور

۱۴/۱۲/۱۴۳۶هـ ق

۶/۷/۱۳۹۴هـ ش ــ ۲۸\۹\۲۰۱۵

# د اسلامي امارت زعیم امیرالمؤمنین
# ملا اختر محمد منصور حفظه الله مجاهدینو ته د مخابرې له لارې ارزښتناکه وینا وکړه

**الاماره**

نن سه شنبه ۱۳۹۴هش، د عقرب د میاشتې په پنځمه نیټه سهار اووه نیمې بجې د اسلامي امارت زعیم امیرالمؤمنین ملا اخترمحمدمنصور صاحب د هیواد په لراوبر کې ټولو مجاهدینو ته د مخابرې له لارې ارزښتناکه وینا واورولـه. نومـوړي خپلې خبرې په حمد او صلوة سره پیل کړې ورپسې یې مجاهـدینو تـه مسـنونه سـلام، نیکـې هیلې او د وروستیو فتوحاتو مبارکي وړاندې کړه.

جناب منصور صاحب د خپلـو خـبرو پـه پیـل کـې مجاهـدینو تـه د نصرت او د تکالیفو په مقابل کې داجر دعاګانې وکړې دغه راز یي د جهاد د ډګر د ټولـو شـهیدانو ارواحو ته هم دعاء وکړه او د جګړې له متاثرینو سره یـي د خواخـوږۍ لـه ښـودلو سره سره هغـوی تـه د الله تعـالی لـه دربـاره د پـوره پـوره اجرونـو خواسـت وکـړ. محـترم امیرالمؤمنین د خپلو خبرو په ترڅ کې مجاهدین لـه ولـس سره ښـه چلنـد تـه راوبلـل نوموړي وویل: دا ولس غیور، مجاهد او متدین ولس دی چې ددیـن لپـاره یـي ډیـرې قربانۍ ورکړې، دا ولس په موږ او تاسو حق لري او په حقیقـت کـې زمـوږ ټولـو لاسـته راوړنې د همدې مجاهد ولـس د همکـارۍ نتیجـه ده، د اولـس مشرانو، سـپین ږیـرو، علماء کرامو او مخورو ته باید ډیر زیات احترام ولرو، هر ځای او هـر وخـت د هغـوی قدرداني وکړو، له هغوی څخه مشورې وغواړو.

عالیقدر امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد منصور صاحب په مجاهدینو غږ وکړ چې عام المنفعه تاسیساتو لکه د اوبو بندونه، مدرسې، ښوونځي، پلونه، کلینکونه او دغسې نورو تاسیساتو ته هیڅ نوع زیان ونه رسوي بلکې د ساتنې لپاره یې لاس په کار شي، هر هغه ځای چې ګټه یې اولس ته رسیږي باید حفاظت یې وشي، او د هغو کسانو مخه ونیول شي چې ددغسې تخریبي اعمالو په ترسره کولو سره د مجاهدینو رنګ بدوي.

جناب منصور صاحب په مجاهدینو غږ وکړ چې د فتحو او سوبمنو عملیاتو لړۍ جاري وساتي، نوموړي وویل دښمن وارخطا دی، صفوف یې ګډوډ دي په ځان باور او مورال یې بایللی دی مجاهدین باید له دې فرصت نه په استفاده په دښمن کاري بریدونو ته زور ورکړي تر څو په جهادي ډګر کې لا ډیر فتوحات ترلاسه او وطن مو د اشغال او فساد له بدمرغۍ څخه خلاص شي. نوموړي د مجاهدینو مشران لکه سرګروپان، ډلګۍ مشران او قومندانان په ځانګړي ډول تنبیه کړل چې باید د خپلو افرادو او کشرانو مجاهدینو اعمالو او کړنو ته جدي توجه ولري، د هغوی ورځنیو اعمالو او عباداتو، له ولس سره چلند، اخلاقو او نورو ټولو چارو ته باید متوجه وي تر څو د شریعت په چوکاټ برابر خپلې جهادي چارې ترسره کړي.

د اسلامي امارت زعیم د خپلو خبرو په پای کې مجاهدینو ته د اسلامي امارت د صف د اتحاد پوره ډاډ ورکړ، د الله تعالی شکر یې اداء کړ چې د اسلامي امارت صف متحد وساتل شو، نوموړي وویل په دې اړه ددښمنانو تبلیغات بې ځایه او او بې اساسه دي، لله الحمد د اسلامي امارت صف متحد دی او د نور ټینګښت او اتحاد لپاره به یې هم هڅې کیږي.

په پای کې د اسلامي امارت زعیم مجاهدینو ته دعاء ګانې وکړې او له مجاهدینو یې هم ددعاګانو غوښتنه وکړه.

۲۷\۱۰\۲۰۱۵

# د مجاهدینو کلنیو شرعي دورو ته د امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور (حفظه الله) پیغام

الحمدلله رب العلمین والصلوة والسلام علی رسوله محمـد و علـی آلـه و اصـحابه أجمعین و بعد:

مجاهدینو ورونو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

الله تعالی دې وکړي چې د صـحت او عافیـت پـه جـامو بـه پـټ یاسـت، دا چـې زحمت مو ایستلی او په کلنیو تربیوي پروګرامونو کـې مـو ګـډون کـړی لـه الله تعـالی څخه درته کامل کامل اجرونه غواړم، الله تعالی مو دې د جهاد په لار کې او د اسـلامي نظام د قیام په مقصد ټول تیر کـړي مشـقات، سـترګیاوې، تنـدې، لـوږې، بـې خـوابۍ، زخمونه، قیدونه، خپګانونه او هر ډول تکلیفونه قبول او منظور وګرځـوي. آمـین یـارب العلمین

مجاهدینو ورونو!

د اسلامي امارت د مشرتابه لخوا د مجاهدینو بالخصوص مسؤلینو لپاره د داډول تربیوي پروګرامونو د تدویر مقصد دادی چې مجاهدینو ته د ستر عبـادت (جهـاد) پـه اړه لازم شرعي او فقهي علم، د قتال في سـبیل الله آداب، لـه عـام ولـس سره تعامـل، د نیت اصلاح، اطاعت او دغسې نورو ضروري مسائلو په اړه شرعي ارشادات او لارښوونې بیان شي.

شرعي مسئله داده چې کوم مکلف مسلمان په کـوم عبـادت یـا دنیـوي کاروبـار باندې مشغول وي د هغه عبـادت یـا معـاملې اړونـد شرعـي علـم او مسـائل زده کـول

وربانديې فرض عين دي، مثلا كله چې يو مسلمان بلوغ تـه ورسـيږي او مكلـف سي نـو لكه څرنگه چې لمونځ وربانديې فرض دى همداسې د لمانځه شرعي علـم هـم وربانـديې فرض كيږي، ترڅو لمونځ په سمه طريقه اداء كړي. نن سبا چـې مـوږ او تاسـو پـه يـوه خورا مهم عبادت يعني جهاد باندې بوخت يو، چې دا داسې حساس عبـادت دى چـې په دې كې انسانان وژل كيږي، د خلكو پـه ځـانونو او مـالونو بانـديې سـلطه او بـرلاسي راځي او كه له چاسره د جهاد لازم شرعي علم نه وي نو ضرور به په خطراتو او سركشۍ كې واقع كيږي، نو ځكه زمونږ او ستاسو لپاره خورا ضروري ده چې له دې فرصت نه پـه استفاده د جهاد لازم شرعي مسائل زده كړو، د جهاد په آدابو، مشـروعاتو او ممنوعـاتو باندې علم راولو، داسلامي امارت د مجاهدينو لائحه چې د شريعت مطهره په چوكاټ كې جوړه شوې او مجاهدينو ته يې په ټولو مسائلو كې پوره وضاحت كړى بايد چـې پـه اهميت يې ځان پوه كړو، په هره ماده يې سر خلاص كړو او په پوره دقت او توجـه سره يې عملي كړو.

نو زمونږ لخوا هم تاسو ته دا توصيه ده چې په تربيوي دورو كې پـه پـوره شـوق او اخلاص سره برخه واخلئ، د علماء كرامو او مشائخو درسونو او وعظونـو تـه پـوره توجـه وكړئ، د هغوى خبرې، نصائح، لارښوونې او مهم شرعي مسائل د امكان تر حده له ځان سره يادداشت كړئ، د ځان لپاره يې معمول وگرځوئ او خپلو نورو مجاهدينو ته يې هـم ورسوئ، ترڅو زمونږ مقدس جهاد لكه څنگه مو چې شـعار دى واقعـا او سـل فيصـده د شريعت مطهره په چوكاټ برابر شي او په جهادي صفوفو كې له شريعت نه هيڅ ادنى مخالفت او تعرض هم ونه ليدل شي.

مجاهدينو ورونو!

تاسو ته بهتره معلومه ده چې جهاد يو عبادت دى او په هر عبـادت چـې اجـر او ثواب مرتب كيږي نودا تر نيت پورې تعلق لري چې هغه عمل يا عبادت په كـوم نيـت ترسره كيږي. نو كه غواړو چې جهاد مو واقعا جهاد في سبيل الله وگرځي، په دنيا كې د الله تعالى د نصرت وړ او په اخرت كې وربانديې لوى لوى ثوابونه او درجات مرتـب شي

نو تر هرڅه مخکې باید خپل نیتونه اصلاح کړو، له نیت څخه باید ټول مادي او دنیوي اغراض، لکه منصب، شهرت، دبدبه، غنیمت، واکمني او دغسې نور مقاصد وباسو بلکې یوازینی هدف مو باید صرف او صرف د الله تعالی رضا او د الهي نظام حاکمیت وي.

د نیت له اصلاح وروسته چې کله د عمل ډګر ته ځو او عملا په جهاد لاس پورې کوو، نو په دې مرحله کې باید دې ته متوجه واوسو چې هر عمل مو باید د شریعت او حنفي فقهې په چوکاټ کي وي، لله الحمد شریعت موږ ته هرڅه واضح کړي، له هر چاسره د تعامل شرعي طریقه معلومه ده، موږ چې وایو د جهاد مقصد مو اعلاء کلمة الله دی، نو تر ټولو لومړی باید کلمة الله یا شریعت پر خپل ځان عالي او حاکم کړو، په هرڅه کې باید شریعت ته غاړه کیږدو، په جهاد کې باید ځاني اجتهاد، شخصي مزاجونه یا افراط او تفریط ورګډ نه کړو، بلکې یوازې د شریعت تابع واوسو، په دې باید ټینګه عقیده ولرو هغه څه چې شریعت یي امر کوي زمونږ په خیر دي که څه هم ظاهرا د چا په مزاج درانه تمامیږي.

په جهادي امورو کې شریعت ته په التزام سربیره باید له الله تعالی څخه وېره او تقوی هم خپله خاصه وګرځوو، تقوی خورا ستر صفت دی چې د الله تعالی په نزد د انسانانو د عزت لپاره معیار بلل سوی دی، هر څوک چې څومره زیاته تقوی ولري الله تعالی ته به همدومره ور قریب او د الله تعالی په نزد به عزتمند وي.

د خپلو امیرانو اطاعت، په کشرانو ملګرو شفقت، د مشرانو ملګرو احترام، له عامو وګړو سره ښه چلند، وروروليي، ایثار، خدمت، تواضع، حلم، عفو، امانت داري، حسن تعامل او حسنه اخلاق نور هغه ښایسته خویونه دي چې هر مجاهد باید ورباندې ځان مزین کړي، ځکه مجاهد باید د عامو خلکو لپاره د واقعي مسلمانې نمونه او مثال وي ترڅو یې نور خلک پیروي وکړي او دده د عالي شخصیت او حسنه اخلاقو په برکت خلک اسلام او جهاد ته تشویق شي.

هغه د الله تعالی بندګان یا عام مسلمانان چې زمونږ تر واک لاندې سیمو کې اوسي، له مونږ سره مخامخ کیږي، زمونږ اداراتو ته مراجعه کوي اویا په یوه نوعه ورسره زمونږ تعامل راځي، باید په دې پوه شو چې دغه بې وسه او بې دفاع خلک زمونږ په لاس کې امانت دي، دوی الله تعالی مونږ ته راسپارلي او مونږ وربانديې حاکمان یو، دا زمونږ لپاره لوی د ازمویښت ځای دی چې مونږ له دوی سره څرنګه چلند کوو؟

که خدای مکړه له دوی سره د کبر، غرور، بداخلاقۍ او له شدت څخه ډک چلند وکړو، ضرور به د الله تعالی د قهر مورد ګرځو، ځکه الله تعالی په خپلو بندګانو هیڅ نوع ظلم د هیچا لخوا نه قبلوي، نوځکه باید متوجه واوسو او د نبوي فرمان په مقتضی چې فرمایي: بشروا و لاتنفروا، یسروا و لاتعسروا. خلکو ته د خوښۍ خبرې وکړئ او نفرت مه کوئ، آساني وکړئ او سختي مه کوئ. باید له خپل مسلمان ولس سره د حسنه اخلاقو، عاطفې او نرمۍ څخه ډک چلند وکړو، ترڅو هم الله تعالی رانه راضي شي او هم د خپل ولس ملاتړ راسره وساتلی شو.

د روانو حالاتو په اړه باید ووایم چې لله الحمد د الله تعالی د فضل او نصرت په برکت د اسلامي امارت مجاهدین د بل هر وخت په نسبت په ښه حالت کې قرار لري، د هیواد په بیلابیلو ولایاتو کې الله تعالی مجاهدینو ته سترې فتحې ورنصیب کړې دي او لا هم د فتحو لړۍ جریان لري، ددښمن مختلف النوعه دسیسې چې غوښتل یې مجاهدین وربانديې پارچه پارچه کړي، د اسلامي امارت بنیادونه کمزوري کړي او د مجاهدینو مورال مات کړي، لله الحمد دغه ډول ټولې سیاسي، تبلیغاتي او جنګي دسیسې یې له شکست سره مخامخ شوې دي. د اسلامي امارت صف واحد دی او هره ورځ یې بنیادونه د ټینګښت او استحکام په حالت کې دي، نو ځکه باید د الله تعالی شکرونه اداء کړو او له تېرو حالاتو په زده کړه باید په راتلونکې کې ددښمن دسائسو ته متوجه واوسو.

د تېرکال په جریان کې که کوم وروڼه خپه شوي وي یا د څه وخت لپاره له اسلامي امارت څخه په فاصله کې پاته شوي وي، باید د امکان ترحده کوښښ وشي چې

قناعت ورکړو، خوشاله یې کړو او د اسلامي امارت له متحد صف سره یې وصل کړو. زه د اسلامي امارت د مؤسس او زمورِ او ستاسو د محبوب رهبر أمیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ دا خبره یو ځل بیا را ژوندۍ کوم او وایم چې: «مورِ له هیڅا سره شخصي دښمني او تضاد نه لرو، زمورِ دوستي او دښمني یوازې د اسلام د مقدس دین د اساساتو پر بنا ده«.

ځرنګه چې اسلامي امارت بېلابېل کمیسیونونه او شعبې لري نو نظامي مجاهدین او مسؤلین باید له ټولو امارتي اداراتو سره همکار واوسي، مجاهدین په نظامي عملیاتو سربیره باید د دعوت او ارشاد یا ددښمن د افرادو په جلبولو کې هم پوره همکاري وکړي، د معارف په برخه کې د هیواد ماشومانو او ځوانانو ته باید د شریعت په چوکاټ کې د ديني او عصري تعلیم زمینه برابره کړي، همداراز په ټولو کاري برخو کې باید د خپل توان په اندازه د جهادي کارونو په پیشرفت او بهبود کې ونډه واخلي.

په پای کې باید یو ځل بیا واضحه کړم چې زمورِ تګلاره الهی شریعت او نبوي تګلاره ده، هغه چې مورِ ته یې مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد ژوندۍ بېلګه وړاندې کړې او زمورِ لپاره د دستورالعمل مثال لري. مورِ له شریعت پرته بله تګلاره نه لرو، زمورِ بېلابېل دښمنان د اسلامي امارت د بدرنګۍ لپاره قسماقسم تبلیغات کوي او په راتلونکې کې به هم ډول ډول حربې وکاروي، خو مورِ باید په صراط مستقیم برابر، هوښیار او بادرکه واوسو، ددښمنانو د تبلیغاتو او وسوسو اچولو پروا باید ونه کړو او یوازې خپل مکلفیت او کار ته باید متوجه واوسو.

الله تعالی ته امید دی چې ان شاءالله په راتلونکو میاشتو کې به د ښو فتوحاتو شاهدان یو، د تېرکال جریاناتو، ددښمن قسماقسم دسیسو او د اسلامي امارت بریا وښوده چې لله الحمد الهي نصرت له مورِ سره دی، مورِ په اسلامي نصرت ټینګه عقیده او باور لرو او پردې مو ایمان دی چې که مورِ پر شریعت برابر او محکم پاتې شو نو هیڅ دښمن به په مورِ غالب نه شي او همیشه به بریالي یو، ځکه الله تعالی فرمایي: وأنتم الأعلون ان کنتم مؤمنین. آل عمران

نو راځئ چې په الهي نصرت په اتکاء سره په قوي ایمان او عزم د الله تعالی د دین د خدمت لپاره خپل تعهد تجدید کړو، خپل نیتونه اصلاح کړو او یوازې د اعلاء کلمة الله په خاطر په قوي عزم او لوړ مورال په دښمن د وروستي ګوزار لپاره تیاری ونیسو.

په پای کې یو ځل بیا خپل سلامونه او نیکې هیلې درته وړاندې کوم، او دعاء کوم چې الله تعالی دې ټول اسلامي‌امت له ورپېښو مشکلاتو خلاص او مجاهدینو ته بری ور نصیب کړي، الله تعالی دې یوځل بیا په ټول هیواد د اسلامي نظام وړانګې خپرې کړې او الله تعالی دې زموږ ځوریدلي ولس ته د اسلامي نظام تر سیوري لاندې آرام، عزتمن او سولییز ژوند ورنصیب کړي.

آمین یارب العلمین

والسلام داسلام خادم امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور

١٦\٣\٢٠١٦

## استشهادي مجاهدينو ته د اميرالمؤمنين منصور صاحب ليک

دا دعاليقدراميرالؤمنين شهيد ملا اختر محمد منصور (تقبله الله) هغه ليک دی چې په تير ۱۳۹۵ هـ ش کال کې يې دعمري عملياتو له پيل نه وروسته داستشهادي مراکزو او جهادي معسکراتو استادانو، مسئولينو، استشهادي مجاهدينو او په جهادي تربيت مشغولو غازيانوته ليږلی و، دا چې ليک د تدبير، محبت، شفقت اولوړ جهادي عزم ښکارندوی دی؛ نو ځکه يې دجهاد او اسلامي سياست د ټولو مسئو لينو او افرادو د استفادې لپاره نشر ته سپارو.

**الاماره**

---

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**داستشهادي مراکزواو جهادي معسکراتومحترمو او معززو استادانو، مسئولينو، استشهادي مجاهدينو او په جهادي تربيت مشغولو غازيانو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته**

**له الله تعالی نه اميد لرم او هميشه لاس په دعاء يم چې هميشه به د صحت او عافيت په جامو پټ او ددين او دنيا له ټولو سعادتونو څخه برخمن ياست.**

دا مې د زړه هیلـه او ارزو ده چې لـه نـږدې درسره وویـنم او ستاسـو مخلصـو مجاهدینو د زړه خبرې او نیکې مشورې واروم، مګر د حالاتو نزاکت او حساسیت تاسو ته هم واضح معلومیږي نو ځکه مې د اسلامي امارت ددوو تنو مشرانو ملګرو په لاس دا لیک در ولیږه تر څو په دې واسطه خپله خبره درسره شریکه کړم.

ددې عظیم الشانه جهادي مدرسو محترمو استادانو او مسئو لینو!

داچې ستاسي په نه ستړي کیـدونکو هلـو ځلـو داسـلامي امـت هغـه بهـادر شـاه زلمیان تر بیه او دقربانۍ میدان ته وړاندي شول چې د اسلام د دښمنانو ترټولو پټې او مظبـوطي ځـالي یـې ور دړې وړې کـړې، دعـبرت درسـونه یـې ورکـړل، او دمظلومـو مسلمانانو زړونه یې پرې یخ کړل نو الله تعالی دې تاسې استادانو او مسئو لینو ته سـتر اجرونه او په اخرت کې جنتونه درکړي کوښښ وکړئ چې نـور هـم پـه ښـه اخـلاص او همدې قوي جذبه سره ددې قهرمانو ځوانانو لا ښه معنـوي او بـدني تربیـه او خـدمت وکړئ او داسلامي امارت مقدس صف نور هم ددا سې تر بیه شده ځوانـانو پـه وړانـدي کولو سره قوي او دهدف منزل ته ورسوئ.

## فدایانو ورونړو او معززو مجاهدینو!

لله الحمد ستاسو او نورو مجاهدینو د بې مثاله قربانیو، ایثار، اخلاص او دعاګانو په برکت الله تعالی اسلامي امارت ته په هره برخه کې قوت، وحـدت، نظـم او جهـادي فتوحات ورنصیب کړي دي. د اسلام دښمنانو چې د اسلامي امارت د له منځه وړلو او د مجاهدینو دپاشلو لپاره کومې هیلې درلودې هغه ارمانونه یې له خـاورو سره خـاورې شوي او د اسلامي امارت مجاهدین لکه څنګه چې زمور د عالیقدر مشر امیرالمـؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ په ژوند په یوه صف کې منظم او مخلصـانه مبـارزه یـې کوله اوس هم په هماغه شکل په متحد شکل خپل جهاد ته دوام ورکوي.

د نویو عمري عملیاتو له پیل سره د هیواد په ډېرو سیمو کې د فتوحاتو نوی بهیر شروع شوی دی. مجاهدینو ډیرې سیمې له دښمن څخه نیولې دي، لوی شمېر پوستې

او پوځي مراکز يې فتحه کړي دي او دغه د فتوحاتو لړۍ لا هم جريان لري اودلازیاتو فتوحاتوپلانونه او امیدونه لرو.

فدایانو وروڼو او د معسکر مجاهدینو!

په داسې حال کې چې زمونږ نور مجاهدین وروڼه د کفر او فساد په خلاف په تودو سنګرونو کې په مسلح جهاد اخته دي، هر ساعت له شهادت، زخم، حبس او ددښمن له بمبار سره مخامخ کیږي. عام اولس مو د اسلامي نظام لپاره شهادتونو، قربانیو، هجرتونو او د کور او عیال له منځه تلو ته اماده کیږي. په داسې حال کې زمونږ او تاسو ټولو شرعي وظیفه داده چې په خپل ټول توان او توجه سره یوازې د کفارو اودهغوئ دملګرو په خلاف جهاد او د اسلامي امارت د متحد جهادي صف ټینګښت ته متوجه شو. د معسکر مجاهدین باید په ټول توان سره د الله تعالی دې امر ته لبیک ووایي چې فرمایي: واعدوا لهم ماستطعتم من قوة. او تاسو تیار کړئ ددښمن مقابلې ته څومره قوت چې تیارولی شئ.

نو تاسو چې د اعداد په مرحله کې یاست باید خپل کار ته پوره توجه وکړئ، ځانونه په جهادي استعداد سمبال او د کفر مقابلې ته تیار کړئ، په عملي او روحي لحاظ هم ځانونه اماده کړئ، اخلاص، تقوی، اخوت، همت، تواضع او د خپلو شرعي امیرانو د اطاعت روحیه په ځان کې تقویه کړئ، ترڅو خپله جهادي وظیفه په داسې شکل ترسره کړئ چې هم د الله تعالی د رضا او جنتونو د حصول ذریعه وګرځي او هم دمسلمانانود سوکالۍ اود اسلامي صف لپاره د فتحو او کامیابۍ سبب شي.

مجاهدینو وروڼو!

مورږ او تاسو ټول د الله تعالی بندګان یو او د یوې عقیدې وروڼه یو، زمورږ ترمنځ هیڅوک په بل باندې فضیلت نلري مګر یوازې په تقوی سره به افضل وي. زمورږ تر منځ چې د آمر او مامور، یا والي او عام مجاهد په عنوان کوم تقسیمات دي دا یوازې د تشکیلاتي نظم لپاره یو ضرورت دی. دغه عنوانونه او رتبې هیڅکله د افضلیت او

برترې سبب نه شي کیدلی نو ځکه دې عام مجاهـد ځـان لـه مشرـ او مسـؤل مجاهـد څخه د اجر په لحاظ کم نه بولي.

څرنګه چې د اسلامي امارت صف د اسلام د مقدسو هداياتو په اساس جوړ شـوی دی، نو موږ هم ټولو مجاهدینو ته هغه که کشر وي یا مشر د علي السویه وروښو په نظر ګورو اما هغه مجاهدین چې ډیرې قربانۍ ورکوي، خپل سرونه یې د قرآن د نفاذ لپـاره په لاس کې نیولي او عملا یې له اسلام سره د اخلاص ثبوت وړاندې کـړی، څرنګـه چـې الله تعالی ته تر ټولو قدرمن دي، موږ ته هم تر ټولو معززاو قدردان دي. الله تعـالی دې د دوی اخلاص او قربانۍ قبولې کړي. آمین یارب العلمین

د اسلامي امارت د مشر په حیث لکه څنګه چې مرحوم ملاصاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ د خپل امنیت خاص لحاظ ساته، زه هم د وظیفوي مصلحت په خاطر نه شم کولای د اسـلامي امارت د ټولو شعباتو، مراکزو او مجاهدینو سره مخامخ لیدنه وکړم، د هغـوی خـبرې، مشورې او عرائض له نږدې واورم. خو ددې شرعي مسؤلیت د ترسره کولو لپاره مې پـه هره برخه کې باصلاحیته مسؤلین ټاکلي دي، چې ستاسو هرې غوښتنې ته ځواب ویلـی شي، ستاسو د وضعیت به له نږدې حال اخلي اوتر ماپورې به یې رارسوي.

په پای کې اطمینان درکوم چې ان شاءالله د اسلامي امـارت مشرتابه بـه ستاسـو قدرمنو مجاهدینو په پاللو، تربیه اود حوائجو په رفع کولو کې هـیڅ نـوع کوتـاهي ونـه کړي او د اسلامي امارت د توان په چوکـاټ کـې بـه هـیڅ نـوع همکـاري درڅخـه ونـه سپموي.

نور مو په الله تعالی سپارم. د اخلاص، تقوی، همـت، اسـتقامت او اطاعـت دعـاء درته کوم او له تاسو هم د بالمثله دعاء ګانو طلبګار یم، هیله ده چې پـه خاصـو اوقـاتو کې مې له دعاڅخه هېر نه کړئ.

والسلام

داسلامي امارت زعیم امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور

# د امیرالمؤمنـین ملا اختر محمد منصــور د شهادت او نوي أمیر د ټاکنې په اړه د اسلامي امارت د رهبري شوری اعلامیه

الحمد لله الذي بيده ملكوت كل شيء وإليه ترجعون. وإذا قضى أمرا فإنما يقول له كن فيكون. وله الحمد في السموات والأرض وعشيا وحين تظهرون. يخرج الحي من الميت ويخرج الميت من الحي ويحيي الأرض بعد موتها وكذلك تخرجون. ونشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له ونشهد أن سيدنا محمدا عبده ورسوله الأمين المأمون، والجوهر المكنون. اللهم فصل وسلم على سيدنا محمد وعلى آله وصحبه الذين هم فيما عند الله راغبون وبعد.

قال الله تبارک و تعالی: مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ الله وَمَن يُؤْمِن بِالله يَهْدِ قَلْبَهُ وَالله بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ١١ وَأَطِيعُوا الله وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَإِنَّمَا عَلَى رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ١٢ الله لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ وَعَلَى الله فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ١٣ التغابن

ژباړه: هیڅ مصیبت د الله له حکم پرته نه پېښیږي او څوک چې پر الله تعالی ایمان راوړي د هغه زړه ته به هدایت وکړي او الله په هر شي پوره عالم دی. د الله اطاعت وکړئ او د پیغمبر اطاعت وکړئ خو که مخ واړوئ نو زموږ په پیغمبر یوازې ښکاره تبلیغ کول دي. له الله تعالی پرته بل خدای نشته او مؤمنان دې پر هماغه الله توکل وکړي.

رضينا بالله ربا و بالاسلام دينا و بمحمد صلى الله عليه وسلم نبيا ورسولا.

د افغانستان اسلامي امارت په الهي قضاء د رضا اومحکم ایمان لـه روحیـې سره اعلانوي چې د افغانسان داسلامي امارت زعیم أمیرالمؤمنین ملا أختر محمـد منصـور تقبله الله د ۱۴۳۷ هجري قمري کال د شعبان المعظم د میاشتې په ۱۴ مه نیټه د شنبې په ور ځ چې د ۱۳۹۵ لمریز کال د جوزا له لومړۍ نیټې سره سـمون خـوري د کنـدهار دریګستان اود بلوچستان نوشکي ته ځېرمـه پـه یـوه سرحـدي سـیمه کـې د امریکـایي طاغوت د بې پیلوټه الوتکې په برید کې د شهادت لوړ مقام ته ورسېد. انا لله و انا الیـه راجعون.

د افغانستان د اسلامي امارت رهبري شـوری د اسـلامي امـارت ټولـو منسـوبینو، مجاهـدینو، افغـان مجاهـد ولـس، عـام اسـلامي امـت او پـه ځـانګړي ډول د شـهید امیرالمؤمنین تقبله الله غمجنـې کـورنۍ تـه د تسـلیت مراتـب وړانـدې کـوي او د الله تعالی له دربار ځخه شهید امیرالمؤمنین تقبله الله ته د شهادت د قبولیت، الهي دیدار او جنت الفردوس خواست کوي، الله تعالی دې په شهید منصور صـاحب ورحمیـرۍ او د نوموړي کورنۍ، قریبانو، مجاهدینو او اسلامي امارت ته دې پـه دې سـتر مصـیبت، صبر جمیل، اجر عظیم او نعم البدل ورنصیب کړي. آمین یارب العلمین.

مؤمنانو وروڼو! تاریخ شاهد دی چې د اسلامي امت حقپال خوځښتونه همیشـه د رهبرانو د شهادت، وفات یا دغسې نورو درنو مصائبو سره مخامخ شوي دي؛ خو دغسې درنو مصائبوهیڅکله د ایمان د خاوندانو پښې نه دي لړزولي، بلکې هغوی یـې نـور هـم مضبوط کړي او په لوړ عـزم او ټینـګ ایـمان سره یـې تـر وروسـتۍ مرحلـې د برحقـې مبارزې لار پاللې ده ( وکأین من نبي قاتل معه ربیون کثیر فما وهنـوا لمـا أصـابهم في سبیل الله وما ضعفوا وما استکانوا والله یحب الصابرین (۱۴٦)

شـهید أمیرالمـؤمنین تقبلـه الله د الله تعـالی بنـده او د حـق د لارې مجاهـد و، نوموړي خپله فریضه په ډېره ښه او ویاړمنه توګه ترسره کړه، د مرګ تر ساعته په خپـل ایمان او برحق عزم محکم پاتې شو، د اسلامي امارت د زعامت په لنډه موده کې یـې د

عزم، ایمان او سرلوړی داسې کارنامې تاریخ ته پرېښودې چې همیشه به ټول مسلمانان په خاص ډول مبارزین او مجاهدین وربانديې وویاړي.

نوموړی د زمان او مکان له ټولو سختو او امتحاني شرایطو سره سره نه خو د نړیوال طاغوت مکررو غوښتنو او ګواښونو ته تسلیم شو، نه یې د چا د تحمیلي او تزویري پروسو پیښنهادونه ومنل، نه له ګواښونو ووېرید او نه یې هم داخلي او خارجي توطیو، دسیسو او فشارونو عزم متزلزل کړ.

شهید منصور صاحب دامارت د زعامت وظیفه کټ مټ د خپل سلف امیرالمؤمنین ملا محمد عمرمجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ په شان ترسره کړه، تر دې چې له همدې ویاړمن دریځ، قوي ایمان او توکل سره د یوه جهادي سفر په جریان کې د الله تعالی دیدار ته ورغی.

څرنګه چې د امام یا امیر له شهادت یا وفات وروسته د مؤمنانو لپاره د نوي مشر نصبول د مسلمانانو په غاړه لازمي فریضه ده، د افغانستان د اسلامي امارت رهبري شوری چې د ګڼ شمیر علماء کرامو، د تفسیر او احادیثو د استادانو، متدینو سیاست پوهانو او جهادي تجربې د خاوندانو معتبره شوری ده د یوه مجلس په دائرولو سره چې د اهل الحل و العقد له شرعي اعتبار څخه برخمن و، وروسته له ژور فکر، تدبر او هر اړخیز دیني او جهادي مصلحت سنجولو یې محترم شیخ الحدیث مولوي هبت الله اخندزاده صاحب د اسلامي امارت د نوي زعیم په حیث د شوری د ټولو اعضاوو په اتفاق تعین او د شرعي امیر په حیث یې ورسره بیعت وکړ، همدارنګه محترم الحاج ملا سراج الدین حقاني صاحب او دمرحوم امیرالمؤ منین ملامحمدعمرمجاهدرحمه الله زوی محترم مولوي محمد یعقوب صاحب یې دمرستیالانو په حیث تعین شول.

د اسلامي امارت رهبري شوری خپل ټول مجاهدین او عام متدین ولس په دې شرایطو کې وحدت اوتوکل علی الله ته رابولي، مجاهدین دې هیڅ تشویش نه کوي، لله الحمد موږ ناصر او پالونکي رب لرو، د اسلام او جهاد ډېوه چې دا څوارلس پیړی

روښانه وه ترقیامته به همداسې ځلانده وي، د لله تعالی دشکر ځای دی چې مورږ د اسلامي امارت په نوم یو جوړ او سالم نظام لرو، ددې نظام د ساتلو، پاللو او ټینګښت لپاره دا د ټولو ديني وجيبه ده چې له نوي اميرالمؤمنين محترم شيخ الحديث مولوي هبت الله اخندزاده صاحب سره بيعت وکړي او د نوموړي تر مشرۍ لاندې خپلې برحقې مبارزې ته دوام ورکړي. همدارنګه د اسلامي امارت مشر تابه او رهبري شوری له ټولو مسلمانانو نه هيله کوي چې سر له سبا د دريو ورځو لپاره دشهيد اميرالمؤ منين ملا اختر محمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ د فاتحي او دهغه مبارک روح ته دثواب بښولو په نيت د قران کريم ختمونه وکړي.

دافغانستان داسلامي امارت رهبري شوری

۱۸/۸/۱۴۳۷هـ ق

۵/۳/۱۳۹۵هـ ش ـــ ۲۵\۵\۲۰۱۶م

# د شهید امیرالمؤمنین د شخصیت او کارنامو په اړه داسلامي امارت د محترمو مرستیالانو تأثرات

تر تیب او راټولونه: زبیر مسافر- ژورنالیست او شاعر

## د شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور تقبله الله په هکله د اسلامي‌امارت د مرستیال خلیفه صاحب الحاج ملا سراج الدین حقاني حفظه الله تأثرات:

الحمدلله الذی رفع اعلام الشریعة بقیادة الامراء الصلحاء الاتقیاء الذین بذلوا جهد هم حمی الاسلام والصلوة والسلام علی سیدنا محمد هو قائد المجاهدین فی البدر والحنین وعلی صحابه الذین امتحن الله قلوبهم للتقوی رضی الله عنهم ورضوا عنه

قال الله تبارک وتعالی

ان الله یآمرکم ان تؤدوا الامانات الی اهلها و اذا حکمتم بین الناس ان تحکموا بالعدل صدق الله العلی العظیم

امابعد

د شهیدامیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور (تقبله الله) دویاړمن شهادت د اولني پرتمین تلین په مناسبت باید دومره ووایم چې د مرحوم عالیقدر امیرالمومنین ملا محمد عمر مجاهد د وفات د څرګندیدو نه وروسته مې د شهیدمنصور صاحب تقبله الله سره لیږ وخت تیر شوی دی، دا چې مرحوم ملا صاحب په خپل ژوند کې په نوموړي باندي د نیابت اعتماد کړی و لهذا مور به ورته د مشر مرحوم ملا صاحب په سترګه کتل.

شهید ملا اختر محمد منصور تقبله الله د قائدانه بریالیو صفاتو خاوند و، ټول سیاسي، نظامي او اداري مسؤلین یې په خپل اعتماد کې ساتل، اجتماعي او اجرایي صفات یې ځانګړې خدایي برخه وه. له نظامي اړخه مهارت یې دا و چې چریکي‌حرکتونه یې په جبهیي حرکتونو بدل کړل، لکه په هلمنداو کندوز ولایتونو او ګڼ شمېر ولسوالیو کې د روان بهیر فتوحات ددې ابتکار ثمره بولم. د موجوده مسؤلیت په وخت کې مې چې کله هم د اسلامي‌امارت له کوم مسؤل سره د نومورې اړوند مجلس شوی دی، د شهید منصور صاحب تقبله الله برخورد او شفقت له هغوی سره د پلار او د بچي په شان پرتله کوم.

د مرحوم امیرالمومنین د وفات خبر ډېر حساس پړاو و د نظام ساتلو لپاره د زعیم ټاکنه نهایي ضروري وه، علماء کرامو او د رهبري‌شوری ځینو کسانو د وخت په مقتضی د شهید منصور تقبله الله د زعامت فیصله وکړه، چې البته د ډیرو وجوهاتو تر څنګ یې دوه عمده خبرې مد نظر معلومیدې:

اول: د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمدعمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ په ژوند کې په شهید منصور صاحب باندي باور او اعتماد

دوهم: د مرحوم امیرالمؤمنین له وفات وروسته د نظام کماحقه ساتنه.

کله چې شهید منصور تقبله الله ته د زعامت درونده پېټی ور په سر شو، دغه وخت نومورې ملګرو ته وویل چې تاسې په ما ډېر لوی باور وکړ، نبی کریم علیه السلام فرمایي چې کله څوک مسؤلیت په خوله وغواړي نو خدای جل جلاله یې مرسته نه کوي، زه په باور سره ویلی شم چې په خوله غوښتنه لاڅه مایې په زړه کې تصور قدر هم نه دی کړی، د نومورې دغو کلماتو دی په خپله او د مجلس ډېر ملګري په ژړا کړل، دا هغه کلمات و چې زما په زړه کې یې د شهید منصورتقبله الله لپاره ځانګړی مقام پیدا کړ.

ومن الله توفیق

## دشهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور تقبله الله په هکله د اسلامي امارت د مرستیال مولوي محمدیعقوب (مجاهد) حفظه الله تأثرات

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم اما بعد

شهید امیرالمومنین ملا اختر محمد منصور – رَحِمَهُ ٱللَّهُ

الله تعالی دې شهادت قبول کړي- ډېر یو درومند شخصیت و، کله به هم چې زه ملاقات ته ورتلم یا مو لیده کاته سره کول، نو وضعیت یې په عموم کي له هر چاسره که به مشر مجاهد و او یا کشر ډیر صمیمانه و، په ډیرو ښو اخلاقو به یې خبرې ورسره کولې او ښه په سړه سینه یې هر څه اورېدل.

شهید منصور صاحب ددې تر څنګ چې د ښو اخلاقو او غوره کړو وړو څښتن و، خورا سخاوت یې درلود، د سخاوت په اړه به یې دومره ووایم، چې کله به هم د مجاهدینو لپاره څه غوښتنې راتللې او بعضي مجاهدینو به غوښتنې راڅخه کولې، چې که په دې اړه زموږ سره د امارت له لوري څه کومک وشي، نو د ملاقات په وخت کې به ما هغه غوښتنې ورته وړاندې کړلې، نو په هغه اړه به یې پوره همکاري کوله، نورو مجاهدینو چې به هم ملاقات ورسره کاوه، یا به یې غوښتنه ور استوله، تر ممکنه بریده یې د نه ځواب نه ورکاوه، په واقعي ډول شهید امیرالمومنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ یو سخي او درومند شخص و.

شهید منصور تقبله الله د ډیرې لوړې حوصلې خاوند و، په هروخت کې به که هر څومره مشکل حالات راتلل، ده خپله حوصله له لاسه نه ورکوله او هر کار یې په ښه تدبیر سره کاوه، داسې نه و چې په ځینو سختو شرائطو کې حوصله له لاسه ورکړي، یا په ځینو شیانو کې له عجلې څخه کار واخلي، هر کار یې په ډېر تدبیر او حکمت باندې سرته رساوه، په کارو باندې تر ډېره حده ښه حاکم و او د نظام کنترول یې په ډیره ښه توګه کاوه.

شهید امیرالمومنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ له خپل مجاهـد ولـس سره پـه غـوره چـال چلنـد او همکاري ټینګار کاوه او له ولس سره د مجاهدینو د رابطې او چلند په اړه ډیـر حسـاس و، پیغامونه یې هغـه دي ټولـو مجاهـدینو او افغانـانو اورېـدلي او ورتـه رسـېدلي دي، خصوصا ما چې لیدلی دی په دې چارو کې ډېر محتاط و او د ملکي تلفاتو مخنیوي تـه یې ځانګړې پاملرنه درلوده، مجاهدینو ته به یې دا توصیې کولې، چې له ولس سره ډیـر ښه چلند وکړي، ولس زهیر نشي، د ولس سپین ږیري ته د پلار په نظـر وګـوري، ځـوان ته یې د ورور په نظر وګوري او کشرانو ته یې د خپلو اولادونو په نظر وګـوري، هغـه پـه دې کې ډېر حساس و او وخت په وخت به یې دې چارې ته مجاهدین متوجه کول.

د منصور صاحب له عمده کارنامو او فعالیتونو څخه دا و چې د نوموړي په وخت کې ډېرمهم او هر اړخیز پرمختګونه وشول، کله چـې د قطـر دفـتر خلاصـیده، دی پـه جریان کې و، د دوی پـه سپارښـتنه د مرحـوم امیرالمـومنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ لـه طرفـه اجـازه ورکړل شوه، په سیاسي برخه کې هم چې کله موږ له سیاسي ملګرو سره مجلسونه کړي په ښه تدبیر یې کارونه پر مخ بیولي، ځیني شیان چې موږ ته ملګرو ویـلي، سړی ډیـر متحیر کړي چې څومره ښه تدبیر ورسره و او څومره ښـه فکـر او نظـر یـې درلـود، پـه سیاسي برخه کې یې د اسلامي امارت نمایندګي په ډېره ښه توګـه پـر مـخ یووړلـه، پـه نظامي برخه کې هم دکندز ولایت دده په وخت کې فتحـه شـو، پـه هلمنـد کـې سـتر فتوحات او همداراز د هیواد یوه زیاته برخه دمنصور صاحب د زعامت په وخت کـي د مجاهدینو تر ولکې لاندې راغله او ډیره توجه یې دې برخې ته کوله، په اقتصادي برخـه کې هم ډیر متوجه و، په اقتصادي منابعو او سرچینو کې یې ډېر کوښـښ کـاوه چـې د مشروع اوداسې لارو څخه وي چې د اسلامي امارت ګټه پکې وي او مجاهدینو اړتیاوې پرې پوره کړي، ، په سیاسي، نظامي او اقتصادي برخو کې تر ډېره حده کامیاب او ډیـر پرمختګونه یې درلودل، چې ټولو ته واضح او ښکاره دي.

مرحوم امیرالمومنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ په منصور صاحب باندې ډېر باور درلود، کلـه چـې ملا برادر اخند – خدای دې په خیر راخلاص کړي- ونیول شو، شهید منصور صاحب د

نائب په توګه انتخاب شو، مرحوم امیرالمومنین له ده سره د معاون په صفت د دوهم کس د ټاکلو اړتیا ونه لیدله، ځکه هغه مطمئن و چې د امارت چارې په مخ وړلی شي، یوه ملګري واقعه بیانوله، چې ځیني شیان مجاهدینو د قاصدینو له لارې امیرالمومنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ ته ورلیږلي و، نو بیا یې هغو ته ویلي و چې منصور صاحب مو در مشر ـ کړی هغه کارونه در کوي زموږ پرې اعتماد دی، نو باور یې په بشپړه توګه پرې درلود، البته دښمن چې هغه مهال څه تبلیغات کول او یا به یې څه خبرې کولې، هغو هیڅ حقیقت نه درلود موږ ټول وضعیت که د ده او که زموږ د والد صاحب و له نژدې څاره، په منصور صاحب یې ډیر زیات باور وو، په دې اړوند د دښمن تبلیغات په کامله توګه له واقعیته لیرې و.

کله چې امیرالمومنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ وفات شو، د ده له وفات د مخه به ځینو ملګرو داسې فکر کاوه، چې که امیر المومنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ وفات شي امارت به له منځه ولاړ شي داسې وهم له ځیني ملګرو سره موجود و، کله چې منصور صاحب د رهبري شوری، علماء کرامو او مجاهدینو له لورې وټاکل شو، ده وکولای شوای نظام په ډیره ښه توګه کنترول کړي او دا په دښمن ډیر دروند تمام شو، دوی ډېر کوښښونه وکړل چې په زور، چل او فریب باندې هغه مذاکراتو ته کښېنوي، منصور صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ د مذاکراتو سره مخالف نه و، البته مشروع مذاکرات یې غوښتل چې د امارت اهداف او ګټې پکې خوندي شي او د شهیدانو ویني یوه ثمره راوړي، په عین حال کې د کندز او نورو سیمو فتحې راغلې، دې پرمختګونو پر دښمن ډېره ژوره اغېزه وکړه، چې د ده وجود یې ونشو زغملای او بلآخره یې په شهادت ورساوه.

د شهید امیرالمومنین منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ یوه دا غټه کارنامه وه چې تر شا یې یو منظم نظام پرېښود، زه چې په خپل مسولیت کې کله اجرات کوم، دده له لورې جوړشوی تشکیل او تر سره شوي اجراات او فعالیتونه تعقیبوم. د منصور صاحب خو هغه د معاونیت او نائب توب دوره ډېره وه او د امیرالمومنین په توګه تر ټاکل کېدلو وروسته په لږ موده کې د اسلام د دښمنانو له لورې شهید کړای شو، نو په هغه وخت

کې چې د ده کوم اجرائات و، اوس چې موږ په کومه برخه کې له سوال سره مخ کیږو د هغو په اړه زه د ده له نژدې ملګرو څخه پوښتنه کوم، چې په دې اړه د دوی معمول څه و، تر هغه مخکې د محترم ملا برادر اخند او حاجي ملا عبیدالله اخندمرحوم پوښتنه کوم، چې ددوی اجرائات څنګه و، کله چې د هغو په اړه زه خبرېږم، نو وړ او مناسب اجرائات یې ترسره کړي وي، شهید امیرالمومنین د نظام لپاره یو ډیر ښه چوکات جوړ کړی، چې زموږ لپاره یې ډیره اساني رامنځ ته کړې ده.

الله تعالی دی د شهیدمنصور صاحب تقبله الله شهادت قبول کړي، الله تعالی دې ددوی برکتونه پر ټول امارت کښیږدي.

والسلام

# د شهید امیرالمؤمنین د شخصیت او کارنامو په اړه د اسلامي امارت د ویاندویانو تأثرات

تر تیب او راټولونه: زبیر مسافر

## د شهید منصور صاحب د شخصیت په اړه
## د اسلامي‌امارت د ویاند ذبیح الله مجاهد تاثرات

**شهید منصور صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ چې څومره ما پیژاند!**

**زما له نظره شهید امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ د اسلامي امارت یو مبتکر مشر و. هغه د اسلامي امارت جهادي او ملکي صفوفو ته په داسې حال کې چې دجګړې او سختو مشکلاتو وخت و، د یو منظم حکومت او نظام بڼه ورکړه. منصور صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ د اسلامي امارت دسختو شېبو مشر و، هغه په یوه مهال د یرغلګرو له مختلفو دسیسو سره ځواکمنه مقابله وکړه. هغه خورا هوښیار او مدبر مشر و، نومورې د دې ترڅنګ چې کړه وړه یې عادي او بې الایشه وو، خو د یو منظم او بڼه مدیر رهبر په ځېر کردار یې لاره. د اسلامي امارت له صفوفو څخه یې خورا دقیقه څارنه لرله، هغه به د امارت په لیکو کې په دوامداره توګه د اصلاح، نظم او نسق هڅه کوله.**

**شهید منصور صاحب د اسلامي امارت نظامي مجاهدینوته له دودیز جګړیز حالت څخه د یومنظم پوځ په ځېر بڼه ورکړه، نظامي تعلیمات یې زیات کړل، قطعات یې فعال کړل او مجاهدین یې د بنیان مرصوص په ځېر تنظیم کړل. منصور صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ د دښمن د ظاهري نظامي تحرکاتو پرځای دهغو استخباراتي هڅو ته ډیر**

متوجه و او د دښمن مختلف استخباراتي اقدامات يې په نطفه کې خنثی کړل. منصور صاحب د امریکا اوناټو سره له جګړې، دکابل اداري له مقابلې، د اربکي په نامه د امریکایي جنرال پیتریوس له فتنې، د داعش په نامه تکفیري فتنې، په سیاسي ډګر کې د بیلابیلو جهتونو له فشارونو او د مرحوم امیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ د وفات څخه وروسته د راپیښو داخلي ستونزو سره په یوه مهال خورا مدبرانه، مؤثره او کامیابه مقابله وکړه.

منصور صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمدعمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ د وفات د پټ ساتلو په قضیه کې د نړۍ ټولو لرې او نیږدې استخباراتي دستګاوو ته ماتې ورکړه.

منصور صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ اسلامي امارت ته د نظامي فعالیت ترڅنګ په سیاسي برخه کې هم خورا پراخ وجاهت ورکړ، له مختلفو اندیښمنو اړخونو سره یې تماسونه ژوندي کړل، دهیوادوالو او نړیوالو تشویشونه یې رفعه کړل، په سیاسي برخه کې یې نړیوالو ته قناعت ورکړ چې اسلامي امارت تنها د یو جنګي ځواک په بڼه نه، بلکې دیو فعال او هوښیار سیاسي ځواک په بڼه هم وپیژني او وه یې مني.

منصور صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ خورا ډیر زړور او با جرئته امیر و، هغه د ملا صاحب مرحوم لاره په خورا ښه ډول تعقیب کړه، هغه د اسلامي امارت د سختو ورځو مشر و، په داسې حال کې چې مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمدعمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ د امنیتي دلایلو له امله مجاهدینوته نشوای ظاهره کیدلی او الحاج ملابرادر اخند حفظه الله هم ونیول شو، نو منصور صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ د اسلامي امارت د نائب په توګه د امارت علني مشري ته اوږه ورکړه او تر شهادت پورې یې په خورا ښه بڼه او منظم شکل ټول مجاهدین رهبري کړل.

زما په نظر د منصور صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ د موفقیت یو دلیل داهم و چې هغه د امارت په صف کې د مشورو کارته ډېر اهمیت ورکاوه، هغه هیڅ پرېکړه پخپل سر او د رهبري شورا له مشورې پرته نه کوله، هغه په خپلو ملګرو خورا ډیر اعتماد درلود، هغه

دکار اهل خلک په ښه انداز پیژندل او هر چاته یې دخپل استعداد په اندازه مسئولیت ورکاوه. منصور صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ له مجاهدینو سره، له ولس سره او له ټولو مسلمانانو سره ډیره مینه لرله، په ټولو باندې یې ترحم له حده زیات و، د جنګي وضعیت په دننه کې یې له اسیرانو سره، د دښمن له غولیدلو افرادو سره او حتی له مجرمینو سره یې له نرمي څخه ډک چلند کاوه، د دعوت کار ته یې ډیر اهمیت ورکاوه، دخلکو په عیوبو یې تسامح کاوه.

منصور صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ د هیواد وحدت، دهیوادوالو اتفاق اویو والي ته ډیر متوجه و، هغه دقومونو ترمنځ تناسب، دهیواد دبیلابیلو سمتونو ترمنځ اړیکي او اهمیت په خورا ښه اندازه درک کولای شوای. منصور صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ پخپل کردار سره امریکایان سخت وارخطا کړي او ویرولي وو، همدا وجه وه چې امریکایانو دهغه د ترور او شهادت پریکړه وکړه. اللهم اجعل الجنة الفردوس مثواه

ذبیح الله مجاهد

## د شهید امیر منصورصاحب دشخصیت په اړه د اسلامي‌امارت د ویاند قاري‌محمد یوسف احمدي تاثرات

شهیدامیرالمؤمنین ملا اختر محمد (منصور) تقبله الله متقي، مدبر، زړسواند او دلاورشخص و. دمؤثرو او نرموخبروکولو سلیقه اوداوریدلو حوصله یې درلوده. خپله هم دقوي استدلال څښتن و اوله نورویې هم دزیربحث موضوعاتو په اړه همدا توقع لرله.

دخپل زعامت په مهال یې جهادي صف دخپل بې ساري سیاسي او نظامي ځیراکت اوسالم تدبیر په مټ نورهم تقویه کړ، له بهرنۍ نړۍ او دسیمې له هیوادونو سره یې په سیاسي اومعقول چوکاټ کې دننه درابطې مزي وغځول. داسلامي امارت

اداري تشکیلات يې پراخ او منسجم کړل، فرهنګي فعالیتونوته يې وده ورکړه، لکه څرنګه چې له یوه زعیم سره ښایي نوموړی په هغو صفتونو رب العزة نازولی و.

شهادت يې دټول افغان مجاهد ولس او داسلامي امارت دپاره یوه ضایعه ده او فراق يې دمرحوم امیرالمؤمنین لوی ملا صاحب په څېر دروند اوله برداشت نه وتلی دی.

اسلامي امت او افغان ملت به يې تر قیامته مرهون منت وي الله جل شانه دې له دواړو (امیرانو) راضي شي

قاري محمدیوسف احمدي داسلامي امارت ویاند

## له یرغلګر دښمن څخه
## دشهید امیرالمؤمنین دشهادت دانتقام یوه بېلګه

په نارټ ګیټ بهرني مېلمستون او لوجیستیکي مرکز فدایي بریدونه د سلهاوو تنو بهرنیو اشغالګرو په مرګ ژوبله پای ته ورسیدل.

**دبرید پیل:**

د عمري عملیاتو په ځپونکي جریان کې تېره شپه یوه نیمه بجه د اسلامي امارت ۴ تنو قهرمانو مجاهدینو لخوا د کابل ښار ۹ حوزې اړوند دبهرنیو ځواکونو مهم مرکز چې هم میلمستون ((North Get Hotel)) اوهم دهغوی لوجیستکي او استخباراتي ځای وو د کارنده فدایي بریدونو لاندې ونیول شو.

**فدایي مجاهدین:**

بریدګر فدایي مجاهدین ۴ تنه وو.

۱ــ محمدانبیاء دکندهار ژېړې ولسوالۍ اوسیدونکی.

۲ــ شمس الله د هلمند نهرسراج ولسوالۍ اوسیدونکی

۳ ــ عبدالرشید.....

۴ــ نعمت الله د زابل ولایت د اټغر ولسوالۍ اوسیدونکي

لومړی فدایي د مازدا موټر چلوونکی، زړور مجاهد و چې له درنو منفجره موادو څخه ډک موټر یې د نارټګېټ هوټل او لوجیستیکي مرکز دروازې ته په بریالیتوب سره ورساوه او انفجار یې ورکړ.

درې تنه نور اتل فدایي مجاهدین چې په سپکو او درنو وسلو، اور غورځوونکو بمونو، ماشینګنو او واسکټونو باندې سمبال وو له انفجار څه وروسته یادشوي مرکز ته دننه ځان ورساوه او هلته یې له ورکړل شوي پلان سره سم بهرني اشغالګر په خپلو سوړو او پټنځایونو کې تر ګوزارونو لاندې ونیول.

**دبرید جریان:**

کله چې لومړی له منفجره موادو څخه ډک موټر د مرکز په ورودي دروازه کې منفجر کړل شو، ورسره د یادې امنیتي سیمې کلک کمربند درې وړې شو، ګڼې ودانۍ، خوب خوني، طعام خانې، وسلتون، د نفتي او خوراکي موادو زیرمتونونه، دعیاشیو او فحاشیو لپاره جوړ تالارونه ټول را پریوتل، چې اکثره میشت بهرنیان پکې لاندې شول.

له لومړي انفجار او تخریب څخه وروسته ۳ تنه فدایي مجاهدین دمیلمستون صحن ته داخل شول، او په پاتې شونو بهرنیانو، ساتونکو، پالونکو، میلمنواو په اطاق خونو کې په ځینو ژوندي پاتې اشغالګرو یې مخامخ بریدونه ترسره کړل.

په دوهم پړاو عملیاتو کې چې تقریبا تر سهار۵ بجو او رنایي پورې یې دوام درلود په هوټل کې هیڅوک هم روغ پاتې نشول، ټول میشت کسان یو یو ووژل شول او یا مرګوني ژوبل شول.

په دریم پړاو ۲ ساعته پاتې جګړه کې دریو واړو فدایي مجاهدینو چې لـه ورکـړل شوي دقیق پلان سره سم یې له دننه څخه خپل کار خلاص کړي وو او څوک یې ژوندي نه ووپریښې، په بهر کې له راتلونکو اشغالګرو، مزدورو عسـکرو او پولیسـو سره جګـړه پیل کړه چې د۲ ساعتونو په جریان کې یې ګڼ شمېر بهرني او کورني عسکر او پـولیس مړه او ژوبل کړل چې د امبولانسونو په وسیله د دښمن لخوا انتقالیدل.

## د دښمن تلفات:

د دغو مبارکو عملیاتو په لړ کې د دښمن په سلګونو کسان چې د کره استخباراتي او داخلي معلوماتو په اساس دلته میشت ول، اکثره وژل شوي او یو شمیر یې ټپیـا هـم دي، د ځاني تلفاتو ترڅنګ د مرکز ډیرې ودانۍ یا بالکل نړیدلي او یا نیمـه تخریـب او له کاره غورځیدلي دي، ګڼ وسایط له منځه تللي او نور هم درانه مالي زیانونـه اوښـتي دي.

## د دښمن انکار او پروپاګند:

داچې دښمن له تلفاتو څخه انکار کوي اویا تلـف شـوي کسـان دګوتـو پـه شـمیر ښیي، دا کومه نوې خبره نه ده؛ بلکې دهغوی د کذب، خدعې او لـه ښکاره حقیقتونـو څخه دانکار اوږده تاریخ ته ګرځي.

یو څوک چې له دومـره دقیقـو امنیتـي کمربنـدونو څخـه تیریـږي او لـه ټنونـو منفجره موادو ډک موټر دومره حساس ځای ته رسولی شي او بیا په مسلح شـکل تـر ۷ ساعتونو پورې دمرکز په دننه کـې آزاد ګرځـي، حملـې کـوي او وخـت تیـروي، دهغـو عملیات بیا د څو محدودوکسانو په وژل کیدا سره پـای تـه نـه رسـیږي، پـه دې خـبره باندې ټول دعقل خاوندان پوهیږي او پخوانیو تجربو هم ثابته کړې ده.

مزدور دښمن ددې لپاره چې خپل خجالت او ناوسي پټه کړي، د بهرنیو بـادارانو دګټو دتحفظ لپاره دهغو په امردهغوی له تلفاتو منلو څخه حتی چورلټ انکار کوي.

زمونږ دفدايي کنډک دعملياتي مجاهدينو پلان خورا دقيق وو، څومره چې دعملياتو جريان په دقت او بريالیتوب سره عملي کړل شو، همدومره يې سنجول شوي تلفات هم له پيشبينۍ سره سم او دقيق دي.

زمونږ مجاهدينو، د پلان له طرحې رانيولې دعملياتو دپيل پورې دياد مرکز له حالاتو په دقيق ډول ځان خبراوه، له دننه څخه يې د اوسيدونکو کره شميره، دمرکز دقيقه نقشه او ټول لازم او اړين معلومات راغونډ کړي وو، دهغو په تناسب مواد په نظر کې نيول شوي وو چې له مخې يې الحمدالله عمليات په بريالیتوب سره تطبيق کړل شول او په مرکز کې هستوګن تر ۴۰۰ پورې بهرني اتباع چې اکثره امريکايان ول يوهم ژوندی يا روغ نه دی پاتې شوی. ولله المنة

## د برید پیغام او نتیجه :

امريکايانو چې افغانستان دکومو شومو اهدافو لپاره اشغال کړی وو، اوس دوی ته هم په يقين معلومه شوې چې د اشغال په وسيله د دوی اهداف ترلاسه نشول؛ خوداچې لاهم خپل اشغال غځولو ته دوام ورکوي، هدف په کې دادی چې امريکا له نړيوال شرم، خجالت او مخامخ شکست منلو څخه وژغوري، ترڅو نړيوال نيمګړی حيثيت يې لا نور زيانمن نشي.

خو په حقيقت کې چې څومره امريکايان او دهغو ملګري اشغالګران، په افغانستان کې دخپل شتون د اوږدېدو خبره کوي، هغومره افغانان ورته په خپلو جهادي پلانونو باندې فکر او غور کوي، ترڅو په ځپونکي ډول مخامخ خارجي اشغالګر هم لکه کورني مزدوران يې له درنو تلفاتو سره مخ کړي او عقل يې سرته ورولي.

دکابل د دغې ورځې برید په خورا واضح ډول دا پيغام درلود چې افغانان دقربانۍ له ورکولو او جهادي مبارزې پرمخ بيولو څخه سترې شوي نه دي اونه يې هم په پلانونو کې کمزورۍ راغلي؛ بلکې برعکس لاپياوړي شوي، که له يوې خوا ولسوالۍ او ددښمن مهم مراکز فتحه کوي، سيمې د دښمن له کرغېړن وجود څخه پاکوي،

همدا ډول د بهرنیو هستوګن ځایونه او ځالې هم ورته مهمې دي او په وړانـدې بـه یـې پرېکنده ګوزارونه ترسره کوي.

د کابل بریدونه باید اشغالګر پوه کړي چې دلته به هغوی دخپلې هـرې ورځـې د تېرېدو او جنایاتو قیمت ورکوي، دغه فـدایي مجاهـدین صرف د دې لپـاره یـادو شـوو عملیاتو ته راغلي وو چې دالله تعالی رضاحاصله کړي او د اسلامي امارت د شهید رهـبر ملا اخترمحمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ دشهادت انتقام له اشغالګرو څخـه واخـلي، نـو څـومره چې اشغالګر په ظلم، وحشت، داشـغال تـداوم او بـې ځایـه سرتمبګـۍ ټینګـار کـوي، هغومره به یې په وړاندې د انتقام جوش زیاتیږی او دخپلو جنایاتو ځواب بـه وایـي. ان شاءالله

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی

۲۷/۱۰/۱۴۳۷هـ ق

۱۱/۵/۱۳۹۵هـ ق ـــ ۱\۸\۲۰۱٦م

# د پسرلنیو منصوري عملیاتو د پیلولو په اړه
# د افغانستان د اسلامي امارت اعلامیه

بسم الله الرحمن الرحیم

قال الله تبارک و تعالی: (إنهم لهم المنصورون، وإن جندنا لهم الغالبون) الصافات (۱۷۱ – ۱۷۲) ژباړه: الله جل جلاله فرمایي: په یقیني ډول به له هغوی (مسلمانانو) سره مرسته وشي او همدا زموږ لښکر به (په کافرانو) برلاسی شي.

د جهاد په تېرو پنځلسو کلونو کې که څه هم کفري یرغلګرو ته درانه زیانونه اوښتي او ډیری د ائتلاف ملګري یې زموږ له هیواده د خپلو پوځیانو په ایستلو مجبور شوي دي. مګر د امریکا په مشرۍ ځینې یرغلګر هیوادونه لا هم خپل ظالمانه اشغال ته دوام ورکوي، په جګړه ټینګار کوي، د خپلو اشغالګرو پوځیانو شمېر زیاتوي، درانه بمونه اوروي او د بیلابیلو پوځي ستراتیژیو په طراحۍ سره هڅه کوي زموږ مؤمن او خپلواک ولس د تل لپاره محکوم او د اشغال په زولنو ټرلی وساتي، اسلامي امارت او ورسره ټول مجاهد ولس مصمم دی چې د الله تعالی په نصرت په هیواد کې د جوي او موسمي شرائطو په مساعدتوب سره یوځل بیا د بهرنیو متجاوزینو او د هغوی د داخلي ملاتړو په خلاف منصوري جهادي عملیات اعلان کړي.

د اچې د شهیدامیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ تر قیادت لاندې د مجاهدینو په لاس خورا ستر ستر فتوحات وشول، اختطافګراو مفسدین نابود شول، د ډیرو فتنو دروازي وټړل شوي، په سیاسي او اجتماعي برخه کې دپام وړ پرمختګ وشو، د ګڼ شمېر هیوادو متجاوزې لښکرې د جهاد په وسیله ماتې او تیښتې ته اړ ایستل شوې او نورې ډیرې ویاړمنې کارنامې تر سره شوې، الله تعالی ته امید دی چې دشهید امیرالؤمنین په مبارک نامه په تفاؤل سره دمنصوري عملیاتو په جریان کې به هم هیواد

دکفارو او دهغوی له پاته شونو، اختطافګرو، بغاتو او نورومفسدینوله وجود او شرڅخه خلاص شي.

دا چې د الله تعالی په نصرت او د افغانستان د مجاهد ولس د بیدریغه سرښندنو له برکته یرغلګر دښمن په پوځي ډګر کې ماتې خوړلې او خپله د دښمن په اعتراف د هیواد تر نیمایي زیاته برخه د مجاهدینو تر کنټرول لاندې ده. لهذا سرِني منصوري عملیات به د اشغال د نورو کلونو په نسبت د نوعیت او تکتیک په بدلون سره په دوو (ملکي او پوځي) برخو کې همزمان اعلان او پلي کیږي.

## لومړی په ملکي برخه کې:

الف ـ د هیواد کومې سیمې چې د دښمن له شتون څخه تصفیه او مجاهدین وربانديې حاکم دي هلته به د اسلامي امارت د شته امکاناتو مطابق ملکي فعالیتونه زیاتیږي او په ټول کوښښ سره به ولس ته دسوکالۍ اوګټې رسولو په بیلابیلو برخو کې رغنده عملیات شروع کیږي.

ب ـ په تصفیه شویو ولسوالیو او سیمو کې به د نظام جوړونې ټول اداري واحدونه فعال او د ولس د اداري، امنیتي او حقوقي موضوعاتو د حل او فصل لپاره به پکي اداري تشکیلات په منظم ډول عیاریږي.

ج ـ د هرې ولسوالۍ پر رسمي تشکیلاتو سربیره به هلته د دعوت و ارشاد او جلب وجذب کمیسیون څانګه په خاص اهتمام فعاله کیږي او د یادې څانګې د علمي او با تجربه اشخاصو په وسیله به د دښمن له لیکو څخه د تیر ایستل شویو هیواد والو د را ایستلو او له خپل ولس او مجاهدینو سره د یوځای کولو جدي هڅې کیږي.

**دوهم په پوځي برخه کې:**

**الف ـ کومې سیمې چې د دښمن له لوڅه په مکمل ډول نه دي تصفیه شوې هلته به د د دښمن د ځپلو، وژلو، ژوندي نیولو او له سیمې څخه دهغوی د ایستلو پوځي طرحې عملې کیږي.**

**ب ـ د منصوري عملیاتو اساسي ترکیز به پر بهرنیو یرغلګرو، د هغوی د پوځي او استخباراتي ثابتو او سیارو مراکزو او د هغوی د داخلي ملاتړو په له منځه وړلو باندې متمرکز وي.**

**ج ـ یاد شوي عملیات به د دښمن پر اهدافو له تهاجمي بریدونو سره په څنګ کې د چریکي (خرپ او ترپ) جګړې د تکتیک له مخې د ډله ایزو استشهادي او هدفي بریدونو، نفوذي حملو او تفجیري بریدونو په تر سره کولو د الله په نصرت پرمخ بیول کیږي.**

**د ـ په منصوري عملیاتو کې به مجاهدین مکلف وي چې د هغو د تنفیذ ساحه حتی الامکان داسې ځایونه او داسې ترتیب او انتخاب کړي چې د عملیاتو په مهال د ولسي خلګو د ځان او مال خوندیتوب ته جدي پاملرنه پکې شوي وي.**

**همداراز د عملیاتو په مهال به په نویو فتحه کیدونکو سیموکې دملي شتمنیو او شخصي ملکیتو نوساتني او اداري واحدونو فعالیدلو ته خاصه توجه کیږي او د دښمن له نیول شویو او ژوبل شویو جنګي افرادو سره به د اسلامي او انساني چلند په کولو سره د هغوی د ژغورنې او بشري حقونو د رعایت خاص خیال ساتل کیږي.**

**څرنګه چې دثور اتمه د شوروي اتحاد او کمونیزم په مقابل کې زمور د تېر مقدس جهاد دکامیابۍ اوستر افتخار ورځ ده نو منصوري عملیات به هم ان شاء الله د روان ۱۳۹٦ هجري لمریز کال د ثور د میاشتې په ۸ تاریخ چې د ۱۴۳۸هـق کال شعبان دمیاشتي له لمړۍ او د میلادي ۲۰۱۷ م کال د اپریل د میاشتې له ۲۸ سره سمون**

خوري، دهیواد په ټولو ولایتونو کې دسهار په پنځو بجو د الله اکبر په ویلو سره د یرغلګرو او د هغوی د ملاتړو پر پوځي تاسیساتو همزمان پیل کیږي، لهذا د ولسي خلګو د ځان او مال د خوندیتوب په غرض له خپلو ټولو هیواد والو څخه هیله کیږي چې د عملیاتو په جریان کې د دښمن له هر ډول پوځي مرکزونو او نظامي تجمعاتو اومضرو اشخاصوڅخه لیري اووسي او په هره برخه کې له خپلو مجاهدینو وروښو سره لا زیات همکار و اوسیږي. والسلام

د افغانستان د اسلامي امارت رهبري شوری

۱/۸/۱۴۳۸هـ ق ۸/۲/۱۳۹۶هـ ش ــ ۲۸\۴\۲۰۱۷م

# شهید امیرالمؤمنین ملااخترمحمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ

# د خپل ولس په غم کې

**لیکوال: ذبیح الله مجاهد- داسلامي امارت ویندوی**

هسې خو هم د اسلامي امارت د ټولو مسئولینو قیام، جهاد او ټولې هلې ځلې دخپل ولس د سوکالۍ، امن، ډاډ، په شرعي چاپیریال کې د خوشحاله او د بې تکلیفه ژوند تیرولو لپاره وو او دی. خو په دې برخه کې وروسته له هغو چې امریکایي اشغال منځ ته راغی، خلک له نوي ځور او تکلیف سره مخ شول او ملت په یو لوی جنګ کې ښکېل شو، شهید امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ په نسبي او مقدور ډول د خپل ولس د آرام او سوکالۍ لپاره څو ځانګړي ګامونه واخیستل چې ورسره د ده مرحوم له خپل ولس سره بې کچې مینه، اخلاص او ترحم ترې جوتیږي.

## په جګړو کې دعام ولس له ژوند سره احتیاط:

شهید الحاج ملا اخترمحمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ سره له دې چې په لویه او بې موازینې جګړه کې له کفارو سره په جهادبوخت و، د اسلامي امارت د نائب او بیا یې د امیر په توګه د نړۍ له ۴۹ هیوادونو سره د مقابلې پیټۍ په اوږو پروت و، د تمویل، تجهیز او امکاناتو په برخه کې له شدید فقر او مشکلاتو سره مخ و، خو د خپلې عاطفې او ولسي مینې له امله اوپه دې برخه کې د مسئولیت د احساس په وجه یې د جګړو په جریان کې د ولسي خلکو د زیان او تلفاتو د مخنیوي په اړه ډیرې هلې ځلې او نه ستړې کیدونکې منډې ترړې وکړې. په جګړه کې د خلکو سر اومال ته د نه زیان اړولو لپاره یې ځانګړې او با صلاحیته اداره رامنځته کړه، دهغو دکارونو لپاره یې د طرزالعمل د جوړیدو او په عمل کې د پلي کیدو لپاره یې خورا توجه وکړه، چې الحمدلله په برکت یې په جنګ جګړو کې د ولسي خلکو د مرګ ژوبلې کچه ترهغه بریده چې د مجاهدینو پورې یې اړه درلوده په سلو کې ۶۰ ٪ راټیټه شوه او لاهم د مرحوم منصور صاحب پیل شوی کار ښه په اغیزمنه توګه پرمخ روان دی.

## دخلکو د شکایاتو د اوریدو او رسیدګۍ په برخه کې:

جنګ او جګړه خورا ځیږ کار وي، هلته د نرمیو او عاطفو پرځای په طبعي ډول په انسانانو غرور او سختي غالبه وي، د اسلامي امارت مجاهدین هم له دې اصل څخه مستثنی نه دي، د دې لپاره چې خدای مکړه، مجاهدین د مجاهد په لباس کې، د وسلو او امکاناتو په لرلو سره په بې دفاع عامو خلکو، او ولس باندې په انفرادي او اجتماعي ډول کوم تجاوز، ظلم او تیری ونه وکړي، شهید منصور صاحب ورته د سمع شکایاتو په نامه اداره فعاله کړه، ترڅو دخلکو شکایتونه مخامخ ورته ورسیږي، دچا غږ بې اوریدو پاتې نشي، کوم زړه دردمن اونا امیده نشي.

دخلکو د غږ د اوریدو خبره د هر مسلمان امیر لپاره خورا مهمه وي، د اسلام په تاریخ کې هغه مشران او امیران دخپل دور غوره خلک تیرشوي دي چې د قدرت او واک په اوج کې یې ولسونو او عامو مسلمانانوته د ذلت وزرې غوړولی وي، منصور

صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ همدا ډول احساس درلود، دخلکو غږ يې اورید او دهغو مشکلاتو ته يې حتی الممکن رسیدګي مهمه بلله او په دې لاره کې يې ډېره خواري او هڅه کوله، ماتحت مسئولین يې له خلکو سره ښه چلند ته رابلل، مجاهدینوته يې له ولس سره دنرمي کولو لارښونې کولې، د ولس د شکایاتو د اوریدو او بیا پرې غورکیدو لپاره يې زمینه مساعده کړې وه او په دې لاره کې يې هره ممکنه لاره تعقیبوله.

## په تعلیمي برخه کې:

وایي په جګړه کې حلوا نه ویشل کیږي، جګړه واقعا درونده او خورا بوختوونکی کار دی، خو شهید منصور صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ دخپلې ولسي مینې له امله د جګړې په منځ کې هم تر ممکنه حده د دې ولس د اولادونو لپاره د تعلیمي چاپیریال برابرولو په غم کې و. د تعلیم او تربیې په نامه ځانګړی او باصلاحیته کمیسیون يې ورته جوړ کړ، د وس مطابق يې امکانات ورته برابر کړل، د هیواد له پوهنتونو، مکاتبو او مدارسو سره يې د مجاهدینو اړیکې تأمین کړې، په جګړه ایزوسیمو کې يې هم خلکوته د تعلیم زمینه برابره کړه، مکاتبو، مدارسو، لیسو او پوهنتونونو ته له نیږدې سیمو څخه يې مجاهدین له جګړو او نښتو منع کول. دخلکو د اولادونو د روزنې په جریان کې يې د تشویقي پروګرامونو لارښونې وکړې، حتی د دښمن اړوند هغه ادارات او پرسونل يې له بریدونو او مزاحمت څخه مستثنی کړل چې په تعلیمي چاپیریال کې په کار بوخت دي.

## دصحت په برخه کې:

پوهیږو چې زموږ د هیواد اطرافي سیمې چې اکثریت ملت مو په کې مېشت دی، د ډېرو نورو آسانتیاو ترڅنګ په صحي برخه کې هم خورا ډېر مشکلات لري، منصور صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ د دې مشکل د رفع لپاره څو اساسي ګامونه واخیستل. په اکثرو هغو ساحو کې چې کلینیکونه او روغتونونه موجود وو او سیمې د مجاهدینو تر واک لاندې وې، دهغو روغتونونو دفعال ساتلو امر يې وکړ، که د امارت او مجاهدینو توان نه رسیده چې د دغو صحي مراکزو تمویل او پالنه وکړي، په صحي برخه کې فعالي

ځینې نړیوالې مؤسسې یې راجلب کړي، امن یې ورته برابر کړ او ډاډ یې ورکړ ترڅو خلکو ته صحي استانتیاوې ورسوي چې اوس مهال د هیواد په مختلفو ساحو کې سلګونه دا ډول کلینیکونه فعال دي. ورسره ورسره یې د خپل وس مطابق په ځینو ځایونو کې د امارت په لښګت دخلکو دسهولت په منظور ځینې روغتونونه له سره جوړ او په ښه کفیت مجهز کړل، ترڅو د هیواد لرې پرتې سیمې چې د روغتیا په برخه کې ډیرمشکلات لري، او د لریوالي او ناتوانیو له امله په ګڼ شمیر کې عام خلک خپل ژوند له لاسه ورکوي، چې هغوی وکولای شي خپلو سیموته نیږدې تداوي وکړي او له روغتیا څخه برخمن شي.

## په قضایي برخه کې:

بیا هم جګړه داسې شی ده چې د ډیرو کارونو د اجرا مخه نیسي، دخلکو د منازعاتو د حل چارې ټکنی کوي، خو منصور صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ د خپل ولس سره د همدردۍ او دهغو په وړاندې دمسئولیت د احساس له مخې په قضایي برخه کې ملت ته ډیر څه وکړل، په داسې وخت کې چې په مقابل جانب کې دکابل اداري قضایي چارې له پراخو امکاناتو سره سره ټولې د رشوت، ظلم، غصب او زور زیاتي په محور څرخي چې په دې برخه کې په نړیواله سطحه هم راپورونه خپاره شوي او اندیښنه ښودل شوې.

منصور صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ د هیواد ټولو هغو برخو ته چې مجاهدین لاس رسی ورته لري او هلته عدالت تأمینول ممکن و، د امارتي قضا څانګې یې ورسولې، ابتدایه، مرافعه او تمیز محاکم یې جوړ کړل او تر وسه وسه یې مجاهدین مکلف کړل چې په قضایي برخه کې د ښه شرعي عدالت د تأمین لپاره خلکوته زمینه سازي وکړي، همداسې وشول، الحمدلله په ټول هیوادکې د جهادي خدمت او جګړه ایز چاپیریال باوجود، په ورځ کې د خلکو ترمنځ سلګونه شخصي او حقوقي منازعات حل کیږي، حتی دقومونو ترمنځ لویو پیښو او د کلونو مشکلاتوته د حل لارې پیدا شوې، دشریعت احکام په عدالت او انصاف سره تطبیق شول، دخلکو د سر، مال، عزت، ناموس، او

حیثیت څخه ساتنه وشوه او د منصور صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ له برکته اوس هم هغه سلسله جریان لري او لا د تقویې او ښه کیدو په حال کې ده.

**خلاصه:**

امیرالمؤمنین شهید ملا اخترمحمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ د خپل جهادي خدمت په جریان کې، خصوصا هغه مهال چې دی د اسلامي امارت د امیر په توګه ټاکل شوی و، د جګړې له جریان او ډېرو ستونزو سره سره د ولس د سوکالۍ او پرمختیا لپاره ډېرې هڅې کولې، له ولس سره یې د زړه له تله مینه لرله، خلک یې دالله تعالی عیال بلل، په هغوی شفقت، مهرباني او نرمي یې د مجاهدینو دنده بلله او دامارت بریا، د جهاد دوام او د امارت د تمویل په برخه کې یې د ولس وندې ته خورا د قدر په سترګه کتل، ځان او ټول امارت یې دخلکو او خپل ولس د احسانونو پوروړی بالله، مسئولین او مجاهدین به یې له خلکو سره نرمۍ، عاطفې، مهربانۍ، او ښو اخلاقو ته رابلل، په دې برخه کې یې ډیره انرژي مصرفوله او دې کار ورته د یو ریښتوني مسلمان امیر په حیث خورا اهمیت لاره.

د مرحوم منصور صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ د خدماتو او کارونو درک مورِ هغه مهال ښه کولای شو چې په نړیواله اوافغاني سطحه د جګړو او جهادونو معاصر جریانونه دقیق مطالعه کړو او په ملکي برخه کې یې د اسلامي امارت له اوسني وضعیت سره حالات په تله کې واچوو. والسلام

۲۱\۵\۲۰۱۷

# دوهم څپرکی

د شـــــهید امیرالمـــــؤمنین مـــــلا اخترمحمدمنصـــــور رَحِمَهُ ٱللَّهُ دزعامـــــت، خدمتونو او دجهادي صف دوحدت په اړه دځېړونکـــو، پوهـــانو او لیکوالـــو شـــننې، مشورې او څېړنې

# طالبانو د څو پيړيو سياسي بدعت ختم کړ

ليکوال: نعمان منلی – ددينې او ټولنيزو چارو څېړونکی

د اسلامي نظام اساس په شوری ولاړ دی، د خليفه يا امير تر انتخابـه نيـولې آن د دولت مختلف واړه او غټ کارونه به شوری پر مخ وړي، لکه قرانکريم وايـي: و امـرهم شـوری بيـنهم، د اسـلام لـومړی خليفـه ابـو بکـر الصـديق رضي الله عنـه د انصـارو او مهاجرينو په شوری سره ټاکل شوی و، دا راز هغه بيا عمر بن الخطاب رضي الله عنـه د خپلې شوری په خوښه خپل ځای ناستی وټاکـه، عمـر بـن الخطـاب بيـا شـپږ کسـيزې شوری ته کار وسپاره چې دوی به خليفه ټاکي او هغې شوری عثمان بن عفـان رضي الله عنه خليفه انتخاب کړ. او داسې نور.

مورِ چې په مختلفو شاهي نظامونو کې د وليعهد او ځای ناستي کومه پديده وينو دا شرعاً ناسمه او غير شرعي طريقه ده، که څه هم ځيني فقهاوو د خاصـو شرايطـو پـه نظر کې نيولو سره روا کړې ده خو په عامه توګه د کوم خپلوان وليعهـد ټاکـل ناسـم او غير شرعي کار دی، که څه هم دا طريقه په اموي او عباسي خلفاوو کې رواج وه او هـر خليفه به خپل زوی وليعهد او ځای ناستی ټاکه، آن تر موجوده شاهي نظامونو پوري، د عربو شاهي واکمنۍ اوس هم د وليعهد په ټاکنه ولاړې دي، او زمورِ هيواد کې هم تيره شاهي واکمني کې همدا طريقه رواج وه.

اصلاً د اسلام په تاريخ کې دا کار د لومړي ځل له پاره معاويه بن ابي سفيان رضي الله عنه کړی دی، چې خپل زوی يزيد بـن معاويـه يـې خپـل ځـای ناسـتی او وليعهـد وټاکه، کـه څـه هـم معاويـه رضي الله عنـه دا کـار د ځـانګړو مصـلحتونو او د وخـت د مجبوريتونو لامله کړی و، خو بيا يې هم پر ضد مخالفتونه راپورته شول، لکـه د حسـين بن علي رضي الله عنهما مخالفت او د عبد الله بن زبير رضي الله عنهما مخالفت، دا راز

هغه مهال نورو ګڼ شمیر صحابه کرامو هم د معاویه رضي الله له دې کار سره مخالفت وکړ او یزید یې د ولیعهد په توګه ونه مانه.

د معاویه رضي الله عنه دا کار که څه هم د خلفاء راشدینو له کړنلاري او د اسلام له اساسي شورایي نظام سره مخالفت و، خو لکه مخکې مې وویل معاویه بن ابي سفیان په ځانګړې توګه ځیني مصلحتونه په نظر کې نیولي وو او هغه دا چې په هغه وخت کې د مسلمانانو ترمنځ حالات بیخي خراب او مخالفتونه اوج ته رسیدلي وو، لکه له علي رضي الله عنه سره د معاویه مخالفتونه او د صفین خونړۍ جګړه، او دا مخالفتونه هغه مهال پای ته ورسیدل کله چې حسن ابن علي رضي الله عنهما واک معاویه ته وسپاره، نو معاویه په دې فکر و چې که خپل ځای ناستی معلوم نه کړي یو ځل بیا به په امت کې مخالفتونه او جګړې رامنځته شي، او دا راز د شام اهل الحل والعقد خلکو هم معاویه ته وویل چې خپل ولیعهد به ټاکې او هغوی په یزید باندې راضي شول. او هغه مهال په حکومت کې د شام د خلکو له رسوخ او نفوذ سره مخالفت سخت کار و.

خو د معاویه رضي الله عنه دا کار وروسته په امویانو او عباسي خلفاوو کې د خلافت راشده د تګلاري پر خلاف بدعت وګرځیدی او لکه مخکې مې وویل تر ننه لا روان دی، څرنګه چې دا کار ناسم، غیر شرعي او د شورایي نظام خلاف دی نو له پیله نیولې تر ننه یې مسلمان امت ته خورا لوی زیانونه اړولي دي، لومړي ولیعهد یزید د کربلا فاجعه رامنځته کړه داراز د امویانو او عباسیانو په خلافتونو کې د ځای ناستي د بدعت لامله داسې نا اهله او خپل سري واکمنان قدرت ته رسیدلي دي چې د هغوی ټولو کړني تاریخ ثبت کړې او روښانه پرتې دي.

راځو د مطلب خبري ته، د ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ له وفات وروسته د اسلامي امارت رهبري شوری اود اهل الحل والعقد غړیو ملا اختر محمد منصور د هغه پر ځای وټاکه او دا کار د اسلام له شورایي نظام سره موافق ترسره شو، په داسي حال کې چې د مرحوم ملا صاحب ځوان او عالم زوی او هم یې ورور شتون لري او له دې سره په موجوده وخت کې په اسلامي نړۍ کې په لسهاوو داسې شاهي نظامونه فعلاً

شتون لري چې هغه د ولیعهد په سیستم روان دي، او داکار اوس هم په اسلامي نړۍ کې دومره مقبولیت لري چې د مسلمانو ولسونو په روح او روان کې د واکمنو اولادونه ځانګړی مقام او بیل حیثیت لري، خو طالبانو دا د څو سلیزو او پیړیو مقبول او ټول منلی سیاسي بدعت ته لته ورکړه او د اسلام د شورایي نظام پر اساس یې خپل نوی مشر انتخاب کړ.

۱۱۸۱۲۰۱۵

## داسلامي امارت د نوي زعیم څو مواصفات

لیک: ملا نوراحمد اخند

د عالیقدر امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ د وفات تر اعلان وروسته داسلامي امارت داهل الحل والعقد شوری ملا اختر محمد منصور صاحب د اسلامي امارت د زعیم په حیث وټاکه، د زعیم د غوراوي په مراسمو کې په سلهاوو متنفذینو، علماء کرامو، درهبر ي شوری غړو او مجاهدینو ګډون کړی و، ټولو له نوي امیر (منصور صاحب حفظه الله) سره بیعت وکړ، او داتعهد یې وکړ چې خبره به یې اورو، اطاعت به یې کوو، او په همدې سپېڅلې لار کې به تر پایه ملګرتیا ورسره کوو.

دالاماره ویبپاڼې د راپور په اسا س چې په د ې مراسمو کې د څو تنو علماء کرامو او امارت د مشرانو له وینا وروسته د اسلامي امارت مشر ملا اختر محمدمنصور صاحب تفصیلي خبرې وکړې، عالیقدر منصور صاحب د مرحوم امیرالمؤمنین د وفات په هکله د غونډې برخوالو ته معلومات ورکړل او دشوری له لوري یې دزعیم په حیث د ځان ټاکلوپه اړه وویل چې داهل الحل والعقد شوری له خوا دروند مسؤلیت یې خالص د الله تعالی د دین د خدمت لپاره او دروانې سپېڅلې مبارزې د جار ي ساتلو او پایښت په موخه قبول کړی.

محترم مشر وویل چې د زعامت منصب کاملا یو درونـد بـار اومسؤلیت دی، ددې دروندمسؤلیت حق اداء کـول سـخت کـار دی، لـه الله تعـالی څخـه د توفیـق او استقامت خواست کوو، ټول مسؤلین دې لـه مشرتابه سره همکـار واوسي، چـې د څـو لسـیزو د جهـاد قربـانۍ مـو ضـائع نشي۔ او الله تعـالی دې دا سـپېځلی کـاروان پـه بریالیتوب سره تر خپل مقصود منزل پوري ورسوي.

عالیقدر امیر المؤمنین ملا محمـد عمـر مجاهـد (رحمـه الله) دنـړۍ پـه سـطحه داسي امیر ؤ چې په نړۍ کي د موجوده پاچاهانو څخه په مراتبو د ډیرو خلګو داعتماد وړ مشر او لار ښود و، نوموړي داسلامي تحریک له پیل څخه پر اوسني زعیم ملا اخـتر محمد منصور صاحب باندي ډېر اعتماد درلود، نور وزیران به کابل کې وو، خو منصور صاحب به له مشر ملا صاحب سره په خاصو کارونو کي دهمکارۍ په خاطر په کندهار کې نژدې اوسیده، کله چـې دیرغلګـرو پـرخلاف جهـاد شروع شـو، منصـور صـاحب د رهبري شوری کلیدي غړی شو او کوم وخت چې د ملاصاحب نائب شهیدملا عبیـدالله اخند بندي شو، دمرحوم امیر المؤمنین (رحمه الله) له خوامنصور صـاحب د ملابـرادر اخند مرستیال وټاکل شو او دمشرتابه ډیر کارونه نوموړي ترسره کول، خو کله چې ملا عبدالغني برادر ونیول شو، ارواښادمشر ملا صـاحب، مـلا اخـتر محمـد منصـور خپـل نائب ونوماوه، منصور صاحب ته دې وخت کې درهـبري شـوری سرپرسـتي هـم ورلـه غاړي وه، خو دغه درونـد مسؤلیت یې په ډیره ښه توګه اداء کړ، هغه داسي چې اسلامي امارت په پوځي او سیاسي ډګرونو کـي دومـره ډیـر پیـاوړی شـو چـي دښـمن یـې پـر ځواکمنتیا اعتراف وکړ.

په اسلامي شریعت کې چې د مسلمانانو دامیر لپاره کوم اوصاف مشـخص شـوي هغه مهم او اړین صفات یې لکه اسـلام، نـارینتوب، سـخاوت، شـجاعت، تقـوی، علـم، دموجوده عصر له سیاسي او نظامي حـالاتو اګـاهي، حلـم، مشـوره اخیسـتل او..... پـه منصور صاحب کي شته، یو مجلس کي درهبري شوری له یوکلیدي غړي سره مخ شوم، دنوموړي څخه دنوي امیر (منصور صاحب) دشخصیت په اړه وپوښتل شول، هغه وویل

چې: « د کوم جهادي کار لپاره چې څه ترې غوښتل شوي په خورا سخاوت يې دمسلمانانو کارونه ورخلاص کړ ي د ي، د شجاعت په اړه يې وويل چې په ډيرو سختو او اضطراري شېبو کې مې ليدلی خو نوموړی داسي ډاډه او بيغمه ناست وي لکه هيڅ مشکل چې نه وي، دتقوی په هکله يې وويل چې منصور صاحب د دومره لوی صلاحيت سره سره د خپلې کورنۍ کوم غړي، قريب او يا شخصي دوست ته کوم منصب نه دی سپارلی، ديني او دنيوي ضروري علوم الله تعالی ورکړی او دنړۍ له روانو چارو ښه اګاه دی، مشوره اخلي، خبرې په غور سره اوري، غوسه نه کوي او ډير حليم مزاج يې دی« .

دعاليقدر منصور صاحب داهليت، تقوی او پوهې يوه بله ځانګړتيا داده له کوم وخت راهيسي چې مشر ملا صاحب وفات شوی، نوموړي داسلامي امارت چارې په داسي ډول اداره کولې چې چا د مشر ملا صاحب د نشتوالي احساس هم ونه کړ. اوبله داچي الله تعالی دمنصور صاحب په قيادت کې اسلامي امارت ته دهيواد په مختلفو سيمو کې ډير زيات فتوحات ورنصيب کړل او.....

ټولو مسلمانانو په تېره مجاهدينو ته په کار ده چې په اوسني حساس وخت کي د هر ډول اختلاف څخه ډډه وکړي، ځکه د اختلاف ټوله ګټه دښمن ته رسېږي او دالله تعالی دنصرت مانع ګرځي، ټول مجاهدين بايدله خپلو خواهشاتو، شخصي ګټو اوځان مطرح کولو څخه تېر شي، د دين عليا ګټې مراعت کړي، د مظلومو هيوادوالو په تېره د کونډو، يتيمانو، اسيرانو او شهيدانوهيلې او ارمانونه پوره کړي، د عاليقدر امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد (رحمه الله) له خوادټاکل شوي نائب اود اهل الحل والعقد شوری له لوري د غوره شوي امير منصور صاحب سره علی السمع والطاعة بيعت وکړي او ځان ددې الهي فرمان مصداق وګرځوي چې: « واعتصموا بحبل لله جميعا و لاتفرقوا«

١\٨\٢٠١٥

# د ملا اختر محمد منصور په اړه زما څو یادونې

**لیکوال: عبدالمالک همت- ددیني او سیاسي چارو شنونکی**

ما د طالبانو په واکمني کې د هند سره تجارت درلود. یو د اکسپورټ شرکت مې په هند کې او بل په افغانستان کې و. زما اړوند شرکت به په امرتسر کې د آریانا افغان هوایي شرکت الوتکې ته خپل او د نورو سوداګرو تجارتي مالونه وړواچول او په کندهار، کابل او جلال آباد کې به مې ځني تسلیم کړل. له دې املـه بـه مـا او زمـا د شرکت کار کوونکو پـه کنـدهار، کابـل او ننګرهـار کـې د طالبـانو د حکومـت د ډېـرو دوایرو د مشرانو او کشرانو سره د شرکت او د مالونو د محصول او نـورو اړونـدو چـارو په اړه زیاتي اړیکي لرلې. د اوسني حکومت د چارواکو دې خوابده نـه وي د طالبـانو د حکومت اجراآت خورا ساده او بې تکلیفه وه. کارونه آسانه ترسره کېدل، هـر لوړپـوړي چارواکي ته ورتله او رسـېده ګـي پـه ډېـره آسـاني سره کېـده. او دغـه اداري فسـاد او ناخوالې چې په دې اوسني حکومت کې په دونه پراخه پیمانه رامنځ ته سوي دي چا یې هیڅ تصور هم نه کاوه. ما او ما غوندي نورو کسانو هغه وخت د ډېرو وزیرانـو او نـورو لویو چارواکو سره په آسانۍ سره کتلای سوای او خپلې ستونزي او مشکلات یې مخامخ بې له همدې اوسنیو تکالیفو ورته ویلای سوای.

په دغو کسانو کې ما د مولوي اختر محمد منصور سره ځکه ډېر لیدل چـې دی د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزیر و او پخپله د کندهار په هـوایي ډګـر کـې اوسـېدی او رسمي دنده یې هلته ترسره کولـه. منصـور صـاحب ډېـر ښـه جسـامت درلـود. ښـه او بااستعداده ځوان ملا و. د ډېرو ښو اخلاقو، ښه چلند او ښـه برخـورد څښـتن و، متـین، مکین اوبردباره انسان و، پر خبرو یې ښـه غـوږ نیـوی، سریـې ژر خلاصـېدی، کـار یـې ژرکاوه، خوشکه او غوسه یې هیڅ نه پېژندل. دا یې نه کتل چې دفتر دی کـه د میـدان

یو کنج. هر ځای چې به په لاس راغی، وبه درېدی، یا به یوه ځای ته تکیه سو کار به یې را خلاص کړ، کـه بـه کـار پـه کابـل اړه درلـوده د ترانسـپورت د وزارت معـین عـالمي صاحب ته به یې یوه کوچنۍ پرزه راکړه. دا زما سره دغسي نه و د ټولو سره یې دغسي کړنه کول. په میدان کي یې ښه نظم ونسق راوستلی و. هغـه وخـت د کنـدهار هـوایي ډګر واقعاً د عامو خلکو میدان و، نه د پردو امریکایانو او د هغو د څو تنو پلویانو.

ماچې به هغه وخت منصور صاحب ته کتل په دې فکر کي بـه سـوم چـي پـه دې سړي کي منې چي د یوه مسلمان ، ځـوان مـرده، زړه ور او خپلـواک او مسـتقل مزاجـه رهبر نښې ښکاري، خو زه هم داسي څوک نه وم چي له خپـل رسـمي کـاره پرتـه نـوري خبري او غوړمالي ورسره راواخلم او ځان ورنژدې او ورسره شناخته کړم.

په هر صورت دا چي ملا محمد عمر مجاهد رحمة الله علیه اوس زمونږ سره نسـته د خواشینۍ خبره ده، خو مرګ حق دی. ملامحمد عمر خو یو نمونه او بې ساری مشر و. مونږ ته ښایی چي دغونه ډېري او لویي ښېګڼې او کارنامې یې هېرې نه کـړو. څـوک چي یې نه منې ښه نه کوي دا ځای یې نښه چي له اوسه څخه به یې اوسني پوهان او بیا تاریخ لیکونکي د میرویس نیکه، احمدشاه بابا، ملامشک عالم، ملاعبـدالکریم او نـورو ملي اتلانو په کتار کې راولي. په مړو پسی به څه نه وایو مړانه به مو دا وي چي د ده او د ده د ملګرو غوندي د دښمنانو د سترګو اغـزي سـو او د هیـواد د خپلـواکۍ د بیرتـه ګټلو په لار کې هلي ځلي وکړو، نه دا چي د پردو غلیمانو پر ژرنده اوبه ور خوشي کـړو او خود کش بیګانه پرست سو.

زه اوس نه له دولت څخه څه غواړم، نه له نورو څخه. عمر مي خـوړلی دی او پـه دې څو شپېې ژوند کې چې مې څه قلمي چوپړ په وس پوره دی لګیا یم تر سره کوم یې لوی څښتن دې راځخه قبول کړي. په پای کي ملامحمد عمر ته جنتونه، کورنۍ ته یـې صبر، لارویانو ته یې پر شریعت برابر تګ، مخالفانو ته یـې بصـیرت او هـدایت، او بـې اتفاقي اچوونکو ته عقل او د انسي او جني شیطانانو په خولـه نـه کـول او خـود خـواهي پرېښوول غواړم. او د دا لوی او درونـد مسؤولیت امیـر المـومنین منصـور صـاحب تـه

تبریک وایم خدای جل جلاله دي وکړي چي د ګران اسلامي هیواد دا ماته کښتۍ په خیر او عافیت سره د مقصود تر ساحله ورسوي.

والسلام.

۲\۸\۲۰۱۵

# د اسلامي امارت د نوي امیر
# د لومړۍ غږیزې وینا ارزښتمن پیغامونه

**لیکوال: فکري مبارز- دجهادي او سیاسي چارو څارونکی**

د اسلامي امارت د نوي امیر محترم ملا اختر محمد منصور لومړنۍ غږیزه وینا دوه ورځې دمخه د رسنیو له لارې خپره شوه. په دغه وینا کې ملا اختر محمد منصور حفظه الله په ډیره سړه سینه خبرې کوي، او خبرې یې ټولې د زړه له تله او له اخلاص څخه ډکې ښکاري. وینا د کاغذ له مخې نده او کوم تکلف یې پکې نـدی کړی او د تجربې له مخې دغه ډول ویناوې زیاتره وخت له زړه څخه وي.

**منصور صاحب په دغه وینا کې څو مهم پیغامونه ورکړي دي:**

۱ـ سره لدې چې دی د رهبري شوری غړی و خو د نوي امیر د ټاکلو په بحثونو کې دی شامل نه و، ابتدایي خبرې یې شوری ته کړې دي د عالیقدر امیرالمؤمنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ د وفات خبر یې ورکړی او نور یې شوری پریښې ده تر څو په خپله خوښه له کوم فشار او د چا له لحاظ څخه پرته فیصلې وکړي.

۲ـ شوری ته یې ډاډ ورکړی چې دوی هره فیصله وکړه هغه به مني.

۳ـ د صف په یووالي او وحدت یې ډیر زیات ټینګار کړی او دا یې وعده ورکړې چې د خپه ملګرو د خوشالولو لپاره به پوره کوشش کوي.

۴ـ په وينا کې يې داسې ښودلې چې دی د اسلامي امارت د صف د ماتيدا په خطر تر هر چا ښه پوهيږي او د هر چا په نسبت يې پايلو ته ښه متوجه دی.

۵ـ منصور صاحب دا جوته کړې چې که تاسې کومه د بدګومانۍ خبر اوری بايد تحقيق پکې وکړئ او بايد فوراً يې ونه منئ.

يقيناً دا ډيره مهمه خبره وه او په دې خبره يې د خپل ځان په اړه ټولې هغه اوازې او تورونه چې په دې وروستيو وختونو کې د کفري رسنيو له لوري نشر کيدل رد کړې.

٦ـ د سولې او مذاکراتو د ډنډورو رد.

منصور صاحب په خپلو خبرو کې د سولې او مذاکراتو وروستۍ ډنډورې د دښمنانو تبليغات وګڼل او دا يې جوته کړه چې مسلمانان او مجاهدين بايد دغه ډول اوازو ته غوږ ونه نيسي.

۷ـ مجاهدينو ته په اخلاص، تقوی او توکل ټينګار.

۸ـ کار اهل کار ته سپارل.

۹ـ د مجاهدينو په لباس کې د هغو غلو، اختطافګرو او قاتلانو په ضد د مبارزې ټينګار چې جهاد يې بدنام کړی.

۱۰ـ مجاهدينو ته له خپل ولس سره د ښه سلوک توصيه او د ولس د همکاری او په اهميت باندې يې ټينګار.

۱۱ـ ټول امور د اسلامي شريعت په چوکاټ کې سرته رسول، او له دښمنانو سره له داسې چلند څخه ډډه کول چې اسلام يې منع فرمايلې وي او له اسلامي حدودو څخه تجاوز او تيری پکې وي.

د محترم ملا اختر محمد منصور د وينا ياد شوي ټکي ډير ارزښتمن دي، او که په عمل کې پلي شي نو د طالبانو تر منځ به يووالی لا پياوړی کړي.

د ټولو هغو ناخوالو مخه به ونيسي ـ چې هم د اختلافاتو د راپيدا کيدو سبب ګرځي، هم د ولس او طالبانو تر منځ فاصله پيدا کوي او هم د روان سپيڅلي جهاد د بدنامي سبب ګرځي. پای... ۴۱۸۱۲۰۱۵

# د طالبانو نوی امیر، ټاکنه، اعتراضونه او ځوابونه

لیکنه او څېړنه: پوهنمل زاهدي احمدزی
ددیني، سیاسي او ټولنیزو چارو په اړه تر سلو (۱۰۰) دزیاتو کتابونو مصنف

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد الله وحده والصلاة والسلام علی من لانبی بعده محمد و علی آله و اصحابه و من اهتدی بهدیه الی یوم الدین و بعد:

کله چې د ۱۴۳٦ هجری قمری کال د شوال په ۱۴مه د ۱۳۹۴ هجري شمسي کال د زمري میاشتې له ۸مي او د ۲۰۱۵ کال د جولائی د میاشتی له ۳۰ مي نیټی سره سم رسنیو دا ویرجن خبر خپور کړ چې د افغانستان د اسلامی امارت امیر المؤمنین عدو الکفروالکافرین ملا محمد عمر مجاهد رحمة الله علیه د ۲۰۱۳ زیږدیز کال د اپریل په ۲۳ مه نیټه په افغانستان کې دننه د ورپیښې ناروغۍ له امله له دنیا رحلت کړی دی او د اسلامی امارت د عقد اوحل شوری د افغانستان نومانده اتل مجاهد او د امیرالمومنین نائب الحاج ملا اختر محمد منصور (حفظه الله) د اسلامي امارت نوی امیرالمومنین ټاکلی دی او بیعت یی ورسره کړی دی او نورو ته یې هم دبیعت کولو امر کړی دی، په سبایې نړیوالو رسنیو دا خبر خپور کړ چې د اسلامی امارت ځینې اړوندو کسانو د نوی امیر په ټاکلو نیوکې کړي دي او بیعت یې ورسره نه دی کړی او هغوی د خپل مخالفت د توجیه کولو له پاره دغه لاندې دلیلونه ویلی دی:

۱- اسلامی امارت د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر (رحمه الله) د کورنۍ حق دی باید د هغه زوی یا ورور وټاکل شی.

۲- د نوی امیر په ټاکلو کې بیړه کړي شوې ده باید لویه شورای جوړه کړای شي او امیر وټاکل شي.

۳- له هیواد څخه بهر بیعت کول.

۴- د امیر المؤمنین د وفات نیټه پټ ساتل.

دغه څلور واړه داسې نیوکې او اعتراضونه دي چې یو یې هم له شریعت سره ډډه نه لګوي چې په ډیر لنډیز سره یې دلته مشروع ځوابونه وړاندې کولی شو، څو مجاهدین او هر څوک په دې اړه د صحابه کرامو رضوان الله عنهم اجمعین له تعامل او داسلام د مقدس دین د سیاسي نظام له اصولو او له نورو جاهلي نظامونو څخه یې توپیر او غوره والی ورته معلوم شي؟.

دلومړی اعتراض ځواب: لومړی باید پردې خبره باندې پوه شو چې د اسلام د دین سیاسي نظام ارثي نظام نه دی چې د ملوکیت په څېر له پاچا څخه وروسته به د هغه زوی پاچا وی، که زوی نه وی د هغه مېرمن به پاچاهي کوی او یا به یې لور پاچاهي کوی، بلکې د اسلام دسیاسي نظام له مخې چې اصول یې د الله تعالی او د الله تعالی د رسول خاتم النبین محمد صلی الله علیه وسلم له پلوه کیښودل شوي دي. هغه څوک واکمن کېدلی شی چې شرعي وړتیا ولري او هغه یوولس مواصفات پکې موجود وي چې د اسلامي امت فقهاوو د خلافت د شرطونو په نوم نومولي دي، چې یو له هغو څخه دادی چې په خپله به یې نه غواړی او نه به یې حریص وی. ان تردې چې په اسلامي سیاسي نظام کې د یو کوچني منصب غوښتل هم ناروا دی او په دې اړه د عبدالرحمن بن سمره رضی الله عنه او ابوذر غفاری رضی الله عنه په هکله مروي حدیثونه په بخاری او مسلم کې نقل کړی شوي دي.

او دا هماغه عبدالرحمن بن سمره وو چې په ۳٦ هجري کې یې کابل فتح کړ او پنځه کلونه یې حکومت پرې وکړ قریش او د نبی صلی الله علیه وسلم له نیږدی خپلوانو څخه وو. او هغه ته فرمایی چې.

**لا تسئل الامارة امارت مه غواړه.**

**نو کله چې د اسلام په سیاسي نظام کې ځان ته د امارت غوښتل ناروا دی، د کورنۍ د غړو له پاره خو بیخي ناروا دي که څه هم دهغه اولاد شرعي او سیاسي وړتیا هم ولري د خلافت او امارت شرطونه پکې موجود هم وي، پدې اړه مونږ مسلمانانوته داسلام د دوهم خلیفه امیر المؤمنین عمر بن خطاب رضی الله تعالی عنه کړنه ستر او قاطع دلیل، کړنچاره او تګلاره ده او هغه داسې چې کله په ۲۳ هجري کې د ذوالحجې میاشتې په ۲۴ مه د چارشنبې په ورځ د سهار په لمانځه کې په نبوی جومات کې د امامت ورکولو په دوران کې په لومړی رکعت کې ایراني مجوسي فیروز کافر په پرله پسې توګه د خنجر شپږ ګوزارونه پرې وکړل او بیا د ۲۴ هجری کال د محرم په لومړۍ ورځ شهید شو. د ناروغۍ په لومړۍ ورځ یې د عقد اوحل شپږ کسیزه شوری جوړه کړه چې دغه لاندې جلیل القدره قدسیه نفوس وو: (عثمان بن عفان، علی بن ابی طالب، سعد بن وقاص، زبیر بن العوام، طلحه بن عبیدالله او عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنهم اجمعین). او دا وصیت یې ورته وکړ چې په دری ورځو کې دننه به تاسي له خپل منځ څخه د خلیفه په توګه یو کس هرومرو ټاکئ چې څلورمې ورځې ته وانړوي. دعقد وحل دغې منتخبې جرګه ګې ورته وویل: ای امیر المؤمنینه! خپل زوی عبدالله بن عمر رضی الله عنه د خلیفه په توګه وټاکئ هغه د خلافت وړتیا لري او مونږ ټول پرې خوښ او رضامند یو. امیر المؤمنین عمر رضی الله عنه ورته په غصه شو او ورته ویې ویل (خلافت میراثي نظام ندی).**

**امامت و سیاست ۲۴ مخ امام قتیبه دینوری متوفی ۲۷٦هجری. الاحکام السلطانیه ج ۱ مخ ۵ – امام ماوردی. فتوح البلدان ۵۷۱ – امام بلاذری متوفی ۲۷٦. ازالة الخفاء عن خلافة الخلفاء ج ۱ مخ ۵ شاه ولی الله محدث دهلوی او.....**

**او پردې باندې د صحابه کرامو اجماع شوې ده چې د اسلام سیاسي نظام میراثي نه دی نو د افغانستان د حل او عقد شورای په دې اړه په حق پریکړه کړې ده.**

د دویم اعتراض ځواب: چې د افغانستان د اسلامي امارت د حل او عقد شورا له الحاج ملا اختر محمد منصور سره په بیعت کولو کې بېړه کړی ده، باید لومړی د شهید امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ فاتحه اخیستلی شوې وای، بیا عمومي شوری جوړه کړای شوی وای چې نوی امیر المؤمنین پکې ټاکلی شوی وای. د معترضینو دغه اعتراض هم سم نه دی او د صحابه کرامو له تعامل څخه خلاف دی او دواړه خبرې یې د اسلام د لومړی خلیفه، ابوبکر صدیق رضی الله عنه په بیعت سره ځوابیدلی شي، کله چې خاتم الانبیاء والمرسلین. رحمة العالیمن، شفیع المذنبین محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په ۱۱ هجري کال د ربیع الاول په ۱۲ مه د دوشنبې په ورځ د ٦٣٣ کال د جون د میاشتې له اتمی نیټی سره سم له فاني نړۍ څخه ویرجن رحلت وفرمایه او گرده مدینه د نبوی بیلتون په ویر کې ډوبه شوه. په دغه شدید حالت کې هم د نبوي مدرسې روزلیو شاگردانو خپل حواس قابو کړل او له نبوي مدفن څخه دمخه د خلافت بیعت او د خلیفه ټاکل یی اړین وگنبل، د نبوي جومات شاته په سقیفه بنو ساعده نومې باغیچه کې څو تنه مهاجرین او انصار مشران صحابه سره غونډ شول او لومړی پنځو کسانو له ابوبکر صدیق سره بیعت وکړ او د خلیفه په توگه یې وټاکه چې نومونه یې دادی:

۱- عمر بن الخطاب ۲- ابوعبیده بن الجراح ۳- سعید بن حضیر ۴- بشیر بن سعید ۵- سالم مولی ابی حذیفه رضی الله عنهم اجمعین. او بیا له هغوی څخه وروسته په سقیفه کې نورو موجودو صحابه کرامو هم بیعت ورسره وکړ. او د خلیفه له ټاکل کیدو څخه وروسته د نبی کریم صلی الله علیه جنازه وکړی شوه او دفن کړی شوی صلی الله علیه وسلم (اللهم ارزقنا اتباعه و اقتدائه وشفاعتة). په دی اساس د صحابه کرامو د دغه تعامل په دلیل د بیعت او د امیرد ټاکلو له پاره نه شورا اړینه ده او نه د تعزیت اجتماعي دوعاء، په سقیفه بنو ساعده کې هم شورا نه وه جوړه کړای شوې او د خلیفه ټاکل یې له نبوی جنازې او مدفن څخه دمخه اړین گنلي دي.

سیرة ابن هشام ۴ ټوک ۳۰۶ ـ تر ۳۲۲ مخ پوری په ډیر لنډیز، ماثر الانافة فی معالم الخلافه ج ۱ مخ ۴۵ مصنف قلشقندی متوفی ۸۲۰ هـ، احکام سلطانیه ۵ مخ ماوردی او.....

دریم اعتراض ځواب: دریم اعتراض یې چې له الحاج ملا اختر محمد منصور حفظه الله سره له هیواد څخه بهر بیعت کړی شوی دی. دغه اعتراض هم واهي بې اساسه او له اسلام څخه مخالف دی. ځکه چې ټول اسلامي امت او ګرد اسلامي هیوادونه ایکی یودی. اوسنۍ پولي او بریدونه کفري استعمار د اسلامي هیوادونو تر منځ ترسیم کړي دي چې په اسلامي جغرافیه کې هیڅ ارزښت نه لري. له همدې وجې له امام حسن رضی الله عنه سره د عراق په کوفه کې بیعت کړای شوی و، پداسي حال کې چې امام حسن رضی الله عنه د مدینې منورې یعني د حجاز د هیواد و، په هغه وخت کې هیڅ یو صحابي او تابعي دغه واهي اعتراض پرې نه و کړی او خلافت یې صحیح ګڼلی و.

العواصم من القواصم ص ۱۹۹- ۲۰۳، قاضی ابوبکر بن العربی متوفی ۵۴۳ هجری قمری- تاریخ الخلفاء ص ۱۳۵ علامه سیوطی متوفی ۹۱۱ هجری، الامامة و السیاسة ص ۱۷۴،

دځلورم اعتراض ځواب: د امیرالمؤمنین وفات پټ ساتل، د اعتراض کوونکیو دغه اعتراض هم غیر شرعي او جذباتي دی او د اسلامي امارت د حل و عقد شورا پرځای اقدام کړی دی او په قران کریم کې یې ثبوت موجود دی او هغه دا چې کله په ۹۴۵ څلویښت قبل میلاد مسیح کې الله تعالی سلیمان علیه السلام وفات کړ نو دهغه وفات یې یوکال له پیریانو او انسانانو څخه پټ ساتلی و لکه چې الله تعالی په قران کریم کې په دې اړه فرمایلی دی:

فلما قضینا علیه الموت مادلهم علی موته الا دابة الارض تاکل منساته (ج) فلما خرّ تبینت الجن ان لو کانو یعلمون الغیب مالبثوا فی العذاب المهین. د سبا سورة ۱۴- اية ۲۲مه سپاره، ۳۴ سورة

ژباړه: (نو کله چې حکم وکړ مونږ پر سلیمان د موت او دی مړ ولاړ و (تکیه پر همسا باندی یو کال) (نو هیڅا خبر کړي نه وو، دغه پیریان په مرګ ددغه سلیمان مګر چنجي د ځمکې (وینو) چې ویې خوړه همسا د ده. نو کله چې ولویـد سلیمان پرځمکه نو معلوم شو پیریانو ته دغه که چیرې وی چې پوهیدی په علم غیب نو نه به یی تیراوه سلامت یو کال په تکلیف مشقت سپکوونکي کې.

تفسیر: د اسلامی امت تفسیر پوهانو د نبوي احادیثو په رڼا کې د دغه مبارک آیة په تفسیر کې ویلی دي: د سلیمان علیه السلام پلار داؤد علیه السلام د بیت المقدس جوړولو تعمیر پیل کړی و کله چی وفات کیده نو سلیمان علیه السلام تـه یـی وصیت وکړ چی د بیت المقدس تعمیر بشپړ کړی. سلیمان علیه السلام پـر پیریـانو بانـدې د بیت المقدس په جوړولو لګیاو چې د ملک الموت پـه زریعـه خـبر ورکـړی شـو چـې د مرګ نېټه یې رانېږدې شوې ده، نو په پیریانو یې دځان لـه پـاره د ښیښـې داسي خونـه (کوټه) جوړه کړه چې دهغې منځنۍ ساحه له بهر څخه له ورایه ښکاریده، سلیمان (ع) پکې د ننه شو او په همسا یې تکیه وکړه او الله تعالی ته یې سوال وکړ چې پیریـان د ده له وفات څخه تر هغه پوري ناخبره وساته چې د بیت المقدس تعمیر بشپړ کړي.

الله تعالی د سلیمان علیه السلام سوال قبول کړ او د سلیمان علیه السـلام وفـات یې یو کال له پیریانو او انسانانو څخه پټ وساته او کلـه چـې د بیـت المقـدس تعمیـر بشپړ شو، الله تعالی د سلیمان علیه السلام د وفات راز افشاء کړ. تفسیر ابن کثیـر ج ۳ ص٦٥٠ تر ٦٥١ پوری، حافظ ابن کثیر متوفی ۷۷۴ هجری تفسیر قرطبی ج ۷ ص ۱۷۸، امام قرطبی متوفی ٦٧١هجری، کـابلی تفسـیر ۲ ټـوک پنښـتو ص ۷۲۴ – ۷۲۵، تفسـیر نسفی مدارک ج ۲ ص ۲٦، امام عبدالله نسفی م ۷۱۰ هجـری تفسـیر معـارف القـرآن ۷ ټوک ۲۷۳ – ۲۷٦ پوری اردو، مولانا مفتی محمد شفیع.

دغه راز د خاص مصلحت په وجه نبي کریم صلی الله علیه وسلم کلـه چـې پـه ۸ هجري کال چې له ٦۳۰ میلادي سر سم د مکې مکرمې د فتحه کولو پریکړه وکړه نو لـه عامو خلکو څخه یې دغه راز پټ وساته او په رمضان کې یې پر مکه فاتحانه یرغل وکړ.

نو ددغو شرعي دليلونو په رڼا کې چې د اسلامي امارت واکمنې شوری د جهادي حکمت عملي پر اساس د امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ وفات کېدل پټ کړی و له شريعت سره سم ګام يې اوچت کړی دی او دغه حسن تدبير يې د ستاينې وړ دی، ځکه چې دغه سنت يې د جهاد، اسلامي امارت او دهيواد د مصالح عليا په خاطر کړی دی.

په پای کې د اسلامي امارت منسوبينو، مجاهدينو، افغان ولس او هر مسلمان ته زما داوړانديز دی چې د اسلامي امارت له امير المؤمنين الحاج ملا اختر محمد منصور حفظه الله سره بيعت وکړي، ځکه چې نوموړی معروف او پيژندل شوی مجاهد، پوه او متقي شخصيت دی، د امارت او قيادت وړتيا لری. د افغانستان ګرد مجاهدين او علماء يې پر امارت متفق دي او په مجموع کې بلانزاع امير دی، مخالفت کول يې شرعا ناروا دی او بل دا چې پخواني اميرالمومنين ملا محمد عمر رَحِمَهُ ٱللَّهُ په خپل ژوند کې خپل نائب يعني ځای ناستی او وليعهد ټاکلی دی او څو کلونه يې د هغه په ژوند کې په بشپړ تدبر، فراست او ځيرکتيا سره د امارت جهادي او اداري امور تر سره کړي دي او هغه په خپل ژوند کې ورځخه خوښ و. نو هر هغه څوک چې د نوي امير له بيعت څخه سرغړونه کوي په حقيقت کې د امير المومنين ملا محمد عمر مجاهد له امر او انتخاب څخه سرغړونه کوي او دهغه روح ته صدمه او خفګان رسوي. او له دې څخه هم سخت هغه نبوي وعيد دی چې څوک له ټولنيز وحدت څخه د امارت په موضوع کې ځان بيلوي او فرمايلي يې دی:

عن عرفجة قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: انه سيكون هنات و هنات فمن اراد ان يفرق امر هذه الامة وهى جميع فاضربوه بالسيف كائنا من كان رواه مسلم كتاب الامارة

ژباړه: له عرفجه رضی الله عنه څخه روايت دی چې ويلی يې دی: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واورېدل چې ويې ويل: ډول ډول فتنې به ظهور وکړي. نو که

چا د دې امت په اختلاف کې د رامنځته کولو اراده وکړه په داسې حال کې چې امت سره متفق وي نو اختلاف اچوونکی په توره ووهئ هر څوک چې وي.

وعن انس ان رسول الله صلى الله وسلم قال: اسمعو و اطيعو و ان استعمل عليكم عبد حبشى كان راسه زبيبة. رواه البخارى.

ژباړه: له انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د خپل امیر امر ومنئ او اطاعت یې وکړئ که څه هم پرتاسي باندي داسي حبشي غلام د امیر په توګه مقرر کړی شي چې سر یې د مویز (انګور) په څیر کوچنی و. دا حدیث صحیح البخاری روایت کړی دی.

او د بیعت د وجوب په هلکه یې ویلي دي.

عن عبدالله بن عمر قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول من خلع يدا من طاعة لقى الله يوم القيامة و لاحجة له و من مات و ليس فى عنقه بيعة مات ميتة جاهيلة. رواه مسلم ۳ ټوک کتاب الامارة

ژباړه: له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چې ویلي یې دي: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واورېدل چې ویې ویل: چا چې له امیر څخه د اطاعت لاس واخیست نو دقیامت په ورځ به له الله تعالی سره په داسې حال کې ملاقي شي چې د ایمان په لرلو به هیڅ دلیل ورسره نه وي او څوک چې په داسې حالت کې مړ شي چې له امیر المؤمنین، خلیفه یا امام سره یې د بیعت کولو عقده په غاړه کې نه وي نو داسي شخص د جاهلیت (کفر) په حالت کي مړ شو.

ان فى ذالک لذکری لمن کان له قلب او القى السمع وهو شهيد. د ق سورة

۱۰\۸\۲۰۱۵

# د طالبانو نوی زعامت هوښیار او ځیرک دی!

لیکوال ـ فکري مبارز

کله چې ملا عبدالغني برادر د امریکا د مرکـزي اسـتخباراتو د ادارې (CIA) او د پاکستان د اسختباراتي ادارې (ISI) له لوري په یو لړ ګډو- پټو عملیاتو کې ونیول شو، ملا اختر محمد منصور چې له ملا عبدالغني برادر سره یو ځای یـې د طالبـانو رهـبري کوله، واک په ښه توګه سمبال او له کوم خنډ او ځنډ پرته یې چارې پر مخ روانې کړې.

د ملا محمد عمر مجاهد له وفات څخه وروسته د مـلا اخـتر محمـد منصـور لـه لوري په یوازې سر د طالبانو د ټولو چارو سمبالښـت او د مـلا محمـد عمـر مجاهـد د وفات د خبر پټ ساتل د ملا اختر محمد منصـور یـوه بلـه تـاریخي لاسـته راوړنـه بلـل کیدای شي. ځکه که د ملا محمد عمر مجاهد د وفات نیټې ته وګورو، دا هغه نیټـه وه چې امریکایانو پکې له افغانستان څخه د خپلو قواو د ایستلو فیصله کړې وه او طالبـان هم په ډېر پیاوړي دریځ کې نه وو او نه یـې تشـکیلات د اوس پـه شـکل مـنظم و. کـه چیرې د طالبانو له نوي مشر څخه هغه مهال د ملا محمد عمر مجاهـد د وفـات خـبر افشاء شوی وای نو شاید امریکایانو د افغانستان په برخه کې په خپله ستراتیژي له سره غور کړی وای او د خپلو قواوو وتل یـې ځنـډولي وای. لـه بلـې خـوا مـلا اخـتر محمـد منصور د خپل مرحوم امیر د وفات د خبر په پټ ساتلو سره د مدیریت په برخه کې له ځانه د ښې وړتیا یو ثبوت وړاندې کړ او هم مهال یې د نـړۍ پیـاوړي اسـتخبارات لـه سختې رسوایي سره مخ کړل.

همدغه راز د ملا اختر محمد منصور له لوري په داسې حال کې چې له یوه پلوه د هیواد په ختیځ کې طالبان داعش ته له منسوبو وسلوالو سره په جګـړه اخـته دي او لـه بله پلوه پرې د سولې او مذاکراتو په برخه کې سخت فشارونه موجود دي، د ملا محمد

عمر مجاهد د وفات اعلانول او بيا دې ته زمينه مساعدول چې د طالبانو د رهبري شورى په اكثريت سره نوى امير وټاكي، د ده د ښه تدبير او ښې زيركتيا ښوونه كوي.

د نوي امير په توګه له ټاكل كيدو وروسته د ده له لوري د معاونينو په توګه د مولوي سراج الدين حقاني او شيخ هيبت الله اخنذاده ټاكنه دده د زيركتيا او هوښيارتيا يوه بله نمونه ده. ځكه نوموړي په دې انتخاب سره د طالبانو په تشكيلاتو كې له بيلابيلو اړخونو د توازن لحاظ وكړ.

له ټاكل كېدو وروسته له ملا اختر محمد منصور سره د نظامي، سياسي او اداري جوړښتونو د چارواكو او منسوبينو په بيړه بيعت د هغه د محبوبيت يو ښه مثال دى چې دى يې د طالبانو په منځ كې ترې برخمن دى. او دا په ډاګه كوي چې د ده په څېر د زعامت لپاره بل وړ شخص به په طالبانو كې په ډير تكليف پيدا شوى و.

له ملا اختر محمد منصور سره د نړيوال جهادي غورځنګ القاعده د امير ډاكټر ايمن الظواهري بيعت هم كومه بې اهميته پېښه نده او نه القاعده او نه د القاعده پلويان داسې خلک دي چې په پټو سترګو دې په چا پسې لاړ شي. د القاعده مشرانو او پلويانو به حتماً له ډېرو سلا مشورو وروسته له ده سره بيعت ترسره كړى وي او له نوموړي سره په دومره بيړه به دوى بيعت ته د دوى په وړاندې د نوموړي هغه له خواخوږۍ نه ډكې پاليسۍ هڅولي وي چې په تيرو څو كلونو كې په ځانګړې توګه د شمالي وزيرستان د سقوط پر مهال يې له دوى سره خپله كړې وه او كه چيرې دوى په دې پوره باوري شوي نه واى چې ملا اختر محمد منصور د ملا محمد عمر مجاهد يو باوري مرستيال او د نوموړي رښتونى لاروى دى، نو كله به يې هم له ده سره د وفادارۍ اعلان نه واى كړى. او شايد د القاعده د مشرانو او پلويانو د وفادارۍ په راخپلولو كې به د ملا اختر محمد منصور لومړنۍ وينا چې د نوي امير په توګه له ټاكل كيدو وروسته يې د بيعت په يوه غونډه كې خپلو پلويانو ته كړې وه او رسنيو په ډير شد او مد خپره كړه هم ډېر تأثير او اغيز كړى وي.

د القاعده د مشر او د نړۍ د نورو جهادي تنظيمونو د بيعت د قبلولو پيغام هم چې د جمعې په ورځ خپور شو د ملا اختر محمد منصور يو بل زړور او له هوښيارتيا څخه ډک اقدام و. ځکه نوموړي د دې پيغام په توسط دا وښودله چې نوموړی د ملا محمد عمر مجاهد رښتونی لاروی او د نړۍ له جهادي تنظيمونو سره اړيکو ته ترجيح ورکوي، د مبارزې پې مخالف ندی او نه يې هغو فشارونو ته غاړه ايښې چې د نړۍ د مسلمانانو او مجاهدينو سره د اړيکو په برخه کې له بيلابيلو خواوو نه پرې واردېږي.

که له يوې خوا د ملا اختر محمد منصور يادې شوې کړنې د مسلمانانو، افغانانو او طالبانو په منځ کې نوموړي ته محبوبيت وربښي، له بلې خوا نوموړی د کورنيو او بهرنيو دښمنانو د توجه وړ هم ګرځوي او له سختو، جدي امنيتي خطرو سره يې هم مخ کولای شي. نوموړی د ځان او خپلو نيږدې ملګرو د امنيت په اړه جدي فکر بايدوکړي او د تير وخت د ژوند، اوسيدلو، ګرځيدلو او مديريت په برخه کې خپل معمول بدل کړي او له نوو شرايطو سره يې برابر کړي.

۱۵\۸\۲۰۱۵

## د اسلامي امارت له خيرخواهۍ او تدبر مالامال موقف

**حنيف عبدالله – دجهادي غورځنګونو اوچارو څېړونکی**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: الدين النصيحة... رواه مسلم. دين خيرخواهي ده. درسول الله صلی الله عليه وسلم دا قول خوراپراخه او شامله معنی لري، تردې چې د نبوي احاديثو مشهور حافظ او عالم محمدبن أسلم الطوسي ويلي چې دې حديث د دين يوه بشپړه ربع احتوا کړې ده، يعني داچې د مؤمن يوه له سترو وظايفو داده چې د خيرخواهۍ جذبه ولري، ددين خيرخواه واوسي، د ځان خيرغوښتونکی

وي، دولاتو او شرعي امیرانو خیرغوښتونکی وي او بالاخره د ټولـو مسـلمانانو خیرخـواه واوسي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د یوه مسلمان لپاره په بل مسلمان شپږ حقـوق ثابت بللي یو حق په کې د نصیحت او خیرخواهۍ دی، مسلمانان په خپل منځ کـې یـو پربل د خیرخواهۍ حق لري، چـې هـر یـو بایـد دبـل خیرغوښـتونکی واوسي اود خپـل منځي شر له پیښیدو څخه جلو ګیري وکړي.

په اوس وخت کې د افغانستان په سطحه یوه نـوې او حساسـه مسـئله د جهـادي متحد صف اسلامي امارت په وړاندې د عراق او شام د دولت اسلامي تر نامه لانـدې د مسلحو کسانو راپاڅېدل دي، چې دافغانستان په ختیځ ولایت ننګرهار کې یي څرکونـه لیدل شوي دي. د عراق او شام دولت همدغه کسان په جنوبي آسـیا کـې رسـما خپـل استازي بللي دي او په افغانستان کې یي ورته د فعالیت قومنده ورکړې ده.

په داسې حال کې چې اسلامي امارت عملا د نړیوال کفر سره په جګړه بوخت دی او د نړۍ د نږدې ۵۰ هیوادونو طاغوتي پوځونه یې له شکست او مختورۍ سره مخامخ کړي دي، په ننګرهار کـې د نویـو راپاڅیـدلو مشـبوهو وسـلوالو د تعـرض پـه وړانـدې اسلامي امارت یوازي د ځاني دفاع دنده ترسره کړې او د پراخ متقابل بریـد او تصـادم په ځای یي اساسي ترکیـز د جوړجـاړي او تفـاهم پـه هڅـو کـړی دی، اسـلامي امـارت دمسلمانانو ترمنځ د وینو تویېدنې د مخنیوي په خاطر لـه څـو میاشـتو راهیسـې ددې جنجال د خاموشه کولو اصلاحي هڅه کوي، مقابل جانب ته د علماء کرامو، سپین ږیرو او خیرخوا اشخاصو پلاوي لیږي تر څو موجوده نزاع له منځه لاړه شي.

د اسلامي امارت د همدې خیرخواهانه هڅو په لړ کې مې همدا نن پـه یـوه لیـک سترګې ولګېدې چې داسلامي امارت د مشرتابه شوری لخـوا د ملااخترمحمـد منصـور په امضاء د اسلامي دولت مشر ابوبکر بغدادي ته استول شوی دی.

دغه مهم لیک مې تر پایه ولوست چې له محتوی څخه یې داسلامي امارت د متعهدانه، مدبرانه او خیرخواهانه موقف په اړه نور شواهد هم په لاس راغلل.

د هر اسلامي فرد او ډلې ایماني دنده ده چې په هر ډول حالاتو او له هرچا سره په تعامل کې یوازې د اسلامي لارښوونو او قوانینو په مبنا چلند او تعامل وکړي، اسلامي امارت او اسلامي دولت دوه بیلابیلې اسلامي ډلې دي، اسلامي امارت په یاد شوي لیک کې له یوه مسلمان جهت سره د ددیني تعامل مسؤلیت په بشپړه توګه ترسره کړی او خپل پیغام یې کټ مټ له شریعت سره موافق د اسلامي دولت په ادرس ابلاغ کړی دی.

الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه وسلم او دهغه د ملګرو په اړه فرمایلي: اشداء علی الکفار رحماء بینهم ... د کفارو په وړاندې سخت او د خپلو مسلمانانو په مقابل کې مهربانه یا نرم دي ... اسلامي امارت خپل پیغام د همدې آیت په موافقت په ډیره نرمه ژبه د اسلامي دولت مشرتابه ته وړاندې کړی، خبره یې په مسنون سلام اونیکو هیلو پیل کړې او بیا یې د نړیوال کفر په وړاندې د جهادي صف د متحد ساتلو په اړه له خیرخواهۍ، صمیمت او دیني اخوت څخه ډکې څرګندونې کړې دي.

د اسلامي امارت مشرتابه په خپل لیک کې د تورو دویستلو او د غشو د تیرولو باټې نه دي ویشتې، ځکه تورې او غشي یوازې د کفارو لپاره دي، بلکې په صمیمانه ژبه او قوي استدلال سره یې دا خبره روښانه کړې، چې همدا اوس د افغان مجاهد ملت او ټول عالم اسلام خیر په دې کې دی، چې په افغانستان کې د کفري یرغل په وړاندې جهاد د تیرې لسیزې په شان په متحد صف کې جریان پیدا کړي، موجود نظم ګډوډ نه شي، په صف کې انشقاق او تفرق ته اجازه ورنکړل شي، ځکه که دغه متحد صف د نزاع ښکار شي نو ضرور به د نورې نړۍ غوندې دلته هم کفار د جګړې میدان ګټي، او مسلمانان به یوځل بیا له شکست او فشل سره مخ کیږي، ځکه الله تعالی موږ ته خورا په روښانه ټکو ویلي دي چې: وَأَطِيعُوا اللهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ

رِيحُكُمْ.... الانفال. ژباړه: د الله او دهغه د رسول اطاعت وکړئ او خپل منځي نزاع مه کوئ کنه ختم به شئ او باد به مو ووځي.

د اسلامي امارت د پيغام نهايي او مجموعي مطلب يوازې همدا دی، چې اسلامي دولت دې په افغانستان او نوره نړۍ کې د موجوده بريالیو جهادي صفوفو نظم نه خرابوي او نه دې هم د هغوی ترمنځ د خواخوږۍ او وروروليۍ فضاء له منځه وړي، دا چې د افغانستان په سنګر کې ناست مجاهد د عراق له مجاهد سره خواخوږي لري او دعاګانې ورته کوي، او په هر درد يي ځان دردمن بولي دغه د اخوت رشتې دې د جبر، تعرض او غټ بازۍ په قيچي نه غوڅوي او نه دې د نړيوال جهاد په صفوفو کې د نزاع فتنې ويښوي، کنه بيا به د درست عالمي جهادي صف زور ختم او صلابت له منځ لاړ شي، کفار به خوشاله او مؤمنين به خسته او شکسته شي او ددې فشل ټوله ګناه به د نزاع کرونکو په غاړه وي.

د نړيوال جهاد مبتکر مغز اود القاعدة تنظيم عبقري شخصيت شيخ أبومصعب السوري فک الله أسره په خپل ارزښتمن کتاب دعوة المقاومة العالمية الاسلامية کې چې کله د عالمي کفر په وړاندې د نړيوال جهاد په مجالاتو بحث کوي، نو د اسلامي نړۍ د هرې جغرافيې حالات او شرايط بيل بيل تعريفوي او د هماغه اولس او هيواد کلتوري، جغرافيوي، اقتصادي او نورو مشخصاتو ته په پام سره د هغوی د حال موافق جهادي برنامه پيشنهاد کوي.

نوموړی په دې نظر دی، چې تپل شويو جغرافيوي حدودو اسلامي اولسونه سره ويشلي او د اسلامي نړۍ د يوې جغرافيې شرايط بلې ته د ځمکې او اسمان هومره فرق کوي، نوځکه لازمه ده، چې د هرې جغرافيې شرايطو ته په پام سره د هغوی دحال موافق جهادي برنامه په مخ يووړل شي، نړيوال جهاد يا د کفر په وړاندې نړيوال اسلامي مقاومت بايد په بيلابيلو جبهاتو کې، له بيلابيلو مؤثرو برنامو سره خو د يوه مشترک هدف لپاره ادامه پيدا کړي چې هغه اسلامي امت ته اسلامي نظام او تير برم راستنول دي.

د نړیوال جهاد په اړه د شیخ أبومصعب السوري دکتورین ته په پام سره د افغانستان د حال او شرایطو موافق تر ټولو مؤثر او پاییدونکی جهادي صف یوازې دافغانستان اسلامي امارت دی، چې په تیرو دوو لسیزو کې یې د نظام جوړونې، جهاد او یرغل شنډولو په بیلابیلو مواقعو کې امتحان ورکړی، په یادو ټولو ازموینو کې کامیاب ثابت شوی، د خپل مسلمان اولس زړه او اخلاص یې له ځان سره ساتلی، د نړۍ له مسلمانانو او جهادي حرکاتو سره یې همیشه د خواخوږۍ او اخوت اسلامي تعامل پاللی، نه یوازې یې د خپلې مربوطه جغرافیې اوسیدونکي مسلمانان د کفر له فکري، پوځي او سیاسي اشغال څخه ساتلي بلکې د نړۍ له لراوبر څخه یې زرګونو مستضعفو مسلمانانو ته په خپله پراخه غیږ کې د خوندي اوسیدو زمینه برابره کړې ده.

اسلامي امارت او هر د عقل او شعور څښتن په دې پوهیږي، چې دافغانستان په شرایطو او دلته د جهاد د بریا په رازونو له ابوبکر بغدادي څخه دامارت مشرتابه ښه علم لري، د اورکزو د ټوپکوالو په نسبت د امارت طالبان د افغانستان په خلکو او اولس کې ژور نفوذ او محبوبیت لري، دافغانستان په کلیو او ښارونو کې ښه بلد دي، د افغانستان اشغالوونکي یرغلګر او د هغوی محلي ملاتړي او منافقین ښه پیژني او له هغوی سره د مقابلې شل کلنه تجربه لري، اسلامي امارت له کفر څخه د افغانستان دازادۍ لپاره اړین علم، قوت، بشري ځواک، تجربه، نظامي لرلید او ټول څه له ځان سره لري او ان شاءالله دالله تعالی په کومک له دې عهدې په کامیابۍ سره وتلی شي.

دې ته په پام سره هیڅ اړتیا نشته چې دلته د جهاد په نامه یو بل داسې موازي صف پرانیستل شي، چې یوازې د مسلمانانو ترمنځ د خپل منځي نزاع او بالاخره عمومي فشل او ناکامۍ سبب ګرځي. لاقدرالله

د اسلامي دولت په ادرس لیږل شوی د اسلامي امارت پیغام په بشپړه توګه له ديني خواخوږۍ، خیرخواهۍ او تدبر څخه مالامال دی، داسلامي دولت مشرتابه او محلي ملاتړي باید دغه پیغام په عمیق نظر مطالعه کړي، اسلامي امارت خپل د

خیرخواهۍ پیغام او نیکه مشوره اسلامي دولت ته وړاندې کړه اوس په اسلامي دولت او ملاتړو یي ده چې خپل دمسلمانۍ ثبوت وړاندې کړي، هغه داچې د اسلامي امارت خیروغواړي، د قوت او لا مضبوطتیا لپاره یې لاس په کار شي او دلته دجهادي نظم د تخریب په ځای په کومه بله جغرافیه کې جهادي بهیر راژوندی کړي.

۱۵\٦\۲۰۱۵

# د طالبانو نوی بدلون، د اټکلونو او حقایقو په رڼا کې

**لیک: موسی فرهاد- لیکوال او دسیاسي چارو شنونکی**

اټکل داسي و چې طالبان به دخپل ستر مشر امیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد له وفات نه وروسته، نه یوازي داچې کمزوري شي، بلکې په بیلابیلو ډلو به وویشل شي، د تنظیمونو په څیر به پخپل منځي جګړو اخته شي. داسې ګمان کیده چې طالبان به نور خپل هغه یووالی او وحدت چې د بنیان مرصوص په شان سره تړلي وو ؛ له لاسه ورکړي او په یوه خونړي تفرق کې به را ایسار شي. دا انګېرنه هم وه چې طالبان به نور تر هغه هدف تیربېري چې پوره ۲۲ کاله یې د هغه لپاره بې شمېره تاریخي قربانۍ ورکړې وي، او د نورو تش په نوم جهادي احزابو غوندي به د امریکایي ټلوالي بندګي پیل کړي.

ډېرو کتونکو فکر کاوه چې د طالبانو نهضت یوازي د ملامحمدعمر مجاهد له ژوند سره تړلی دی، هغوی کومه فکري انګېزه نلري چې د خپل زعیم په نه شتون کې دې هم هغه ته وفادار پاتي شي. د ځینو اټکل دا وو چې د طالبانو عام جنګیالي به د خپل مشر د وفات د خبر له امله، د جهاد روحیه له لاسه ورکړي، بیا به یې هیڅ یو مشر ونه توانېږي چې د مجاهدینو صفونه له سره تنظیم، او د بهرنیو اشغالګرو په وړاندي یې په پیاوړي ډول رهبري کړي. د یو شمېر وګړو نظر دا و چې طالبان نور په سیاسي

لحاظ هغسی خپلواک او مستقل نشي پاتیدلای، لکه څنګه چې ملامحمدعمر مجاهد پخپل ژوند کې د یو خپلواک او مستقل مزاجه رهبر په توګه ځان د تاریخ په پاڼو کې ثبت کړ، ترهرڅه ټبر، خو تر استقلال، ملي او اسلامي نوامیسو یو قدم ټبر نه شو.

د کابل ناوسه اداري او د هغوی ملاتړي غربي میډیا په دې هیله وه چې طالبان به دوی ته موقع ورکړي چې د ناوړه تبلیغاتو له لارې په هغوی کې درزونه رامنځ ته کړي، او په طالبانو کې د ځینو کمزورو کړیو له اجتهادي ټبروتنې او ناسمې پریکړې څخه په استفادې یې غوښتل چې د مجاهدینو حیثیت مجروح کړي. د دې کار لپاره یې د پراخ تبلیغاتي کمپاین تابیا نیولې وه. ځیني کتونکي په دې اند وو چې طالبان به اوس د نورو د لاس آله وي، په افغانستان کې به پریکړې د پردیو د فرمایشونو پر بنسټ کوي، د ملي او اسلامي مصالحو د تحفظ پالیسي به هغوی نور تر شا پریږدي.

رښتیا خبره دا ده چې په دې اټکلونو کې د طالبانو دښمنان تنها نه وو، د طالبانو ځیني خواخوږي هم په دې اند وو چې کیدای شي صورتحال نور د طالبانو له کنترولې ووزي، دوی د دې اټکلونو لپاره څه دلایل هم درلودل، د مخکنیو تجربو په رڼا کې د هغوی دا اټکلونه تر یو ځایه د منلو وړ هم وو، که سړی ځیر شي زمور په هیواد کې یو شمېر جهادي تنظیمونه، همدارنګه په نړۍ کې بلا نهضتونه وجود لري چې له خپلې مسیره یې لاره خطا کړي وي. دوی طالبان هم له همغه لیدلوري ارزول چې داعیه او هدف یې سره بیل وي. مگر حقیقت داسی نه و. دا ځکه چې د دوو لسیزو په جریان کې موږ او تاسو ولیدل چې طالبان له ډېرو سترو ازموېښتونو سره مخ شول، هر ډول نامساعد شرایط یې وزغمل، خو بیا یې هم په ملي او نړیواله سطحه خپل معنوي هویت ژوندی وساته.

نور به هرڅه پر خپل ځای پریږدو، فقط دغو وروستیو بدلونونو ته به یو ځغلنده نظر وکړو چې طالبانو د ستر امیر له وفات نه وروسته، د خلکو د اټکلونو خلاف، کوم مثبت کارونه انجام کړل:

۱- حقیقت دا دی چې د وخت او حالاتو د حساسیت په درک کولو سره د طالبانو مشرتابه په دې وتوانید چې په کور دننه کې د لویو اختلافاتو مخه ونیسي، د لومړي اټکل برعکس يې خپل صف له کمزوري کیدلو وساته، د جدا کیدلو پرځای يې د صف جنګیالي نور هم متحد او مضبوط کړل. دا خطرونه يې د نوي زعامت په مناسب او عاجل انتخاب سره دفع کړل. که څه هم ځینې وګړي تراوسه هم ملاحظات لري، ولي د حل لپاره يې د ذبیح الله مجاهد په خبره هڅې رواني او حل ته نژدي شوي دي.

۲ – دویم واقعیت دا دی چې طالبانو د تنظیمونو له ناکامه سیاستونو څخه په استفادې، دا تجربه خپله کړې چې له امله يې لا له وړاندي د خپل منځي بیلتون او جنګ جګړو مخه ډب کړي. البته په دې کې د طالبانو د مشرتابه د هوښیارتیا ترڅنګ، دویم ستر عامل خپله د طالبانو عقیدوي فکتور دی، چونکه طالبان یوازي د الله تعالی په لاره کې د دین د حفاظت، د خپل هیواد د آزادۍ او د ملي نوامیسو د ساتني د عالي هدف لپاره جنګیږي، نو ځکه يې د قدرت غوښتني پرسر د جنګ جګړو احتمال له منځه تللی دی.

۳ – دا هم حقیقت دی چې طالبانو په اوسني تحول سره وښودله چې له خپل هدف څخه تیریدونکي څه چې د پخوا په پرتله يې وفاداري نوره هم شعوري او غښتلې شوې ده. په ۷۲ ساعتونو کې د نوي زعیم د کشالې د حل کولو ترڅنګ د هیواد له ګوټ ګوټ نه د مجاهدینو د بیعتونو سلسله په چټکۍ سره پیلول ؛ او سمدستي د دښمن په وړاندي جګړه ګرمه ساتل، د دې څرګندونه کوي چې هغوی څومره خپل هدف ته وفادار دي! ؟ د نورو په څېر نه دي چې د پیسو او قدرت غوښتنې په موخه له هرڅه نه تېر دي.

۴ – طالبانو دا حقیقت هم عملاً ثابت کړ چې ډېره عمیقه فکري انګېزه لري د کومې لپاره چې دوی بې ساري قربانۍ ورکوي او هغه فکري انګېزه يې ایماني مسئولیت او د خپلې خاوري آزادي ده، هغوی ثابته کړه چې د مشرانو او مهمو

اشخاصو د وفات، شهادت او اسارت له کبله يې روحيه هيڅکله کمزوري کيږي نه. بلکې لا يې احساسات پياوړي او د قربانۍ جذبه يې غښتلې کيږي.

۵ – دا چې د خلکو په ګمان طالبان نور، د خپل متوفی أمیر رَحِمَهُ ٱللَّهُ په څېر خپلواک او مستقل نشي. پاتېدلای ؛ هغوی به د نورو د ګټو لپاره وکارول شي ؛ د طالبانو نوي زعيم ملا اخترمحمد منصور په خپله لومړۍ وينا کې په دې اړه حقيقت داسې څرګند کړ: رښتيا خبره دا ده چې نن مورږ او تاسو ته ډېر ستر امانت را له غاړې شو، دا به ډېره ګرانه وي چې د أميرالمؤمنين رَحِمَهُ ٱللَّهُ په څېر کردار ولرو، مګر چونکه د هغه رَحِمَهُ ٱللَّهُ د معنوي رهبرۍ په سيوري کې مو ژوند کړی ؛ عهد به کوو چې په هر قدم کې به پخپل ټول توان سره د اميرالمؤمنين سپيڅلي هدف او خپلواکي تګلاري ته وفادار پاتې کيږو. او په دې لاره کې به له الله تعالی نه مرسته غواړو. خپل جهاد ته به په همغه شکل جريان ورکوو، ترڅو مو يرغلګر په مکمل ډول شړلي نه وي، جعلي سولې او بې مقصده خبرو اترو ته به د پرديو د غوښتنو په آساس هيڅکله اماده نشو. د منصور صاحب له پورتنيو ټکو نه پوره څرګنديږي چې طالبان به خپل مسير همغسې تعقيب کړي لکه څنګه چې د اميرالمؤمنين تګلاره وه. هغوی به د ملي مصالحو او اسلامي اصولو څخه هيڅکله ناروا تنزل ونکړي. د خپل هدف په لاره کې به د ملامحمدعمرمجاهدرح په څېر مستقل او خپلواک پاتې شي.

٦ – بل ټکی چې خلکو يې اټکل کاوه چې ګويا بيا به هيڅ يو مشر ونه توانيږي چې د مجاهدينو صفونه له سره تنظيم، او د بهرنيو اشغالګرو په وړاندې يې په پياوړي ډول رهبري کړي ؛ د دې ټکي ځواب د طالبانو وينـدوی ذبيح الله مجاهد د شرق الأوسط ورځپاڼې د يو سوال په ځواب کې داسې کړيدی:

»دا چې جهادي صف د قربانيو او سرښندنو صف دی، دلته هره لحظه د قيادت په شمول د شهيد کيدلو، اسير کيدلو او يا هم په طبيعي مرګ د وفات کيدلو احتمال متوقع وي، ځکه نو د جهادي صف مشرتابه مخکې تر مخکې لا د دې صف د رهبري لپاره تدابير سنجولي وي، جهادي صف پر نورو خصوصياتو او مشخصاتو سربيره د

قیادتونو د روزنې او تربیې مدرسه هم ده، دلته که نن یو مشر شهید کیږي، یا اسیر کیږي او یا هم په خپل طبیعي مرګ وفات کیږي مجاهدین د دې واقعې په راتلو نه کمزوري کیږي او نه د کمزورتیا احساس کوي، ځکه هغوی ته لا وړاندې په فکري لحاظ دا ورتلقین شوې وي چې د جهادي لارې تداوم په شخصیاتو او افرادو پوري نه وي تړلی، بلکې د هغې تداوم او وابستګي په افکارو او مبادئو پوري وي. همدا لامل دی چې د امیر المؤمنین په وفات سره په مجاهدینو کې د هیڅ کمزورۍ احساس نه کیږي، بلکې د هغه له پیل کړې لارې سره د وفاداریۍ له املې لا په ډاډه او ځواکمن شکل د خارجي یرغلګرو او د هغوی د ملاتړو پرخلاف خپل جهاد ته ادامه ورکوي.

د دې ترڅنګ د اسلامي امارت نوی زعیم محترم منصور صاحب هم یو تجربه شوی او خورا بریالی مشر پاتې شوی، مرحوم امیرالمؤمنین پرې اعتماد درلود، په عملی میدان کې یې جهادي صف په سختو شرائطو کې رهبري کړی، اوس یې د ځان لپاه خورا قوي او با رسوخه، په دین پوه مرستیالان هم ټاکلي، قوي رهبري شورا چې ټول اهل خبره اشخاص او د اسلامي امارت د سر خلک په کې عضویت لري ؛ دا هم ورسره ده، نو امید لرو چې تر پخوا به د اسلامي امارت وحدت لا ډیر ټینک وساتل شي او تر پخوا به لا ډیر په قوت کې زمورږ موجودیت ثابت شي ان شاءالله. «

۷ – دا هم حقیقت دی چې طالبانو په پورتنیو مثبتو کړنو سره، د غربي رسنیو تبلیغاتي کمپاین په ډېر حکیمانه او غیر متوقع ډول سره په نطفه کې خونثا کړ. هغوی ته یې موقع ورنکړه چې د طالبانو ترمنځ د ناروا تبلیغاتو په مټ درزونه رامنځ ته کړي. برعکس د کابل اداره د پرلپسې نظامي او سیاسي شکستونو له کبله، له غټې سرګردانیۍ او ژورې پریشانیۍ سره مخ شوې ښکاري.

۳۱\۸\۲۰۱۵

# د ملا محمد عمر وفات او د دښمن تبليغات

**ليکوال: همايون تړی- دجهادي او سياسي چارو څارونکی**

**تېره مياشت طالبانو په رسمي ډول د اسلامي امارت د موسس او بنسټ ايښودونکي ملا محمد عمر مجاهد وفات تاييد او پرځای يې ملا اختر محمد منصور د امارت د نوي امير په توګه اعلان کړ. په جګړييزو شرايطو کې د ملا محمد عمر د وفات پټ ساتل او په بريالۍ توګه نوي امير ته د واک انتقال دواړه دومره ستړي کارنامې وې چې ښايي دښمن يې اټکل هم نه شو کولای.**

**خو دښمنانو چې تل يې د افغان مجاهد ولس د واحد صف د پاشلو خواري کړې، په طالبانو دغه بريا ونه لوړېده، او هڅې يې پيل کړې چې له طالبانو څخه د دې بريا ثمره وتروړي. له همدې کبله يې د موقع څخه په استفادې د اسلامي امارت د نوي امير ملا اختر محمد منصور پر خلاف راز راز منفي څرګندونې وکړې او د داسې شکوکو په خپرولو يې لاس پورې کړ چې ګواکې ملا محمد عمر مجاهد د خپلو نړدې ملګرو له خوا وژل شوی دی.**

**که د اسلامي مبارزې تاريخ ته وګورو دا تهمت کومه نوې خبره نه ده، د جهاد، دعوت او مبارزې د لارې سپيڅلي مشران تل د دښمن له خوا د خپلو ملګرو په قتل کې په لاس لرنې تورن شوي دي. له نړدې تاريخه به يې پيل کړو؛ د طالبانو دوه نامتو قومندانان هر يو ملا داد الله او ملا بور جان چې کله په شهادت ورسېدل دښمن يې خپل نړدي ملګري په قتل تورن کړل. همدا رنګه په پخواني جهاد کې د عربو مجاهدينو د مشر او نومیالي عالم او داعي عبدالله عزام (رحمه الله) له شهادت وروسته د نوموړي نړدي ملګری شيخ اسامه بن لادن (رحمه الله) د نوموړي د قتل په پلان کې شريک وبلل شو. بيا چې کله اسامه بن لادن د امريکايانو لخوا په شهادت ورسېد، کټ**

مټ همدا تور يې د نوموړي په مرستيال شيخ ايمن الظواهري پورې کړ او ورپسې زياته يې کړه چې له دې پيښې ډيره موده مخکې لا الظواهري له اسامه څخه لارې جلا کړې وې او د نوموړي په جهادي تګلاره يې انتقادونه درلودل.

په لرې تاريخ کې يې تر ټولو ستر مثال حضرت موسی عليه السلام دی چې د فرعون له خوا پرې د خپل ورور د وژنې تهمت پورې شوی و. د موسی عليه السلام په اړه علماء ليکي چې کله د هغه ورور (هارون عليه السلام) وفات شو، د وخت فرعونيانو او د هغوی شيطان صفته اتباعو اوازه خپره کړه چې هارون عليه السلام په طبيعي مرګ نه دی مړ شوی، بلکې د موسی عليه السلام په لاس وژل شوی. دا پروپاګنډ يې د دې لپاره کاوه ترڅو د موسی عليه السلام د پلويانو ترمينځ د اخلاص، خپلمنځي اعتماد او باور فضا خړه پړه او په کې خپلو ناولیو فرعوني مقاصدو ته د رسېدو لار وباسي.

اوس چې د ملا محمد عمر مجاهد تر وفات وروسته کټ مټ همدا تور د امارت په نوي زعامت پورې کيږي، کومه د انديښنې خبره نه ده، بلکې ښيي چې اوسني فرعون صفته منافقين څرنګه د خپلو اسلافو په لار روان دي او تر وروستي بريده په خپلو شيطاني دسيسو او توطيو بوخت دي.

خو بايد په ياد ولرو چې په دنيا کې د الله جل جلاله سنت دا دی چې د اسلام او مسلمانانو پرخلاف د دښمن مالي، بدني او تبليغاتي ستړيا بيرته د همدوی په زيان، شرم او خجالت تمامېږي، يا په بله معنی: کوډګر ته خپلې کوډې بلا وګرځي. هغه مولوي محمد يعقوب چې د جهاد دښمنانو د اسلامي امارت د امير ملا اختر محمد منصور پر وړاندې بغاوت ته لمساوه او دا يې ورته تلقي کوله چې بايد له نوموړي څخه د پلار د قتل غچ واخلي، په نره له ملا اختر محمد منصور سره بيعت اعلان کړ او دښمن ته يې پر مخ داسې کلکه څپېړه ورکړه چې په تاريخ کې به يې جرئت او شهامت په زرينو کرښو وليکل شي.

که څه هم جهاد دښمنې ميډيا په تېره يوه نيمه لسيزه کې په خپلو بې شرمانه دروغژنو تبليغاتو ځان دومره رسوا کړی چې اوس يې ماشوم هم په خبرو باور نه کوي،

خو د ملا محمد عمر مجاهد په مړينې کې د نوموړي د ملګرو د لاسلرنې په اړه بايد ووايو، لکه څرنګه چې فرعون د موسی علیه السلام د لښکرو ترمينځ د تفرق او انشقاق ارمانونه له ځان سره د نېل سيند تل ته کوز کړل همداسې به اوسني تفرقه ګر هم د امير او رعيت ترمينځ د بې باورۍ د رامينځ ته کولو هدف ته ونه رسيږي، بلکې لکه څرنګه چې يې ژوندي مثالونه په خپلو سترګو وينو، مجاهد ولس به له خپل نوي امير (منصور صاحب) سره د بيعت لاسونه لا ټينګوي او د دښمن دا توطيه به هم لکه د نورو هغو په څير په زانګو کې خنثی کوي.

۲۱\۹\۲۰۱۵

## که متحد اسلامي امارت نه وي نو څه به وي؟

**ليک: قاري حبيب- دسيرت او تاريخ استاد او څېړونکی**

د افغانستان اسلامي امارت زمونږ د هيواد او سيمې په سطحه هغه خوځښت دی چې زمونږ د قرنونو او په خاص ډول وروستيو لسيزو د اسلامي مبارزو ثمره او نتيجه يې ژوندۍ او خوندي ساتلې، زمونږ ملت او درست اسلامي امت ته يې له قرنونو وروسته د اسلامي نظام ژوندۍ بيلګه ورښودلې، د الله تعالی حدود او قوانين يې جاري او نافذ کړي دي، اولس ته يې د اسلام د سوليزې، عادلانه او مرفه نظام نعمت ورځکلی، زمونږ د هيواد استقلال او ارضي تماميت يې خوندي کړی، اولس يې له ګډوډيو، بې امنۍ، ذلت، خپل منځي جګړو او ډول ډول تعصباتو او کشمکشونو ژغورلی دی، د اسلامي امت او خاص ډول افغان اولس ديني، جهادي او حريت خواه برم او پرتم يې ژوندی او سرلوړی ساتلی او بالاخره يې د نړيوال امريکايي ښکيلاک پوزه په خاورو سولولې او د غرور او فرعونيت له ستړيجه يې رانسکور کړی دی.

د اسلام دښمنان له بيلابيلو توطيو په استفاده هڅه کوي تر څو دغه د اسلام نه ماتيدونکی سنګر يعنی اسلامي امارت د زر، زور او يا تزوير په وسيله له منځه يوسي. د همدې لپاره يې په پوځي، سياسي، استخباراتي او تبليغاتي جګړو سربيره اوس نويو حربو ته هم لاس اچولی او هغه دا چې د اسلامي امارت د مجاهدينو تر منځ د نفاق او بيلتون بلوا راپورته کړي، د امارت په دننه کې د بې اعتمادۍ او دښمنۍ سپرغۍ بلې کړې تر څو په دې ډول مجاهد د مجاهد او طالب د طالب په وسيله له منځه يوسي.

دښمن هڅه کوي د اسلامي امارت مشروعيت او ورپسې يې سياسي او فزيکي وجود له منځه يوسي، له همدې امله خو کله د موجوده امارت د نامشروعيت لپاره تبليغات او استدلال کوي او کله هم خلکوته داسې تلقينوي چې د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ په وفات سره نور خدای مکړه امارت هم له منځه تللی او کوم شرعي يا سياسي حيثيت يې نه دی پاتې، چې ددې ټولو هڅو غايه او مقصد د امارت له منځه وړل او دې پرتمين بهير ته د پای ټکی ايښودل دي.

د تأسف ځای دا دی چې ځيني خلک لا هم د موجوده اسلامي امارت په فلسفه او منزلت نه دي خبر، دوی لا هم نه پوهيږي چې موجوده امارت د څومره فتنو مخه ډب کړې، څومره توپانونو او مصيبتونو ته سپر دی او که خدای مکړه دغه سايه بان مو له سره ايسته کيږي نو په دې اولس او خاصتا متدين قشر- باندې به کومې بلاوې رانازليږی او په کومو فتنو او جنجالونو کې به اخته کيږي.

راځئ دلته هغه محتمل خطرات وشميرو چې د اسلامي امارت د نه موجوديت په صورت کې يې راتګ عقلا لازم او ضروري بلل کيدای شي.

لومړی: د مسلمانانو عزت او بقاء په اتحاد او يووالې کې نغښتې، الله تعالی فرمايي: و لاتنازعوا فتفشلوا الايه يعني نزاع مه کوئ کنه له منځه به لاړ شئ. له دې اللهي خطاب څخه معلوميږي چې د مسلمانانو د واحد صف ټوټه کول او د تفرق د دوی د له منځه تګ مقدمه او سبب دی.

که خدای مکړه د اسلامي امارت واحد صف ونه ساتو او د بیلابیلو عقدو، ګیلو او بهانو له مخې د اختلاف او تفرق فتنې ته مخه کړو نو باید په دې پوه شو چې دا به د موجوده جهادي صف د له منځه تګ او د څو لسیزو د بې حسابه قربانیو د ضیاع په معنی وي او ددې ضیاع او درنې ګناه بار به د هغه چا په غاړه وي چې په خپل اختلاف او نزاع پالنه یې دغه صف کمزوری کړی او یا خدای مکړه له منځه وړی دی.

دوهم: د الله تعالی له لورې په مسلمانانو فرض دی چې متحد اسلامي امیر وټاکي او اسلامي نظام جوړ کړي، اسلامي امارت د یوه برحال متحد نظام په حیث زمور له غاړې دا فریضه ساقطه کړې او د وجود او دوام له امله یې زمور غاړې له یادې فریضې خلاصې دي. که خدای مکړه مور دغه اسلامي نظام او امیر ونلرو نو ددې فرض د نه ترسره کولو له امله به ټول الله تعالی ته مسؤل یو، د نصب الامام فریضه به مو په غاړه پاته وي، د بیعت له وجیبې څخه به محروم پاته یو. په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي که څوک په داسې حال کې مړ شي چې خپل مسلمان امیر یې نه وي پیژندلی او بیعت یې ورسره نه وي کړی نو مرګ یې د جاهلیت دی.

دریم: اسلامي امارت په خپل وجود او شتون سره د نظام خالیګاه ډکه کړ ې او د کفري او مبتدعو نظامونو مخه یې نیولې، په کوم ځای کې چې اسلامي امارت مسلط دی هلته کفري او اسلام دښمنه نظامونه حاکمیت نلري. که خدای مکړه اسلامي امارت نه وي نو بیا به یې د بدیل په حیث کفري او فاسق نظامونه په مور مسلط وي، بیا به د اسلامي نظام، جهاد اودیني دعوت په ځای د کفر د خپراوي او نشر۔ لپاره په دولتی سطحه منظم کار کیږي او د ګمراه کولو فتنه به په مسلمانو اولسونو مسلطه وي.

څلورم: له بې نظامه حالت څخه د هر ور نظام تر چتر لاندې ژوند غوره بلل شوی، د امام مالک رَحِمَهُ ٱللَّهُ قول دی چې تر بې نظامه حالت د ظالم نظام تر سیوري لاندې ژوند ځکه غوره دی چې د ظالم نظام په واکمنۍ کې په کال کې هم دومره

حقوق نه تلف کيږي او نه هم دومره ناروا اعمال کيږي لکه د بې نظمۍ او هرج و مرج په يوه ورځ کې چې کيږي.

اسلامي امارت لله الحمد ظالم نه بلکې عادلانه نظام دی، چې وجود يې تر بې نظامه حالت په زر چند غوره، عقلا او نقلا لازم او ضروري دی.

که دغه نظام نه وي نو خودسري، ګډوډي او هرج او مرج به وي، بيا به هر څوک د خپل سر پاچا وي، خو په حقيقت کې د هر چا واګې د هغه د نفس او شيطان په ولکه کې وي او ډول ډول ظلمونه، غلاوې او ګناهونه به وربانديې ترسره کوي.

پنځم: اسلامي امارت د يوه نظام په حيث د خپل تر لاس لاندې افرادو او رعيت د ګمراهۍ مخه نيولې، هغوی يې له انحراف او شويښدلو ژغورلي، اوس هيڅوک په بل چا زړور لاس نه شي پورته کولی، هيڅوک د ګمراهۍ غږ نه شي اوچتولی، هيڅوک په چا د ظلم او تجاوز جرأت نه شي کولی، ځکه پوهيږي چې يو نظام شته چې لاس مې ونيسي.

که خدای مکړه دغه عاجز، بې علمه، جګړو، جهالت او افلاس ځپلي عامه وګړي خپلې مخې ته خلاص او د تنظيمي دوران غوندې سرايله شي نو بيا به د ظلم او حق تلفۍ داسې تاريخ جوړ کړي لکه موږ يې چې شل کاله پخوا د پاڼکونو په دوران کې مثالونه ليدلي دي.

بيا به هر سرګروپ او ډلګۍ مشر- جلا پاچا، قاضي او مجري وي، هرکلی به ځانګړی سلطنت او په يوه شار کې به شل بيرغونه رپاند او بشپړه کوڅه واکي حاکمه وي، بيا به پلار د زوی واک نلري او افغان ولس به د خپل سر، مال او ناموس د خپلواکۍ او خوندیتوب تصور نه شي کولی.

شپږم: اسلامي امارت په نړيواله سطحه له هيوادونو، ډلو او حکومتونو سره د يوه نظام په حيث چلند کوي، چې دې کار د ډېرو فتنو مخه ډب کړي، اوس نړيوالې بيلابيلې استخباراتي شبکې نه شي کولای دلته افراد او ځانګړی قومندانان په لاس کې

واخلي، اکمال او اعمال يې کړي اوپه پای کې يې د خپلو ذاتي ګټو لپاره استخدام کړي.

د روس ضد جهاد د مهال يوه لويه ستونزه او غميزه همدا وه چې مجاهدين ډلې ډلې وو، متحد نظام يې نه درلود نو ځکه د نړيوالو او سيمه ايزو استخباراتي لوبو قربانی شول، په نيابتي جګړو کې ولوېدل او پردی جګړې يې د خپل وطن په خاورو او د خپل اولس د وينو په تويېدو تمثيل کړې.

که خدای مکړه متحد اسلامي امارت نه وي، يو ځل بيا به نړيوال استخباراتي لاسونه زمونږ د جهاد مقدس صف ته راخلاصيږي، او دلته به د برحق جهاد په ځای د پرديو د ګټو جګړې او مقابلې زور نيسي، چې بيا به مجاهد مجاهد نه وي پاته بلکې د اجنبي استخباراتو د ګوډاګي رول به يې خپل کړی وي.

اووم: اسلامي امارت د يوه ولس په حيث زمونږ مابه الاشتراک اقدار او بيلابيل ديني او تاريخي ارزښتونه خوندي کړي دي، زمونږ د ولس خپل منځي وحدت يې تامين کړی دی او د هيواد د ټولو قومونو او هرې ژبې او نژاد سره ټراو لرونکو افرادو ته يې په خپل غيږ کې ځای ورکړی، هر ډول قومي، لساني، سمتي او نژادي توپيرونه يې ناروا او جاهلانه عادات بللي. د افغان ولس ديني شناخت يعني حنفيت د ساتنې تعهديې وړاندې کړی، د هرډول غيرديني او فرقوي تعصباتو د رامنځته کولو مخه يې نيولې او په دې ډول يې ولس له يو عالم جنجالونو ژغورلی دی. که خدای مکړه مورږ دغه سپر له لاسه ورکوو، نو دلته به يې نه يوازې سياسي تنازعات زور اخلي بلکې کلي په کلي او مسجد په مسجد به قومي او فرقوي جګړې هم پيليږي، لکه مورږ يې چې په نورو اسلامي هيوادونو کې شاهدان يو.

اتم: په لنډو بايد ووايو چې متحد اسلامي امارت د الله تعالی يو لوی نعمت دی چې په مورږ يې لورولی دی، که په دې نظام کې کومه خلا وي بايد د پوره کولو او رفع کولو کوښښ يې وکړو، دغه امارت زمونږ مشترک کور دی، کله چې په کور کې کوم

ځای نقصان موجود وي نو عاقل انسان یوازې د هغه نقصان د رفع کولو کوښښ کوي نه دا چې ټول کور ونړوي.

دا باید ومنو چې اسلامی امارت زمونږ د سر، مال، عـزت، نسـل او ټولـو حقوقـو د ساتنې متکفل دی، دې ته مو باید پام وي چې نور تش په نامه نظامونـه داسې نـه دي، همدا اوس د افغانستان په ښارونو ګوډاګی نظام حاکم دی، مګر خپله نظام د ولس په وژلو او لوټلو بوخت دی، پولیس یې غله او اختطـاف ګـر دي، د نظـام مشرانو یـې تـر یوملیون جریبه زیاته ځمکه غصب کړې ده، د دنیا نور نظامونه علی هذالقیاس

نو ځکه باید ددې نظام قدر وپیژنـو او شـکرانه یـې اداء کـړو، کـه خـدای مکـړه اسلامي امارت نه وای نو مونږ به د تنظیمي دوران مولود ځنګلي انسانان وای چې نه بـه مو خپل دین، تمدن او اخلاق پیژندلی او نـه بـه راتـه د ځـان او نـورو انسـانانو حقـوق معلوم وای.

۲۲\۸\۲۰۱۵

# اشغالګر او د کابل اداره
# زمونږ په ګران هیواد کي سوله نه غواړي

**لیکوال: عبدالمالک همت**

**(د ملااختر محمد منصور حفظه الله د وروستي اختریز پیغام په اړه څو څرګندونې)**

داسې ښکاري چـي زمـونږ د هویـت او ویـاړلو فرهنګـي ارزښـتونو؛ اسـلامیت او افغانیت دښمنان سره د دې ټولو لویو لګښتونو او مذبوحانه هلوځلو په هر ډګـر کـې د ناکامیو سره مخ دي او په هر څه کې ابتکار طالبانو په لاس کي ځني اخیسـتی او دوی یې عقب روي کوي. پر وطن باندي د غلیم او غلـیم پـالو پـه وړانـدي پـه مـلي وطنـي

سپېځلي جګړه او مبارزه کې د هیواد په ګوټ ګوټ کې د اقدام او وسله والو بریدونو ابتکار طالبانو په لاس کې اخیستی دی، کله چې طالبان کومه ولسوالي تر محاصرې لاندې راولي غلیم او غلیم پالي د سمدستی عمل او غبرګون هیڅ وس نه لري، د ولسوالۍ د مرکز عسکر او اربکیان چې هر څوني چغې بوغي ووهي هیڅ ګټه نه ور رسوي، پای ولسوالي له لاسه ورکړي او د کابل اداره وروسته بیا اقدام کوي او هغه زیاتره نمایشي او ناکام وي.

په سیاسي ډګر کې طالبان یو اومشخص باصلاحیته آدرس لري، خو غلیمان او غلیم پالي په هیڅ موضوع کې په یوه خوله نه دي او یو واحد دریځ نه لري. پخوانی ولسمشر ځان ته ډله ټپله او ځانګړی دریځ لري او هر څه ته له خپلو عینکو ګوري. نو هر څه چې د دوی د ځاني او ګروهي ګټو سره په ټکر کې وي، هیڅ یې نه مني، لکه د قطر د دفتر د رامنځ ته کېدو په لومړیو کې چې یې لټپېر او شورماشور جوړ کړ.

د عبدالله او د هغه د ډلې ټپلې تګلار ه خو هر چاته معلومه ده. هغوی خپلې ګټې د پردو په اشغال، ناامني، ګډوډي او د چور او چپاو په تاوده بازار کې وینې، نه په واحد افغانستان، افغانیت، ملي وحدت، سوله او کراري کې.

اشرف غني که څه هم یو بې واکه او بې چاره واکمن دی، خو تر دې چې په پردو ملکونو کې آواره ګرځېدی، یا یې په صنفونو کې د تباشیر ګرد تر خوله وتی او ننوتی، نو دا بې واکه او د څو تنو سره شریکه او تش په نامه او د پردو له خوا ورته ډالۍ سوې واکمني خو نو ورته یو لوی نعمت او غنیمت دی. تر څو دی ژوندی وي د خپلو ولینعمتانو دا شکر به ادا نه کړای سي.

رشید دوستم چې یو نا لوستی او سرټمبه سړی دی، پر ګران هیواد باندې د دې ناوړې حاکمي وضعي له برکته او د غلیمانو د ناز له امله د جمهوري ریاست تر لومړۍ مرستیالۍ پورې رسېدلی دی. نو تاسې ووایاست چې که دا وضعه تغیر وکړي دی به چیرې وي؟

د هیواد د اهل تشیع وروڼو په مشرتابه کې چې کومو سابقه دارو مجرمو کسانو ځای نیولی دی، د هغو په ژوند کې پر هغو باندې دغسې د عیش، چرچو، ارګا او بارګا، شتمنیو او عزت او جاه ودولت پېر نه و راغلی. موږ ټول پوهیږو چې د دوی چې دا خولې په غوړو کې ده، دا د غلیم د اشغال او په هیواد کې د اوسنۍ کړکېچنې وضعې له امله ده. نو تاسي ووایاست چې که اشغال پای ته ورسیږي او په هیواد کې هره خوا امنیت سي، دغه د افغانانو په سرونو کې د مېخونو د ټکوونکو به څه حالت وي؟

امریکا او لوېدیځوال نه دلته په ساده ګۍ او آسانۍ راغلي دي او نه په آساني او ساده ګي، په خپله خوښه له دې هیواده وزي. هغو د افغانستان تر اشغال دمخه کلونه کلونه په دې اړه ملیاردونه ډالر لګولي او خپل ډلي ډلي ګومارلي کسان يې کلونه کلونه روزلي او مصارف يې پر کړي دي، تاسي فکر وکړئ هغو پر اشرف غني باندې یوازي په دې وروستیو ټاکنو کې څونه لګښت وکړ؟ او د اردو، پولیسو، امنیت پر عسکرو او اربکیانو او نورو باندې څونه مصرفونه ورکوي؟ دا لګښتونه د یوه ستر هدف لپاره کوي او دا هدف د افغانستان مادي او معنوي شتمنۍ تر لاسه کول او په سیمه او نړۍ کې نورو هغو اهدافو ته ځانونه رسول دي چې دوی له ډېر پخوا څخه مخې ته ایښي دي.. د پاکستان او ایران او نورو بدخواهو ګاونډیانو په هکله دونه بسنه کوي چې ووایو: "ګرګ از خدا چه میخواهد باد وبدمه".

لنډه داچې دغه عناصر نه په افغانستان کې د اشغال پای ته رسېده غواړي، نه سوله او آرامي. په افغانستان کې سوله د دوی په ګټه نه ده. د اشغال پای ته رسېده او سوله او آرامي یوازي او یوازي د هیواد د هغوپه ملیونونو پرګنو په ګټه ده، او غوښتنه او ارمان يې دی چې د اشغال او جګړې ټول تاوانونه هغو ته متوجه دي او دا دروند بار هغوی پر خپلو ناتوانو اوږو وړي.

بله دا چې موږ او تاسي ټول پوهیږو چې طالبان د پردو د وسله وال تېري او اشغال په پایله کې د نړۍ د ټولو نافذو قوانینو په خلاف بې له کوم موجه دلیله له واکه راوپرځول سول او بالاخره د خپلو دیني ارزښتونو او عقایدو او خپلو خلکو ته د

مسؤولیتونو له امله اړ سول چې د اشغالګرو په وړاندې د هیواد ژغورنې ملي او وطنې جهاد ته ورودانګي او هم له بې چاره توبه ګاونډي هیواد ته اړ سول چې د کوربه په توګه یې یو څه زړه نازړه او له وچې اړتیا ومني. خو بیا هم که د عقل او ضمیر خاوندان دقیق سي دومره خبرې دوی د پاکستان دا نه دي منلي، لکه د کابل اداري چې د هند او پاکستان ډېر څه منلي او اوس یې هم مني، بلکې په ځینو مواردو کې غوړمالې او زارۍ ورته کوي.

په نهایي تحلیل کې په افغانستان کې د اشغال پای ته رسېده او د سولې ټینګښت د طالبانو ډېره لویه ګټه او لاسته راوړنه باله سي. ځکه ترڅو چې په افغانستان کې اشغالګران وي (لږ وي که ډېر، جنګیږي او که بې جنګه واکمن وي) طالبان او نور مسلمانان اړ دي چې د اسلام د احکامو له مخې د هیواد د خپلواکۍ د بېرته ګټلو لپاره د جګړې کړاوونه او د ځینو په ماهیت امر کې د دښمنو ګاونډیانو اړتیاوي یا د هغو ډول ډول کړونې، ځوروني او جبلونه پر ځانونو ومني. خو که اشغال طرد سي او سوله ټینګه سي طبیعي ده چې دوی به له دې غرونو غرونو مشکلاتو خلاص او فارغ سي او د خپلوکورنیو سره به په یو ځای کېدو او بېغمه کېدو سره په خپل خواږه هیواد ګران او سپېڅلی او جنت نشان افغانستان کې د آرامۍ ژوند وکړای سي.

په پای کې که وجدان وي او د ملا اختر محمد منصور اختریز پیغام د عقل او منطق او ضمیر په سترګو مطالعه سي، په دې پیغام کې د هیواد د خپلواکۍ د بیا اعادې، له غلامۍ څخه د غلامانو د ژغورنې، زمور د پتمنو خلکو د آرامۍ او هوسایی او د هیواد رشتیانۍ بیا رغوني او پرمختګ ته له لارې اوارولو پرته بل پیغام نسته.

نوراځئ ټول سوله غوښتونکي عناصر یو موټی او متحد سو او په هره هغه وسیله چې لازمه وي او کار ورکوي او اغېزمنه تمامیږي اشغالګران او د سولې دښمنان د اشغال خاتمې او سولې ته غاړې ایښودو ته اړ کړو، دا کار ډېر مشکل نه دی، خو همت غواړي والسلام.

۲۴\۹\۲۰۱۵

# طالبان د صف د وحدت لپاره څه بايد وکړي؟!

**ډاکټر عمر- ليکوال او شناند**

**د طالبانو اسلامي امارت\ تحريک چې د فساد او انارشۍ د له منځه وړلو په موخه تاسيس شوی اوس د اشغال، فساد او فتنې د له منځه وړلو مسؤليت ور له غاړې دی. طالبان که له يوې خوا د اشغالګرو او دهغوی د لاسپوڅي رژيم سره په نا انډوله جګړه بوخت دي، بل طرفته بياد اختطافګرو، فتنه راويښونکو او ياغي باغي عناصرو پرضد هم بايد کوټلې مقابله وکړي.**

**دملا اخترمحمد منصور په مشري د نوي زعامت له ټاکلو سره دطالبانو پر ضد دمخالفت نوې پروژې پيل شوې، د طالبانو دنويو راپارول شوو دښمنانو ترکيز تراوسه پر رواني او تبليغاتي جګړې دی، مثلا د طالبانو مبارزه پردیو ته منسوبوي، پر مشرتابه يې تورونه لګوي او په طالبانو کې د بې اتفاقۍ او بې باورۍ زړي شيندي.**

**دوی هغه کسان دي چې دطالبانو پرپخواني فقيد رهبر ملا محمد عمر مجاهد يې هم ډول ډول تورونه پوري کول، نوموړی به يې احساساتي، خود رايه او يوه قوم ته منسوباوه، اما د مرحوم ملا محمد عمر رَحِمَهُ ٱللَّهُ په اړه يې په رسنيز ميدان کې څه نه ويل، ځکه دوی يو فرصت ته انتظار وو، خو کله چې دملا محمد عمر مجاهد د وفات خبر خپور شو، دې د لستوڼي مارانو غاړې هسکې کړې او د اشغالګرو سره په همغږۍ يې د جهاد د بدنامۍ اود واحد صف د تفرق هڅې ګړندۍ کړې.**

**همد ارنګه د هيواد په مختلفو سيمو کې د يرغلګرو او کابل حکومت له لوري د داعش په نوم د وسله والو او اختطافګروسره دوسلو او پيسو مرستې له چا پټې نه دي، کره شواهد شته چې د همدې وسله والو سره حکومت په موټرو- موټرو دوسلو او تجهيزاتو مرستې کړي دي. د رواني او تبليغاتي جګړې همږغي خو يې روښانه ده، کوم**

تورونه چې غربي میډیا او د کابل حکومتي چارواکو پر جهادي مقاومت لګول هماغه تورونه کټ مټ اوس د داعش په نوم د وسله والو، اختطافګرو او فتنه ایجادوونکو له خوابیا- بیاخپریږي.

بله مهمه خبره داده چې همدغه ډول تورونوته د کابل رسنۍ او غربي میډیا تر مطبوعاتي اهمیت ډیر زیات انعکاس ورکوي، دلته هم ښکاري چې تر کاسې لاندي حتما نیمه کاسه شته، دښمن چې د طالبانو په قیادت کې د جهادي مقاومت څخه دارام ساه نه شي ایستلای او س له بیلابیلو لاروهڅې کوي چې د طالبانو په منځ کې درز واچوي او د متعددو ډلګیو او مشریو په رامنځته کولو سره دغه اسلامي او ملي نجات ښونکی ځواک خدا ی مکړه د منحل کیدو له بحران سره مخ کړي.

د صف وحدت نه یوازي طالبانو ته بلکې افغان ولس او ټول امت ته ډیر ګټور او حیاتي ارزښت لري، دې د شریعت، امنیت او عدالت جهادي کلا ته چې څوک بدې ارادې لري او د پردیو دخوشحاله کولو لپاره یې دنړولو هڅې کوي، د دغو ورانکارو او خاینو پرضد شامله او پیاوړې مبارزه باید وشي. لنډه داچې ددې پردي پالو ډلګیو اوعناصرو سره باید په هر ډګر کې هر اړخیزه دفاعي او تهاجمي مقابله وکړل شي.

ځکه د صف په وحدت کې کامیابي ده، د صف په یووالي کې خپلواکي، ارامي او سوکالي ده او که خدای مکړه د افغان مظلوم ولس د اسرې یوازنی کور (اسلامي امارت) ډلګۍ - ډلګۍ شي دشهیدانو، یتیمانو، زخمیانو او اسیرانو ارمانونه او هیلې به له خاورو سره خاورې شي اود اسلامي نظام د نفاذ هیلي او هڅې به مو په اوبو لاهو شي.

پردې اټل حقیقت سترګې نه شي پټیدلای چې ولس طالبانو ته د یو نجات ښونکي ځواک په سترګه ګوري، د طالبانو د ښمنانو ددې لپاره چې طالبان پردیو پوري وټړي ډیر زیات پروپاګند کړی، مګر ولس چې د طالبانو ځواک یې د کورنۍ له غړو جوړ دی، لیدلی او ویني چې یوازنی هغه مسؤل ځواک چې دولس د سر، عزت، مال او ارزښتونو ساتنه کوي هغه د طالبانو غورځنګ یا اسلامي امارت دی. له همدې

امله ولس په ډیرو سختو حالاتو او فشارونو کې هم د طالبانو له ملاتړ څخه لاس نه دی اخیستی.

نو بناء دطالبانو نوي مشرتابه ته لا ډیر مسؤلیت راجع کیږي چې دخپل مجاهد اومظلوم ولس امنیت، سوکالۍ او ښیرازۍ ته جدي پاملرنه وکړي، هغه خندونه او ګواښونه چې د یرغلګرو ځواکونو او دهغوی د ښکاره او پټو استخدام شوو ډلو او افرادو له لوري موجود دي، د له منځه وړلو لپاره یې باید سم د لاسه لاس په کار شي، ځکه د هر مزمن مرض له منځه وړل چې څومره ځنډیږي هومره پیاوړی کیږي او سرایت کوي، د افغانستان په کومو سیمو کې چې داعشي- وسله والو، اختطافګرو او اربکیانو څومره نفوذ کړی همدومره یې د خلګو ارامي او خوشحالي له منځه وړې او د اسلامي نظام د نفاذ ا وخپلواکۍ ارمانونه او امیدونه یې په نا امیدۍ بدل کړي دي.

طالبان باید د داعشي وسله والو، اربکیانو، اختطافګرو او باغیانو پرضد کوټلي ګامونه پورته کړي، ځکه د همدغه بدمرغه بوټو چې له یوې سرچینې خړوبیږي که پر خپل وخت چاره ونه شي، د وخت په تېرېدو سره ریښې کوي، طبعي ده چې بیا به یې له منځه وړل په لوړ قیمت تمام شي، نو لکه اوس چې طالبان د یرغلګرو په وړاندي جګړې ته څومره لومړیتوب ورکوي په کار ده چې د مفسدینو او فتنه ایجادوونکو سره مقابلې ته هم همدومره اولویت ورکړي، ځکه دغه مفسد او شریر خلګ که څه هم افغانان دي، خو بالقوه خطر یې لوی دی او هغه داچې داسلامي نظام د قیام او د یو پر امنه افغانستان لپاره د یو جدي ګواښ اوخندې په توګه ثابتیدای شي.

لنډه داچي طالبان ضرور باید په هر ډ ګر کې د د ښمن سره چې په مختلفو شکلونو بدلیږي رابدلیږي شامله او ځواکمنه مقابله و کړي او دښمن پرینږدي چې خپل شوم پلانونه او ارمانونه پوره کړي.

۲۹\۹\۲۰۱۵

# مجاهدين دې دا خبرې د زړه په غوږو واوري!

**جيلاني خان**

**د طالبانو د تحريک د غړو لپاره خپره شوې د دې خوځښت د امير ملا اختر محمد منصور صاحب غږيزه وينا مې واورېده، ويل کيږي چې دا وينا نن سهار په ټول افغانستان کې د امريکا او د هغوی د پلويانو په خلاف په سنګر کې پرتو مجاهدينو ته د مخابرې د عمومي نمبر له طريقه اورول شوې ده، د دې وينا د اهميت په اړه به وروسته وغږيږم خو لومړی به ووايم چې د نوي مشر خبرې هم د مرحوم ملاصاحب غوندې بې تکلفه، عام فهمه او د زړه له تله بريښېدلې.**

**په خبرو کې يې د دوديزو سياسي رهبرانو په شان لفاظي، تکلف او طمطراق نه ښکارېده، بلکې په پوره صميميت او وضاحت يې خپل ملګري مخاطبول، د ملااختر محمدمنصور صاحب دا ابتکار د ستايلو دی چې خپل ملګري دم په دم د غږيزو ويناوو په توسط مخاطبوي او بيدار ساتي، د مبارزې په لاره کې د مشر يا رهبر غږ د افرادو په روحياتو او مسير ته په ژمنتيا کې کليدي رول لري، په دې لړ کې که خارجي بيلګه ورکړو د ايران انقلاب يې تر ټولو ښه مثال دی، د ايران پخواني مشر خميني خپل انقلاب د غږيزو ويناوو او صوتي کليپونو په توسط بريا ته ورسوو، نومورې څو کاله خپلې ويناوې په غږ کې ثبتولې او بيا يې د پلويانو لخوا په هيواد کې توزيع کيدلې، خپل پلويان او د ټولنې بيلابيل قشرونه يې مخاطب ګرځول او د هغوی اعتماد يې جلباوو، همداسې د نړۍ په سطحه نورو ډيرو معاصرو مشرانو هم د غږيزو ويناوو له نشر څخه پوره پوره استفاده کړې، تقرير او د خطابت هنر ته د تسخيرالقلوب فن ويل شوی دی، صميمانه وينا د هرڅه په نسبت د خلکو زړونو ته ښه لاره باسي، هر څوک سواد لرونکی او بې سواد ټول وربانديې پوهيږي او ورڅخه استفاده کولای شي نو ځکه**

د دغسې ويناوو پخش ډير ضروري بلل کيږي. ځرنګه چې ددې وينا مخاطبين خاص وو يعني يوازې د اسلامي امارت منسوبين او مجاهدين يې مخاطب وو په راتلونکې کې که دغسې ويناوې د اولس په ادرس دغه ډول علماء کرامو، محصلينو او نورو قشرونو لپاره خپرې شي ښه نتائج به ولري.

د دې وينا په اړه غواړم څو خبرې او يادونې اضافه کړم.

ځرنګه چې دا وينا د اسلامي امارت د مجاهدينو او طالبانو وروڼو لپاره شوې وه، نو ټول طالبان وروڼه هغوی چې ځان د اسلامي امارت د جهادي چتر تر سيوري لاندې بولي، بايد دا وينا په غور واوري، د يوځل اوريدلو په ځای دې يې بيا بيا واورې او حتی که ممکنه وي ځان ته دې ډاونلوډ کړي او په مبايل کې دې له ځان سره وساتي، يو مجاهد چې سلګونه ترانې او جهادي ويډيوګانې په خپل مبايل يا ايم پي تري کې ساتلی شي، بايد د خپل شرعي امير وينا چې عملي کول يې په ده باندې واجب دي او د سرغړونې او بې التفاتۍ په صورت کې د لويې ګناه مرتکب بلل کيږي نو دغسې يوه مهمه وينا خو بايد ضرور له ځان سره وساتي. د اطاعت د مسئلې اړوند خو دا کفايت کوي چې د احاديثو تر ټولو معتبرو او معتمدو کتابونو بخاري او مسلم دواړو دا حديث روايت کړی دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې زما اطاعت وکړي نو هغه بې شکه د الله تعالی اطاعت وکړ او څوک چې زما نافرماني وکړي نو هغه د الله تعالی نافرماني وکړه او چاچې د خپل امير اطاعت وکړ نو هغه بې له شکه زما اطاعت وکړ او څوک چې د خپل امير نافرماني وکړي نو هغه زما نافرماني وکړه. متفق عليه نو دې مبارک حديث ته په پام سره د خپل امير اطاعت شرعا له سترو واجباتو څخه ده او ترڅو پورې چې په مشروعو کارونو امر کوي نو سمع او طاعت يعنې د خبرې اوريدل او پرځای کول يې شرعا لازم بلل کيږي.

په دې وينا کې جناب منصور صاحب خپلو کسانو ته تر هرڅه مخکې له خلکو سره په ښه چلند او نيکو اخلاقو امر کړی دی، دا نه يوازې يو مشروع کار دی بلکې يو شرعي لازمي او واجب أمر هم دی، الله تعالی هم خپل بندګان په نيکو اخلاقو مأمور

کړي دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل بعثت فلسفه د نیکو اخلاقو په تعلیم کې خلاصه کوي او وایي زه الله تعالی د ښو اخلاقو د ښودلو لپاره رالیږلی یم. دا چې ښه اخلاق د الله تعالی په نزد څومره وزن لري حضرت أنس ابن مالک وایي: ان العبد لیبلغ بحسن خلقه أعلی درجة فی الجنة و هو غیر عابد و یبلغ بسوء خلقه أسفل درک فی جهنم و هو عابد. یعني بې له شکه انسان که څه هم عابد نه وي خو په خپلو نیکو اخلاقو سره د جنت تر ټولو لوړو مدارجو ته رسیدلی شي او بالمقابل یوځوک اګر که عابد وي خو بد اخلاقي یې د جهنم تر ټولو ژورو کندو ته غورځولی شي.

نو مجاهدین طالبان وروڼه باید دا توصیه ټینګه په غوږ کې ونیسي، له هرچا سره ښه اخلاق وکړي، د اولس له سپین ږیرو، عاجزو او بې دفاع انسانانو او ټولو وګړو سره له درنښت، رحم او تعاطف څخه ډکه رویه وکړي، د جهاد غوندې یو جلالي عبادت په داسې حال کې چې له سړي سره د ځوانۍ جوش، د ټوپک او وسلې شوق او د حاکمیت او برلاسۍ احساس هم موجود وي په انسان کې طبعا د غرور احساس پیدا کوي چې بیا له ځان پرته عامو خلکو ته په ټیټ نظر ګوري، رویه یې ورسره سړه او غیر طبیعي وي، چې په دې سره الله تعالی ناراضه کیږي ځکه الله تعالی لویي او بد اخلاقي نه خوښوي، نو مجاهدین باید له هرڅه مخکې د اخلاقو او د ټولنې له بیلابیلو قشرونو سره په تعامل کې ډیر متوجه او جدي واوسي تر څو خدای مکړه شرعي اصول تر پښو لاندې نه کړي.

د محترم منصور صاحب په خبرو کې بله خبره دا وه چې مجاهدین یې د عام المنفعه تاسیساتو لکه پلونو، پلچکونو، ښوونځیو، د اوبو بندونو، کلینکونو، مدرسو او دغسې نورو ټولګټو تاسیساتو حفاظت ته راباللي وو، مجاهدین باید د خپل امیر دا امر او لارښوونه هم ټینګه په غوږو کې ونیسي، او که په دې برخه کې نافرماني کوي یا له ځاني اجتهاد او خپلې جذبې سړولو څخه کار اخلي نو دالله تعالی په نزد به له خپل امیر څخه د نافرمانۍ له امله مأخوذ وي. زمونږ جهاد د کفارو په وطن کې نه دی روان بلکې متاسفانه مونږ په داسې یوه جغرافیه کې له کفارو او د هغوی له اجیرانو سره

جنګېږو چې د جګړو د سیمې ټول ولس مسلمانان دي، دغه اولس د مسلمان رعیت په حیث په مورِ حق لري، مجاهدین باید هیڅکله داسې کار ونه کړي چې د مسلمانانو د بې ځایه اذیت سبب شي، نو ځکه باید د ولس د هوسایني لپاره لاس په کار شي، هغه بنیادونه چې یوازې ولس ترینه استفاده کوي باید ساتنه یې وشي، په دې برخه کې اوس د خوښۍ زیری دا دی چې په ډیرو ځایونو کې مجاهدینو له نظامي کارونو سره تر څنګ ودانیزو کارونو ته هم ملاتړلې، ما د کندز ولایت داسې عکسونه ولیدل چې مجاهدین لارې جوړوي، پلونه او پلچکونه ترې او د خپل مسلمان ولس خدمت ترسره کوي، مجاهدین باید تخریبي فکر ونه لري بلکې تعمیري فکر ولري د خپل اسلامي هیواد د ساتنې او حفاظت فکر ورسره وي ځکه اسلام بشریت ته د تعمیر او تمدن له پیغام سره راغلی دی.

د طالبانو په ادرس د منصور صاحب د وینا بله مهمه برخه د دې تحریک مشرانو او مسؤلینو ته متوجه وه، چې دوی د خپلو زیردست افرادو د اصلاح مسؤلیت لري. دا خبره هم ډېره مهمه ده ځکه په جهادي صفوفو کې خلک په داوطلبانه شکل داخلیږي هرڅوک چې د جهاد شوق او جذبه ولري نو راځي او له کوم ګروپ سره ملګری کیږي د مجاهدینو له جملې لږ کسان داسې وي چې هغه د جهاد پوره نظري زده کړې ولري د جهاد په علمي مسائلو او ادابو باندې بشپړ عبور ولري. نو په داسې حال کې دا د مسؤلینو یو لوی مسؤلیت دی چې خپل افراد تربیت کړي، لکه څنګه چې د هغوی نظامي او عسکري تربیه کوي باید اخلاقي او علمي تربیه یې هم وکړي، ځکه هغوی د مجاهد په عنوان له ټولنې سره مخ دي، که له افرادو څخه خدای ناخواسته کوم ناسم عمل کیږي نو د ټول جهاد رنګ ورسره بدیږي، د هغوی د ناسم تعامل ضرر متعدي دی او ټول صف ته رسیږي. بله دا چې د مسؤل معنی هم دا ده چې دی به پوښتل کیږي یعني له ده څخه به د خپلو تر لاس لاندې افرادو پوښتنه کیږي که دا پوښتنه په دنیا کې ورڅخه ونه شي نو د قیامت په ورځ خو به ضرور ورڅخه پوښتنه کیږي چې ته د دومره شمیر کسانو په سر ټاکل شوی وې، ستا ټاکنه خو یوازې د نوم او نمایش لپاره

نه وه، بلکې د دې ټولو کسانو د اداري، تربيې او څارنې دنده درسپارل شوې وه. نو مسؤلين بايد دا خبره هم ټينګه په غوږ کې ونيسي، کشران مجاهدين دايما تنبيه وساتي، هغوی ته د جهاد او له خلکو سره د تعامل اداب وروښيي. په ښو چارو او چلند يې بايد تحسين کړي او د بد چلند او ناوړو اعمالو بايد سزا ورکړي.

نو دغه څو خبرې او نور هغه مهم هدايات چې د منصور صاحب په وروستۍ غږيزه وينا کې راغلي مجاهدين طالبان يې بايد د زړه په غوږو واوري، دا وينا ګورئ کوم د هديرې يا د جمعې کوم دوديز تقرير نه دی، بلکې د مجاهدينو د امير لخوا خپلو افرادو ته پيغام دی چې شرعا يې هره خبره واجب التعميل بلل کيږي، او که يې بابيزه بولي او سرغړونه ترې کوي نو الله تعالی به د بې اطاعتۍ له امله سزا ورکوي.

نو ځکه طالبان او ټول مجاهدين چې ځانونه د اسلامي امارت غړي بولي بايد دې خبرو ته ژوره توجه وکړي.

۲۷\۱۰\۲۰۱۵

## مورِ ولې په اسلامي امارت عاشقان يو ؟!

**ليکنه ـ بدرالافکار- ليکوال او څېړونکی**

له اسلامي امارت سره مينه آسانه مينه نده! په دې مينه کې د کور کلي پريښودل شته، په دې مينه کې د زندان تورو تمبو ته ورتلل، په بدن زخمي زخمي کيدل او د دنيا ژوند ته د الوداع ويل شته! په دې مينه کې تورونه دي، په دې مينه کې تهمتونه دي، په دې مينه کې له خپلو خپلوانو او دوستانو له لوري ترټل او رټل شته، خو مورِ ولې دومره دردونه او کړاوونه ګالو ؟، ولې مورِ په اسلامي امارت عاشقان يو ؟، ولې يې له مورِ نه زړه وړی ؟، ولې مو زړونه نه ترې صبريږي ؟، ولې يې په مينه کې د زړګي نری نری درد راته د دنيا له ټولو لذتونو خوندور ښکاري ؟

مورِ ملامت نه یو!

د اسلامي امارت ښکلا یرغلیزه ده، په هر سپیځلي زړه برید کوي، هر زړه له ځان سره یرغمل کوي، هر زړه یې د مینې په لومه کې ژر راګیر کیږي. اسلامي امارت د ځوریدلو افغانانو له سر څخه د شر او فساد خپسه لرې کړه، هغه خپسه چې د دوی ژوند یې تنګ کړی و، او د دوی په مړۍ یې پښه ایښې وه. اسلامي امارت زمورِ ځوریدلی ولس بند په بند له بېلیدو نه وژغوره او په سینه ناسته د تجزیې بدرنګه بلا یې پرمخې په ځمکه راوویشته. اسلامي امارت زمورِ د ځوریدلي ولس له ګډ کور افغانستان څخه د بیت المال لوټ شوي مالونه بیرته راټول کړل، ظالمان، د تیریګرو او لارې وهونکو له لاسه یې د ظلم خنجر واخیست. ټولګټي تأسیسات یې په پښو ودرول، فساد یې نابود کړ او د یو پیاوړي مرکزي حکومت په کوټر یې د انارشۍ له رنځ نه د افغانانو رنځ ټکور کړ.

اسلامي امارت زمورِ ځوریدلی او ترهیدلی ولس د اسلامي شرعي نظام له یخ سیوري لاندې دمه کړ. اسلامي امارت زمورِ د ځوریدلي ولس ټولنیز مرضونه د امربالمعروف او نهی عن المنکر په درملو درمان کړل. اسلامي امارت زمورِ په ولس کې د ملا او مکتبي تر منځ توپیر ورک کړ او د مدرسې او مکتب تر منځ یې د توازن کرښه راوباسله. اسلامي امارت زمورِ د ولس صورت او سیرت په نبوي سنتو ښکلی کړ.

اسلامي امارت زمورِ د محبوب مدني جانان صلی الله علیه وسلم د وطن پردیسان په خپله غیږ کې ونیول د ترحم او شفقت لاس یې پرې راتېر کړ. اسلامي امارت امت له پیړیو وروسته د اسلامي نظام د پلي کولو په خوند پوه کړ، نوی ژوند یې وروبښه او دې ته یې چمتو کړ چې د ظالم ګریوان ته د خپلو تروړل شوو حقوقو د اعادې لپاره لاس ورواچوي. اسلامي امارت د هر مظلوم مسلمان اوښکې پاکې کړې او د دوی په حق کې یې غږ اوچت کړ. اسلامي امارت خپل ځان څو پردیسو مسلمانانو ته سپېلنی کړ خو دوی یې کفارو ته په لاس ورنکړل. اسلامي امارت د کلیسا په شپیلي راوتلی صلیبي ښامار ټوکر ټوکر او بیرته یې په خپل غار ننویست.

اسلامي امارت د ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ او ملا اختر محمد منصور حفظه الله په څېر سپيڅلي، غيرتي، زړه سوانده، د امت په درد دردمـن او د امـت يـووالي تـه ژمن زعيمان امت ته وړاندې کړل. داسې زعيمان چې د امت شمله يې هسکه کـړه، تـل به امت پرې ويارې او سراسر افتخار او ويار دي.

۱\۱۲\۲۰۱۵

# د دښمنانو څرګندونې د اميرالمومنين شخصيت پياوړی کوي

حقمل ضيا- ليکوال او شنونکی

د اسلامي امارت د نوي زعيم تر انتخاب وروسته د مجاهدينو په اړه د دښـمنانو د تبليغاتو، بې ثبوتو تورونو، بې اساسو څرګندونو، دروغو او د تشويش اچوونکو خـبرو کمپاين خورا زور اخيستی او د سلام داخلي او بهرني دښمنان هره ورځ د مجاهدينو په خلاف نوي دسيسې جوړوي او بې اساسه څرګندونې کوي.

دا چې دښمنانو په جګړه کې بشپړه ماتې خوړلې، له همدې کبله کله د مجاهدينو ترمنځ د تفرقې د شتون خبره کوي، کله د جهادي صف د وېشل کېدو او تقسيم نقشـې بيانوي، کله د مجاهدينو ترمنځ د جګړو بې اساسه راپورونـه ورکـوي، کلـه د مشرانو د شهادت خبرې کوي، کله هم جهاد او مجاهدين بغير د کوم دليل څخه پرديو او نـورو هيوادونو ته منسوبوي او همدارنګه نور.

دښمنان په ځانګړي ډول د اميرالمومنين ملا اختر محمد منصور (حفظه الله) پـه اړه بېلابېل داسې بې اساسه خبرونه خپروي چې هيڅ ثبوت يې هم ورسره نه وي.

په دې څرګندونو سره د دوی هدف دا دی چې د مسلمانانو روحيات پرې وځپـي او زړونه يې ودردوي، د مجاهـدينو مـورال را ټيـټ او خپلـو مـورال بـايللو عسـکرو تـه

روحیه ورکړي، د نوي زعامت په اړه د مسلمانانو په زړونو کې شکونه واچوي، هغه کسان چې ځانونه د اسلامي امارت د نوي زعامت مخالف بولي قوي وښیي، د امیرالمومنین د زخمیتوب او شهادت په اوازو سره د مجاهدینو د روانو بریالیو عملیاتو په تند بهیر کې سستي راولي او بالاخره په خپلو داخلي مشکلاتو او ناکامیو پرده واچوي. خو حقیقت دا دی چې د دښمنانو دغه څرګندونې او بې ځایه تورونه د دوی په ګټه نه بلکه په تاوان دي، دوی ولس پېژندلي او هیڅ باور او اعتماد پرې نه کوي او د دوی په دې بې اساسو تورونو او دروغو سره د دوی جعلي څېره خلکو ته لا ښه څرګندېږي، په هیواد کې به داسې کسان ډېر کم وي چې د غلامې اداري او د کفر پلوې میډیا د دروغو یو ثبوت ونه لري؛ د دوی په دې دروغو او بې اساس څرګندونو سره مسلمان ولس او مجاهدین د دوی شومو اعمالو او پلانونو ته لا ښه متوجه کېږي او د دوی په دې څرګندونو سره مجاهدین هغه خالیګاوې ډکوي چې په خپلو کارونو کې یې ولري.

د امیرالمومنین په اړه د دښمنانو بې اساسه تورونه، خبرونه او ادعاوې دا څرګندوي چې د اسلام دښمنان له نوي زعامته څومره وېره لري؟، څومره یې بدنامۍ ته کوشش کوي؟، څومره یې مرګ ته هوسېږي؟، او نوي زعامت په خپل مدبرانه رهبري سره په کمه موده کې دښمنان له څومره مشکلاتو سره مخ کړي دي؟.

که دښمنان هرڅومره بې اساسه ادعاوې او څرګندونې وکړي په هم هغه اندازه مسلمانانو او مجاهدینو لپاره د نوي زعیم (امیر المومنین ملا اخترمحمد منصور حفظه الله) محبوبیت او اهمیت زیاتیږي، شخصیت یې لوړېږي، مینه ورسره پیدا کېږي او مجاهدین یې اطاعت ته لا ښه چمتو کیږي؛ ان شاالله د دښمنانو دغه شوم پلانونه به هم د نور هغو په څېر معکوسه نتیجه ولري، مجاهدینو ته به ګټور او دښمنانو ته به زیانمن تمام شي.

۹\۱۲\۲۰۱۵

# طالبان اوس هم په خپل اتحاد ویاړي

**موسی مهاجر- لیکوال اودیني عالم**

د غرب او شرق د داړه مارانو له لوري د اسلامي خلافت تر نړېدلو وروسته الله تعالی د مسلمانانو سترګې د افغانستان د اسلامي امارت په قیام یخې کړې، اسلامي امارت د مسلمانانو په زړونو کې د یوه سوچه اسلامي خلافت هیلي راوټوکولې، د خلافت د بیا راژوندي کېدلو نهیلي یې له منځه یووړله، دې خوځښت د اسلامي نړۍ په یوه ستره خطه کې په عملي ډول اسلامي احکامات او شریعت پلی کړ، د شرعي نظام په پلي کولو سره یې نړۍ ته د اسلام حقیقي ځېره روښانه کړه، د اسلام ښکلی تصویر یې نړۍ ته وړاندې کړ، په افغانستان کې د شریعت نفاذ د مسلمانانو په زړونو کې په ټوله اسلامي نړۍ کې د شرعي نظام د پلي کولو مینه را تازه کړه، د یوه متدین قشر له لوري د اسلامي امارت قیام او د شریعت پلي کولو د نړۍ په ګوټ – ګوټ کي د حق د لاري مبارزینو ته د بریا هیلي ورکړې، د اسلام په ټولو احکاماتو د تمسک کولو له امله د نړۍ د مظلومو مسلمانانو د هیلو سترګې دې سوچه اسلامي تحریک ته ور واوښتلې او خپل مړاوي امیدونه یې پوري وتړل.

اسلامي امارت د شرعي نظام او اسلامي سیاست مزایاوې افغان ولس ته ورکړې، د خپل ولس لپاره یې د سولې او ډاډ فضا رامنځ ته کړه، ظلم، ستم، تیری، وحشت، بربریت، غلا، پاټکسالاري او توپکسالاري یې له منځه یووړله، د ځورېدلي اولس په ټپونو یې د ارام او سکون مرهم ور کېښودل، د اسلامي حدودو په قائمولو سره یې د فحشا، بېلاریتوب او لچګۍ مخه ونیوله، د غربي کلتور په ځای یې افغاني او اسلامي کلتور ته ترویج ورکړ، ددیني علومو ستر مرکزونه یې جوړ او ولس یې د علم په ګېنه سمبال کړ، خپل ارضي تمامیت یې خوندي او افغانستان یې د یوه بشپړ خپلواک هیواد په توګه په پښو ودراو.

خو امریکا دا د مسلمانانو د هیلو کور ونشو زغملای او د خپلو استعماري موخو لپاره یې اسلامي امارت سقوط او افغانستان یې اشغال کړ، لیکن د تحریک مشرتابه د نېواک په مقابل کي لاس تر زنې نه کښېناستل، بلکې د خپل مسوولیت له مخې یې د اشغال په مقابل کې په غښتلي هوډ وسله واله مبارزه پیل کړه، تر دې چې طالبان وتوانیدل د نړۍ استعمارګر هیوادونه وځپي، ماته ورکړي او د کفر په شکست د مسلمانانو زړونه یخ کړي.

دا چې اسلامي امارت له خپل تاسیس څخه د دوو لسیزو په تېرېدلو یو بریالی تحریک دی، ددې عمده او اساسي لامل د قیادت یووالی او د صف اتحاد دی، چې تل طالبان او مسلمانان پرې ویاړي، داسلام د ښمنانو د امارت د لمنځه وړلو او کمزوري کولو لپاره له هیڅ هڅې مخ نه دی ګرځولی، ددې تحریک د کمزوري کولولپاره یې د اجیري اردو، پولیسو او ملي امنیت ترڅنګ د اربکیانو، پاڅون، مرګ ډلي، سیمه ییزو شوراګانو او داعش پروژې پلې کړې، خو بریالي نشول، مکار دښمن ددې ترڅنګ دخپلي ماتې د جبېره کولو او د طالبانو د ضعیفه کولو لپاره دا کوښښ هم روان وساته، چې اسلامي امارت په ټوټو وویشي۔ او ددې لپاره یې له هرې ممکنې لارې کار واخیست.

د تېر کال د جولای میاشتي په ۳۰ نېټه دمرحوم امیرالمومنین ملا محمدعمر رَحِمَهُ ٱللَّهُ د وفات تر اعلان وروسته دښمن دغه هڅې چټکې کړې، رسنیو ددې لپاره پراخ تبلیغات پیل کړل، ډالري کارپوهانو په دې اړه څرګندونې او نظرونه ورکړل، امریکا د ملا صاحب د وفات اعلان د هغو ۴۰۰ میلیونو ډالرو بودجې د لګولو لپاره یو فرصت وباله، چې د طالبانو د مشرانو ترمنځ داختلافاتو لپاره یې ببل کړي وو، خو له ځنډ او خنډ پرته د نوي امیر، امیرالمومنین ملا اخترمحمدمنصور حفظه الله ټاکلو او له هغه سره د بیعتونو چټکې لړۍ دښمن حیران او د هغوی هیلي یې په نهیلۍ وربدلې کړې.

د اسلامي امارت د صف يووالی د الله تعالی رحمت او د مسلمانانو اړتيا ده، له همدې امله اسلامي امارت په خپل ټول زيار کوښښ کړی، چې اتحاد له منځه ولاړنه شي، په دې اړوند يې د دښمن ټولې هڅې شنډې کړې او ډلو ټپلو ته يې اجازه نه ده ورکړې، چې په هيواد او جهادي صف کې ګډوډي رامنځ ته کړي، ځکه افغانانو د تېر جهاد په مهال د تنظيمونو د تعدد ناوړه پايلې ولیدلې، چې د همدې تنظيمي تفرق له امله د روسانو تر ماتې وروسته افغانان په دې ونه توانيدل، چې يو اسلامي خپلواک او مستحکم دولت جوړ کړي، په خپل منځي جګړو کېوتل، هرتنظيم د واک د ترلاسه کولو کوښښ کاوه او ددې لپاره يې له نورو ډلو سره جګړې کولې، د ښکېلوغاړو له لوري زيات جنايات او جنګي جرمونه ترسره شول، د اسلامي نظام پلي کولو، د هيواد او ولس ګټو ته يې شا کړه او هغه څه رامنځ ته شول، چې افغانانو وليدل، تفصيل ته يې اړتيا نشته. همدارازموږ اوس په سوريه او ليبيا کي د تنظيمونو او ډلو د تعدد پايلي وينو، چې پاڅونونه يې له ناکامي سره مخ او د انقلابيانو ډلي په خپل منځي جګړو بوختې دي او د نړۍ استعماري هيوادونه يې له اختلافونو څخه ګټې اخلي.

د اسلامي امارت د همېشني اتحاد په هيله

١\۴\٢٠١٦

## طالبانو کې رهبري څومره مهمه ده؟

**جمال پښتون- ليکوال او څېړونکی**

له پرون راهيسې ځيني امريکايي سياستمدارانو، امريکايي مطبوعاتو او د امريکا په حواله افغان حکومت او د ملي امنيت رياست د طالبانو د مشر، ملا اختر محمد منصور د وژل کېدو خبر خپروي. طالبان تر اوسه خاموش دي. د اختر محمد منصور د مرګ په خبر د دې لپاره شايد ځيني شک وکړي چې تېر کال ډسمبر کې هم

همداسې خبر نشر شو چې ګواکې منصور وژل شوی، خو وروسته طالبانو رد کړه. د طالبانو د مشر د سرنوشت معلومول هم د طالبانو حامیانو ته مهمه ده او هم د امریکایانو حامیانو ته. خو دا ځل د ځینو سرچینو په حواله داسې ښکاري چې د طالبانو مشر دې د امریکا په ډرون برید کې خپل ژوند له لاسه ورکړی وي.

د طالبانو غوندې د مقاومتي ډلو په تاریخ کې د رهبر د مرګ اوژوند مسئله هره شېبه د تحریک له مشرانو او کشرانو سره مطرح وي. خصوصاً طالبان به ځکه دغه حالت ته تیار وي چې لا خو یې د موسس او اولني مشر، ملا محمد عمر مجاهد د مرګ د خبر د نشرېدو کال نه پوره کېږي. د طالبانو د مشرانو د مرګ په مسئله کې د طالبانو دښمنانو تر ټولو مهم هدف دا دی چې که وشي کولی د مشرانو ترمنځ د اختلافاتو له لارې دغه ډله کمزورې او له داخله یې دماتې سره مخ کړي. ځینې سرچینې د دې خبر پخلی هم کوي داسې پټې او ښکاره استخباراتي هڅې روانې دي چې که طالبان په اختلافاتو واچوي. حتی د طالبانو د مشرانو په ژوند هم د امریکایانو له خوا سپانسر مطبوعاتو همیشه دا کوششونه کړي چې د طالبانو ترمنځ درزونه پیدا کړي.

کله چې تېر کال د ملا محمد عمر د مرګ خبر نشر شو، امریکایانو ډېرې هڅې وکړې چې د طالبانو داخلي اختلافاتو ته لمن ووهي او واړه اختلافات دومره بارز او مهم کړي چې د طالبانو پر نظامي ماشینرۍ باندې تاثیر وکړي. خو طالبان پر ملا اختر محمد منصور راټول شول.

د یادولو وړ ده چې تر اوسه د ملا اختر محمد منصور د مرګ خبره طالبانو نه ده تایید کړې، خو که چېرته رښتیا هم دغسې شوي وي تاثیر به یې څه وي. دا مهم بحث دی.

د طالبانو په صف کې له اوله تر اوسه د رهبر حیثیت د یووالي د سمبول او یا هم د روحاني مشرۍ په حد کې دی. طالبان په داسې عادي حالت کې نه دي پاتې شوي چې رهبري دې وکولی شي عملاً د امورو اداره په لاس کې ولري او هر څه دي مستقیماً

نظارت کړي. د طالبانو مشر د خپلې خاصې حلقې په حد کې هدایت ورکوي او بیا همداسې د حلقاتو له خوا هدایت تر عادي جنګیالیو پورې رسېږي چې په دغه ډول د رهبر خبره نشرېږي او بیا عملي کېږي. دا پدي مانا ده چې د رهبر هدایت یواځي په غټو مسئلو کې تر کشرانو رسېږي. نورې ورځنۍ چارې د عملیاتو پلان او عملي کیدل د رهبر هدایت ته ضرورت نه لري. په همدې اساس د طالبانو د مشرانو له وژنو وروسته هم دغه ډله په نظامي لحاظ په پخواني زور او قوت کې پاتې ده.

د ملا اختر محمد منصور په شخصیت کې څو مهم خصوصیات دا دي، چې په اداري او سیاسي لحاظ توانایۍ لري. د منصور د مشرۍ په موده کې طالبانو د کمېسیونونو له لارې خپلې لیکې منظمې کړې او په سیاسي لحاظ د منصور بصیرت او ځیرکتیا د دې باعث شوه چې طالبان د سیاسي دفتر څښتنان شي او دنیا سره د خبرو کړکۍ خلاصه کړي. اوس که چېرته ملا اختر محمد منصور واقعاً په دغه پېښه کې خپل ژوند له لاسه ورکړی وي د تېرو تجربو په اساس ویل کېدای شي چې شاید د طالبانو په جنګي ماشینرۍ باندې خاص تاثیر ونه لري. ځکه اختر محمد منصور به طالبانوته یوه سیاسي لاره او اداري نظام پرې ایښی وي. طالبان کولی شي چې د ترسیم شوو خطونو په اساس خپلې چارې پرمخ بوځي.

د رهبر نشتوالی طالبانو ته یواځي د بل رهبر د انتخاب قصیر المدت چیلینج حسابیدای شي. دا ځل د بل رهبر انتخاب هم شاید ډیر مشکل نه وي، ځکه چې د ملا اختر محمد منصور تر شا یو منظم نظام باقي پاتې دی. شاغلی منصور دوه معاونین او راټوله رهبري شورا تر شا پرې ایښې ده. له دې سره سره د ملا محمد عمر مجاهد زوی، مولوي محمد یعقوب عمري هم د رهبري شورا عضو ده او هم د پنځلس ولایتونو مشري په غاړه لري. شاید له همدغو دریو تنو یو رهبر انتخاب شي. دا ځل په همدې دلیل د رهبري ټاکنه ډیره ستونزمنه نه معلومېږي.

۲۴\۵\۲۰۱۶

# دریم څپرکی

د شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ دشخصیت، زعامت، کارنامو او شهادت په اړه د بیلابیلو عالمانو، شنونکو او لیکوالو تاثرات، خاطرې، څېړنې او ارزونې.

# أميرالمؤمنين شهيد شو...

**قاري سعيد- ليکوال او مؤرخ**

**دا جمله کومه معمولې جمله نه ده، دا جمله به د اسلام په پرتمين تاريخ کې ډيره لږه په مخه درشي. دا جمله دومره عادي او معمولي نه ده چې هر دور او زمانه يې د برداشت تاب ولري.**

**هوکې، دا جمله لومړی هغه مهال واورېدل شوه کله چې د امت محدث، فاروق اعظم او د اسلام دوهم خليفه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د ابولؤلؤ د غدر له خنجر څخه خپل روح الله تعالی ته وسپاره. د مدينې هغه د خوښيو او روح بښونکو ولولو نه لبريزې کوڅې د ويرِ او ماتم په هنګامو کې ډوبې شوې، له خراسان تر مصره د حق د سنګريانو زړونه په يوه درانه غم ودردېدل او د تاريخ په زړه کې په لومړي ځل په روښانه تورو دا جمله حک شوه چې: أمير المؤمنين شهيد شو.**

**دا جمله دوهم ځل هغه مهال تکرار شوه کله چې د اسلامي خلافت په وړاندې د بغاوت فتنه راپورته شوه، د نبوت پلازمينه مدينه يې محاصره کړه، او د وخت خليفه حضرت عثمان ذو النورين يې قرآن ته ناست په شهادت ورساوه. له شرقه تر غربه يو ځل بيا د مؤمنانو زړونه ودردېدل، او مؤرخينو عنوان کيښود چې: أميرالمؤمنين شهيد شو.**

**دې جملې د اسلامي تاريخ په لومړيو پيړيو کې څو ځله بيا هم د تاريخ زړه ته لاره وکړه، کله چې حضرت علي رضی الله عنه د خوارجو د ظلم او جفا قرباني شو او کله چې عبدالله ابن زبير رضی الله عنه د حجاج د ظلم او استکبار تر غشو لاندې ساه ورکړه.**

خو که تاسو د تاریخ کتاب درواخلئ. او د وروستیو پیړیو اړوند فهرست یې وګیرئ، کله به هم په کې دا تاریخي جمله ونه مومئ.

هو کې، مورِ همیشه ستړې قربانۍ ورکړې، لوی لوی اتلان، توره وهونکي، عالمان او مخکښان مو د شهادت له ویاړه برخمن شوي، مګر د ویاړمن تاریخ تنده مو دا ډیره موده په دې جمله نه وه خړوب شوې چې: أمیرالمؤمنین شهید شو.

مورِ که په ځانو پورې باروت وټړل. مورِ که په تش لاس له الوتکو او کیمیاوي بمونو سره ډغرې ووهلې. زمورِ غوښې که په سپینو فاسفورسو کباب شوې. زمورِ په جسدونو که دښتې ډکې شوې. زمورِ په بوټیو که د هوا مارغان ماړه شول او مورِ که د قربانۍ او ایثار هره نداره د تاریخ په ګالرۍ کې ثبت کړه. مګر بیا هم زمورِ د معاصر تاریخ ښکلا نیمګړې وه. زمورِ ویاړمن تاریخ هرځه درلودل، مګر دا جمله یې نه درلوده چې: أمیر المؤمنین شهید شو.

لله الحمد. ویاړ په داسې زعیم او أمیر چې د صدر اسلام کارنامه یې ژوندۍ کړه. د عمر، عثمان، علي او حسین رضوان الله علیهم لاره یې تشه پرې نه ښوده. بلکې د برم او پرتم له وروستني کم او کیف سره، د ایثار او قربانۍ له تر ټولو دنګ منقبت سره او د مظلومیت او ځانځارۍ له تر ټولو هیښوونکي رشادت سره د قربانۍ ډګر ته وروړاندې شو. د طاغوت تر ټولو پرمختللي توغندي ته په هسکه غاړه او جګو سترګو ودریدو او د بارودو اوفاسفورسو اور ته یې هرکلی ووایه. تردې چې د تاریخ زړه یو ځل بیا ولرزېد او له پیړیو وروسته یې یو ځل بیا په خپل ځیګر ولیکل: أمیرالمؤمنین شهید شو.

شهید أمیرالمؤمنین ملا اخترمحمد منصوره! درویاړو! او الله تعالی ته زارۍ کوو چې پرتمین ایمان، توکل، خدمت او قرباني دې په خپل دربار قبوله کړي.

آمین یارب!

۲۵\۵\۲۰۱۶

# آه رهبر شهیدم... !

**ابوصهیب حقانی هراتی- نویسنده وتحلیلگر امور سیاسی ودینی**

**مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا [الأحزاب: ٢٣]**

**گاهی بعضی خبرها سخت و ناگوار کننده و غیر قابل باور است؛ ولی انسان از پذیرش و قبول آن چاره ای ندارد، تنها چیزی که به مسلمان قوت قلب بخشیده و مومن با توسل و تمسک به آن تسکین می شود کلام جاویدان الله پاک و فرامین ارزشمند رسول معظم اسلام صلی الله علیه و سلم اند که با تلاوت آیات قرآن کریم و مطالعه احادیث گهربار رسول اکرم صلی الله علیه و سلم در باب مرگ، شهادت، زندگی فانی دنیا، فضیلت صبر و استقامت و اینکه دنیا میدان امتحانات الهی است که اگر مسلمان در هر حالت مطیع فرمان های حق سبحانه و تعالی و عامل به سنت های نورانی رسول او باشد بدون شک تحمل هر نوع غم و اندوه بر وی آسان و گوارا می شود.**

**خبر شهادت رهبر شهیدم (عالیقدر امیرالمومنین منصور صاحب رحمه الله) از جمله آن اخبار سخت و ناگوار کننده بود (این خبر) شاید تحمل شود؛ اما رفتن زودهنگام ایشان شوک سختی بود که جز حسبنا الله و نعم الوکیل و آیات و احادیث وارده درباره صبر و استقامت هیچ سخن دیگری آدم را تسلی نمی دهد؛ رهبر فرزانه ای که عمرش را وقف جهاد فی سبیل الله و اعلای کلمه الله نموده بود.**

**آه رهبر شهیدم... !**

رفتید و با رفتن تان قلب سربازان خود را غمگین و چشمان شان را به اشک، و نگاه شان را تا ابد به سوی خود دوختید، رفتید ولی در دل سربازان خود چنان جایگاه بسی ارزشمند کسب نموده بودید که هرگز فراموش شدنی نیست.

آه رهبر شهیدم... !

دوست داشتیم باشید و ما را همواره با فرمان های خود در مسیر جهاد و انقلاب یاری برسانید تا به آرمان امت اسلامی و شهداء برسیم، دوست داشتیم در غمها و شادی ها و مخصوصا لحظات خوش فتوحات فرزندان امارت اسلامی در کنارشان باشید و چشمان تان مثل سایر امت اسلامی با پیروزی های روز افزون و درخشان سربازان اسلام بر قشون کفار و غلامان شان خنک و قلب نازنین تان شاد و خوشحال شود.

آه رهبر شهیدم...

یک دنیا کفر متوجه شما ابرمرد غیور بود، دشمنان تان با شهادت شما به عظمت تان اعتراف کردند، و امت اسلامی به قدر و قیمت تان باور داشته و یقین کرده و به شهادت شما افتخار می کنند.

آه رهبر شهیدم...

در این سالها لحظه ای آرام ننشستید و تمام وقت متوجه جهاد مقدس افغانستان بوده و شب و روز چون امیران صدر اسلام از حال امت اسلامی غافل نبوده و جهت کسب افتخار برای امت اسلامی از هیچ تلاشی دریغ نکردید، نمی خوابیدید چون می دانستید دشمن مکار و فریب باز، بیدار است و هر لحظه به کمین تان نشسته، و شما و اهداف و آرمان والای تان را تحمل کرده نمی تواند.

آه رهبر شهیدم...

خبر شهادت شما سربازان تان را جگرخون ساخته و دگرگون نمود؛ اما خون سرخ و با افتخار شما عزم ها را جزم و در روحیه فرزندان اسلام و سربازان فداکار تان تاثیر

مثبت و عظیم خواهد گذاشت و بر خون سرخ شهدای اسلام و شما تا تحقق آرمان تان با نایب لایق شما بر شهادت و اطاعت بیعت می کنند و ان شاء الله شهادت شما ای فرزند رشید اسلام باعث تقویت و تنومندی هرچه بیشتر درخت تنومند اسلام گردیده و سرآغاز مبارزه با عزمی فولادین و راسخ تر علیه کفار و مزدوران شان خواهد شد.

رهبر شهیدم...

دشمنان صلیبی که شما را به درجهٔ رفیع شهادت رساندند در واقع همان قاتلان حرفه ای و جنایتکاری اند که هزاران در هزار افغان مظلوم و بی گناه، و مسلمانان عاجز و بی کس را در سرتاسر دنیا شهید و بی خانمان ساخته اند، آنان گمان بردند که با برداشتن شما از صفحهٔ گیتی به اهداف شوم خود نزدیک تر شدند؛ اما کور خواندند بلکه با شهادت پر افتخار شما هزاران شیفته و دلباختهٔ اسلام و شهادت رهسپار جهاد و ایستادگی می شوند؛ کفار، گمان بردند که یک منصور بود و شهید ساختند؛ ولی غافل از اینکه با خون سرخ منصور هزاران منصور دیگر سر برآورده و راه پر افتخار منصور را تا نیل به شهادت و یا تحقق آرمان منصور خواهند پیمود.

آه رهبر شهیدم...

خوش به حال شما که با شهادت پر افتخارتان به قافلهٔ شهدای اسلام و رفتگان افتخار آفرین امت اسلامی بالخصوص یار غار و محبوب قلب خود عالیقدر امیرالمومنین ملامحمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ پیوستید و فراق شما از ایشان چندان طول نکشید؛ اما ایکاش رهبرم می بودید و درختی که به زحمت و فداکاری فراوان، شما و امیرالمومنین فقید رَحِمَهُ ٱللَّهُ غرس نموده بودید را آن هنگام که به بار می نشست را مشاهده می کردید و ایکاش تا سالهای سال در قید حیات می ماندید.

اللهمَّ اغْفِرْ لَهُ، وارْحمْهُ، وعافِهِ، واعْفُ عنْهُ، وَأَكرِمْ نزُلَهُ، وَوسِّعْ مُدْخَلَهُ، واغْسِلْهُ بِالماءِ، والثَّلْجِ، والْبرَدِ، ونَقِّه منَ الخَطَايَا، كما نَقَّيْتَ الثَّوب الأبْيَضَ منَ الدَّنَس، وَأَبْدِلْهُ

دارا خيراً مِنْ دَارِه، وَأَهْلاً خَيرّاً منْ أَهْلِه، وزَوْجاً خَيرْاً منْ زَوْجِه، وأدْخِلْه الجنَّةَ، وَأَعِذْه منْ عَذَابِ القَبرْ، وَمِنْ عَذَابِ النَّار.

۲۵\۵\۲۰۱٦

# احمق دښمن ته سر خلاصی لیک

**حافظ سعید- لیکوال او مدرس**

احمق دښمن زما دسپېځلې مبارزې (في سبيل الله جهاد) انګېزه په مادياتو پورې غوټه کوي، ګومان کوي چې زه هم دده په شان دفاني دنيا ګې دعيش ونوش لپاره ستړياوې ګالم. دښمن زما مبارزې ته فقط دنس وفرج داشباع ديوې وسيلې په سترګه ګوري. ناپوه دښمن ته دکائيناتو دخالق رضاء، ددين حاکميت، د جنت الفردوس ترلاسه کول او بعث بعد الموت مسخره ښکاري. خو زه د خپل خالق درضاء او دخوښ کړي دين (اسلام) دحاکميت په موخه د معاصرې نړۍ د مجهزوشيطاني لښکرو پرضد مقابله کوم.

داسې مقابله چې داسبابو په نړۍ کې زما او دښمن وسلې او وسيلې په هيڅ صورت د پرتلې وړ نه دي، اما زه د دښمن د زر، زور او تذوير څخه په پوره بې باکۍ دخپل رب درضاء ترلاسه کولو په موخه يخونه، ګرمۍ، لوږې، تندي، زخمونه، زندانونه، د کور، بچيانو او مالونو فراق او بالاخره هغه ويارمن مرګ (شهادت) ته چې په اړه يې الله تعالی فرمايې تاسي دمړو ګومان مه ورباندي کوئ، دوی مړه نه بلکي ژوندي دي او دده عز وجل له لوري رزق ورکول کيږي په ډيري خوښۍ غاړه ورکوم.

د صليبي لښکرو اعلی قوماندان اوباما، کيري، نيکولسن! تاسي به زما کورګۍ بمبار کړئ، د کورنۍ غړي به مي ګوانتانامو، بګرام او... کې بنديوان کړئ، ورونه،

بچیان، قریبان اودوستان به راشهیدان کړئ، د ترهګرۍ مهر به راباندې ولګوئ، پر سر به مې جایزه اعلان کړئ او بالاخره به دمسلمان په جامه کې څوک زما جاسوسي درته وکړي او ته به په ډیر ویاړ سره دبمونو او ګولیو باران راباندې جوړ کړې، زما جسد به غلبیل غلبیل کړې، خو دزړه په غوږو واوره! چې زما عقیده، نظریه او روحیه به ماته نه کړې، زما په وینو به دجهاد بن لا سمسور شي، پانې به غوټې وکړي، غوټې به ګل شي، ګلونه به میوې ونیسي او په په پایله کې به یې مسلمان ملت یو وار بیا د پخوانې پرتم، عظمت اومجد پر هسکو منارو پورته شي او هلته به د جاء الحق وزهق الباطل اعلان وکړي.

د غلامۍ په سمندر کې غوپه (غني، عبدالله، مسلمیار) وامثالهم یې پر ما دغلامۍ تور پوري کوي اوپه فوق العاده حماقت سره دتسلیمۍ نارې راباندې وهي. غلام دښمنه! که ما غلامي کولای ولې به مې جوړ نظام ترازادۍ قربانولای. ولې به مې دجهاد سخته لاره انتخابولای. ولې به مې کلونه کلونه په زندانونو کې تیرولای. ولې به مې پاسفورس ته سینه سپر کولای. ولې به مې دبې ۵۲، ایف ۱۶او کروز سره ډغري وهلای. ولې به مې دبوش او بلیر اخطارونه پرهیځ شمېرلای او که ما غلامي منلای نو ولې به مې ای سرټمبه غلام دښمنه! دصلیبي ټلوالې دیرغل په وړاندې د حی علی الجهاد اعلان کولای؟!. اجیر دښمنه! پر افغان مجاهد ولس د دومره ناپوه ګومان مه کوه! چې ددین اووطن یرغلګر دښمن ته ستا تسلیمي او سرټیټي ازادي او زما بغاوت غلامي وګڼي.

بې عقل دښمنه! زما په شهادت مه خوشحالیږه. زما وروسته به په زرهاوو دایمان پیاوړې او ویاړلې وسله سمبال ځوانان زما لار تعقیب کړي. په دې لاره کې به د هیڅ راز قربانۍ څخه دریغ ونه کړي. د خدای جل جلاله پر دین به په ډېره خوښۍ خپل سرونه وښندي. زندانونه به وګالي. مالونه به مصرف کړي. اوښکې به وڅڅوي او خولې به توي کړي، خو داسلام بله ډېوه به د تن په وینو بله او روښانه وساتي.

زما له ایمان او جذبې ناخبر دښمنه! زه په شهادت ویاړم، شهادت مې لویه هیله او ارزو ده. ددې پاکې هیلې د ترلاسه کولو په هیله مې دجهاد ستونزمن سنګر غوره کړی. د شهادت ترلاسه کولو لپاره پنځه وخته لاسونه لپه کوم. د بسترې مرګ مي بد ایسي. نو د ایمان له نور، درایت او فکر څخه بې برخي غلیمګیه! ما په شهادت مه ډاروه، شهادت زما مینه، هیله او تمنا ده.

زه دشهادت اوږد تاریخ لرم. دا به زما وروستی شهادت نه وي. که مې په تیلو کې وایشوې، په ټکنده غرمه کې مې لوڅه شاه پر شګلنه مځکه وغورځوې او پر نس مي سرې ډبري راکښیږدې، بیا به هم د احد احد زمزمه پرې نږدم.

دښمنه! زه به د خپل محبوب امیر امیر المومنین منصور تقبله الله انتقام هرو مرو اخلم، ستا پر پټنځایونو، پوستو، دفترونو او کاروانونو به د استشهاد داسمان شهاب ثاقب توغوم، داسي موټر بمونه او واسکټ بمونه به دربانديِ منفجر وم، چې اسمان څکي مانې دې ګړوبي شي او دناولي جسد څرک دې پکې ونه لګیږي. خپلوان دې په میاشتو- میاشتو دپوسټ مارټن او ډي این اې دتشخیص پایلو ته دانتظار درووند پیتې یوسي.

دښمنه! زه به د حمزه، ابودجانه، علي، خالد بن ولید، براء بن مالک، عوف بن عفراء، موسی بن نصیر، طارق ابن زیاد، قتیبه او دحق دلاري دنورو اتلانو رضوان الله تعالی علیهم اجمعین لار تعقیبوم. نه یوازي داچې له خپل دین، خاورې، نوامیسو او ارزښتونو به دفاع کوم، بلکي دکفر او فساد داسمان څکوماڼیو په برجونو به د (لا اله الا الله، محمد رسول الله) توغ رپوم.

غلیمګیه! په خلاصو غوږو واوره! زما مبارزه د هغه ستر ذات د خوښې تر لاسه کولوپه موخه روانه ده چې په ازل کې و، ترابده به وي. سمه ده چې زما قدردان رهبر ثالث عمر وکوچید، محبوب امیر منصور شهید شو، خو زما مبارزې پای نه دی موندلی، زه به تر (ویکون الدین کله لله) پوري خپلې برحقې مبارزې ته دوام ورکوم.

ان شاء الله تعالی ۲۵\۵\۲۰۱۶

# د أميرالمؤمنين په شهادت دښمن ته ګټه که تاوان ورسېد؟

**حبيب مجاهد- دجهادي او سياسي چارو شنونکی**

**أميرالمؤمنين ملا أختر محمد منصور د اسلام ددښمنانو لخوا په شهادت ورسېد، کفري نړۍ، منطقوي منافقينو او له هغوی سره ترڅنګ میډیا د منصور صاحب شهادت د يوه جشن په شان ولمانځه او هغه يې خپل ستر بری وباله.**

**مګر اسلامي امارت ډېر ژر د حالاتو ابتکار په لاس کې واخيست، په يوه متحده او متفقه پريکړه سره يي نوی زعيم وټاکه او بې له ځنډه ورسره د بيعت لړۍ پيل شوه. د نوي امير له ټاکل کيدو سره هغه تشه بيرته ډکه شوه چې د منصور صاحب په شهادت سره رامنځته شوې وه. همدا اوس اسلامي امارت بيرته هماغه امارت دی چې د منصور صاحب تر مشرۍ لاندې و، هماغه تشکيلات، هماغه افراد، هماغه شوری، هماغه تاوده سنګرونه او هماغه د هيواد په ګوټ ګوټ کې ايثارګر مجاهدين. بلکې علاوه لا داچې د وروستۍ ترخې حادثې په پايله کې د مجاهدينو تر منځ خپل منځي اتحاد، خواخوږي او عاطفه نوره هم زياته شوې ده، مجاهدينو د امارت په رسۍ خپلې منګولې نورې مضبوطې کړي دي او د پخوا په نسبت په ډېر شور او اشتياق سره د بيعت او لبيک غږونه بدرګه کوي.**

**له شک پرته چې د أميرالمؤمنين منصور صاحب شهادت يوه ستره او نه هېرېدونکې غميزه وه، اسلامي امارت له يوه وتلي، منلي، زړور او باثباته قائد څخه بې برخې شو. مګر تاريخ شاهد دی هرکله چې مؤمنانو يو مصيبت خاص د دين په خاطر زغملی او د الله تعالی لپاره يي وربانديې صبر کړی الله تعالی ورته هغه مصيبت په خوښۍ بدل کړی دی.**

هغه مجاهدین چې څو ورځې وړاندې د خپل زعیم د شهادت له امله د اندیښنو او غمونو ګرداب لاهو کړي وو، اوس دم په دم د خوښۍ او اطمینان احساس کوي. د خپل امیر له شهادت وروسته یې ددښمن په وړاندې دښمني او د مقاومت روحیه نوره هم مضبوطه شوې ده. ددښمن شیطاني ارادې، دعداوت او بې رحمۍ ګراف او د هغوی د ګوډاګیانو شرارت ورته نور هم بربنډ شوی دی.

هغه دښمن چې دا څو کاله یې د سولې او تفاهم تبلیغات کول اوپه خدعه سره یې ویل چې طالبان زموږ دښمنان نه دي، له دې وروستۍ پیښې سره یې اصلي څېره ښه بربنډه شوې ده. مجاهدینو اوږدې او په روښانه سترګو مبارزې ته له سره، له نوي هوډ اونوي عزم سره متې رانغښتي دي.

د امیرالمؤمنین غیرتمندانه شهادت ددښمن د محلي تالې څټونکو هغه د کلونو تبلیغات هم په اوبو لاهو کړل چې د شهید منصور صاحب په حواله یې کول، هغه ته یې بیلابیل نسبتونه کول او ډول ډول تورونه یې پرې لګول. د منصور صاحب په دې ډول شهادت سره ثابته شوه چې هغه له هیڅا سره تړاو او قرارداد نه درلود. د یوه امیر په حیث د هغه ژوند او ګوزاره دومره سخته وه چې له ډیر احتیاط څخه یوازې او په کرایي موټرو کې یي سفر کاوه، هغه د خپل امنیت او حفاظت لپاره له هیڅا سره قرارداد نه درلود بلکې یوازې الله تعالی ته مسؤل و. نوځکه یي دمظلومیت او تنهایي په تر ټولو سخت حالت کې د شهادت جام نوش جان کړ، خو د کوم کافر یا منافق د دوستۍ دلاس او امنیتي تضمین عار یي قبول نکړ.

د اسلامي امارت د لومړني شخص په حیث د نوموړي دغه ویاړمن شهادت د امارت په رهبرۍ او مشرتابه د افغان مجاهدینو او مسلمه امت باور نور هم زیات کړی دی او اوس ټول په دې باور شول چې دغه صف د مادي سیاسي معاملو، استخباراتي لوبو او دنیوي ګټو او هوسونو صف نه دی. بلکې صرف د الهي دین د خدمت او لله فی الله جهاد صف دی. چې حتی لومړنی شخص یې هم د شهادت په وینو لمبیدلی له دنیا څخه رخصت اخلي.

بله دا چې تاریخ ثابته کړې چې قربانۍ او شهادتونه همیشه د یوه خوځښت د بقاء او پایښت اسباب ثابت شوي، د شهیدانو وینې همیشه د اسلام او جهاد ډیوې ته د تیلو کار ورکړی. دا د طبیعت قانون دی کوم څوک چې د قرباني ورکولو عزم لري د هغوی محو کول محال دي. کوم څوک چې د الله تعالی ددین لپاره وینه تویې کړي په هغو خلکو هیڅکله د کفر برلاسي نه راځي.

نو کفار او د هغوی پټ او ښکاره ایتلافیان دې پوه شي، چې په دې ګوزار سره یې دومره زیان مجاهدینو ته نه دی رسولی لکه خپل ځان ته یې چې د ددښمنۍ اور ژبغړاند کړی دی. ان شاءالله راتلونکی وخت به ثابته کړي چې د منصور صاحب په شهادت سره د جهاد صفوف نور پیاوړي شوي او دده د وینو په برکت دا قافله تر منزله رسیدلې وي.

۲۶\۵\۲۰۱۶

## وا منصوراه...!

**حقانی هروی- نویسنده و خطیب**

هر خبری قابل هضم است اما خبر شهادت امیر محبوبم عالیقدر منصور صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ بسیار به مشکل هضم و تحمل می شود؛ ندای وامنصوراه ... از همه جا شنفته می شود.

همه صدایش می کنند او را ...

بله امیرالمومنین شهید را ...

منصور عزیز را ...

یا الله چقدر سخت است جواب امت اسلامی را ...

مظلومین جهان را ...

**عرب و عجم ندایش می کنند وا منصوراه ...**

**کجا شدی رهبر عالیقدرم ...**

**کجا شدی که ملت مظلوم افغان با چشمان اشکبار فریادت می زنند؛ بله شما را فریاد می زنند شمایی که ندای شما عفو و رحمت و بخشش بود.**

**پیام شما پیام صلح و آشتی و رافت و رحمت بود.**

**نگاه شما عمیق و پر سوز بود.**

**قلب شما آکنده از غم و درد بود.**

**وجود شما وقف اعلای کلمة الله و عزت اسلام و مسلمین بود.**

**کجا شدی رهبرم ای سمبل مقاومت و بیداری.**

**ای شفای دردها و رنج های امت مسلمه ...**

**همه شما را صدا می زنند ای منصور عزیز!**

**وا منصوراه ... وامنصوراه ... وامنصوراه ...**

**یتیم، معلول، بیوه زن، غریب، بی چاره، مستضعف، بی نوا، دردمند، بی کس، ستمدیده، زجرکشیده، درد دیده، مادر، پدر، خواهر، معلم، دانشمند، سیاه پوست، سفید پوست، عرب و عجم همه شما را فریاد می زنند ای منصور عزیز ای رهبر مقاومت و جهاد و مبارزه، ای کوه صبر و استقامت، ای مرد حلم و بردباری، ای دشمن سرسخت یهود و نصارا ...**

**و ای خار چشم دشمنان ...**

**ای منصور عزیز!**

**سربازان فداکارت فریادت می زنند ای امیر شهید!**

**بر شهادت تو بیعت می کنند با نایب لایق شما!**

**ای سردار شهدای امارت اسلامی افغانستان!**

**ای خار چشم امریکا، ناتو و حکومت وحشت ملی ...**

**ترسیدند وقتی دیدند شجاع و نترسی ای رهبر فرزانه!**

**وامنصوراه ...**

**ای نایب لایق امیرالمومنین ملامحمد عمر مجاهد، همه گوش بـه فرمـان شـما و چشم به راه شما بودند ولی ناگهان به سوی حق بر کشـیدی و جـام زریـن شـهادت را سرکشیدی و دعوت حق را لبیک اجابت گفته و با افتخار گوشت و پوست و خون شما در راه الله تیکه پاره شد...**

**ای وارث خون فاروق و عثمان و حیدر رضی الله عنهم**

**و ای وارث خون سیدالشهداء حمزه رضی الله عنه ...**

**شهادت تان خجسته و مبارک باد.**

**ای سردار مظلوم و ای شهید راه حق ای اسطورۀ جهاد و قهرمـانی نامـت تـا ابـد جاویدان تاریخ و قلب های ماست؛ و خون سرخ شـما حـاکی از مبـارزه مخلصـانۀ تـان برای الله!**

**این صف که شما رهبرش بودید آرمان شما را لحظه ای فراموش نکرده و ان شـاء الله تا سرمنزل مقصود سربازان جان بر کف شما راه مبـارک و مقـدس جهـاد را ادامـه خواهند داد تا ذلیل شود امریکا و هر چه کافر و دشمن است ان شاء الله.**

**ارواح تان شاد، شهادت تان قبول حق و جنت الفردوس جای تان باد رهبر عزیزم و ای امیر شهیدم!**

**حسبناالله و نعم الوکیل نعم المولی و نعم النصیر.**

**٢٦\٥\٢٠١٦**

# د جهاد قافله د امیرانو او مشرانو په وژل کېدو کمزورې کیږي؟!

**حماد نیازی- لیکوال او دجهادي چارو څارونکی**

**کفري ځواکونه او د هغوی لاسپوڅي تل هڅه کـوي چـې د مجاهـدینو مشرانو او امیران په نښه کړي، هغوی په دې باور دي چې د مجاهدینو د مشرانو او امیرانو په لـه منځه وړلو سره به د جهاد قافله کمزورې او له پښو وغورځیږي؛ خو دا چـې آیـا رښـتیا هـم د مشرانو او امیرانـو پـه شـهادتونو او مرګونـو سره مجاهـدین کمـزوري کیـږي؟ مورالونه بایلي او کنه؟ غواړو چې دې پوښتنې ته ځواب ووایو.**

**جهاد شرعا په دې مانا دی: » د خدای د دین او رښتینې کلیمې د لوړوالي لپـاره مبارزه کول « د جهاد تعریف پورته پوښتنه په خورا ښه ډول ځوابوي او ټولې نـړۍ تـه ښیي چې مجاهدین هغه خلګ دي چې یواځې د رښتینې کلیمـې د لـوړوالي لپـاره هـر ډول مبارزه کوي، ځینې ځوانان تر سینو باروت راتاوه وي او په خپلو غوښـو او هـډوکو سره د دښمن ماغزه شیندي، ځینې نور بیا وسله په غاړه شپه او ورځ د غلیم پـل څـاري او چې چېرته یې ووینې نو په دا سر یې ولي، ځیني مجاهدین بیا پـه ژبـه جهـاد کـوي، خلګو ته د کفر او د هغوی د لاسپوڅو شوم پلانونه واضح کـوي او پـه مسـتقیم او غیـر مستقیم ډول یې له ټولو شومو هدفونو خبروي، ځینـې مسـلمانان د مـال جهـاد کـوي، مجاهد ته وسله او جنګي اسباب برابروي او داسي نور. شرعا هم جهـاد پـر درې ډولـه ښودل شوی دی، حدیث کې راځي چې نبي صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته امر کـوي چې په مال، ځان او ژبه د باطل مقابله وکړئ! بیرته خبرې ته راګرځو نـو جهـاد همـدې ته وایي چې یواځې د خـدای د رضـا لپـاره څـوک مبـارزه وکـړي، بنـاء هـېڅ مجاهـد د اشخاصو لپاره خپله مبارزه نه کوي او نه هم ځان د اشخاصو لپاره په اورونو ګډوي، نـو**

څوک چې د اشخاصو لپاره مبارزه نه کوي د هغه چا مبارزه د قیادتونو په وژل کیدو او تغیر سره تغیر نه خوري.

سمه ده چې مجاهدین خپل منځ کې ډېره خواخوږي سره لري، یو بل ته ګران وي او مشران خو یې بیخي د سرسترګې وي، چې په بیلتون یې د ټولو مجاهدینو له سترګو اوښکې او لـه زړه وینـې څڅیـږي، مجاهـدین د دې پـر ځـای چـې د خپلـو مشرانو د شهادتونو له کبله مورالونه وبایلي، بلکې برعکس یې د انتقام وینه په جوش راځي او یو په لسه خپـل بریدونـه انتقامـا تیـزوي. کـه اسـلامي تـاریخ تـه لاړ شـو او وګـورو چـې مجاهدین د خپلو مشرانو په شهادتونو سره کمزوري شوي دي کنه؟ نو په ټول اسـلامي تاریخ کې نشو پیدا کولای چې د قیادت په تغیر یـا لـه منځـه تلـو سره دې مجاهـدین کمزوري شوي او یا ختم شوي وي.

په اسلامي تاریخ کـې حضرت محمـد صـلی الله علیـه وسـلم هغـه وخـت د ټولـو مجاهدینو او مسلمانانو پیغمبر و، امیر یې و او باچا یې و، خو چې کله حضرت محمـد صلی الله علیه وسلم له پاني نړۍ نه سترګې پټوي او د اجل داعي ته لبیـک وایـي، مـوږ وینو چې د مجاهدینو د قافلې د رهبري لپاره حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه راځي او دا قافله په خورا ښه ډول مهاروي، همداراز د ابوبکر صدیق رضی الله عنه لـه وفـات پـس حضرت عمـر رضـی الله د مسـلمانانو امیـر ټاکـل کیـږي او د مسـلمانانو رهـبري کوي... دا سمه ده چې کله امیر المومنین وفات کیږي نـو ځینـي منـافقې څېـرې سر راپورته کوي او د مسلمانانو ترمنځ د بدمرغیو، جنګونو او بې اتفاقیو اور ته لمـن وهـي، خو هغوی ته خدای په ډېر لنډ او کم وخت کې د مجاهدینو په لاس د ځپل کیدو سـزا ورکوي. تاسو وګورئ چې کله د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د وفات غږ خپور او ابوبکر صدیق امیر المومنین وټاکل شو، ځینې کسان مرتد شول او ځینې نور لـه زکاتـه منکر شول، خو ابوبکر صدیق رضی الله عنه په ډېر کم وخت کې د هغوی مخـه ونیولـه او په توره سره یې درس ورکړ.

مورِ ولیدل چې د مسلمانانو امیر ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ د وفات غږ خپور شو، ځینو څیرو د غرب په اشارو پوره کوښښ وکړ چې د مجاهدینو ترمنځ اختلاف راپیدا کړي او د مجاهدینو قوت وویشي، خو د اسلامي امارت د باتدبیره مشرانو هڅې وې چې دا بدمخي یې یو لوري ته کړل او د تورې درس یې ورکړ، تاسو ولیدل چې دا خلګ اوس نه خواخوږي لري او نه هم افراد.

په داسي حال کې د ملا اختر محمد منصور د شهادت خبرونه نشرېږي، چې د همدې بدمرغو څیرو تېر درس هېر نه دی او اوس یې هم زخمونه تازه او خونړي دي، نو زما په فکر باندي د مجاهدینو ترمنځ د درز اچولو چانس خورا کمزوری دی.

البته دا خو واضحه ده چې طالبانو د ملا محمد عمر رحمه الله له وفات روسته عملاً ټولې نړۍ ته وښودله چې د خپل امیر په مرګ نه یواځې داچې کمزوري کیږي نه بلکې لا یې وینې جوش کوي او د پخوا غوندې یو په لسه خپلې حملې تېزوي، اوس به هم د طالبانو پر عملیاتو او بریدونو د ملا اختر محمد منصور شهادت نه یواځې داچې منفي اغېز به ونه کړي، بلکې ډېر احتمال شته چې هغوی به بریدونه او جنګونه څو چنده تېز کړي.

دښمن اوس هم قرار نه دی ناست اوس هم کوښښ کوي چې د مجاهدینو ترمنځ د بې اتفاقۍ اور بل کړي، مجاهدینو ته په کار دي چې له تېر نه په درس اخیستلو سره د دښمن شومو پلانونو ته متوجه شي، او ان شاء الله چې د اسلامي امارت مشران د دښمن شومو پلانونو ته په پوره ډول متوجه هم دي او د بې اتفاقۍ چانس خورا کم دی.

۲۶\۵\۲۰۱۶

# ژوند دې هم افتخار و او شهادت دې هم افتخار دی

**موسی مهاجر**

**مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا. [الأحزاب: ٢٣]**

**كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَمَن زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَما الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلاَّ مَتَاعُ الْغُرُورِ. آل عمران ١٨٥**

**په دغه مبارک آیت کې الله تعالی حکم کړی، چې هر نفس څکونکی د مرګ دی، یعنی هر ژوندي ته مرګ رسیږي، که څه وروسته وي او که مخکې له مرګ څخه خلاصون نشته، خو د افتخار او ویاړ ژوند او مرګ هر چاته نه رسیږي، تاریخ ډېر لږ داسې کسان ثبت کړي، چې ژوند او مرګ دې له افتخار څخه ډک وي، ځکه افتخاري ژوند او مرګ تر کلک هوډ، عزم، دیانت، په دین استقامت، خدمت، خلوص او سپېڅلتیا پورې تړلی دی او دا اوصاف په نسبي ډول په ډېرو لږ کسانو کې موندل کېدلی شي.**

**د امت شهید امیرالمومنین ملا اخترمحمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ هم یو له دغو ویاړمنو کسانو څخه و، چې هم یې ژوند له افتخار څخه ډک و او هم یې مرګ د افتخار شو، شهید منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ خپل ټول ژوند ددین او اسلام خدمت ته وقف کړی و او ویاړلې کارنامې یې تاریخ ته پرېښودلې، هغه ته د اسلامي امارت د مشرتابه دنده په یوه حساس وخت کې د اشغال له دوام سره سره د اسلامي امارت د مؤسس امیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ تر وفات وروسته وسپارل شوه، مورِ وینو، چې په نړۍ کې ډېر ځله ددغه ډول خوځښتونو د مؤسسینو تر وفات وروسته په دغو خوځښتونو کې تفرق راغلی او یا بیخي له منځه تللي دي، خو شهید منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ د الله تعالی په**

مرسته او په خورا زیرکتیا او کلک هوډ اسلامي امارت متحد وساته او یواځې متحد نه بلکې د پخوا په نسبت یې لا زیات غښتلی او قوي کړ.

امریکایان چې د جګړې په ډګر کې له ماتې سره مخ شوي، کوښښ یې پیل کړ، چې د خپلې ماتي انتقام د اسلامي امارت په منځ کې د اختلافاتو په پیدا کولو سره واخلي او په دې سره اسلامي امارت کمزوری او واک ته د بیا رسېدلو مخه یې ونیسي، هغه و، چې د دې کار لپاره یې په میلیونونو ډالر مصرف کړل او ځینې کسان یې د امارت په وړاندې راپورته کړل، خو د امت شهیدملا اخترمحمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ په یوه قاطع اقدام سره ددغو عناصرو مخه ونیوله، هم یې ولس د هغوی له شر څخه خلاص کړ او هم یې د مجاهدینو صف د هغوی له ضرر څخه وساتو.

دښمن د اسلامي امارت د کمزوري کولو د هڅو په لړ کې داعشي پروژه هم په کار واچوله، خو شهید منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ د یوه غښتلي امیر په توګه دغه پروژه هم له ناکامي سره مخ او هیواد او ولس یې تر زیاته حده د هغوی له شرارت څخه وژغوره.

شهید امیرالمومنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ د خپل امارت په ډېره لنډه موده کې د اسلامي امارت ستنې، چې د بقا تضمین یې کوي مضبوطې کړې او یو قوي او متحد امارت یې تر شا پرېښود، اروابنباد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ خپل مسوولیت ترټولو په ښه ډول ادا کړ، نه یې د چا ګواښونو او غوښتنو ته غاړه کېښودله اونه یې هم له چا سره د امارت په سر معامله وکړه، په هرکار کې یې د شریعت بشپړه اتباع کوله او د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د دغه قول (من کان مستناً فلیستن بمن قد مات، أولئک اصحاب محمد صلی الله علیه وسلم، کانو خیر هذه الأمة، أبرّها قلوباً، و أعمقها علماً، و أقلها تکلفاً، قوم اختارهم الله لصحبة نبیه صلی الله علیه وسلم، ونقل دینه، فتشبهوا بأخلاقهم، فهم أصحاب محمد صلی الله علیه وسلم، کانو علی الهدی المستقیم) په نظر کې نیولو سره په بشپړه توګه د صحابه وو رضی الله عنهم په نقش قدم روان و او د مومنانو په دې صفت (لایخافون لومة لائم) باندې متصف و.

شهید امیرالمومنین اسلامي امارت ته د ور پېښو چېلنجونو په غوره ډول مقابله وکړه، د دښمنانو خارجي او داخلي ټولې دسیسې یې شنډې کړې، اسلامي امارت یې له انتشار څخه وژغوره، د اسلامي امارت استقلال یې همداسي د پخوا په ډول وساته، د امارت د مصالحو اړوند یې هیڅ ډول تنزل ونه کړ، د مجاهدینو صفونه یې تر بل هر وخت ښه منظم کړل، د یوه فاتح په توګه یې د هیواد زیاتې سیمې فتحه کړې، د یوه باوري امیر په توګه یې د نړۍ د مسلمانانو اعتماد او بیعت ترلاسه کړ او په دې ډول یې له ویاړه ډک مسیر غوره کړی و.

لکه څنګه چې شهید امیرالمومنین د افتخار او ویاړ ژوند درلود، همداسې یې مرګ هم د افتخار شو، د امیرالمومنین په توګه دده د شهادت بېلګه د اسلام د تاریخ په دې وروستیو پیړیو کې هیڅ نه ده لېدل شوې، شهید امیرالمومنین لکه څنګه چې په خپل ژوند کې د حضرت عمر، حضرت عثمان او حضرت علي رضی الله عنهم لار پرې نه ښودله، همداسې یې په خپل مرګ کې هم د هغوی لاره تعقیب کړه او هغه ویاړلی شهادت، چې د اسلام دې دریو راشده خلفاوو ته نصیب شوی و، ده ته هم ور په برخه شو او د مسلمانانو د امیر په توګه یې د شهادت افتخار ترلاسه کړ.

اې امیرالمومنینه! مورږ دربانديې ویاړو او د اسلامي امت راتلونکي نسلونه به دربانديې افتخار کوي، الله تعالی دې خدمتونه او شهادت قبول او جنة الفردوس نصیب کړه.

٢٦\٥\٢٠١٦

# هغه أمیر چې په دیدن یې سیراب نه شوو

**حبیب مجاهد**

د روان هجري قمري کال د شعبان میاشتې په ۱۴ مه نیټه یوه دردوونکې پېښه رامنځته شوه. د اسلامي امارت زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور صاحب د امریکایي طاغوت په یوه ډرون توغندیز برید کې د شهادت لوړ مقام ته ورسېد. انا لله و انا الیه راجعون

شهید امیرالمؤمنین تقبله الله زموږ لپاره کوم عادي څوک نه و، هغه زموږ شرعي امیر و، لاس په لاس مو ورسره په جهاد او شریعت ته په التزام بیعت کړی و. د نوموړي تر مشرۍ لاندې د مرګ او ژوند په بیه د جهاد او مبارزې میدان ته کوز شوي وو. دده هر امر مو د ځان لپاره واجب باله، او دده په اطاعت او د فرامینو په امتثال کې مو د الله تعالی رضا لټوله.

خو دا به د تقدیر پرېکړه وه چې هغه ویاړمن، متشرع، ثابت او غیرتمند امیر یې له موږ څخه واخیست. موږ لا د هغه امیر په امارت تنده نه وه ماته کړې، د هغه له دیدن څخه نه و سیراب شوي چې هغه الله تعالی ځان ته وروباله. هغه ته رب تعالی د شهادت ویاړمن سعادت ورپه نصیب کړ، هغه سعادت چې ډېر لږ به د زعماؤو په نصیب کیږي. نحسبه کذلک والله حسیبه

څرنګه چې د زمان او مکان شرایط ډېر سخت او حساس دي، د الله تعالی دښمنان ډېر زیات او د جهادي رهبرانو هر حرکت ته متوجه دي، نو ځکه منصور صاحب هم اړ و چې ډېر په عامه غونډو او له مجاهدینو سره په مجالسو کې څرګند نه

شي. خو له دې سره سره هم د الله تعالی شکرګذار یم چې د مجاهـدینو د هغـه شـهید امیر د لیدلو سعادت یې دوه ځله رانصیب کړی دی. هوکې، یوازې دوه ځله. چې مـوږ یې د لیدلو شرف حاصل کړ مګر په بیا بیا مجالست او خواله یې سیراب نه شوو.

لومړی ځل د ۱۴۳٦ هـ ق کال د صفر المظفر د میاشتې په ۲۴ مـه نیټـه وه، هغـه وخت چې لا د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد د وفات خبره نه وه اعـلان شوې او شهید منصور صاحب تقبله الله د امارت د نا اعلان شوي مشر پـه حیـث دنـده اجراء کوله نوموړي غوښتل د فرهنګي کمیسیون له کارکوونکو سره له نږدې وګـوري د هغوی کارونه وارزوي، پیشنهادات او خبرې یې واوري او مخـامخ ورسره د زړه خوالـه وکړي.

غرمې ته لا څه وخت پاته و چې منصـور صـاحب د فرهنګـي کمیسـیون د ملګـرو مجلس ته تشریف راوړ، فرهنګي مجاهدین یې د احترام په خـاطر ولاړ شـول، لـه هـر ملګري سره یې په غېږ روغبړ وکـړ، د روغبـړ لـه پـای تـه رسـیدو وروسـته دفرهنګـي کمیسیون محترم رئیس جناب متقي صاحب مجلس پیل کـړ لـومړی یـې هـر ملګـری ورته معرفي کړ، او بیایې لنډې افتتاحیه خبرې یې وکړې.

وروسته د ملګرو د انتظار موافق جناب ملا اختر محمـد منصـور صـاحب خپلـې خبرې په حمد او صلاة سره پیل کړې. چې مایې ځیني برخې پـه کاغـذ راسره یاداشـت کړې چې غواړم دلته یې له تاسو سره هم شریکې کړم.

جناب منصور صاحب په پیل کې له فرهنګي او قلمي مجاهدینو مننه او قدرداني وکړه او دفرهنګي کمیسیون کارنـامې یـې وسـتایلې، نومـوړي وویـل: لله الحمـد زمـوږ مطبوعاتي او نشراتي کارونه له نظامي جهادی فعالیتونو سره غبرګ او څنګ په څنـګ روان دي، دا ستاسو دمشقاتو او اخلاص برکت دی چې دا شـعبه پـه ډېـره ښـه طریقـه فعاله ده، دامارت مشرتابه ستاسو د هریوه ملګري د مخلصانه او دقیـق کـار قـدرداني کوي او له الله تعالی څخه درته پوره پوره اجرونه غواړي.

نوموړي وویل: موږ پوهیږو او نړیوال هم پوهیږي چې داسلامي امارت نشراتي فعالیت د امکاناتو په نسبت ډېر پراخ او سریع دی، تاسو هر یو په خپل کاري بخش کې داسلامي امارت نماینده یاست او باید دغه عهده په ښه توګه ترسره کړئ.

لله الحمد د فرهنګي کمیسیون په رأس کې ټول اهل کسان دي، چې زموږ ورباندې اعتماد دی او د فرهنګي کمیسیون دمشرانو اهلیت ددې سبب دی چې موږ له دې جهته بیخي مطمئن یو، له همدې امله مو په تاسوډېره پوښتنه نه ده کړې.

جناب منصور صاحب زیاته کړه: په فرهنګي او نشراتي کارونو کې باید ډیر دقیق واوسو، خپلې رسمي پالیسۍ ته مو باید همیشه پام وي او باید ورباندې پوه واوسو، نن سبا حالت ډېر سخت او همیشه بدلیدونکي دي، چې له موږ نه ډیر دقت او هوښیاري غواړي.

نوموړي له دې وورسته د یوشمیر موضوعاتو په اړه لکه روان جهاد، له القاعده تنظیم سره د رابطې، د ښځو حقوق او تعلیم، د سولې مذاکرات او یوشمیر نورو موضوعاتو په اړه داسلامي امارت رسمي پالیسي بیان کړې، چې دملګرو د قناعت سبب شوې، نوموړي له دنیا سره د تعامل په اړه زیاته کړه:

دنیا یا نړیوال حکومتونه ځکه له موږ سره توافق ته نه رسیږي، چې زموږ او ددوی ترمنځ په اساسیاتو او ارزښتونو کې ډیر تفاوت دی، اوسنۍ نړۍ له دین او دینداري څخه بیلارې شوې ده، او شریعت ته هیڅ عملي اعتناء نلري، په داسې حال کې چې موږ شریعت ترټولو لوړ ارزښت بولو او دهمدې لپاره مبارزه کوو، دنیا له موږ غواړي چې له بعضې شیانو ورتېرشو له ځینو به دوی راتېر شي، دوی شاید راتېر شي ځکه ددوی ارزښتونه خودساخته دي، چې خپله یې جوړ کړي او په خپله یې فسخ کولای هم شي اما زموږ ارزښتونه خو اسماني دي، موږ هیڅ داسې شی نلرو چې تر هغه تېر شو، مثلا دوی وایي له حدودو، د ښځو له حجاب او ستر یاداسې نورو اسلامي ارزښتونو راتېر شئ، خو آیا موږ له دې شیانو تیریدلای شو؟ ځواب واضح دی چې نه. ځکه همدا

زمونږ دین دی په همدې مکلف یو دا شیان مونږ ته الله تعالی ټاکلي چې مونږ یې منسوخ کولای نه شو.

نړیوال وایي چې امارت سخت دریځه دی، باید ووایم چې امارت سخت دریځه نه دی، مونږ یوازې په دین ټینګي منګولې لګولې خو داچې نړیوال له دین څخه پردي شوي نو مونږ ورته سخت دریځه ښکارو.

باید ووایم چې د فتنو په دې دور کې همدا په دین اعتصام ددې باعث شوی چې مونږ په نړۍ کې یوازې شو، مونږ ددنیا په اعتبار یوازې یو مګر دالله تعالی په نزد یوازې نه یو، ځکه الله تعالی له مونږ سره دی، پرېږده که دنیا راسره غاړه نه وړي خو مونږ به په الله تعالی تکیه کوو، ځیني خلک وایي ستاسو ځواک دومره نه دی چې وطن ونیسئ باید ووایم چې مونږ د وطن په نیولو مکلف نه یو بلکې د عقیدې په ساتلو مکلف یو.

په افغانستان کې روان جنګ زمونږ یو ضرورت دی، هیڅوک له مستۍ جنګ نه کوي هرچا ته ارامي خوند ورکوي، خو زمونږ هیواد ته کفار راغلي دي، زمونږ هیواد یې اشغال کړی او اسلامي نظام یې رانړولی دی، دوی زمونږ په مفکوره کارلري، زمونږ نسل راګمراه کوي او د داسې کفري فعالیتونو په وړاندې په مونږ جهاد فرض عین دی.

جناب منصور صاحب نورې هم خورا په زړه پورې څرګندونې وکړې، نومورې په سړه سینه ژور غږېده او دمسائلو په اړه یې د مشرتابه دریځ خورا واضح بیانوه، د نومورې له خبرو وروسته د فرهنګي کمیسیون مرستیال مرحوم حقاني صاحب او ورپسې داسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد صاحب خبرې پیل کړې او بیا د مجلس هر ملګري ته د خبرو نوبت ورکړل شو ترڅو که د امارت د پالیسۍ، کړنو او فعالیتونو په اړه کوم نظر، پیشنهاد یا اعتراض لري په ازاده فضاء کې یې مطرح کړي.

ددې مجلس په جریان کې د جناب منصور صاحب په لاس کې قلم او کتابچه وه چې د هر ملګري خبره یې یاداشتوله او بیا به یې که ځواب یا وضاحت غوښت په ډېره خوږه ژبه یې ورته ځواب وایه. دا مجلس دا برخه ځکه ډیره جالبه وه چې د بیان پوره

ازادي وه او د عمري حاکمیت یوه ژوندۍ بېلګه چې د مجلس هر عادي ګډونوال کولای شوای خپل انتقاد یا وړاندیز په پوره جرأت سره د خپل امیر په وړاندې ووایي او د منصور صاحب لخوا یې هم په ویړه ټنډه هرکلی کیده او واضح ځوابونه ورته ویل کیدل.

د مجلس په وروستۍ برخه کې منصور صاحب یو ځل بیا لنډې خبرې وکړې چې ما له ځان سره داسې یاداشت کړي دي:

منصور صاحب وویل: اسلامي امارت زموږ او تاسو ګډ کور دی، کوښښ به کوو چې دا کور محفوظ وساتو او څوک یې رانه کنډو نه کړي، له تبعیض او تعصب نه باید ځان وساتو، خپل منځي اتحاد، اطاعت، تقوا، اخلاص او داعمالو اصلاح ته باید ډېر متوجه واوسو، ځیني ملګري له تقوا څخه دا معنی اخلي چې یوازې په پیسو او مالي چارو کې له حرامو ځان وساتي، خونه، تقوا باید په هرڅه کې ولرو، له خپلو ملګرو سره په چلندکې، په خپل جهادي کار او ټولو کړنو کې باید تقوا ولرو.

ددې په ځای چې دبل په عیبونو پسې وګرځو باید خپل عیب ته متوجه واوسو، داسلامي امارت پالیسۍ یا ځیني کړنې که درته ناسمې ښکاري په وړاندې یې په پټو سترګو اقدام مه کوئ لږترلږه یوځل ځان ته موضوع معلوموئ او وضاحت غواړئ.

د اسلامي امارت نائب په پای کې له ملګرو د خصوصي دعاګانو غوښتنه وکړه نوموړي وویل سخت او درونده مسؤلیت ورلغاړې دی او ټول ملګري باید ورته د استقامت او اصلاح دعاګانې وکړي.

له شهید أمیرالمؤمنین منصور صاحب تقبله الله سره دوهم ځل لیدل مې د ۱۳۹۴ لمریز کال د اسد د میاشتې په اتمه نیټه په هغه ورځ و چې نومورې رسما د اسلامي امارت د زعیم أمیر المؤمنین په حیث وټاکل شو. په دې ورځ د اسلامي امارت د مسؤلینو اومشرانو مجاهدینو د بیعت یوه لویه غونډه جوړه شوې وه، زه هم دې غونډې ته ورغلم، د اسلامي امارت د استخباراتو د اداري امنیتي کسانو فوق العاده حفاظتي

ترتیبات نیولي وو، چې غونډې ته ورغلم د شیخ عبدالحکیم صاحب بیان شروع و، ورپسې د ملا اختر محمد منصور صاحب مرستیال او اوسني امیرالمؤمنین شیخ هبت الله صاحب عالمانه وینا وکړه، د مرحوم ملا صاحب په ژوند او کارنامو وغږېد او له نوي امیر سره د بیعت خبره یې یاده کړه.

وروسته مجلس ته ملا اختر محمد منصور صاحب تشریف راوړ، او له لږ دمې وروسته یې خپله وینا پیل کړه، نوموړي دا ځل هم خورا جذابه او اغیزناکه وینا وکړه چې وروسته د نوموړي د لومړني رسمي بیان په حیث په غږیز شکل په رسنیو کې هم خپره شوه.

نوموړي د مرحوم ملاصاحب د مناقبو د ذکر تر څنګ د امارت په اوسني وضعیت رڼا واچوله، په جهادي عزم یې ټینګار وکړ او ویې ویل چې موږ له شریعت پرته بل مسیر نلرو، ژوند او مرګ به مو ټول په شریعت وي، دموکراسي نه په کې ځاییږي. له وینا وروسته له جناب امیر سره د بیعت سلسله پیل شوه، دامارت مسؤلو مجاهدینو او مشرانو په پوره شوق او ولولو ورسره بیعت وکړ چې په دې ترڅ کې ما هم ورسره په پوره شوق اواخلاص لاس په لاس بیعت وکړ.

د بیعت په کولو سره مې له زړه څخه هغه بوج یو دم سپک شو چې د اسلامي امارت د مؤسس امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ د وفات د درانه غم له امله پیدا شوی و، د مازدیګر لمونځ مو د جناب منصور صاحب په امامت اداء کړ او چې بهر راووتلم نو موسم خورا خوندور و، نرۍ نرۍ باران وریده او د ټولو مجاهدینو په سترګو کې ځلا او په شونډو موسکا په نڅېدو وه، د موټرو د دریدو له ځایه مې خپل موټر سایکل را روان کړ چې دغه مهال دمجلس ځای ته بیا رانږدې شوم جناب منصور صاحب مې یو ځل بیا ولید چې په موټر کې سپور او روان و، همدا مې د هغه تاریخي زعیم وروستی ځل لیدل شول چې څېره یې راسره اوس هم د ذهن په تخته منقوشه پاته ده.

اوس چې جناب امیر محترم منصور صاحب زمونږ په منځ کې نشته او د شهادت په وینو رنګین د خپل رب لقاء ته ورغلی، له الله تعالی څخه ورته د شهادت قبولیت غواړم. ویاړ په داسې امیر چې شهادت ته اماده شو مګر د کفارو، منافقینو او د هغوی د محلي لاس پوڅو هیڅ ډول، زور، زر، زاریو او تزویر یې په عزم او اراده کوم اغېز ونکړ بلکې تر پایه خپل سپیڅلي دریځ ته پایبند پاته شو.

رحمه الله تعالی

٢٦\٥\٢٠١٦

# د امریکایانو پیغام او د طالبانو ځواب!

**موسی فرهاد**

ځو ورځې وړاندې د ډیورنډلاین په اوږدو کې امریکایي ډرون برید د طالبانو مشر أمیر ملا اخترمحمد منصور په نښه او په شهادت یې ورسا وه، له برید وروسته اوباما وویل: مونږ د طالبانو مشر په نښه کړ، دا یو ستر ګام دی، په افغانستان کې مو د سولې چانس برابر کړ، طالبان دې د کابل حکومت ومني، کنه نور بریدونه به ورباندې وشي. له دې سره د کابل ناوسه چارواکو هم د اوباما په تعقیب وویل: منصور مو ویشتلی، طالبان دې سوله وکړي، کنه بیا به یې امریکایان په ډرون وولي.

د بې پیلوټه الوتکې د برید قوماندې اوباما په غاړه اخیستل، ورپسې بیا پخپله اعلان کول او بیا د کابل د لاسپوڅي رژیم لخوا د منصور په وژنه خوښي کول او طالبانو ته د غني او سولې شورا لخوا د تسلیمۍ او یا ډرون ته د تیاریدلو ګواښونه کول ... هغه پیغام و چې امریکا او د هغوی د ګوډاګیانو لخوا د نوي حربې او جدیدي ستراتیژۍ په شکل طالبانو ته ورکول شو.

دا پیغام په داسې مهال ورکول کیږي چې امریکا او د هغې ګوډاګی رژیم په ځلور اړخیزو او نورو ټولو شیطاني هلو ځلو کې له شرمووونکي شکست سره مخ شول، هیڅ یې ترلاسه نکړل، پرته له دې چې ورځ تر بلې په نړیواله کچه د طالبانو له لاسه له رسوایي سره مخ کیږي. حقیقت دا دی چې په دې کار (د طالبانو د مشر په شهادت) او دې ډول اخطارونو سره هم امریکا او هم یې ګوډاګي رژیم، نړۍ ته خپل حماقت او ناوسي وښودله. دا ځکه چې د امریکایانو خو دا لومړۍ وژنه نه ده، هغوی خو دا تېره یوه نیمه لسیزه په افغانستان کې قتل عام جوړ کړی، په زرګونو معصوم انسانان یې هم پخپلو الوتکو او ټانګونو او هم د خپلو ګوډاګیانو په لاس په شهادت رسولي دي. خو بیا یې هم یو افغان دې ته نه دی اماده کړی چې هغه دې دوی ته تسلیم شي. نو چې ۱۶ کاله وروسته بیا هم همغه نسخه باندې دومره خوشحالۍ کوي نو دایې څرګند حماقت ګڼل کیږي.

او ناوسي یې ځکه ده چې یوه نیمه لسیزه یې د نړۍ د ۴۴ هیوادونو عسکر د ځان په ملاتړ په افغانستان کې وجنګول، تنها ډرون نه، بلکي بـــ۵۲، شینوک او په سلګونو نور جنګي وسایل یې بې درېغه وکارول، پایله یې د دوی په شکست او د طالب په بریالیتوب او پرمختګ منتج شوه، نو له دوی سره بله هیڅ فارموله او هیڅ چاره پاتې نشوه، پرته له دې چې د منصور صاحب په شهادت یې د طالبانو د له منځه وړلو بې تعبیره خوب ذهن ته ورغی.

دوی فکر وکړ چې د أمیر له شهادته وروسته به طالبان سخت وویریږي، ټول به تسلیم شي، بل مشر به پیدا نکړي، سره وبه پاشل شي. اختلافات به یې دومره شي، چې له امله به یې جهاد ترې پاتې شي، امریکا او ګوډاګیان به یې د آرام سا واخلي، خپل اشغال او استعماري سیاست ته به له خپلې خوښې سره سم دوام ورکړي. مګر طالبانو د امریکایانو او د هغوی د ګوډاګیانو د دې پیغام په وړاندې ځواب داسې پیل کړ چې تکمیل به یې په نژدې راتلونکي کې دوی خپله د سر په سترګو وګوري. انشاء الله.

طالبانو د تل په څېر له خپل خدای ورکړي فراست او بصیرت څخه داسي کار واخیست چې د دښمن د هیلو بلکل برعکس و، د خپل أمیر له شهادت څخه ۲۹ ساعته وروسته یې د هغه ځای ناستی شیخ هبة الله صیب د نوي أمیر په توګه په بریالیتوب سره غوره کړ، په داسې متفقه شکل چې د اختلاف او بیلوالي تصور هم چا ونکړ. چې دا د دښمن لپاره ترهرڅه مایوس کن ګذار و، طالبانو د بل هر وخت نه څو ځله زیات خپل وحدت او یووالی دښمنانو ته وښود، او پرخپله سپېڅلې تګلاره چې د یرغلګر دښمن له ناپاکو منګولو څخه د وطن آزادي او د خپلو نوامیسو ساتنه ده ؛ نور هم د استقامت او ټینګ دریدلو پیغام ورکړ.

د کابل د ګوډاګي رژیم هغه غوښتنه چې ویلي وو طالبان دې تسلیم شي او یا به یې امریکا په بې پیلوټه الوتکو په نښه کړي ؛ بابیزه وګڼله، بلکې هغه یې د ګوډاګیانو په حماقت او بزدلۍ تعبیر کړه. ځکه چې که ګوډاګیان کولای شي چې طالبان د امریکایي ډرون څخه ووېروي او یا کوم طالب د دوی د کورډینیشن او یا جاسوسۍ په نتیجه کې شهید هم کړي ؛ خو طالبان بیا مستقیماً کولای شي چې ۲۰۰ تنه لوړرتبه ګوډاګیان په لسم ریاست کې له منځه یوسي.

نو طالبان وایی چې د امریکایانو له لوري دا ډول ناعاقبت اندیشه منحوس عمل او جذباتي التې ماتم، او د کابل د رژیم له لوري په پردیو الوتکو طالبان ویرول او پر هغوی باندي د تسلیمۍ ږغ کول ؛ داسې یو پیغام دی چې فقط د دوی بې عقلي او بې وسي ښیی، بل هیڅ نه. دا پیغام نه یوازي دا چې طالبان لا پر خپله تګلاره او پرخپل سپېڅلي منهج ټینګولای او متحد کولای شي، بلکې د رژیم له لوری د سولي او تفاهم هغه دروغجن شعارونه هم په اوبو لاهو کوي چې خلکو ته به یې د روغې جوړې کاذبې ژمنې ورکولې.

۲۷\۵\۲۰۱۶

# یک دیدار تا همیشه... !

**محمود احمد نوید**

**از صبح اول وقت برای یک دیدار رسمی فراخوانده شدیم ابتداء معلوم نبود گپ چی است بعدا که ترتیبات خاص دوستان را دیدیم و اینکه همه در حال آمادگی اند دریافتیم مهمان بسیار بزرگواری را امروز میزبان هستیم؛ تقریبا ساعت نزدیکهای ۱۲ ظهر بود که شخصیت عالیقدر امیرالمومنین منصور صاحب با یکی دو تن همراه در جمع ما تشریف فرما شدند، بعضی دوستان مثل من که نخستین بار بود مشرف به زیارت جناب شان می شدیم واقعا لحظه بسیار شیرین و گوارایی بود (اما از قضای الهی نمی دانستیم که این نخستین دیدار آخرین دیدار نیز هست) با یکی یکی عزیزان با محبت و صمیمیت بغل کشی نموده و جورپرسانی کردند؛ بدون اغراق، اخلاص و صداقت از چهره و وجود مبارک شان می بارید، تبسم بر لب، چهره بشاش، و با صدای آکنده از محبت از یکی یکی دوستان احوالجویی نمودند.**

**ما فقط نگاه شان می کردیم، به سخنان زیبای شان با دقت گوش فرا داده و حالت شخصی و ظاهری شان را به نظاره نشسته بودیم، یک کتابچه و قلم همراه داشت، نشان می داد رهبری با مدیریت و کارآزموده است؛ یکی یکی دوستان مسئول در جمع ما با اشاره ریاست محترم کمسیون (الله متعال عمر طولانی و باعزت نصیب شان کند) فعالیت های خود را به جناب منصور صاحب گزارش می کردیم، گزارش های کاری دوستان را با دقت گوش داده و نکاتی را در کتابچه شان به یادداشت می گرفتند، بسیار صمیمانه در انداز یک رفیق و نه در مقام یک رهبر در بعضی موضوعات در روند کار و فعالیت از دوستان توضیح می خواست، بعد از آن که گپهای رفیق ها تمام شد، ایشان بسیار مودبانه و متواضعانه با کسب اجازه از دوستان، شروع به صحبت کرد، ملایم، نرم و آرام، سنجیده و دقیق پرمحتوا و صمیمی سخن**

می گفت، در موضوعات مختلف بسیار مفصل و مدلل گپهای بسیار ارزشمندی ایراد فرمودند.

یادم هست که راجع به اهمیت فعالیت فرهنگی و نشرات و تبلیغات ابراز علاقه خاص نموده و فعالیت در این عرصه را بسیار مهم قلمداد کردند، عبارت زیبایی که در این موضوع به کار بردند؛ «اعلام و خبر» بود و راجع به این موضوع و اهمیت آن به تفصیل صحبت فرمودند، اعلام و خبر را تنها حربه ای دشمنان دانست که امروزه پس از شکست های سخت نظامی و سیاسی برای شان مانده و ابراز خشنودی نمودند که دوستان در مجموعه فرهنگی نیز تا حد توان خوب درخشیده و فعالیت شان در قسمت تبلیغات دشمنان را و توطئه های آن را تا حدود زیاد خنثی نموده و ابراز امیدواری کردند که در آینده از این هم بهتر شوند.

راجع به مردم ملکی منصور صاحب از صحبت های شان معلوم بود که بسیار دلسوزی داشته و تاکید می فرمودند که باید راجع به ملت شریف خود بسیار متوجه باشیم که آزرده نشوند برای شان در ساحات تحت کنترول مجاهدین که خدمات ملکی انجام می گیرد از طریق رسانه های خبری (این نوع خدمات) برجسته شود و همینطور به کارهای عمران و آبادی مجاهدین و فعالیت های غیر نظامی آنها کوشش شود که در رسانه ها و در صفحات اجتماعی خوب تبلیغ شود تا حقایق ما به ملت عزیز ما خوبتر روشن شود و حتی فرمودند اگر امکان می داشت کاش یک مجله در قسمت کارهای عمرانی می داشتیم گرچه شش ماهه می بود یا سالنامه.

وقت نماز ظهر که رسید به شمول جناب منصور صاحب همه برای نماز آماده شدیم، فضای بسیار خوبی حاکم بود و شاید خاطره انگیزترین روز زندگی برای ما، پس از نماز در حین صرف غذا نیز منصور صیب بسیار بی تکلف در جمع دوستان نشست و مثل یک رفیق در کنار سایر رفیق ها قرار گرفت، بعد از آن دو مرتبه مجلس آغاز شد این بار نیز ضمن ارایه بعضی گزارش های کاری توسط دوستان، در فضای باز و صمیمی اعضای فرهنگی را مخاطب قرار داده که نسبت به جهاد فرهنگی دلایل

شان را آزادانه بگویند، دوستان به شمول مجاهد صیب (الله حفظ شان کند) بسیار در انداز خوب در اهمیت جهاد فرهنگی سخن گفتند نوبت به ما که رسید ما هم چند حکایتی از صدر اسلام نسبت به فعالیت های فرهنگی؛ مثلا اشعار حماسی حضرت حسان بن ثابت رضی الله عنه و همینطور شخص رسول اکرم صلی الله علیه و سلم که در حین مبارزه و یا قبل از جنگ ها از جنگ تبلیغاتی استفاده می فرمود یادآور شدیم ابراز خشنودی کرده و فرمودند: ماشاء الله همه تان بسیار خوب مجهز هستید الله متعال کامیاب تان داشته باشد.

صحبت های بسیار جالب منصور صاحب راجع به موضوعات مختلف، اولویت ها و اولیت های نظام اسلامی، پیشرفت ها و کارهای امارت اسلامی همه و همه ما را بسیار خوش ساخت باور کنید که خیلی زیاد امیدوار شدیم و به شخصیت شان که الحق و الانصاف از هر جهت نایب لایق برای امیرالمومنین مرحوم و همینطور شخصیت لایق به رهبری امارت اسلامی بود را با تمام وجود احساس و درک کردیم و به داشتن چنین یک رهبری فرزانه، مدیر، مدبر، فهیم، دلسوز، کاربلد و با درک و درایت خدا را شکر کشیدیم.

تا نزدیک عصر مجلس ما با جناب عالیقدر منصور صاحب طول کشید و بالاخره وقت خداحافظی فرا رسید از همه معافی خواسته و طلب دعاء کرد و فرمودند اگر کوتاهی، کمی و یا کسری وجود دارد ببخشید و یاد شما باشد که ما شما را زبان و چشم خود می دانیم و از همکاری با شما دریغ نخواهیم کرد و فرمودند اگر کسی بطور خاص کدام گفتنی دارد من در یک اتاق دیگر می روم و نظرات شما عزیزان را که پیشنهاد باشد یا انتقاد شنیده و خوش می شوم.

در اخیر نیز دوستان را با محبت، نوازش و اکرام کرد و همه ما را در حالی ترک کرد که دل ما با او بود و هر کسی مثل من یک برداشت خاص از شخصیت عالی آن والامقام در ذهن اش داشت؛ برداشتی که شاید مختلف بوده باشد اما مطمئنا مثبت، دلچسپ و بسیار پرخاطره بود، کاش می دانستیم آن دیدار، نخستین دیدار نیست

بلکه آخرین دیدار هم است و ایکاش از جمع این نظام مقدس که با خون دل آن را به نظم و ترتیب رسانده بود به این زودی رخت سفر نمی بست و عمری بیشتر رهبری می کرد؛ اما نمی دانستیم چقدر که منصور صاحب محبوب دلهای ماست بیشتر محبوب رب العالمین است و دست روزگار و تقدیر این چنین آن شخصیت ارزشمند و والامقام را از جمع امارت اسلامی گلچین می کند.

روحش شاد، یادش گرامی و راهش پر رهرو باد.

۲۶\۵\۲۰۱۶

# هغه امیر چې طاغوت ترې وېره لرله

**حقمل ضیا**

هر هغه مسلمان چې د اسلام په ټولو بنیادي او اساسي اصولو او بناوو، د کلیمې د اعلا لپاره د جهاد، د مظلومو مسلمانانو د ژغورنې، له کفارو د اسلامي ځمکو د ازادولو، د اسلامي امت د وحدت او د اسلامي نظام او خلافت د قیام فکر او عقیده له ځان سره ولري او د دې اهدافو لپاره هلې ځلې کوي؛ د کفارو او د اسلام د دښمنانو له خوا خطرناک، تروریست، دهشتګرد، سولې ته خطر او د دې لایق اعلانیږي چې باید ووژل شي، بندي کړی شي او په هره ممکنه لاره یې مخه ونېول شي.

د پورته اوصافو لرونکو صادقو مسلمانانو او مجاهدینو په منځ کې ځینې خلک داسې وي چې په دوی د مجاهدینو او مسلمانانو وحدت جوړ وي، دوی د همدې ازادي غوښتونکو حرکتونو سر لاري وي، دوی د مبارزو مسلمانانو د روحي تسکین رول ادا کوي، دوی په مسلمانانو کې د ازادۍ فکر او شعور را پارولی وي او د دښمنانو په وړاندې له نورو مخکې په اول صف کې ولاړ وي نو په همدې سبب له هر چا د مخه د دښمنانو هدف ګرځي.

د شهید امیرالمومنین ملا اخترمحمد منصور (رحمت الله علیه) په شهادت رسول هم د اسلام د دښمنانو د لومړیو اهدافو څخه و؛ چې په شهادت یې د زمانې د لوی طاغوت امریکې د بېلابېلو ادارو مشرانو او چارواکو خوښې ښکاره کړه او نوموړی یې د خپلو شومو او اسلام د ښمنه اهدافو په وړاندې یو لوی خنډ وباله.

شهید امیرالمومنین د خپل اخلاص، صداقت او مدبرانه قیادت په برکت سره وشو کړای چې په ډېره کمه موده د زمانې د ګڼو مشکلاتو او چلنجونو باوجود اسلامي امارت په پښه ودروي، د لوی رب په مرسته مشکلاتو ته د پای ټکی کېږدي، دټولو مخلص مسلمانانو او په ځانګړي ډول د مجاهدینو زړونه را خپل کړي، د اسلامي امارت صف متحد او یو منظم کاري تشکیل رامنځ ته کړي، په جهادي ډګر کې د مجاهدینو روحیه لوړه کړي او پرله پسې لاسته راوړنې ولري او بلاخیره د اسلامي امارت د داخلي او خارجي ستونځو په حل بریالی شي؛ دا چې د شهید امیرالمومنین دغه خدمتونه د اسلام د دښمنانو د زغم نه وو، نو په همدې سبب دی د دښمنانو ترټولو لوی هدف وګرځید.

خو د اسلام او اسلامي امت دښمنان دې باخبره وي چې کله به هم د اسلامي قیادتونو په شهادتونو او وژلو سره دوی هدف ته ونه سېږی، مسلمانان به کمزوري نه شي، خپل وحدت به مات نه کړي، له خپل مسیر به را ونه ګرځي، او کله به هم له خپلې حقې داعیې او په دې لاره کې له قربانیو ستړي او شاته نه شي. دا عقیدوي صف دی؛ دا په افرادو نه بلکې په عقیده چلیږي، مسیر یې د اشخاصو او قیادتونو په شخصي تفکر نه بلکې د الهي ارشاداتو مطابق ټاکل کېږي؛ نو په همدې سبب که هر څومره قیادتونه هم له لاسه ورکړو پرځای به یې بل ټاکل کېږي او روان مسیرته به ادامه ورکوي.

د امیر المومنین شهادت مونږ ته لویه ضایعه، لوی غم او یو لوی درد دی؛ خو دا درد له بل لوري راته یو داسې افتخار دی چې د ثبات، ایثار، وحدت، مقاومت او

پایښت روحیه را کوي، زمونږ عهد قوي کـوي، دوسـتان او دښـمنان را تـه را پیـژني، د خپلو مشرانو د صداقت ثبوت راته وړاندې کوي او نورو لویو قربانیوته مو چمتو کوي.

په پای کې د لوی رب له درباره شهید امیرالمومنین ته د شهادت قبولي او اعلی جنتونه، ټولو مسلمانانو او د هغه کورنۍ ته د صبر او په دې غـم کـې اجـر غـواړو او د اسلامي امارت نوي قیادت ته د خدمت توفیـق او مـونږ تـه د اطاعـت توفیـق غـواړو. آمین!

۲۷\۵\۲۰۱۶

## منصور صیب، ما وښنه!

**لیک: محمد الله احساس- لیکوال او ژورنالیست**

زه د یوه عام مسلمان، افغان، مجاهد او قلموال پـه حیـث د وخـت د یـوه داسـې شهید له اروا څخه د بښنې جسارت کوم، چې په ټول ژوند کې یې آن یو ځل هم ځانتـه د امیرالمؤمنین، جلالتمآب، سر قومندان اعلی، مارشال او کومې بلې رتبې او ترفیـع د خطـاب پـه اړه فرمـان نـه دی صـادر کـړی، خـو بیـا یـې هـم لـه نامـه سره د «شـهید امیرالمؤمنین» توري زما د زړه په تخته لیک دی.

زه نن هغه امیرالمؤمنین یادوم چې تر قیامته به په همدې نوم یادېږي، هـو د ۲۱ پېړۍ شهید امیرالمؤمنین!! دغه امیرالمؤمنین نه له اسمانه را کوز شوی او نـه د شرق او غرب له کوم پوهنتونه را پراشوټ شوی، بلکې د هغه ټول ژوند زما په مخ کې د یوې ژوندۍ صحنې په څېر تېر شو، خو د یوې تمثـیلي صـحنې پـه توګـه نـه، بلکـې د یـوې واقعي صحنې په توګه! یعني دا چې هغه د افغان خاورې یو عـادي او سـپېره طالـب و، په حجرو او مدرسو کې را لوی شو، په کلیو او اطرافو وګرځېده، مجاهد شو، سیاستوال

شو، حکمران شو، قومندان شو، بندي شو، را خلاص شو، مهاجر شو، را ستون شو، بیا کډه په سر شو، د نړۍ د زبر ځواک په تورلیست کې شامل شو، امیرالمؤمنین شو او بالاخره شهید شو!

منصور صیب، ما وښښه!

که ما په ژوندکې چېرته ستا خړه حجره، سپېرې جامې، رنګه بنګه لنګوټه، تنباکې او په خاورو لړلې پښې لیدلې وای، نو به مې هېڅکله پر تا دا تور نه و پورې کړی، چې ګنې مشره ته چې په مانۍ او مسترح ژوند کې زما د جذبولو او میدان ته د راوتلو خبره کوې، نو ناحقه کوې.

منصور صیب، ما وښښه!

که ما ستا مسلماني، وفا او بې له تبعیضه او امتیاز پرته ټولو ملګرو ته په یوه سترګه نه کتل یاد کړي وي او دا تور مې دربانديې لګولی، چې یوازې د قرب للسلطان په اساس یوازې ځان ته نږدې کسان پالې، اکمالوې او ساتې، نو ما ته ښښه وکړه، ځکه که تاسو واقعاً همداسې کولای، نو نن خو به دې پټ او ښکاره درباریان چا ته جوت شوي وای خو نه داسې نه وه. زه تېروتلی وم.

منصور صیب ما وښښه!

زما په ځېر ډېرو به پر تاسو د جاه طلب، موقع پرست، خودخواه، عیاش او یوه کودتاچي شک کاوه چې تل به د قدرت په نشه کې د ارام ژوند په لټه وې، خو نه داسې نه وه. بلکې تا هر خپه او زما په ځېر ناسم پوه شوي تګماران هر یو جلا جلا وپوهاوه، په هره بیه په دې وتوانیدې چې قناعت ورکړې، تر خپل واک ورته تېر شي ما ستا ستړې، سرګردانۍ او شببه په شببه د موقعیت بدلون، د ملګرو د اکمال او تجهیز لپاره آن هغه مړۍ ډوډۍ چې بیت المال او شریعت دواړو تا ته د اولادو سره یو ځای د نوش کولو جواز درکړی و، خو ته بیا هم له هر څه لیرې او په پردیسۍ کې له دنیا ولاړې.

**منصور صیب ما وښښه!**

**ما به شاید یو ځل د انسي شیطانانو په مجلس کې دا یادونه کړې وي، چې د بیعتونو او ځان واک ته رسولو لپاره به دې ډېرو ته بډې او رشوتونه ورکړې وي، خو د نړۍ هېڅ عدالت به د هغه رشوت پرته چې تا ته د یوه مبرم ضرورت په بناء د عبور او مرور او سفرونو د اسانتیا لپاره د پردي ملک د هویت کارت او پاسپورټ لپاره دې ورکړی وي، بل هېڅ ثبوت ونشي موندلی.**

**منصور صیب ما وښښه!**

**ما تا ته هم د وطن د نورو رهبرانو په هنداره کې کتل، چې ارګاه بارګاه به دې وي، د موټریز کاروان یو سر به دې پر میوند او بل پر هلمند وي، خو ما ستا ملنګ فطرت او د بیت المال د حفاظت خوی نه و درک کړی، چې ته به یې له غمه مړ یې او آن د یوه عادي مسافر په څېر به د پنځو – لسو زرو د دربست موټر پر ځای تش د یوه سیټ کرایه ورکوې او هغه هم د دوه سوه کیلومتري سفر لپاره!**

**منصور صیب ما وښښه!**

**ما ګومان کاوه، چې ستا بچیان به هم د استاد رباني، سیاف او ګلبدین په څېر د ترکیې، دبۍ، امریکا، لندن، اسلام اباد او تهران چکرې وهي او هلته به د نړۍ په کوم غوره پوهنتون او یا دارالعلوم کې درس وایې، خو ستا د اسلامپالنې او مبارزې په وجه کفارو او د هغوی جاسوسانو دا پراخه نړۍ دومره دربانديې تنګه کړې وه، چې ځان خو دې هېر و، ایله پکې د خپلو یتیمانو او نورو یتیمانو او در به درو د خوندیتابه او استوګنې لپاره د سر پناه په غم کې شپه ورځ وکړیدې.**

**منصور صیب ما وښښه!**

**چې ما د دې دومره استعداد، رسنیو او ټولنیزو شبکو ته له لاسرسي سره سره ستا په اړوند بشپړ او کره معلومات ترلاسه کړي نه و. تا ته به مې د نورو مافیایي کړیو، مجازي شخصیتونو، د نورو په لاس واک ته رسول شویو له کړکۍ در کتلي و.**

**خو زه اوس پوه شوم، چې ته څومره عالي، ستر، معظم، ملنګ، سپېځلی او سرتېری رهبر یې!**

**نو اې د دې سپېځلي او تش لاس انقلاب معظم شهید رهبره!**

**ما وبښه، خیر دی و مې بښه!**

**۲۸\۵\۲۰۱۶**

# اسلامي امارت او نوی مشرتابه

موسی مهاجر

امریکایان په افغانستان کې د اوږدې بې ثباتۍ رامنځته کولو په هڅو بوخت دي او ټول په دې پوهیږي، چې هغوی په افغانستان کې سولې راوستلو ته هیڅ ډول لېوالتیا نه لري، همدا لامل دی، چې دوی په دغه هیواد کې د لسګونو سیاسي ګوندونو ترڅنګ ګڼې وسله والې ډلې رامنځ ته کړې او د کابل ګوډاګی رژیم یې هم د سمت او ژبو په بنیاد د دوو مشرانو ترمنځ تقسیم کړی دی، خو امریکایان په دې پوهیږي، چې په خپلو دغو هڅو کې تر هغه مهاله نشي بریالي کېدلی، چې تر څو طالبان هم په ډلو ټپلو سره ونه ویشي، چې په دې ډول هم له طالبانو انتقام واخلي، هم یې واک ته د بیا رسېدلو مخه ونیسي او هم په هیواد کې د اوږدو جګړو او بې ثباتۍ لپاره زمینه سازي وکړي.

په شهید امیرالمومنین منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ د بریدپه اړه د امریکا ولسمشر اوباما ویتنام ته د سفر په مهال په یوه بیان کې وویل، چې دا برید د سولې راوستلو په لور د هڅو یوه برخه ده او د سولې خبرو ته د طالبانو د راوستلو لپاره بایدترې د فشار په توګه کار واخیستل شي، خو هسې نه ده، ځکه دغه ډول سوله، چې د امریکاله شرائطو سره برابره وي د اسلامي امارت له اعلی څخه نیولي تر ادنی فرد پورې هیڅوک هم نه غواړي اوبل د مشرانو شهادت هیڅکله اسلامي امارت د خپل مسیر او خپلواکۍ پرېښودلو ته نشي اړ کولي، ځکه اسلامي امارت د شهیدانو کور دی، زیات شمېر مشران یې شهیدان شوي، خو له خپل موقف څخه یې د یوې زرې په اندازه هم تنزل نه دی کړی او نه هم باید دا توقع ورڅخه وشي، بل دا د اوباما غیر منطقي استدلال دی، ځکه د منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ په شهادت په مجاهدینو کي د ایثار او قربانۍ نوې جذبه پیدا شوې، دغې پېښې که مجاهدین او مسلمانان دردولي اما روحیه یې نه ده ور ضعیفه

کړې او دابه د سولې په ځای په دښمن د نوې کاري بریدونو لامل شي. بلکې د شهید امیرالمومنین له شهیدولو څخه ددښمن موخه د طالبانو په صف کې د اختلافاتو را پیدا کول او په ډلو ټپلو د اسلامي امارت وېشل دي، چې د امیرالمومنین ملا محمد عمر رَحِمَهُ ٱللَّهُ تر وفات وروسته هم د دښمن دغه هڅې ګړندۍ شوې او ددې لپاره یې په لسګونومیلونه ډالره ولګول، خو په دې هڅه کې به دښمن هیڅکله بریالی نشي، ځکه طالبان یوه فکري ډله ده اودا ددې مخه نیسي، چې دوی دې په ډلو سره وویشل شي، بل د طالبانو د قیام موخه په هیواد کې د ډلو ټپلو له منځه وړل و، چې په دې کې طالبان بریالي هم شول، نوځکه د اسلامي امارت په منځ کې د ډلو تصور نشته، په دې برسېره په ټولو امورو کې د اسلامي امارت اتکاء په شریعت ده او شریعت د ډلو له ایجاد څخه ممانعت کوي.

همداراز د اسلامي امارت جوړښت په داسې شکل شوی، چې کله هم څوک بې واکه شوي، یا له اسلامي امارت څخه ایستل شوي او یا خپله په کور کښېنستلي، نوټول حیثیت او محبوبیت یې له منځه تللی دی، همدا ډول مورِ ولیدل، چې یو څوک له اسلامي امارت څخه ایستل شوي اوبیا هغوی د نوې ډلې کوښښ کړی، نو داسلامي امارت له صف څخه دوه کسان هم نه دي ورسره ملګرې شوي، په دې ټولو برسېره شهید امیرالمومنین منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ (خدای دې په جنت کې درجې لوړې کړي) د اسلامي امارت ستې داسي قوي او مضبوطه کړه، چې ددې تحریک ټوټې کېدل یې ناشوني وګرځول اوهیڅا ته یې ددې موکه ورنه کړه، چې اسلامي امارت په منځ کې تفرق راولي او یا په راتلونکي کې ددې جرأت وکړي.

د اسلامي امارت رهبري شوری و کولای شوای، چې ددښمن د توقعاتو برخلاف په ډېره لنډه موده کې نوی امیر وټاکي او نړۍ ته روښانه کړي، چې اسلامي امارت خپل مشران ژر ټاکلی شي او په دې اړوند له هیڅ ستونزي سره نه مخ کیږي، شورا ددغې درندې دندي لپاره شیخ هبة الله اخندزاده حفظه الله وټاکه، چې په هر لحاظ د زعامت لپاره وړ کس دی، شیخ صاحب دهیوادله سترو او جیدو علماوو څخه دی، چې د قرآن

کریم او د نبوي احادیثو شیخ او د حنفي فقهي فقیه دی، ژور سیاسي بصیرت او پوځي تجربه لري، د روس د اشغال په مهال د جهادي ډګر نومیالی سپاهي پاتـه شـوی، پـه جهادي مرحله کې لوړو ژورو له خورا پخې تجربې څخه برخمن کړی دی او د اسلامي امارت او را وروسته د روان جهاد په مهـال د مهمـو دنـدو تـر سره کولـو د یـوې غـوره رهبرۍ تجربه ور نصیب کړې ده.

هغه غم چـي د شـهید امیرالمـومنین منصـور رَحِمَهُ ٱللَّهُ پـه شـهادت مسـلمانانو او مجاهدینو ته ورسیدو د شیخ هبة الله صاحب په ټاکـل کېـدلوتر ډېـره سـپک شـو او د شیخ صاحب له ټاکـل کېـدلو سره سـم ټولـو کمیسـیونونو، والیـانو، ولسـوالانو، پـوځي قومندانانو، عامو مجاهدینو او مسلمانانو بې چون وچرا او په ډیر اخلاص بیعتونه وکړل اودا لړۍ په ډیره بریالۍ توګه روانه ده، دې بیعتونو طاغوت او انسي شیطانان لـه دې څخه نهیلي کړي، چې د اسلامي امارت په صف کې دي اخلافات واچوي.

۲۸\۵\۲۰۱۶

## د شهید قاید څو ځانګړنې!

**بت شکن- لیکوال او داسلامي فقهي متخصص**

که د اسلامي تاریخ پاڼې راواړوو، نو تـر نـورو زیـات بـه پکـې د اسـلامي امـت د خلفاوو یا د هغو اسلامي شاهانو د شهادتونو بابونه ومومو، چې خپل امارت یـا خلافـت یې د تعیش او هوس لپاره نه، بلکې د یوه الهي امانت په توګه منلـی او د همـدې لامـل پر بناء یې د خپل خلافت یا امارت په پېر کې جهادي او دعوتي تګلاره خپله کړې وه.

که هغه د امیر المؤمنین عمر رضی الله تعالی عنه په صورت کې ګورو، که یـې د امیرالمؤمنین عثمان رضی الله عنه په شکل کې وینو، که یې د امیرالمؤمنین عـلي کـرم الله وجهه په ښه ګورو، که یې د عبدالله بن زبیر رضی الله عنه په ښـه وینـو او یـا کـه د امویـانو د دور خلافـت د عـادل او متبـع السـنة عمـر ثـاني (امیرالمـؤمنین عمـر بـن

عبدالعزیز رحمه الله) په صورت کې وینو، چې څوک د یهودي غلام ابـو لؤلـؤ، څـوک د باغیانو، څوک د خوارجو، څوک د سفاک حجاج بن یوسف لخوا شهیدان او د عمر ثاني غوندې شخصیتونه د خپل یوه غلام په توسط په زهرو شهیدان کـړای شـول، د دوی نـه راوروسته نور مسلمان خلفاء او امراء، چې چا پکـې د سـپیڅلې شریعـت د نفـاذ بشـپړ هوډ کړی او د کفارو پر خـلاف یـې جهـادي تګـلاره خپلـه کـړې، زیـات یـې د یهـودو، نصاراوو او مشرکینو لخوا په مختلفو پلمو په شهادت رسول شوي او خپل منزل مقصود ته نه دې پریښودل شوي، چې دا دی نړۍ د فلسطین د حماس یا الانتفاظه د جهـادي حرکت مشران د (شیخ احمد یاسین) څخه راواخله تر وروستي لارښود پورې، ټول یې د اسرائیلو لخوا یو په بل پسي شهیدانیږي او دا لړۍ لا تنده روانه ده.

د افغانستان اسلامي امارت چې علماء او طالبان یې قیادت کوي، د خپلو اسـلافو په پل پل ږدي، د هغو د سنتو احیـاء کـوي او د هغـوی د دې اغزنـې لارې پـه پیچومـو ورروان دي، کله یې یو مشر او کله یې بل مشر د شهادت داعي ته لبیک وایي او بیا هم دوی په خورا لوړه حوصـله د جهـاد او ازادۍ د اهـدافو د ترلاسـه کولـو پـه لاره کـې د ستومانۍ احساس نه کوي او په کلک هوډ او غښتلې عزم د اشغالګرو مخکې د پـولادي دیوال غوندې ولاړ دي. خو هغه درونـد، مـدبر، مجـرب، قهرمـان، سـنجیده او د لـوړو آسمانڅکو هیلواو ارادو خاوند، چې دې وروستیو کې یې شهادت نه تنها د افغانستان د مسلمان ولس بلکې د ګرد امت زړونه غمجن او د سترګو نه یې د اوښکو ویالې وبهولې، هغه د اسلامي امارت فقید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ دی، چـې پـه خپل ناڅاپي فراق یې نه یوازې یوه ستره تشه رامنځته کړه، بلکې د مسلمانانو زړونه یې ځان پسي دومره ودردول، چې تر ډیرې مـودې پـورې بـه یـې د شـهکارۍ یادونـه او د اتلولۍ ژوندي خاطرات د خلکو سترګو کې انځـوریږي او یادښـتونه بـه یـې د زمـان او مکان د حوادثو ښکار نه شي.

زمونږ شهید قاید ملا اخترمحمـد منصـور رَحِمَهُ ٱللَّهُ هغـه مهـال دامریکایـانو دبي پیلوټه الوتکې دظالمانه بریدهدف وګرځیـد، چـې نومـوړي دخپـل سـلف او داسـلامي

امارت دمؤسس امیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهدرح غوندې دامریکایانودسیسې او حیلې درک کړې وې، نه یې ورسره جعلي او نمایشي سولې ته غاړه کیښوده او نه یې داشغالګرو په وړاندې کوم ډول نرموالی ښکاره کړ، څنګه چې مشر ملا صیب په خپله اراده کې کلک و، همداسې شهید قایدفقید منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ هم پخپل هوډ کې کلک ولاړ و، نه یې سازشونه وکړل، نه یې دچوکۍ دحفظ لپاره له چاسره دهوکړه لیکونو مسودې تیارې کړې او نه له اشغالګرو سره دسولې جعلي میزته کښیناست، لکه چې همداخبره (وال سټریټ ژورنال) امریکایي ورځپاڼې داسې لیکلي: امریکا په دې اند وه، چې منصور صیب به د خپل پخواني مشر په پرتله یو څه نرم وي او کېدای شي د سولې خبرې پیل کړي، مګر عملا د امریکا اټکل ناسم وخوت او نوموړی د خپل پخواني مشر- ملا محمد عمر مجاهد په پرتله ډېر «پلاني او د امریکا په دښمنۍ کې فعال و» له همدې امله بارک اوباما په خپله امر وکړ، چې باید ملا اختر محمد منصور شهید شي....

دشهید امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ ځانګړنې خو ډیرې دي او شاید هغه چاته یې ډیر خصوصیات معلوم وي، چې ورسره څنګ کې اوږدمهال پاتې شوی وي، خو هغه چې یا مودده سره له نږدې پاتې شویو ملګرو نه اوریدلې او یامو رسنیو کې کتلې، هغه دمنصور صیب قهرماني، شجاعت، په مسایلو کې عمیق تدبر، پلان ګذاري، فهم او درایت، علم، سیاسي بصیرت، نظامي وړتیا، عاطفه او ترحم، دیانت، جامعیت، دحنفي مذهب تقلید، داشغالګروسره نه پخلاکیدونکې دښمني، داسلامي شریعت دنفاذ سره لیونۍ مینه اوپه مجموع کې دیوه اسلامي خلیفه په صفاتو متصفه څېره وه، خو هغه کارنامې چې دده دامارت او مشرۍ په دورکې دتاریخ قضاوت ته پاتې شوي او داسلامي امارت شمله پرې جګه شوي، هغه دهیواد دشمال په زړه کې دکندز ولایت بشپړه فتحه، داختطاف ګرواو شوکمارانوسره کلکه مقابله او ددوئ دله مینځه وړلو کلک هوډ، دیوه لوړرتبه هیأت په ذریعه د اسلامي امارت دټولوملکي او نظامي کمیسونونو او اداري واحدونو کاري چارې ارزونه او سروي کول،

دخپلو سیاسي مخالفینو په وړاندې انعطاف او تنازل او نور داسې نورې ځانګړنې شته چې له امله یې دنوموړې شخصیت ښه پیژندل کیدای شي او سړی پرې قضاوت کولای شي.

شک نشته چې شهید ملا اخترمحمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ ددواړو جهادونو (دروسانو او هم دامریکایانوخلاف) دجهاد او قیادت ویاړ لري او بالاخره پدې لاره کې خپل وروستي ارمان ته هم ورسید. دهغه اسلامیت او افغانیت دانشوه برداشت کولای چې کوم محارب کافر، یاددې کافر کوم زرخرید غلام ته دعجز سرټیټ کړي اوداسلامي غرور دمقتضیاتو خلاف یې احکامات ومني، نو ځکه خپل ولس او مجاهدینو ته ګران او داشغالګرو کفارو دسترګو اغزی شو.

دالله تعالی په لاره کې شهادت چې دمسلمان ستر افتخار وي او ویاړنه یې بولې، نو ځکه خو داسلامي امارت مجاهدین که دیوې خوا دا دځان لپاره ستره ضایعه بولې خو دبل لورې یې ددیني عقیدې له امله ویاړ بولي او دنوروشهادتونو لپاره هم چمتوالی ښیي.

داسلامي امارت دنوې زعیم په حیث د (شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله) ټاکنه یو پرځای اقدام او داسلام ددښمنانو ډیرې دسیسې پرې خنثی شوې، دنوموړې زعامت یو داسې انتظار و، چې پرخپل مناسب وخت اوزمان ترسره شو او هغه څه چې مجاهدینو غوښتل عملي شول، داسلام او خاورې دښمنان چې یو ځل بیا دطالبانو مینځ کې (خدای مکړه) داختلافاتودلوخړو پورته کیدوته په انتظار و، دشیخ هبة الله اخندزاده صیب په ټاکنه ډیر نهیلې او شومې ارادې یې له خاورو سره خاورې شوې، داسې معلومیږي چې دجهادي کاروان دشهید قافله سالاراو قاید سپیځلې وینې به رنګ راوړې اوجهادي صف کې به دمزید وحدت، قوت او پرمختګونو کرشمې وځلیږې او هیواد کې به دلا ډیرو فتوحاتوځپې په غورځنګونو شي!

۲۹\۵\۲۰۱۶

# د طالبانو د مشر د شهادت په اړه څو ناویلي حقایق!

**لیکنه: موسی فرهاد**

**اووه ورځې مخکې د امریکا یوې بې پیلوټه الوتکې د ډیورنډ کرښې ته څېرمه د طالبانو هغه مشر په نښه کړ چې یوولس میاشتې وړاندې د دغه جهادي غورځنګ أمیر ټاکل شوی و.**

**ملا أخترمحمد منصور چې تر یوولس میاشتني أمارت وړاندې د طالبانو د اسلامي حرکت د مؤسس أمیرالمؤمنین ملامحمد عمر مجاهد نائب و ؛ د هغه د مړینې د خبر تر افشاء کیدلو څو ورځې وروسته طالبانو هغه خپل أمیر ونوماوه. نوموړی په داسی وخت کې د طالبانو امیر شو چې ګمان کیده طالبان د ټوټه کیدلو له انتهایی ستر چیلنج سره مخ ول، خو ښاغلي منصور په ښه جرأت، لوړ بصیرت او قائدانه صلاحیت سره نه یوائې داچې طالبان یې د پاشل کیدلو له خطر څخه وژغورلای شول ؛ بلکې تحریک یې نور هم متحد او په سیستماتیک شکل مضبوط کړ،**

**هغه دا چې:**

**په لنډ ګډ وخت کې یې د کورنیو اختلافاتو، او د داعش په ښه د نړیوالو او سیمیزو استخباراتي جالونو ډېرې عمیقې دسیسې شنډې کړې، د خپلو جنګیالیو لیکې او جګړه ایز پلانونه یې داسی تنظیم کړل چې د جنګ پوهانو له نظره طالب اوس د یو برلاسي وسلوال ځواک په توګه تصور کیږي. چې اغیز یې د سیاست په میدان کې ښه جوتیږي، ښاغلي منصور د طالبانو تحریک ته داسي اداري آډانه تیاره کړه چې تعمیر او دفتر لرونکي جوړ نظامونه یې هم مقابله نشي کولای، که أحیاناً له کوم مشکل سره مخ کیږي، نو په څو ساعتونو کې یې د هغو ظوابطو او اصولو په بنا چې نوموړي ورته پرې ایښې ؛ په ډېره آسانۍ سره حل کولای شي چې ښه بیلګه یې دا اوس اوس د هغه وژنه**

او د نوي ځاېناستي ټاکنه ده. د کارپوهانو له نظره ملا اخترمحمد منصور د طالبانو په تحریک کې داسې یو مشر و چې تقریباً له همه جانبه اړخونو څخه په تول پوره قائد و.

نوموړي د نړیوالو او سیمیزو کړیو د سیاسي او نظامي فشارونو په وړاندې د خپل تحریک له بنسټیزو مواقفو څخه داسې دفاع وکړه چې که په دقیق ډول ورته وکتل شي ؛ نو هم یې خپل ولس د کابل د رژیم په پرتله، له طالبانو څخه راضي کړ، هم یې د سیمې د هیوادونو د اندیښنو په رابطه هغوی ته د پوهاوي او قناعت مونډلو زمینه سازه کړه. او په مجموع کې یې ټولو هغو بې پرې نړیوالو ته ؛ چې په اشغال کې د امریکایی ائتلاف ملګري نه دي ؛ د خپلې داعیې د برحقه ثابتولو قناعت ورکړ، له همدې ځایه وه چې ډېرو هیوادونو له طالبانو سره په مستقیم او غیر مستقیم، علني او غیرعلني توګه د رابطو او اړیکو ساتلو لړۍ پیل کړې. او دا کار یې د اشغالګرو قوتونو او د کابل رژیم لپاره خورا اندیښمنونکی و، ممکن همدا لامل به و چې په ډېره لوړه کچه یې د ترور هڅه وشوه. او هغه یې د یو لوړ پلان له مخې د بې پیلوټه برید په نتیجه کې ترور او له منځه یووړ. له دې هرڅه سره سره اوس چې د مرحوم منصور د شهادت پیښه رامنځ ته شوه، ډېرې داسې پوښتنې هم ورسره رامنځ ته شوې چې بې ځوابه پاتې دي.

اشغالګر او د کابل رژیم او په مجموع کې د اشغالګرو په ډالرو متموله میډیا له موقع نه په استفادې هڅه کوي چې د ناوړه تبلیغاتو له لارې حقایق له خلکو پټ کړي، ځینې هغه کارونه چې د ملا اخترمحمد منصور د وژنې پر مهال رامنځ ته شوي ؛ دوی غواړي چې هغه په ناسم ډول د خلکو په اذهانو کې ترسیم کړي، ولې حقیقت داسې نه دی، که په ژوره توګه وکتل شي ؛ هغه لا د طالبانو پر استقلال، حقانیت، اصالت او خپلې برحقې مبارزې ته د هغوی پر ژمنتیا دلالت کوي.

پوښتنې داسې مطرح کیږي چې:

څرنګه ملااخترمحمد منصور په پاکستان کې په نښه شو ؟، هغه څنګه پاکستاني جوازکاغذ ونه ترلاسه کړي وو؟، پر ګډه پوله پرتو هیوادونو ته یې د څه لپاره او څنګه

سفر کاوه ؟، آیا هغه په دومره ساده شکل لـه یـوه نـه بـل ځـای تـه سـفرونه کـول ؟، د نوموړي له شهادته وروسته د هغه پاسپورت څنګه روغ پاتي و؟، په داسی حال کې چې موټر یې په کامله توګه ویجاړ و، آیا رښتیا هم نوموړی ایران ته تللی و، کـه تللـی د څـه لپاره ؟، نوموړی امریکایانو څنګه او د چا په مرسته کشـف کـړ ؟، منصـور ولي د خپـل امنیت سره دومره بې پروا و ؟، آیا د منصور په شـهادت سره بـه د طالبـانو د دښـمنانو هغه هیلي او توقعات پوره شي چې دوی یې اټکل کړی ؟.

زه فکر کوم چې دا ډول پوښتنې د ډېرو خلکو په اذهانو کې ګرځي راګرځي، او د طالبانو دښمنان بیا په ډېر شور او زور سره د خپلي میډیا په مټ دغه پورتنۍ پوښتني د طالبانو لپاره د شرم وړ ګڼي او دا د هغوی په زبان بولي، چې ګویا پر طالبـانو چـې د کابل د رژیم کوم اعتراضات دي؛ هغه د دوی د مشر لـه شـهادت سره لا پسې رښـتیا ثابت شول. ولي چې نوموړی په پاکستان کې د امریکا لخوا په شهادت ورسـیدی. خـو زه فکر کوم چې حقیقت د دې برعکس دی، د دې لپاره به زه د څه مؤثقو مالومـاتو پـر بنا د پورتنیو پوښتنو د یـوه جـامع ځـواب د مونـدلو هڅـه وکـړم ترڅـو دغـه بـرعکس حقیقت واضح شي.

د پوښتنو ځواب:

لومړی داچې منصور څنګه په پاکستان کې په نښه شو، مطلب دا چې د نومـوړي اوسیدل په پاکستان کې تثبیت شو، دا حقیقت دی چې پر هغه باندي بریـد پـه داسي منطقه کې وسو چې هغه ګډه پوله ګڼلـه کیـږي، او پـه دې ۱۸سـوه کیلـومیټره طویلـه کرښه کې د دواړو غاړو د اوسیدونکو اوښتل را اوښتل هیڅ نوي خبره نـه ده. بلکـي زه دا وایم چې په دې سره دا هم ثابته شوه چې ملامنصـور او د طالبـانو نـور مشرـان چـې پاکستان یا کوم بل هیواد ته ځي ؛ هلتـه هغسي نـه اوسي لکـه څنګـه چـې یـې د دوی دښمنان تعبیروي. ولي چې هغوی پرته لـه کـوم پروټوکـول او پرتـه لـه کـوم سرکـاري تضمینه د یو عام افغان مهاجر په توګه خپل ژوند کوي، او خپلي ضروري چـاري پـرمخ بیایي، چې دا حقیقت د منصور د شهادت له پیښې څخه نښه جوتیږي.

ملامنصور پخپله په یوازي سر د افغانستان د جنوبي حوزې له کومي نامالومي سیمې څخه حرکت کوي، د تفتان سرحدي ښار ته ځان رسوي، له هغه ځایه بیا د کرایي په موټر کې په ۱۳۰۰ روپۍ ځان ته ۱ سیټ نیسي او په لاره کې پرته له څه ویري او خطره بې له کوم محافظه ۲ سوه کیلومتره اوږد سفر کوي، نو له دې نه دوه ټکي خورا ښه جوتیږي یو داچې هغه څومره جرأتمند سړی دی، څومره بې آلایشه او بې تکلفه زندګي کوي، په داسې حال کې چې د نورو نظامونو ډېر عادي چارواکي هم د ملت د بودیجې په ضایع کولو سره په ډیر شاهانه انداز سره تګ راتګ کوي، خو د طالبانو مشر د لاري په ټیکسۍ موټر کې په ۱۳سوه روپۍ د ځان لپاره یو سیټ انتخابوي او بیا سفر کوي. دویم دا ورځخه جوتیږي، چې که چیري د کوم هیواد له استخباراتي یا عامه سرکاري ادارو سره یې روابط لرلای نو نن به یې په داسې عادي او خطرناک شکل سره سفر کولو ته اړتیا نه پیدا کیدله، بلکي په سرکاري پروټوکول او یا لږ تر لږه په سرکاري تضمین کې خو به یې د امنیت سفر کولای شوای..!

بله پوښتنه داچې هغه څنګه پاکستاني پاسپورت او تذکره ترلاسه کړي، دا هم پخپله ښیي چې نوموړی د هغو زرګونو عامه افغانانو په څیر د پاکستان جواز کاغذونه ترلاسه کړي و چې افغان مهاجر یې له پاکستاني حکومت څخه د هغوی د ورځني ژوند د ضرورتونو پخاطر ترلاسه کوي.

بل داچې ملااخترمحمدمنصور په ډېر عادي شکل د خپلو مجاهدینو د کاري ضرورتونو د پوره کولو او د هغوی د جهادي چارو د تنظیم او څارنې په موخه همیشه په دې لټه کې وو چې له یوه ځایه بل ځای ته سفرونه وکړي، هغه داسې یو رهبر نه و چې په آرامه په یوه مسترحه مانۍ کې مرفه ژوند وکړي.

بله خبره دا چې هغه واقعاً ایران ته تللی ؟ او د څه لپاره تللی و؟ زما د مالوماتو له مخې ملااخترمحمدمنصور ډېر وخت د هیواد په جنوبي حوزه کې اوسیدی، وخت نا وخته به یې د هیواد نورو برخو ته هم د تګ راتګ اړتیا پیدا کیدله، ترڅو د خپلو مجاهدینو کارونه له نژدي تنظیم کړي خو چونکه د امنیتي مشکلاتو په خاطر دغه تګ

راتګ يې آسانه نه و، نو دی اړ و چې له مختلفو لارو څخه کار واخلي، په همدې خاطر د طالبانو يوې سرچيني ماته وويل: چې منصور يو يا دوه ځله له افغانستان سره ټرلي د ايران او څو ځله د پاکستان سرحدي پولي په ټرانزيټي ډول کارولي وي مطلب دا چې هري سرحدي پولي ته د دې لپاره اوښتی چې له هغه ځايه د دښمن د نه پاملرني په وجه نسبتًا په آسانه ځان بلي سيمي ته ورسوي د بيلګي په توګه يوځل له جنوب څخه د ايران پولي ته واوښتی او له هغه ځايه بيا د پاکستان پولي او بيا له پاکستانه بيرته د خپل هيواد بلي هغې برخي ته اوښتی و چې هلته يې د تګ اړتيا وه. نو زه فکر کوم چې دا هم د منصور په فعّال او ويښ شخصيت دلالت کوي. زه فکر نه کوم چې دا دې د هغه او يا د ده طالب غورځنګ په اړه قابل اعتراض ټکی وي.

بله پوښتنه دا وه چې پاسپورت يې څنګه روغ رمټ پاته و ؟ اصلاً دا خبره حقيقت نلري چې پاسپورت پر همدې موقع ترلاسه شوی دی، بلکي پاسپورټ د وژني تر صحني وروسته په تفتان کې له هغه دفتره ترلاسه شوی چې د نوموړي د دخولي او خروجي مراحل ترې انجام سوي ول، که تاسو فکر کړی وی چې پاسپورټ پر يو ميز پروت دی بيا عکس تری اخيستل شوی او وروسته بيا خوالە رسنيو ته اوچت شوی دی.

بل دا چې منصور څنګه او د چا په مرسته کشف سو، ؟ آيا دا دومره ستره کارنامه ده چې امريکايي او له هغوی سره ټرلي استخبارات وربانديو وويارې ؟. زما د مالوماتو په آساس چې له طالبانو سره له نژدې سرچينو څخه ترلاسه شوي ؛ هغوی وايي چې منصور صاحب وخت نا وخته سمارټ تليفون کاراوه، ترڅو له خپلو ملګرو سره يې اړيکي آسانه او عاجلي وي. نو د سمارټ تليفون او يا دې ته ورته نورو وسايلو په کارولو سره نن سبا ډېر عادي خلک هم کولای شي چې يو څوک تعقيب او پيدا کړي. زه فکر کوم چې دا هم د امريکايي استخباراتو چنداني د پام وړ لاس ته راوړنه نه بلله کيږي. دا بيله خبره ده چې د داسی وسايلو کارول د ښاغلي منصور لپاره مناسب و کنه ؟ ځيني کتونکي دا د هغه لا پرواهي ګڼي، خو طالبان بيا دا هم د خپل مشر جرأت او له

خپلو قائدانه فعالیتونو سره د دلچسپۍ لامل بولي. ترڅو دا خطر هم پر ځان ومني خو جهادي فعالیت یې نیمګړی پاته نه وي.

دا چې د ملااخترمحمدمنصور په وژلو سره به د هغوی د دښمنانو خصوصاً امریکا او د کابل رژیم هغه توقعات پوره شي چې دوی یې په وژني پوري تړلي وو؟.

زما په ګمان دا به د هغوی د یوي خیالي نقشې او مطلق تصور پرته بل هیڅ نه وي، ځکه چې طالبان اوس نړۍ پیژندلي چې هغوی له نورو ډلو او نظامونو سره زیات توپیر لري، طالبان یو ایډیالوژیک جوړښت دی، چې د خپلو دیني معتقداتو او فکري مسیر لپاره مبارزه کوي، د هیواد د آزادۍ په لاره کې خپله جهادي مبارزه نه یوازي ملي مسئولیت بولي، بلکي عقیدوي او ایماني وجیبه یې هم ګڼي. او په دې لاره کې هر راز قربانۍ کمي ګڼي، چې دا دعوه یې په دا یوه نیمه لسیزه کې دنیاوالو ته پخپل عملکرد سره هم ثابته کړي ده.

نو که څوک داسې فکر کوي چې د هغوی د مشرانو، یا نورو افرادو په له منځه وړلو، یا بندي کولو او یا نورو ډول ډول فشارونو سره به هغوی تر خپل هدف تېر او د دښمنانو غوښتنو ته تسلیم شي ؛ دا ناشونې برېښي، طالبانو د خپلې اوږدې مبارزې په لاره کې خورا لوړې ژورې ګالۍ چې ترټولو غټه پېښه یې د ۲۰۰۱م کال په اخیر کې د امریکایانو یرغل او د طالبانو نظام له منځه وړل، او په شمال کې د امریکایانو تر نظارت لاندې د دوستم لخوا د زرګونو طالبانو قتل عام، دا راز کیوبا، بګرام، پلچرخي، کندهار او په پاکستان کې په بیلابیلو خفیه او ښکاره زندانونو کې د زرګونو طالبانو بندي کول، او د کابل رژیم لخوا د ډېرې طالبانو غیرقانوني اعدامونه او دا راز د دوی د ډېرو نورو لوړپوړو قوماندانانو او افرادو شهادتونه یې ښې بیلګې دي چې څوک هغوی په زور او ظلم سره له خپلې داعیې څخه اړولی نشي او نه یې خپلو غوښتنو ته تسلیمولای شي.

که څه هم امریکایي ولسمشر اوباما د منصور له وژلو سره سمدستي اعلان وکړ چې نور دوی خپل هدف ته نژدې شوي، ممکن طالبان به د سولې په نوم د دوی او د

کابل د رژیم غوښتنې ومني، خو دوې ورځې وروسته یې چې د طالبانو وضعیت درک کړ، په جاپان کې یې یوې غونډې ته وویل چې ممکنه نه ده طالبان دې له خپلې تګلارې پرشا شي. او د کابل ګډ رژیم هم اوس دې نتیجې ته رسیدلی چې دوی نشی کولای طالبانو ته د زور او جبر له لارې ماته ورکړي، دوی مجبور دي چې په سالمه او منطقي لارو چارو باندی باید غور وکړي.

لنډه دا چې:

اکثره وخت، د وخت پېښې هم مهاله نشي فیصله کیدلای، بلکې زیاتره پیښې داسې وي چې شفافیت او ریښتینولي به یې تاریخ ثابتوي. د طالبانو د مشر ملااخترمحمد منصور دشهادت پیښه هم یوه له هغو ده چې، د تاریخ په پاڼو کې یې خپل تاریخي کردار ډېر مثبت ریکارډ کړ. تاریخ به ضرور ولیکي چې منصور هغه څوک و چې د هیواد د آزادۍ او د الله تعالی د دین د اعلاء په خاطر یې، ډېر هغه څه تر شا کړي و چې نړیوال اشغالګر یې د معاملې په کولو سره په بدل کې ورکولو ته تیار ول، مګر هغه بیا هم خپل مسیر او خپل الهي مسئولیت ته دومره ژمن پاتي شو چې د مرګ پیښې ته یې ټول خلک هک پک او حیران پاتي شول.

۲۹\۵\۲۰۱۶

## پر افغانانو د ملا منصور شهید احسان

**رشید حبیب زی**

د اسلام له پیل څخه تر ننه په هره زمانه کې داسې خلک او ډلې راپیدا شوې چې نوم ، نشان او ظاهري کړنې یې د اسلام او قران په سپیڅلي قانون بناء وي، لکن دوخت په تیریدو سره یې چې د مسلمانانو په مینځ کې یو څه محبوبیت پیداء کړي نو په

داسې کړنو يې لاس پوري کړی چې د اسلام سره سل فيصده ټکر لري د همدې بې شعوره ډلو څخه يوه هم د داعش ډله ده.

د القاعده څخه بيل شوی يو تنظيم چې ځان يې د داعش په نوم اعلان کړ او د عراق په ځينو برخو کې يې فعالتيونه شروع کړل، د امريکا په پيسو، وسلو او تربيتونو دغه حالت ته ورسيد چې د عراق او شام ځيني ښارونه يې تر خپلې ولکې لاندې راوستل. د افغانستان دلوړ پوړو حکومتي چارواکو او نړيوالو مشهورو رسنيو دراپورونو اواعترافاتو په اساس داعش وسله وال افغانستان ته د امريکائې طيارو پر مټ راورسيدل، دننګرهار په اچين ولسوالۍ کې پياده شوي دغه تور پوست جنګيالي د خپلو هغو ملګرو سره مل شول چې وار د مخه يې ذهنونه جوړ او تور بيرغونه پورته کړي وو. داعش د خلافت ساحې د پراخولو د پاره په هيڅ قسمه ظلم او ستم صرفه ونکړه چې د بيلګې په توګه يې د بنديانو سوزول، په اوبو کې غرقول، له ګړنګو ګوزارول، په بمونو کينول، په راکټونو ويشتل، په ژوندي بنديانو ټانګونه خيژول او داسي نور وحشتونه يادولی شو.

ګران هيواد افغانستان چې د تيرو ٣٦ کلونو څخه د بيلا بيلو استخبارتي کړيو د جنګ مرکز ګرځيدلی، خپلو موخو ته رسيدو لپاره يی په افغانانو د ظلم او وحشت هر پراو ازمويلی وه، داعش هم په دغه وحشتي پل قدم کيښود، د بې شميره ظلمونو سربيره يې د افغانانو ناموس ته هم لاس اوږد کړ، چې له املې يې د افغانانو له توند غبرګون سره مخ او د تور بيرغ شاته حقيقي مخ يې افغانانو ته روښانه شو.

په ١٩٩٤ کې د يوه جومات څخه د طالبانو اسلامی تحريک د جوړيدلو مقصد د پاټکي قومندانانو د ظلم او بربريت ختمول و، چې د الله په نصرت، د طالبانو صفا نيت او دولس په زړونو کې يې بې ساري محبوبيت د دی لامل شو چې له هېواد څخه يې د ظلم ټغر ټول او سپين شرعي نظام نافذ کړ، دا چې د طالبانو ظهور د ظلم له مينځه وړلو په موخه شوی و او تر ٢٠١٥ پورې يې دې هدف ته درسيدو لپاره بې شميره

شهیدان ورکړي وو. داعش یو وار بیا د اسلام تر بیرغ لاندی هغه څه وکړل چې د اسلام پر ټنډه تور داغ او انسانیت ورته ګوته په غاښ شو.

په ننګرهار کې داعش پروژې هغه وخت خورا زور واخیست چې د اسلامي امارت مؤسس ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ د مرګ راز افشا او ملا اختر محمد منصور تقبله الله یې ځای ناستی وټاکل شو

دا چې طالبان وار دمخه له ډیرو کړاونو سره لاس او ګریوان وو، داعش ورته یو بل ناورین او د کفر مقابل جهادکې خنډ جوړ شو، لکن هغوئ چې د ولس له مال، ځان او ناموس څخه دفاع خپله اسلامي وجیبه بولي نو په ډیره میړانه یې د دغه ظلم څخه د خلاصون لپاره په مقاومت لاس پوري کړ او په ډیرو لږو افرادو، کمزورو اسلحو، مګر په لوړ مورال او پیاوړي عزم یې په ډیره چټکتیا او کامل تکتیک دا ستر ناورین له نابودۍ سره مخ کړ او ملا اختر محمد منصور تقبله الله په دې معنی چې د افغانانو ناموس یې له وینځې کیدو وژغوره په افغانانو یو ستر احسان وکړ.

روح دې شاد او یاد دې تل وي

۲۹\۵\۲۰۱۶

# منصور په ژوند هم مظلوم او له شهادت نه پس هم مظلوم

**ویناوال: فضيلة الشيخ الدكتور هاني السباعي**

**ژباړه: عمرعلي روحاني**

یادونه: فضیلة الشیخ الدکتور هاني السباعي دعربي نړۍ وتلی عالم اوخطیب دی، نوموړی دمسلمه امت په غم غمجن دویښ احساس څښتن لوی شخصیت دی. دکتور سباعي دصلیبي او صهیونستي استعمارګرو دبدوعزایمو، وحشتونو، داسلامي نړۍ په ستونزو او په ځانګړې توګه دجهادي غورځنګونو په اړه خورا جالبې ویناوې کړې. داسلامي امارت دزعیم شهید امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور تقبله الله دشهادت په اړه یې هم ډیره ارزښتمنه وینا کړې، دکابل ټکي کام همکار ښاغلي عمر علي روحاني پښتو ته ژباړلې او مورِ همدغه ژباړه په لنډیز سره دلته وړاندي کړې ده.

**د نړۍ ټولو اسلام ته متعهدو مسلمانانو ته او په ځانګړي ډول د افغانستان مجاهدو مسلمانانو ته د ملا اختر محمد منصور د شهادت تعزیت وایم او د طالبانو د نوي زعیم په حیث دمولوي هبة الله اخند زاده په ټاکل کیدو سره ټولو ته مبارکي وایم.**

**ملا منصور د خپل وخت د اسلام یو ستر اتل و او مولوي هبة الله د جیدو علماو د شورا په اتفاق او اجماع سره د هغه ځای ناستی وټاکل شو، په اسلام کې د شخصیتونو راتلل او شهیدان کیدل یو عادی او نورمال کار ګڼل کیږي چې هیڅ د تشویش خبره نه ده، که نړیوال کفري ځواکونه د اسلام پر خلاف هر څومره زور ووهي نو اسلام ته هیڅ**

ضرر نشي رسولی، خصوصا په افغانستان کې چې تل دغه هیواد د طغاتو او جبابره و مقبره ګرځیدلې ده.

وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُواْ لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللهِ وَمَا ضَعُفُواْ وَمَا اسْتَكَانُواْ وَاللهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ (١٤٦) آل عمران.

وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتًۢا بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ١٦٩آل عمران.

دا زمونږ عقیده ده، وژل شوي مو شیهدان دي، ګټونکي مو د عزت ترلاسه کوونکي دي، او بندیان مو د اجر ترلاسه کوونکی خلک دي.

امریکا طالبانو ته یو مُلا ووژلو خو هغوی ته خدای بې شمیره مولوي مشران ورکړل د مولوي رتبه د افغانانو په اصطلاح کې له ملا نه یو څه لوړه وي، نو نوی مشر- هم مولوي دی او دوه معاونین یې هم مولویان دي، د افغانستان په تاریخ کې د یوه افغان مشر سره دومره ظلم نه دی شوی لکه د ملا اختر محمد منصور سره چې وشو.

ملا اختر محمد منصور تېر کال د طالبانو د عالمانو شورا لخوا د دغه تحریک مشر وټاکل شو، کال یې لا نه و پوره شوی چې د خاینانه بریدلهکبله په شهادت ورسید، ملا منصور کوم عادی سړی نه و چې ناڅاپي د دغه تحریک مشرتابه ته راغلی و، هغه د روسانو د یرغل پر مهال د یوه ستر عالم مولوي محمد یونس خالص تر څنګ د روسانو او د هغوی دګوډاګیانو پر خلاف د جهاد افتخار درلود، وروسته بیا هغه مهال چې افغانستان د مفسدینو او شریرو انسانانو له لاسه ځوریدو د طالبانو د تحریک له مؤسسینو څخه دی، او د اسلام د مجدد ملا عمر نږدې ملګری او معاون پاتې شوی، له مرګه مخکې یې هم مظلومانه ژوند درلود او په مظلومانه ډول ووژل شو او له مرګ نه وروسته پرې د ځینو کړیو لخوا تورونه پورې کول وربانديې یو بل ظلم و، چې ویل یې ولې یې د ملا عمر مرګ تر دوه کلونو پورې پټ ساتلی و؟ ځینو پرې دا اعتراض وکړ چې نوموړي په ایران کې څه کول؟ چې د ایران ویزې یې په پاسپورټ کې

لګيدلې وې، د دې ټولو تورونو ابتکار د امريکايانو لخوا کيږي، ورپسې د پاکستان امريکايي پلوه خپرونې يې بيا په زور او زير سره خپروي. زه مسلمانانو ته وايم چې د خدای دا قول ولولئ او له خدايه وويريږئ.

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِين)

د طالبانو شورا چې د تفسير، احاديثو او فقهي عالمانو نه تشکيل شوې ده، هغوی په يوه خوله وايي چې ملا منصور يو ډير نيک انسان و، مجاهد و او له ډير احترام نه يې د امير المؤمنين خطاب ورته کاوه.

نو د صادقينو سره صداقت په کار دی او د کاذبينو سره مقابله، د امريکا خارجه وزير جان کيري دهغه له مرګ نه وروسته وويل چې نوموړی د امريکا دښمن و، او نوموړی په افغانستان کې د امريکا لپاره تهديد و!!!، تاسې فکر وکړئ جان کيري له فوځونو سره د منصور هيواد، ځمکه او فضا په زور نيولې ده او خپل ځان د هغه لپاره تهديد نه ګڼي او برعکس د دغه هيواد بچي د ځان لپاره تهديد ګڼي دا کوم انساني منطق دی؟.

کله چې د امريکا لخوا په افغانستان کې پر مجاهدينو هوايی بريد پيل شو نو ځينې مجاهدين پاکستان ته واوښتل، په پاکستان کې ونيول شول او امريکايانو ته بيرته وسپارل شول، او ځينې چې بلوچستان ته لاړل بلوچانو وساتل، هغه که د ايران بلوچان وو او که د پاکستان، په ايران کې خو يواځې حکومت د شيعه ګانو په لاس کې دی نور خو د سنيانو نفوس او نفوذ دواړه له شيعه ګانو نه زيات دي، د ايران په بلوچستان کې په مليونونو سني مسلمانان پراته دي، خو ايران يې لا په رسميت هم نه پيژني.

ملا منصور د طالبانو مشرتابه شورا په ۲۰۱۵ کال کې د جولای په مياشت د خپل مشر په حيث رسما اعلان کړ، ما په همدې منبر تاسې ته د کندز د فتحې زيری درکړ، کندز د ملا منصور په مشری فتح کړای شو، څه د پاسه ٦۰۰ مسلمان مظلوم بنديان يې

له بنده آزاد کړل، د کندز ښار يې په مکمل ډول آزاد کړ، ټول خلک خوشحاله وو، آن چې مونږ دلته خوشحاله وو، او دا کار يې د ملا عمر د وفات د اعلان نه لږ وروسته تر سره کړ، ويل کيږي چې ملا عمر رحمة الله عليه په ۲۰۱۳ کال کې وفات شوی دی، يعنې د وفات له اعلان نه دوه کاله مخکې، نو تر دوه کلونو پورې د ده مړينه پټه ساتل هم د ملا منصور يو ستر زکاوت و، ځکه چې د طالبانو انسجام، تجهيز او مقاومت په منظم ډول پر مخ روان و، د فتوحاتو خبرونه يې په ټوله نړۍ کې خپرېدل، په پښتو، فارسي، عربي، او آن په انګليسي ژبه او امريکايانو هڅه کوله چې د فشار لاندې ېې راولې څو دا خبرونه خپاره نه شي څو خلک له حقيقت نه خبر نه شي، په ټول هيواد کې سختې جګړې يې پر مخ بيولې، پاکستان ډير تجسس وکړ چې د ملا عمر په اړه معلومات پيدا کړي خو ونه توانيد.

ملا منصور خپل ټول عمر يا په ديني مدارسو او يا د جهاد په سنګرونو کې تير کړی دی، د روسانو د يرغل پر مهال او بيا وروسته د فساد او ګډوډۍ پر خلاف، افغانستان يې هم له کفر نه پاک کړ او هم له فساد او مفسدينو نه، نوموړی يو ستر مشر و، نوموړی د قندهار دی، ملا عمر هم د قندهار و، او مولوي هبة الله هم د قندهار دی، خدای پاک کفري نړۍ ته د قندهاريانو په لاس عذاب پيدا کړی دی.

ملا منصور د طالبانو د حکومت پر مهال د هوانوردۍ وزير و، د دې نه معلوميږي چې د طالبانو تحريک پر ده باندې څومره باور او اعتبار درلود، نن ولې ځينې ناپوه خلک وربانديې تورونه لګوي، ای خدايه! هر څوک چې پر ده باندې تور پورې کوي چې دی د ايران يا د پاکستان ايجنټ و، ته يې په سترګو ړوند کړې، په پښو يې شل کړې، کور يې وران کړې، په دنيا او آخرت يې وشرموې.

دا منفي تبليغات د مسلمانانو د بدنامۍ په خاطر خپرول کيږي، څوک چې وايي هغه په ايران کې څه کول؟ دا ولې نه وايي چې: د امريکا الوتکې په ده پسې چا راوستې؟ دا نه وايې چې دا د مسلمانانو وينې د امريکايانو په لاس څوک تويوي؟ ملا اختر محمد منصور د ۳۰ نه زياتو کفري هيوادونو سره پوره ۱۵ کاله جګړه وکړه، د ۲۰۰۱

نه نیولې تر ننه پورې، نو پوښتنه داده چې د دومره بې دریغه قربانیو په ورکولو سره آیا دا امکان لري چې د کوم هیواد سړی دې اوسي؟ ځوک چې په ناپوهۍ، ناخبرۍ یا په عمدي توګه پر هغه باندې دا ډول تورونه لګوي دا په اصل کې د علماو په ټوله شورا باندې تور پورې کول دي، ځکه چې ملا منصور همدغې شورا خپل مشر ټاکلی دی، تر ټاکلو مخکې ملا منصور د همدغې شورا مشر هم و، او د همدغې شورا غړي دي چې دغه جهاد یې پر مخ بیولی او لا یې هم بیایي، ملا منصور چې کله مشر شو نو په خپله لومړنۍ وینا کې یې وویل چې زمونږ هدف د اسلامي شریعت نافذول دي، اشرف غني چې امریکا راوستی په افغانستان کې یې حاکم کړی اصلاً د شریعت د نفاذ د مخنیوي او د دموکراسۍ د تطبیقولو لپاره یې راوستی دی، کله چې ملا عمر ژوندی هم و، نو ملا اختر منصور ته یې مکمل صلاحیت ورکړی و چې ټول اهم کارونه د ده په لاسلیک سره پر مخ تلل، ملا منصور یو عملي مجاهد و، د ده ساده ګرځیدل د دې لپاره و چې د نړیوال تروریزم له ترور نه په امن کې وي، ملا عمر رحمة الله علیه هم په همدې موخه ډیر ساده ګرځیدو.

کله چې د طالبانو حکومت سقوط وکړ او طالبان دوباره فعال شول نو د طالبانو زیاتره مشرانو به آن خپلې ځیرې نه شکاره کولې، خو په لومړي ځل د ملا اختر محمد منصور سره د بیعت صحنه ویډیویی عکاسی او خپره کړای شوه. د مسلمان مشر په ټاکل کیدو کې هیڅیرته د خلکو دومره کثرت نه دی لیدل شوی.

د ملا اختر منصور د شهادت خبر پخپله د اوباما لخوا علان شو، د طالبانو شورا تر یو څه وخته پورې چوپتیا اختیار کړه چې دا یو ستر حکمت و، ځکه حالات یې کنټرول کړل، اوضاع یې سمه کړه بیا یې د خپل نوي مشرتابه کارونه مکمل کړل ورپسې یې د هغه د شهادت اعلان وکړ. دا یو شرعي سیاست دی، ځکه چې دا تحریک له هر طرف نه د کفارو لخوا تر تعقیب لاندی دی.

د ملا اختر محمد منصور د پاسپورت او ویزو په هکله باید ووایم چې ډېر سني مسلمانان شته چې د ایران پاسپورت لري او ډیر فلسطینی مسلمانان شته چې د

اسرائیلو پاسپورت لري دا د دې لپاره چې خپل ضروریات له دې لارې پوره کړي، او په نورو هیوادونو کې پرې وګرځي، خو د دې مطلب هیڅکله دا نشي کیدی چې نومورې مسلمانان دې د یهودو ایجنټان وي، یو سړی کولای شي چې د کوم هیواد ژبه یې زده وي او پاسپورټ یې ترلاسه کړای شي چې په نړۍ کې پرې وګرځي، ځکه که څوک دې چیرته ودروي نو اسناد دې ګورې او لاره درته پریږدي، او که فرضا د طالبانو د اسلامي امارت اسناد ورسره وي او یا ورته ووایي چې زه د طالبانو امیر یم آیا نو څه به پیښیږي.

مجاهدین باید له همدغه راز تاکتیکونو نه کار واخلي، د طالبانو سره خو نن سبا یواځې د اطرافو او قبایلو مسلمانان کلک ملاتړي دي، د ښار خلک خو ورسره ښکاره ملاتړ نه شي کولای.

دا باید واضحه کړو چې له ۲۰۰۱ نه تر ننه پورې د مسلمانانو په وژلو کې اوباما د بُش ریکارډ مات کړ، عجیبه داده چې اسامه بن لادن د القاعده مشر و او ملا اختر محمد منصور د طالبانو، دواړه د مې په میاشت کې شهیدان کړای شول او د دواړو د شهادت اعلان د اوباما لخوا وکړای شو، اوباما چې د مسلمانانو پر خلاف څه وکړل هیڅ یوه بل کافر مشر نه دي کړي.

نن ملا اختر محمد منصور یو سني عالم و، د امریکا په لاس شهید کړای شو، خو تر اوسه پوري حکومتي او رسمي ارګانونه خو پریږده چې مستقلو اسلامي ډلو او اتحادیو هم د امریکا له ډاره په خولو لاس کیښودلو، یوې ډلې هم آن چې د خپګان ښودلو غږ هم پورته نکړ، آن چې اتحاد علماء المسلمین، او نه هم اخوان المسلمین او نه د فلسطین حماس چې مونږ حساب پر کولو، خو برعکس دغو ډلو د هغه صعلوک په مرګ خپګان ښکاره کړ او تعزیت یې وکړ چې په سوریه کې یې د دسنیانو په وینو لاسونه سره وو، د سعودي په پاچا ملک عبدالله باندی یې هم ویر ښکاره کړه، او تعزیت یې وکړ، آیا څوک شته چې د ملا اختر منصور په شهادت باندې هم تعزیت وکړي؟.

ان الله لا یصلح عمل المفسدین.

ملا منصور چې په افغانستان کې د سني علماو مشر، مونږ يې طالبانو ته د تعزيت مراتب وړاندې کوو او د شيخ القرآن و الحديث مولوی هبة الله په مشر کيدو ورته مبارکي وايو.

هبة الله اخندزاده د طالبانو د حکومت پر مهال د محاکمو مشر هم پاتې شوی په ۱۹۹۶ کې قاضی القضاة و، شيخ الحديث هم و، ټولې فتواوي د ده په لاس اعلانيدې، په دې معنی چې هم عالم و، هم مفتی، هم شيخ الحديث اوهم شيخ القرآن، او ټولو قضايي ارګانونو د ده تر څارنې لاندې کار کاوه.

نو ای امريکايانو! ای هغه افغانانو چې د امريکا ګوډاګيان شوي ياست! ای هغو خلکو چې د اختر محمدمنصور په مرګ خوشحاله شوي ياست! او ای هغو خلکو چې په اختر محمد منصور باندی ډول ډول تورونه لګوئ، خبر شئ چې که ملا اختر محمد منصور لاړو، نو مولوی هبة الله راغی، الله ته سوال کوم چې مولوی هبة الله يواځې د افغانانو لپاره هبة (ډالۍ) ونه ګرځوي بلکې د ټول اسلامی امت لپاره هبة (ډالۍ) وګرځوي، او الله دې د ده په لاس داسې کارنامې ترسره کړي چې ستاسې زړونه وچوې، او خبر اوسئ چې اختر محمد خو کله کله له افغانستان نه بهر وتلو خو هبة الله بيخې له افغانستان نه بهر نه ووځي، تاريخ ثابته کړې ده چې يرغلګرو ته تل قندهاريانو غاښ ماتوونکی ګذارونه ورکړي دي، او خبر دار چې همدا اوس هم د شپې له مخې د افغانستان زياتره سيمې د طالبانو په ولکه کې وي، آن د افغانستان په شمال کې هم، او د امريکا الوتکې هلته هيڅ هم نشي کولای.

د افغانستان د طالبانو جهادي ډله د سوريې د جهادي ډلو سره زيات توپير لري، دلته يو تحريک دی، يوه نظريه ده، يوه قومانده ده او متجانس خلک پکې راغونډ دي او د عامو خلکو ملاتړ له ځانه سره لري، خو په سوريه کې مختلفې ډلې دي او غير متجانس خلک پکې راغونډ دي، او د خلکو ملاتړ له ځانه سره دومره نه لري.

د افغانستان په ننګرهار کې چې د داعش ډله رابښکاره شوه او په غرونو او رغونو کې به يې يو شپونکی چيرته رايسار کړ او د وژلو عکاسي به يې خپره کړه نو د طالبانو لخوا په ډيرې چټکۍ سره نشت او نابود شول.

د يادولو وړ ده چې د هبة الله دوه معاونين هم عالمان دي يو د ستر جهادی شخصيت مجدد او فخر المجاهدين مولوی جلال الدين حقاني زوی مولوی سراج الدين حقاني دی او دوهم د امير المؤمنين ملا عمر رَحِمَهُ ٱللَّهُ زوی مولوی يعقوب دی، مولوی سراج الدين حقاني هغه مجاهد دی چی امريکا وربانده ی په ملیونونو ډالر انعام ايښی دی.

يو ځل يې د حقاني صيب يو زوي په دې فکر شهيد کړ چې گوندي سراج الدين حقاني دی، د امريکا استخباراتي ارگانونهFBI او CIAشپه او ورځ ورپسې لالهانده دي، خو تر اوسه د خدای په فضل روغ رمټ گرځي، امريکا هڅه کوي چې خلکو ته داسې وښيي چې گوندې د حقاني شبکه د طالبانو نه يوه بيله شبکه ده، خو هيڅکله هم داسې نه ده، مولوی جلال الدين حقاني پخوانی ستر جهادی قومندان و او د طالبانو د حکومت پر مهال د قبايلو وزير و، که د دوی تر منځ اختلاف وی نو سراج الدين حقاني به هيڅکله هم د هبة الله سره بيعت نه و کړی، او نه به د ملا عمر زوی بيعت کړی وی.

ای امريکايانو خبردار اوسئ! تاسې که يو مشر وواژه، نو بې شميره مشران درته مقابلې ته راووتل، مونږ ټول د ملا منصور په شهادت افتخار کوو، ځکه چې مونږ د بستر له مرگ نه دې مرگ ته ترجيح ورکوو، زه د خدای په نوم لوړه کوم چې که چيرته زمونږ صف متحد وي حتما به بريالي کيږو، تاسې به په ټول عمر کې دا نه وي ليدلي چې امريکايانو دې له چا سره مخامخ جگړه کړې وي تل د الوتکو په وسيله خپل دښمنان ولي، او پخپله تښتي، که د دوی عسکر له چا سره مخامخ جگړه وکړي بيا به معلومه شي چې څوک گټونکی دی، د دوی عسکر له الوتکو نه هغه مهال راکوزيږي چې سل په سلو کی مطمئن شي چې طالبان نشته، له يوه طالب نه يې د ټانکونو پوره

قطار ویریږي، تر دې چې د جګړې د تودیدو پر مهال په تانګونو کې دننه وړې او غټې متیازې کوي، کوم عسکر یې چې خپلو هیوادونو ته لاړ شي په دماغي تکلیف اخته شوی وي، دوی تل په جګړې کولو کې د سیمه ایزو خلکو نه کار اخلي، پیسې ورکوي او تطمیع کوي یې، په سوریه او عراق کې یې د شیعه ګانو په واسطه جګړه وکړه او په افغانستان کې یې د افغاني لاسپوڅو په واسطه.

لَا يُقَاتِلُونَكُمْ جَمِيعًا إِلَّا فِي قُرًى مُحَصَّنَةٍ أَوْ مِنْ وَرَاءِ جُدُرٍ ۚ بَأْسُهُمْ بَيْنَهُمْ شَدِيدٌ ۚ تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمْ شَتَّىٰ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يَعْقِلُونَ (۵۹) الحشر.

دوی خو د بې پیلوټه الوتکو کمپیوټر ته ناست وي او خپل دښمن باندې بریدکوي او هغه کثیف خلک چې زمونږ له قوم نه دي او د مسلمانانو بچي دي او زمونږ په ژبه خبرې کوي او زمونږ په مینځ کې اوسیږي دوی ته د پیسو په مقابل کې معلومات او کوردینات ورکوي، چې دا کار ښځې او آن ماشوم هم کولی شي دا ډول جګړه خو ډیره ساده او آسانه جګړه ده لکه یو څوک چې ګیم کوي، دوی هیڅکله د نارینتوب مخامخ جګړه نشي کولای. الله دې مولوی هبة الله په خپل حفاظت کې وساتي.

۲۹\۵\۲۰۱۶

## د منصور صاحب څو بعدیز شخصیت

**میوند سادات- لیکوال او څېړونکی**

شهید ملا اختر محمدمنصور وروسته له هغه نړیوال شهرت ترلاسه کړ چې دطالبانو دتحریک دموسس او مشر اروانښاد ملا محمدعمر مجاهد دوفات خبر نشر شو. د ملا محمد عمر مجاهد دوفات له اعلان سره دامارت رهبري شوری چې داهل الحل والعقد شرعي حیثیت لري، ملا اختر محمدمنصور رسما دامارت دنوي زعیم په توګه غوره کړ.

ملااختر محمد منصور دطالبانو دتحریک لـه پیـل څخـه ددغـه خوځښـت فعـال غړی او د یو مسؤل شخص په حیث پاته شوی، منصور صاحب ته دتحریک پـه لومړیـو کې دکندهار دنړیوال هوایې ډګر دمشرتوب چارې وسپارل شوې، وروسته چې طالبـانو هرات، ننګرهار او کابل ونیو، نوموړی د افغانستان د سیاحت اوهوایې چلند وزیـر شـو او پرافغانستان دامریکا د یرغل ترمهاله پرهمدې دنده پاته شو.

منصور صاحب دهوایې چلند دوزیر په صفت افغانستان او افغـان ولـس تـه ډیـر زیات خدمتونه ترسره کړل، کنډوکپر هوایې ډګرونه چې هرځه یې خراب شوي او چـور شوې وو، بیا ورغول، بیلابیلې الوتکې اوطیارې یې ترمیم او یو تعداد یې نوي خریـداري کړې چې په برکت یې افغانان دحج د فریضې داداء کولو لپـاره لـه خپـل هیـواد څخـه سعودي ته ولاړل، همداراز په داخل او دافغانستان څخه بهر اریانا افغان هوایې کرښې طیارو داسیا مختلفلو هیوادونو، اروپا او.... ته سفرونه او پروازونه پیل کړل، چې داټول دهماغه وخت شرایطو اوامکاناتو ته په پام سره ډیر لوی اودروند کار اوخدمت و.

د امریکایې یرغل پرضد روان جهاد کـې منصـور صـاحب ډیـر لـوی او بـازر رول ولوباوه، د یرغل په پیل کې د طالبانو له لوري د کندهار والي او د رهبري شوری غـړی و، د ملا عبیدالله اخند ترنیول کیدو وروسته د ملا محمد عمر مجاهد لـه لـوري د مـلا برادر اخند د مرستیال په حیث غوره شو، د ملابرادر اخند ترنیول کیدو وروسته مشر ملا صاحب دخپل نائب په توګه غوره کړ.

ملا اختر محمد منصور دملا محمد عمر مجاهد د نیابت پر مهـال د طالبـانو پـه سیاسي او نظامي پرمختګ کې مخکښ رول ولوباوه، په پوځي ډګـر کـې یـې د طالبـانو دروزنې لپاره معسکرونه جـوړ کـړل، نظـامي قطعـات یـې رامنځتـه کـړل، ددعـوت او ارشاد، جلب اوجذب کمسیون یې ایجاد کړ، دملکي تلفاتو دمخنیوي ځانګړې اداره یې جوړه کړه، په قطر کي یې سیاسي دفتر پرانست، چې په توسط یې طالب غورځنـګ لـه مختلفو هیوادونو او جهتونو سره خبرې اترې وکړې، د قطر دفتر له لاري په لومړي ځل د طالبانو استازو فرانسې، جاپان، ناروې اونـورو هیوادونـو تـه رسـمي سـفرونه وکـړل،

دامارت پالیسي یې په رسا ټکو کې په خپله خوله نړیوالو تـه توضـیح کـړه، طالبـان پـه نړیواله کچه د سیاسي هویت او وجاهت څخه برخمن شول او دنړي مختلف هیوادونـه دطالبانو سره اړیکو جوړولو ته هوادار‌ه او مایل شول.

منصور صاحب په داسي حساس وخت کي دطالبانو دمشر پـه توګـه وټاکـل شـو، چې د داعش وسله والو دهیواد په ځینو برخو کې سر راپورته کړی و، خلـګ یـې پـه یـو اوبل نامه ځورول، بندي کول او شهیدول، اسلام یې یوازي په داعش کي حصر کـړی و، له ځان پرته نور مسلمانان یې مشرکین اومرتدین بلل، افغان ولس له داعشي وسله والـو ډیر زیات کړیده، منصور صاحب داعشي وسله والو ته اسـتازي واسـتول او ورتـه ویـې ویل چي تاسو څه غواړئ؟، که واقعـا مـو هـدف دکفـارو او دهغـوی دلاسـپوڅي رژیـم دنابودۍ او داسلامي نظام قیام وي، راشئ داسلامي امارت غیـرې تـه، ځکـه اسـلامي امارت دهمدې ستر هدف لپاره دوې لسیزي وړاندي پاڅون کړی، ډیـرې قربـانۍ یـې ورکړي، ستونزي یې ګالې او مهمه داچـي پـه عمـلي ډول یـې اسـلامي نظـام نـړۍ تـه وښود. داعش نه یوازي داچې د طالبانو غوښتنې ته یې مثبت ځـواب ونـه وایـه، بلکـې طالبان یې غلامان او ګمراهان وبلل او پرطالبانو یې حملـې وکـړې، طالبـانو پـه ځـوابي بریدونو کي داعش له ډیرو سیمو وشاړه او خلګ یې ددا‌عش له شر څخه خلاص کـړل، لنډه داچې دمنصور صاحب په قیادت کې طالبانو د داعش په ټکولوسره د ډیرو زیـاتو وینو د بهیدو او دیوې لویې فتنې مخه ونیوله.

منصور صاحب دمجاهدینو په نامه دهغو اختطافګرو او داړه مارانو مخه هم ډب کړه چې له یوې خوا یې خلګ دپیسو لپاره برمته کـول اوځـورول او لـه بـلي خـوا یـې د طالبانو ترمنځ نفاق رامنځته کاوه. دې وروسیتو کـې امریکـایې خپرونـې وال سـټریټ ژورنال دامریکایې چارواکو دااعتراف نشر کړ چې: «پـه ځینـو ولایتونـو کـې دامریکـا جاسوسي ادارې سي آی اې او د کابل ملي امنیت دطالبانو پرضد د ملا رسول اخند پـه مشري داختطافګرو سره د وسـلو او پیسـو مرسـتې کـړي دي اودوی یـې هڅـولي چـې دطالبانو ترمنځ اختلافات ایجاد کړي».

دمنصور صاحب یوه بله ځانګړتیا داوه چې دافغانستان ټول وروڼه قومونه یې پر ځان راټول کړل، تاجکو، ازبکو، ترکمنو، هزاره وو اونورو اقلیتونو نه یوازې داچې دنوموړي قیادت ومانه، بلکې عملا یې دمنصور صاحب په قیادت کې دلویدیځ دنیواک پرضد مقاومت شروع کړ.

## دمنصور صاحب د شجاعت یوه بېلګه:

امریکا چې پرافغانستان یرغل وکړ دپیل په مهمواهدافو کې یې دکندهار هوایې ډګر ؤ، دهوایې ډګر مسؤلیت دمنصور صاحب په غاړه و، د مځکې له لارې دګل اغا شیر زي اوخالد پښتون په مشري وسله والو پر هوایې ډګر حملې کولې، امریکایې ځواکونو ته یې کوردینات ورکول او دهوا له لارې بي ۵۲، ایف ۱۶ الوتکو او کروز توغندیو دشپې او ورځې هوایې ډګر تر حملو لاندې نیولی و، د کندهار هوایې ډ ګر هغه ځای و چې پرافغانستان د یرغل له پیل څخه بیا دکندهار تر سقوط پورې د طالبانوخورا پیاوړی دفاعي سنګر، د کندهار د هوایې ډګر اهمیت په دې کې و چې دکندهار داشغال دروازه وه، که همدا هوایې ډګر پرې نښودل شوی وای، د یرغل په لومړۍ اونۍ کې به کندهار دسقوط له خطر سره مخامخ شوی وای. منصور صاحب ددې هوایې ډګر مسؤل او عمومي قوماندان و چې په ډیر شجاعت او جرئت سره یې دوې میاشتې پرله پسې د شپې او ورځې ددې ځای ساتنه وکړه.

## له بیت المال سره دمنصور صاحب داحتیاط یو مثال:

منصور صاحب خپلې کورنۍ ته دامارت په چارو کې هیڅ ډول رول نه و ورکړی، وروڼو او ډیرو نژدې خپلوانو یې دغربت ژوند کاوه. ملا عبدالحکیم شریف کیسه کوي چې: دمنصور صاحب ورور منصور صاحب ته ډېر په غوسه ؤ، ویل یې: «دی (منصور) زموږ حال ویني چې ستړي یو او لاس مو تنګ دی، د یوڅه مرستې غوښتنه مې ځنې وکړه، خو ده (منصور) راته وویل: وروره! دا څه مالي امکانات چې زما په تصرف کې دی، ته پوهیږې چې دانه دپلار څخه په میراث راته پاته شوي دي اونه هم زما شخصي-

مال دی، دا دبیت المال مال دی نو له دې مال څخه نه کومک درسره کولای شم او نـه به دمرستې تمه راڅخه کوې«.

د منصور صاحب په مشري د طالبانو په پوځي لیکو کې په لنډ وخـت کـې داسي نظم، قوت او دقوماندې فعال مرکز رامنځته شو چې په سبب یې طالبانو ډیرې سیمې، په لسهاوو ولسوالۍ او حتی دکندوز ستر ښار د دښمن له ګوتو وایسـت اوخپلـه ولکـه یې پرې ټینګه کړه.

منصور صاحب دطالبانو تحریک د یو قوي جګړ ییز ځواک سربیـره پـه یـو فعـال سیاسي حرکت هم تبدیل کړ، د پوځي فعالیت ترڅنګ یـې پـه سـیاسي ډګـر کـې هـم داشغال دختمیدو، داسلامي نظام دنفاذ او دیو بسیا افغانستان لپاره یـې ډیـرې هڅـې وکـړې، منصـور صـاحب دطالبـانو تحریـک د یـومنظم حکومـت پـه ډول تیـار کـړ، مسولیتونه، دندې او دکار طرز العملونه یې داسې ترتیب کړل چې ډیر وخت وروسـته به هم د طالبانو نظام دګډ وډې ښکار نشي.

## د منصور صاحب پر فعالیت او لیاقت ددښمن اعتراف:

اوباما وویل منصور صاحب یې ځکه په نښه کړ چې په اصطلاح دسولې په مخ کې خنډ ؤ، پرایتلافي ځواکونو او افغان عسکرو یې سـختې حملـې تنظـیم کـړې وې او پـه راتلونکي کې هم یو لوی خطر ؤ.

د افغانستان دچارو د وتلي امریکایې څیړونکي بارنټ روبین په وینـا د منصـور د په نښه کیدو لوی علت داوو چې منصور کابل کي پرامریکایانو د یو ډیر لوی برید پلان درلود.

د امریکا چا پ وال سـټریټ ژورنال په وینا امریکایانو فکر کاوه چې منصور به د خپل پخواني مشر په پرتله نرم وي، کیدای شي چې د سولې خبرې ومني، خو واقعیـت دادی چې منصور دامریکا په دښمنۍ کې ډیر تکتیک کوونکی او فعال و.

منصور صاحب دامارت د نیابت پرمهال او وروسته چې کله په رسمي ډول داسلامي امارت د زعیم په حیث وټاکل شو، دزمان او مکان له ستونزو، تهدیدونو او کړاونو سره یې داسې مقابله وکړه چې په هیڅ یو مورد کې هم داسلام او هیواد له لویو ګټو تېر نشو، د امارت خپلواک موقف یې وساته، دښمن ته یې ثابته کړه چې ترځان تیریدای شي، خو تر علیا مصالحو او خپلواکۍ تیریده نشي زغملای. منصور صاحب داسې رهبر و چې دخپلې مبارزې دپیاوړتیا او پراختیا لپاره یې هر ډول قربانۍ ته ځان چمتو کړی ؤ، ستړیاوې، سفرونه او کړاونه یې پرځان منلي وو، آن تردې چې په کرایې ټیکسي کې ګرځیده، خو له خپل مسیر څخه نه پرشا کیده، په غرونو او ریګونو کې اوسیده، خو دنورو فرمایشونه یې نه قبلول.

د ملا اختر محمد منصور په مشري د طالبانو خوځښت په لنډ وخت کې په مختلفو محاذونو کې ډیر وځلید، نوموړی ډیر ځیرک، مدبر، مشوره اخیستونکی، ښه غوږ نیونکی، حلیم، شجاع او د مشرتابه د ډیرو ښو صفاتو څښتن ؤ، ملا اختر محمد منصور صاحب هم د سولې سړی ؤ، هم د جګړې، هم یې سنګر ټینګ او قوي کړی ؤ او هم یې دفتر فعال ساتلی ؤ.

۱۱۶۱۲۰۱۶

## مخ را لوخ کړه جعلي منصور یې که اصلي؟

**لیکنه: شریف الله پکتیاوال**

له نن نه څلور کلونه مخکې شاید په دې وخت کې به ملا محمد عمر (مجاهد) (رحمه الله) ژوندی و چې د طالبانو اوسني شهید شوي مشر ملا اختر منصور د نائب په صفت کار کاوه، که څه هم ما کومه رسمي دنده نه درلودله، خو له یوه ډیر نږدې ملګري سره هغه مجلس ته ولاړم کوم چې د ملا اختر منصور لخوا رابلل شوی و.

په دغه مجلس کې چې شاو خوا تر پنځه ویشتو کسانو پورې ملګرو پکې ګډون درلود، ټول یې نظامي جګپوړي مشران او د لوړو دندو مسئولین وو. مونږ ټول په یوه لوی اطاق کې منصور صاحب ته په انتظار وو، له افغاني دود سره شینې چای مو غوړپولې او د ناستو کسانو لخوا عجیب او غریب واقعات ذکر کیدل، شیبه وروسته د اطاق په دروازه کې کوربه غږ کړ چې منصور صاحب راغی، په اطاق کې ټول موجود کسان په ډیر احترام او آدب ودریدل او د اطاق په دروازه یې سترګې ورځښې کړې.

منصور صاحب په داسې حالت کې راننووت چې مخ یې په یوه خړ رنګې دسمال پټ کړی و، دا د ګرمې موسم وو، شاید د ګرمې له امله یا د خپل امنیت په خاطر به یې ځان پټ کړی و، له راننوتو سره سم یې نبوي سنت (السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته) پر ځای کړل، او له ټولو سره یې په غیږ سترې مشې شروع کړه. د سترې مشې په وخت کې یوه ملګري پرې ږغ کړ: مخ رالوخ کړه جعلي منصور یې که اصلي (تاسو ته به په یاد وي چې د منصور صاحب په نوم یوه کس چې ویل کیدل په کوئټه کې یو دکاندار و د کابل له اداري سره ښه پخه غولوونکې او شرموونکې معامله کړې وه).

دغه کس چې په منصور صاحب یې ورته ږغ وکړ ماته د منصور صاحب ډیر نږدې ملګری ښکاره شو، او په دې هم وپوهیدم چې منصور صاحب له خپلو ملګرو سره ټوقې او مزاحیه خبرې هم کوي، د همدغه ملګري په خبره ټول له خندا شنه شول، دا چې منصور صاحب په سترې مشې مصروف و، کیدای شي چې خندلي به یې وي، خو ما یې خندا وا نه وریده.

له سترې مشې چې فارغ شو د اطاق پورتني دیوال ته د څلورو ملګرو په مینځ کې کیناست، له کیناستو وروسته بیا یې له ټولو ملګرو سره له افغاني دود سره سم ښه جوړ فخیر وکړل، بیا یې سورت نصر تلاوت کړ او ښه اوږده دعا یې وکړه، په ځانګړي ډول د هغو کسانو په حق کې یې د بښنې عجیبه الفاظ وویل کوم چې له همدغو نظامي ملګرو سره په جهادي سنګرونو کې شهیدا شوي وو.

وروسته يې يو ګلاس اوبه وغوښتې، د اوبو له غړ پولو وروسته يې په سر پروت دسمال ليرې کړ او په هغه ملګري يې ږغ کړ چې ورته وې ويل (مخ رالوخ کړه جعلي منصور يې که اصلي) مولوي صاحب څنګه يې، په کور کې دې خير ده، ملګري مو ښه دي، په دې وخت کې په خپله منصور صاحب او نورو ټولو ملګرو عجيبه له مينې او محبت ډکه خندا وکړه.

وروسته منصور صاحب خپلې خبرې پيل کړې، د خبرو په پيل کې يې وويل: د الله تعالى جل جلاله ډېر شکر پکار دى، شپه او ورځ الله تعالى ته متوجه کيدل پکار دي، چې له مونږ سره يې ډير نصرت کړى، او مونږ ته يې ډيره لويه کاميابي راکړې:

مونږ او تاسو هره ورځ وينو چې ملګري پوستې فتحه کوي، لوى لوى بيسونه فتحه کوي، ولسوالۍ فتحه کوي، دا د الله تعالى جل جلاله نصرت دى، دا د الله تعالى جل جلاله خصوصي پېرزوينه ده، دا د الله تعالى جل جلاله هغه ډول مرسته ده لکه په بدر او نورو ځايونو کې يې چې له خپلو مخلصو بندګانو صحابه کرامو رضى الله عنهم سره کړې وه، شکر پکار دى، الله ته متوجه کېدل پکار دي، عجز او زاري پکار ده، شپه او ورځ الله تعالى جل جلاله ته ژړا پکار ده چې نوره مرسته هم راولېږي، نوره هم راولېږي.

خو په دې باره کې هدايت دا دى چې کله هم ملګري پوسته، بيس، د ولسوالۍ مرکز يا د دښمن بل مرکز فتحه کړي نو په ډله ييز ډول دې ملګري همغه ځاى ته نه ورځي، هلته دې نه پکې اوسيږي، هلته دې نه پکې ايساريږي، ځکه که له يوې خوا د هوائي حملې خطر دى، له بلې خوا دا خطر هم شته چې مکار دښمن دې په خپل مرکز کې بمونه ځاى پر ځاى کړي وي او د ملګرو د داخليدو په وخت کې دې انفجار ورکړي، لهذا په هيڅ صورت کې اجازه نشته چې ملګري بې پروايي وکړي.

دويمه خبره دا ده چې مونږ او تاسو ته چې هر وخت د دښمن له لوري ضربه رسيدلې، وروسته چې معلومات شوي بيا معلومه شوې چې ملګرو بې غوري کړې وه، بې پروايي يې کړې وه، پهره يې نه وه درولې، ګورئ ملګرو پهره کول نه يوازې دا چې

ضروري ده، بلکې لکه څرنګه چې تاسو ته معلومه ده پهره کول ډیر اجرونه او ثوابونه هم لري، لهذا هدایت دا دی چې له دې وروسته ټول مجبور او مکلف یو چې ښه بیداره پهره (چوکیداري) به کوو، ترڅو خدای مکړه د لږ بیغوري له وجهې ملګرو ته زیان و رسیږي.

بله خبره دا ده چې له عام ولس سره ډیره ښه ګوزاره کوئ، د سپین ږیرو ډیر قدر او احترام کوئ، له ځوانانو سره یې په معمولي او وړه خبره جنجال مکوئ، ځکه چې دا مجاهد ولس دی، دا قهرمان ولس دی، دا هغه ولس دی چې تاسو ته ډوډۍ درکوي، تاسو ته شپه او ځای درکوي، له تاسو سره همکاري کوي. مونږ او تاسو خو بل څوک نلرو، دا د همدغه ولس بچیان دي چې جهاد کوي، مونږ او تاسو هم د همدغه ولس بچیان یو، بل د جهاد تګلاره همدوی راته پرې ایښې ده، که دوی له روسانو سره جهاد نه وای کړی، خدای خبر چې نن ورځ به د افغانانو څه حال وو، همدا دوی وو چې روسان یې مات کړل او وطن یې راته آزاد کړ.

عام ولس ته د پاملرنې په باره کې هدایت دا دی چې تکلیف مه ورته رسوئ، او که له هر چا څخه په دې باره کې شکایت راشي پوښتنه به ترې کیږي، که چیرته خدای مکړه د یو چا لخوا بې موجبه او ناحقه ولسي کس ووژل شي او مونږ ته د مقتول کورنۍ عارضه شي نو مونږ به هغې ته اختیار ورکړو چې قاتل قصاص کوي، که دیت ترې اخلي او که یې ښې، مونږ او تاسو ټول په دې مجبور او مکلف یو چې خپل مربوط ملګري په دې خبر کړو.

بیا یې ټولو ملګرو ته د خبرو کولو وخت ورکړ، د ماسپښین له لمانځه وروسته ډوډۍ وخوړل شوه، د ډوډۍ په سر یې د هیواد د یو شمیر سپین ږیرو علماء کرامو پوښتنه وکړه، چې فلانی وفات شوی که ژوندی دی، دیته وایي مشر، دیته وایي رهبر، دیته وایي امیر.

پای

دا زما په خپل ژوند کې هغه خاطره ده چې هیڅکله به مې هیره نشي

۲\٦\۲۰۱٦

# په طالب پوهنه کې ناکام شاګرد

**لیک: ملا توریالی اخند**

د ملا اختر محمد منصور صاحب تر شهادت وروسته امریکایي ولسمشر- اوباما زیاته کړه چې د منصور صاحب په نښه کېدو دسولې لپاره لاره هواره کړه او په وینا یې چې همدا چاره به دفشار د الې په توګه طالبان سولې ته حاضر کړي. دامریکا خارجه وزیر (جانکیري) وویل طالبان باید دخپل مشر د په نښه کیدو څخه عبرت واخلي، کنه نور مشران به یې هم د ورته برخلیک سره مخ شي. دکابل حکومت مشرانو (غني او عبدالله) طالبانو ته اخطار ورکړ چې وسله پر مځکه کښېږدي، د سولې (؟) له پروسې سره یوځای شي، کنه نو د ډرون بریدونو ښکار به شي.

طالبان روانه جګړه دخدای جل جلاله په لار کې مقدس جنګ (جهاد) ګڼي، په دې لاره کې کړاوونه، ستونزې، زخمونه، اسارتونه یو لوی فضیلت او مرګ شهادت ګڼي، شهادت هغه اوچت مقام دی چې انحضرت صلی الله علیه وسلم یې دترلاسه کولو دعاء او تمنا کړې ده، د قران کریم په مختلفو سورتونو کي د خدای جل جلاله په لار کې مرګ لویه نیکمرغي بلل شوې، ان تردې چې لوی خدای جل جلاله په خپل کلام کي انسانانو ته فرمایې چې: « تاسې هغو کسانو ته مړه مه وایاست چې دخدای جل جلاله په لار کې وژل شوي وي، دوی مړه نه، بلکې ژوندي دي، خو صرف تاسې پرې نه پوهیږئ. بل ځای الله تعالی فرمایې چې تاسې پر هغو کسانو دمړو ګومان مه کوئ چې

دخدای تعالی په لار کې یې سرونه ښندلي وي، دوی ژوندي دي اوده عزوجل له لوري رزق ورکول کیږي».

د طالبانو تحریک دمشرتابه د شهادت او اسارت لویه مخینه لري، خو تېر ته په پام کله هم د طالب مشرانو شهادت دطالبانو خوځښت کمزوری کړی نه دی، په ځینو مواردو کې دمشرتابه شهادت او وفات طالبان نور هم مضبوط کړي دي.

د طالب د دښمن لویه ناکامې همدا ده چې طالب یې نه دی پیژندلی، مثلا امریکا او دکابل حکومت د یرغل په سیوري کې طالبانو ته په واک کې دونډې ورکولو مکرري نارې وهي، اما واقعیت دادی چې طالب دچوکۍ لپاره مبارزه نه کوي، که د طالب دمبارزې هدف د منصب ترلاسه کول اوساتل وای، نو ولې به یې دامریکا غوښتنو ته منفي ځواب ویلای، له امریکا سره به یې پرځینو موضوعاتو توافق کړی وای، نور به یې هماغه امارت وای، نه به تور او جایزه لیستونه وای، نه به د ترهګرۍ تورونه وای، نه به ګوانټانامو، بګرام او کندهار کې زندانونه ترې ډکیدلای او نه به هم دموجوده ستونزو او ګواښونو سره مخا مخ کیدلای، خو اصل خبره داده لکه مخکې چې هم ذکر شوه، دطالب مبارزه دمادیاتو لپاره نه ده، طالب خپله مبارزه جهاد ګڼي، دې لاره کې سترياوې، مشکلات، زندان، زخمونه او له ژوند سره خدای پامانې کول دالله تعالی د رضاء ستر سبب بولي او جالبه لا داچې پرې ویاړي او په ترلاسه کولو یې یو تربله مبارکۍ سره ورکوي.

سبحان الله! له عقله څومره ډېره لیري ده!، چې یو څوک له یو شي یا یو حالت سره دومره مینه لري چې د ترلاسه کولو لپاره یې پنځه وخته لاسونه لپه کوي، همدا یې لوی ارمان وي، پرې ویاړي، ذکر وفکر یې داوي چې فلان ډیر نیکمرغه ؤ چې دشهادت جام یې پر سر واړاوه، خو یوبل څوک یې بیا په همدغه مینه، ارمان او ارزو ډاروي او ګواښ ورته کوي چې که له خپله هوډه وانه وړې نو همدغه ارمان (شهادت) به دې در پوره کړو!!.

د طالب دښمن دخپل حماقت او جهالت له امله د طالبانو نظام ړنګ کړ او په خپل پوځي شتون سره يې نور هم خپل حماقت ته دوام ورکوي، تېره يوه نيمه لسيزه طالب بندي شو، شکنجه شو، زخمي شو، معلول شو، شهيد شو، دکور وکلي پريښودلو ته مجبور شو، شتمنۍ يې چور شوې، باغونه او فصلونه يې له خاورو سره برابر شول، پاسفورس، کيمياپي او بيلوژيکي وسلې پرې استعمال شوې، خو له خپلې مبارزې بيزاره نشو، پور ته ذکر شوو واقعيتونو ته په پام سره چې نور هم د طالب ډارولو کمپاين ته د حماقت نوم ور نه کړو، څه نوم به ور کوو اوخنګه به يې تعبيرو؟!.

په طالب پوهنه کې ناکام شاګرد که سر له اوسه د طالب له ټاټوبي (افغانستان) بستره ګول نه کړي، په پزه اوږده ليکه ونه کاږي، په نړيواله کچه به دغباوت او حماقت ټاپه پرې ولګول شي. بله لا داچې دتش لاسي طالب له لاسه به يې سرټيټي او شرمندګي دلمسيانو او کړوسيانو پيغور شي.

۳\٦\۲۰۱٦

## د اميرالمؤمنين شهادت او د امريکا نامعقول وحشي دريځ

**حسن زوی- ليکوال او د احاديثو او فقهي استاد**

اميرالمؤمنين ملا اخترمحمدمنصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ تعالی دروانې مياشتې شعبان په ۱۴مې نېټې چې دجوزا دړومبۍ نېټې سره يې سمون خوړ دکندهار ولايت ريګستان اودبلوچستان نوشکي ته څېرمه په يوې سرحدي سيمې کې دامريکايې طاغوت دبې پيلوټه الوتکې په بريدکې دشهادت لوړ مقام ته ورسېد انا لله وانا اليه راجعون.

هرانسان چې نړۍ ته سترګې خلاصوي، ورنه دابدلپاره سترګې پټوي اوپکې څومره ژوند تېروي ددې هرڅه پرېکړه يواځې الله تعالی کوي اوعلم يې هم يواځې الله تعالی ته دی ؛ داهرڅه له وړاندې ليکل شويدي اوپکې هيڅ مخکيوالی او وروسته والی نه راځي؛ همدې ته تقدير ويل کېږي ؛ پردې دهرمسلمان کلک باور اويقين لرل

شرعاًضروري دي ؛ زمونږ دين دهرمسلمان نه ددې يقين لرلوغوښتونکی دی اودايقين دايمان داسې برخه ده چې له دې پرته ايمان داعتبارونږ نه ګنل کېږي.

ستر اوکوچنی ؛ځوان اوزوړ؛ بډای اوغريب نېک اوبد يو هم دالله تعالی ددې قانون نه مستثنی ندی اوټول دهمدې خدايي قانون سره سم نړۍ ته راغلي اوترې تللي دي. اميرالمؤمنين ملا اخترمحمدمنصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ تعالی هم يو انسان و او دهمدې خدايې قانون له مخې په مقرر وخت او ځای کې يې نړۍ ته سترګې وغړولې اوپه مقرروخت اوځای کې يې روح له بدن نه جدا اودابديت پرلوريې پرواز وکړ.

دالله تعالی دا پرېکړه مورږ ته په سر سترګو قبوله ده او درب العالمين پر قضارضا خپل شرعي مسئوليت ګڼو، خو چې په فراق يې د هېواد او نړۍ دټولو ژمنو او باشعوره مسلمانانو اوخصوصاًدنړۍ اوافغانستان مجاهدينو سره يوځای سخت غمجن اودردمن يو او په الفاظو اواوښکو دزړونوددې غم اودرد اظهارکوو دا مو هغه طبعی حق دی چې خدای راکړيدی نو نه يواځې دا چې دغم اودرد ددې اظهارنه موخپل رب نه منع کوي بلکې دا د انسانانو تر منځ د خپلمنځي ترحم او همدردۍ نښه ګڼي نو ورته مقبول دی اورحم هم په همداسې رحم کوونکو کوي.

اسلامي نړۍ چې نن په مختلفولحاظونو د ويش او انتشار ښکاراو دواحد قيادت نه محرومه ده او په مختلفومهمو برخوکې بې کورني جنګونه روان دي دبهرنويرغلونونه ددفاع توان يې له لاسه ورکړی دی، اودضعف په همدې حالت کې يې پرضد دانساني تاريخ هغه بې ساری سترصليبي اتحاد هم رامنځته شوی ؛ چې مشري يې دامريکا په څېر زبېښاکګر، خونخوار وحشي- زبرځواک کوي ؛ دې اتحاد چې داسلامي نړۍ پرضد جنګ اعلان او دستوني نه دټولې اسلامي نړۍ دتېرولوپه موخه داجنګ عملاً پرافغانستان ديرغل کولونه پيل کړ، نو په ټولې اسلامي نړۍ کې ډېره ستره ناهيلي خپره وه ؛ هيڅا داګومان نه کولوچې ګيڼی ددې سترمادي طاقت مقابلې ته به څوک راووځي اويابه ګيڼې داسلامي نړۍ کوم ګوټ دصليبيانو دناپاکوقدمونونه خوندي پاتې شي.

دناهیلې په همدې سترعالم کې چې دعادي جنګي وسایلوسره طالبان ددې ستراتحادمقابلې ته راووتل نو نه یواځې داچې کم شمېر طالبانو دډېروعادي اوکمزورووسایلوپرمټ ددې ستر زبرځواک پرضد تراوږدې مودې پورې جنګ جاري وساتلای شو، بلکې دتمې خلاف یې دې لوی دښمن ته داسې ملاماتوونکي ګوزارونه ورکړل چې دښمن پخپله دشکست اعترافونوته اړشوچې پدې سره دنړۍ دټولومسلمانانو دامېد سترګې یواځې دطالبانوپرلورشوې اویقین ته یې پربوته چې دمسلمانانو ددې ستر دښمن شکست اودمسلمان ملت نجات دطالب دوجود اوداسلامي امارت دبقا سره تړلی دی.

همدا لامل دی چې دنړۍ ژمن مسلمانان اسلامي امارت ته ډېر دقدر په نظرګوري ؛ په زړونوکې یې داسلامي امارت دزعیم ډېرلوړمقام دی اودطالبانوسره بې کچه مینه کوي ؛ په بریاوو اوپرمختګونو یې ډېرخوشالېږي اوپه درد یې سخت دردمن وي، نو ځکه وایوچې دامیرالمؤمنین ملا اخترمحمدمنصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ پرشهادت نه یواځې دافغانستان مجاهد ولس بلکې ټوله اسلامي نړۍ غمجنه ده اوټوله پرې ژاړي.

دهغه رَحِمَهُ ٱللَّهُ تعالی دفراق داغم او درد طبعي دی خو دشهادت په کوم مرګ چې هغه ومړ هغه مرګ ډېردلوړې مرتبې والامرګ دی ؛ داهغه مرګ دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به یې سخته تمنا کوله اوفرمایل به یې چې: زه داخوښه ګنېم چې دالله تعالی په لارکې بیا بیا شهیداوبیا بیا ژوندی شم. نوځکه ددې لویې مرتبې حصول دهرمسلمان خواهش وي اوهرمسلمان په خپلې دعا کې دالله تعالی نه دا سترمقام غواړي ؛مسلمان دبل مسلمان لپاره هم شهادت غواړي او دادمسلمانانوپه خپل منځي صالحو دعاګانوکې ډېره مهمه دعا ګڼل کېږي.

داسمه ده چې داسلام اومسلمانانو دترټولوستر دښمن په لاس چې دټولې اسلامي نړۍ دا دومره سترشخصیت ووژل شو دې ټول مسلمانان په طبعي لحاظ خفه کړیدي، خوداهم دټولومسلمانانو عقیده ده چې دځومره ستر کافراوداسلام اومسلمانانو دلوی دښمن په لاس دمسلمان شهادت رامنځته کېږي په هماغه اندازه دمسلمان شهادت

هم لوی ګټل کېږي. دحقې لارې هرمجاهد ددین، اسلامي خاورو اومسلمان ملت نه ددفاع اوداسلام دسرلوړې لپاره دخدای په لارکې جنګېږي اوهمدا يې اصل هدف وي خوپدې لارکې شهادت يې هم ستره هيله وي ؛ تل دشهادت تږی وي اوددې تندې دماتولو لپاره څوځوځله دخپل تندي ماتولوته تيار وي.

منصورصيب هم دحقې لارې يوداسې مجاهد وچې تېرې څه دپاسه دوه لسيزې يانې دخپل عمر کابونيمه برخه يې ياد هدف اوهيلې ته درسېدوپه هيله دخدای په لارکې په جهاد کې تېرې شوې تردې چې الله تعالی دده په لاس دلويوجهادي اهدافوتحقق هم يقيني کړ اوهم يې هيله پوره شوه اوداسې پوره شوه څرنګه چې ده غوښتله.

پرامیرالمؤمنین ملا اخترمحمدمنصورصيب چې دده سلف د ستر فراست څښتن ؛د هېواد او ملت لوی غمخور، رښتيني مدبر، د همت غر او د جرأت، حريت او د قربانۍ سمبول عالیقدرامیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ تعالی اعتماد کړی و اوپه خپلوټولوملګرو کې يې دنيابت لپاره دده انتخاب وکړ اوبيا چې دامارت ټولو مهمو مشرانو دده په مشرۍ اتفاق وکړ دا دده لپاره دلته په دنيا کې لويه مرتبه اودخدمت ستره موکه وه. نوعام، مسلمانان، مجاهدين اودامارت مشران چې په دنيا کې دده په دومره لوی مقام خوښ وو په آخرت کې هم ورته دلوی مقام غوښتونکي ووچې دنړۍ دترټولووحشي، خونخوارو اوظالموکافروامريکايانوپه لاس دده دشهادت له لارې الله تعالی ده ته دامقام ورکړ او ارمانونه يې ورپوره کړل.

ترکومه چې اسلامي امارت ته له دې لارې دلوی تاوان رسولو اودامريکا دفتحې ياشومواهدافوته درسېدلوخبره ده نودا حقيقت ټولې نړۍ ته له ډېر وړاندې نه روښانه شويدی چې دطالب مشرانو شهادتونو هيڅکله هم د اشغالګرو پرضدروانې مبارزې کې هيڅ نقصان، کمی اوتوقف ندی راوستی ځکه چې داجهاد اوپدې جهاد کې دالويې قربانۍ داشخاصو لپاره ندي چې دشخص په تلو يا راتلو دې روان شي يا ودرېږي ؛

دامبارک عمل چې دکوم ذات لپاره کېږي هغه ازلاً وابـداً ژونـدی ذات دی اوترڅـوچې دادنیا ودانه وي دهغه لپاره به داعمل جاري وي.

دشمېر په لحـاظ کمـواود وسـایلوپه لحـاظ کمزوروطالبـانوچې دانسـاني تـاریخ دترټولوستر جنګي اتحاد په مقابل کې هم داوږدې مـودې لپـاره جنـګ جـاري وسـاتلو اوهم یې دالوی دښمن دشکست تر سرحـده راورسـولو ددوی ټولوداعقیـده ده چـې دا هرڅه یواځې دهغه ذات په فضل وشول دچالپاره چې داعمل جاري دی خوداسبابو دنیا ته چې نظر وکړونودنړۍ ټول پوهان، څېړونکـي ؛ سیاسـتوال اودنظرڅښـتنان دوسـتان اودښمنان وایې چې دطالبانودکامیابۍ یـواځینی سـبب دطالبانودصـف وحـدت اوپـه واحدقیادت باندې راجمع کېـدل دي، چـې لله الحمـد دا وحـدت اوپـه واحـد قیـادت باندې جمع چې څنګه وه هماغسې اوس هم ده، نوځکه وایوچې دجهـاد روان عمـل تـه هیڅ تاوان ندی رسېدلی.

ملامحمـــد عمرمجاهـــد رَحِمَهُ ٱللَّهُ تعـــالی چـــې داســـلامي امـــارت زعـــیم او دطالبانوداسلامي تحریک مؤسس و وفات یې ستره حادثه وه ؛ دښمنانو خو بـه دخپلـو رسنیو له لارې همدا تبلیغات کول چې طالبان به دیوغورځنګ په صفت نور باقي پـاتې نه شي ؛ دوئ به ټوټه ټوټه شي ؛اکثریت به یې وسلې په ځمکه کېږدي اونور بـه دبهرنـو ځواکونو پرضد دجنګ روان ساتلوتوان له لاسه ورکړي.

کمزوري اوضعیف الایمان مسلمانان ددوئ ددې تبلیغاتونـه اغېـزمن وو اوهمـدا خبرې به یې تکرارولې ؛ عاموم‌خلصومسـلمانانوکې نـاهیلي خپـره وه اومجاهـدینوکې د افتراق راپیداکېدوتشویش محسوسېدلو، خـو آفـرین داسـلامي امـارت پرقیـادت چـې دوخـت حساسـیت یـې درک کـړ؛ دصـف دوحـدت سـاتلو اوپـر یوامیردټولوافغانـانو اوخصوصاًمجاهدینو دراټولولولپـاره یـې پرځـان شـپه او ورځ یـوه کـړه ؛ الله تعـالی یـې مرسته وکړه ؛ کوښښونوپې رنګ راوړ دصف وحدت پاتې شواو ټول مسلمانان په هماغه یوامیرراټول شول کوم چې امیرالمـؤمنین ملامحمـدعمر مجاهـد رَحِمَهُ ٱللَّهُ تعـالی خپـل ځای ناستی جوړکړی و.

رښتیا داده چې عالی قدرامیرالمؤمنین ملا محمد عمدعمرمجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ ته الله تعالی ډېر لوی فراست ورکړی و ؛ په خپلوملګروکې یې چې دچا انتخاب کړی اوپرې یې زیات اعتماد کړی و، هغه هماغسې وخوت، څرنګه چې ترې امېد کېدلو ؛ هغه خپل مسئولیت په ډېر غوره او ویاړمن ډول ترسره اوداسارت حق یې ادا کړ ؛ دامارت دچارواودجهادي امورودلازیات پرمختګ لپاره یې ډېرې هڅې اوښه ګڼ جدي اقدامات وکړل ؛ دعالي اهدافواوملي ګټودتحقق په لارکې یې هیڅ سترټیا ونه منله ؛ دصف واحد ساتلو ته یې ډېره توجه وکړه ؛ هغه په رښتیا چې داشدآء علی الکفار رحمآء بینهم نمونه وه ؛ مسلمانانو او مجاهدینو ته یې زیاته مینه ورکړه اوداشغالګرو په مقابل کې دپیل نه دمرګ ترساعته په کلک او ویاړمن دریځ پاتې شو ؛ نه یې داشغالګروغوښتنې ومنلې ؛ نه یې زور ته سرټیټ کړ نه یې ګواښونو اوفشارونوته تسلیم شو ؛ نه یې دچا پروسې اوپشنهادونه ومنل ؛ نه دمکاروخلکودتوطیو اودسیسو ښکار شو؛ نه یې دچا فشارونوعزم متزلزل کړ اونه یې دچاپه وینا خپل مسیر پرېښود.

دهغه داسلامي امارت دزعامت موده لنډه وه، خوپه لنډې مودې کې یې دمتین عزم، کلک ایمان اوسرلوړی داسې کارنامې ترسره اوتاریخ ته پرېښودې چې تل به پرې ټول ژمن مسلمانان اوخصوصاً مجاهدین ویاړي اواتلولی به یې تاریخ تل یادوي.

شهیدامیرالمؤمنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ تعالی له نړی سترګې پټې کړې،خو په خپل عمر یې کومه داسې کوچنۍ خبره یا حرکت هم ونکړ چې د افغانانو پرتاریخ تورټکی شي، بلکې په لږوخت کې یې چې څه وکړل هره کړنه یې تاریخ جوړوونکې وه چې دا دټولو مسلمانانو لپاره دډېرې خوښۍ خبره ده. دشهید امیرالمؤمنین چې کوم مقام او منزلت و شاید ګڼ متعصبین به ترې لاهم انکار کوي خو تاریخ به دالوړمقام اولویه مرتبه هیڅکله هم پټه نکړي او زمانې پس به شه په روښانوټکو دده رَحِمَهُ ٱللَّهُ دلویوالي اولوړوالي خبره ترقیامته راتلونکو نسلونوته ثبت کړي.

دامیرالمؤمنین دشهادت نه پس دامریکا تورپوستي ولسمشربارک اوباما دغرورنه په ډک فاتحانه انداز دهغه دقتل اعتراف و کړ اوویې ویل چې ،،که طالبانو

دملا اخترمنصور په څېر دسولې اومذاکراتوپروسه رد کړه انجام به يې دخپل همدې مشرپه څېر وي ؛ په راتلونکي کې به دامريکا دمفاداتودساتنې په موخه داړتيا په صورت کې دطالبانود مشر په شمول نور قيادت هم په نښه کړو، بيا يې جاپان ته دسفرپرمهال وويل ،، طالبان دې پدې پوه شي چې دوی به بيا په افغانستان کې واک ته ونه رسېږي اونه به يې حکومت راشي ؛ افغانستان کې جمهوري دولت شتون لري، مورهمدغه دولت تقويه کوو. داوباماخبرې څومره ددیپلوماسۍ ضد ؛ دوحشت اوغرورنه ډکې ؛ دحقيقت نه لرې ؛ نامعقولې اوپرتضاداتو ولاړې دي ؟! خوشوک شته چې دده پرضد دحق آواز پورته او دده دخبرونامعقوليت اوناقانونيت په ګوته کړي ؟.

اوباما دکابل اوسنۍ لاسپوڅې اداره جمهوري اداره ياپه بل عبارت دولس له لورې منتخبه اود ولس دخوښې اداره بولي داڅومره سپين دروغ دي ؟! که ولس يواځې په چوکيوباندې دناستولاسپوڅو، رشوت خورو، لوټمارانو اوملي خائنانو نه عبارت وي نويقيناً اوسنۍ اداره ددوئ دخوښې اداره ده او دوئ يې بقاغواړي خوکه ولس دافغانستان دټولو اوسېدونکونه عبارت وي نوبيا هرمنصف داپوښتنه کوي چې که دا جمهوري يا دولس دخوښې اداره وي نو ولې دافغانستان د شمال، جنوب، شرق اوغرب په هرې سيمې کې افغانان هغوطالبانوته په خپلوکورونوکې ځای ورکوي کوم چې داشغالګرو اوداشغالګروپه لاس درامنځته شوې اداړې پرضدجنګېږي؟

اوباما داخترمحمدمنصور دشهيدولو لپاره وجه دابيانوي چې هغه دمذاکراتو پروسه کې خنډونه جوړول. په ټولیزه توګه ټولې نړۍ اوپه ځانګړې ډول دملګروملتونوپه نوم نړيواله اداره بايد پدې خبرې غور وکړي چې آياداوباما په خبرې کې ګيني يوفيصد قانونيت يامعقوليت شته ؟ آياپه نړۍ کې زورورونه داحق هم ورکړل شويدی چې که مقابل لوری ورسره مذاکرات نه کوي ياورته دمذاکراتولپاره شرطونه وړاندې کوي نوزورور به يې وژني ؟. د ديپلوماسۍ خبرې څه شوې ؟ داد انسانانو نړۍ ده که دځناوروځنګل دی ؟!.

داخبره ډېره داهمیت وړ ده چې طالبانو خو ایله همدومره کړي چې دخپلې خاورې دآزادۍ په روان جنګ کې یې امریکایي اشغالګرعسکر وژلي دي چې دا د دوی مشروع حق اودنړۍ دټولوقوانینوسره برابره خبره ده ؛ دادنړۍ په ټولوقوانینوکې ثبت ده چې داشغال پرضد دیوملت قیام اوجنګ کول دهغه ملت قانوني حق دی.

نوطالبانودامریکا پرضدهیڅ ناقانونه عمل ندی ترسره کړی ؛ نه یې پر امریکایرغل کړی ؛ نه یې دامریکا یوه لوېشت خاوره قبضه کړې ؛ نه یې وربانديې کلستېربمونه غورځولي ؛ نه یې پرامریکا کیمیاوي مواد استعمال کړي ؛ نه یې په امریکا کې کوم ښوونځی، روغتون اوکلیسا بمبارکړي، نه یې دکوم امریکایي کور وران کړی او نه یې په توره شپه کې په کور وراوښتي ؛ نه یې دانجیل په نوم دهغه کتاب اودعیسی علیه السلام په نوم دهغه پېغمبرسپکاوی کړی دکوم چې امریکایان ځانونه متبعین بولي. بس طالبانوهمدا کړیدي چې داشغالګرهېواد سره مذاکرات یې دقابضوفوځونو په وتلومشروط کړیدي. موږ دټولې نړۍ اودملګروملتونو دارې نه داپوښتنه کوو چې آیادطالبانو له لورې دیوشرط وړاندې کېدل دومره لوی جرم دی چې دطالبانوقائد دې پرې ووژل شي ؟

امریکایي فوځ چې پرافغانستان یرغل کړی ؛ داهېواد یې قبضه کړیدی ؛ وربانديې کلستېربمونه غورځولي ؛ ددې هېواد په مختلفوسیمو کې یې کیمیاوي مواد استعمال کړي، جوماتونه، مدرسې، ښوونځی، روغتونونه، جنازې، ودونه، آباد کلي اوښارونه یې بمبارکړي، په تورو شپو کې په کورونو وراوښتي دي ؛ دمسلمانانودمقدس کتاب قرآنکریم بې حرمتي یې کړیده نو اوباما او د امریکا نور مشران چې دهمدې فوځ مشري کوي اودهمدې اعمالو دترسره کولولپاره دا فوځونه را استوي آیا نړیواله ټولنه اودملګروملتونو اداره به ددې جرمونو نه پس بش، اوباما او دامریکا نور مشران دقتل وړ وبولي اوآیا طالبان یې که په وژلوبریالي شي او ویې وژني دطالبانو داکړنه به تائید کړي ؟.

نه! هیڅکله هم نه! ځکه چې امریکا خو امریکا ده ؛ پدې مادي نړۍ کې هغه زوروره ده، بدماشه اودملګروملتونوپه نوم دغلامې اداري یواځینۍ باداره ده اوطالبان دمظلوم مسلمان ملت برخه ده نودطالبانوهره خبره اوعمل ردیږي اودامریکا هرڅه دقانون سره برابر اودمنلو وړ ګڼل کېږي.

داپوښتنه هم ډېره اړینه ده چې په نړۍ کې خو نور هم ډېر داسې ځوک شته چې دامریکا سره په ډېرو امورو کې شدید مخالفت ښکاره کوي اوامریکا ته ګواښونه هم کوي آیا امریکا دومره نره ده چې دهغوئ دوژلو حق هم ځان ته ورکړي ؟. داوکراین په شخړه کې چې امریکاپه روسانوسخت تنقیدونه کول ؛ په روسانو یې تورلګولوچې په اوکراین یې حمله کړیده اودا داسې ده لکه په ټول لویدیځ باندې حمله نوآیا امریکا دپوتین دوژلوحق ځان ته ورکولی شي ؟.

امریکا ډېرې هڅې وکړې چې شمالي کوریا داتومي وسلوجوړولونه منع کړي ؛ شمالي کوریا ته دترغیب اوترهیب، غولولو او وېرولوهره حربه یې په کارواچوله خوشمالي کوریا یې هیڅ پروا ونه ساتله، دامریکا هیڅ فشار یې ونه منلو اوښه په جرأت یې خپل اتومي پروګرام مخ په وړاندې بوتلو ؛ ښه په نره یودبل پسې اتومي ازمویني کوي ؛ اوس دشمالي کوریا په اړه دا اوازې هم شروع دي چې هایدروجن بم جوړوي ؛ امریکا ته یې څوځلې ګواښونه کړیدي چې جاپان اوجنوبي کوریا کې شته اډې به یې نیست ونابود کړي نودشمالي کوریا په کوم مشر دډرون حملې کولوحق ځان ته امریکا ورکولی شي ؟ امریکایان خو دومره بزدلان دي چې دشمالي کوریا په نوم یادولویې لېنګي رپېږي.

همدا رازدچین، وینزویلا، کیوبا اوځینو نوروهېوادونوسره هم امریکا ستونزې لري اویو یې هم خبره نه مني خو دیو هېواد دمشر دوژلواو وربانديې دحملې کولو تصور هم امریکا نه شي کولای ځکه چې امریکا بې حده بزدل دښمن دی دهغه چانه تل په سختې وېرې کې وي دچاسره چې مادي طاقت وي.

نوکـه دامریکـاسره دطالبـانو درائـې مخالفـت دومـره لـوی جـرم نـه وي چـې دطالبانوقائـد دې پـرې ووژل شي نوبایـد اوباما چـې دقتـل اعـتراف یـې کړیـدی نړیوالومحاکمو کې دمحاکمې لپاره راښکل شي او کـه داسـې نشي۔ کښدای نونړیوالـه ټولنه اوملګري ملتونه باید پـدې اعـتراف وکـړي چـې پرنـړۍ دقـانون نـه بلکـې دزور اوبدماشۍ حاکمیت دی.

دامریکا اوسني سترجنایت د امریکا منافقت نړۍ ته ښکاره اوداخبره ښه روښانه کړه چې امریکا رښتیا هم خپلې موخې اوشوم اهداف په جګړې کې ویني ؛ هیڅکله نـه غواړي چې په افغانستان کې جګړه ودرېږي اودافغانستان ستونزه دخبرو اترولـه لارې حل شي ؛ امریکا یو فیصد هم په حقیقي معنوکې دطالبانوسره مذاکراتوته ژمنه نده.

دامریکا د دماغونه لاهم دحماقت نه ډک غرورنـدی وتـی اولاهـم دخپلـې غلبـې خوبونه ویني ؛ دکوموطالبانوپه لاس چې په پنځلس کلـن اوږدجنـګ کـې ټـول صـلیبي اتحادپه ګونډوشودهماغوطالبانونه غواړي چې وسـله دې پـه ځمکـه کښـږدي اودکابـل لاسپوڅې اداره دې ومني. خوعجیبه داده چې خپلې دحماقت نه ډکې همدې غوښتنې ته نوم دمذاکراتو ورکوي. شاید ګومان به کوي چې پدې توګه به ځـان نـړۍ تـه سـوله پالی اوطالبان دسولې مخـالفین وښـایې چـې دایـوه ناکامـه هڅـه ده ؛ بالفعـل قـابض، اشغالګر اودسونوزروبې ګناه انسانانوقاتل به څوک سوله پالی وګڼي ؟. دامریکـا مکـاره ځېره طالبانو پېژندلې ده او دمنافقت نه یې ښه خبر دي نوځکـه یـې مـذاکرات ددوئ په وتلو مشروطول او اوس چې پکې هیڅ ګټه نه ویني نوبېخي یې ردکړل.

اوباما دا ګواښ هم کړی چې که طالبانو دملا اخترمحمدمنصور په ځېـر دسـولې اومذاکراتوپروسه رد کړه انجام به یې دخپل همدې مشرپه ځېر وي، هر دعقل څښـتن به بې له فکر کولودا وایې چې داوباما داخبره دحماقت نه ډکه طفلانـه خـبره اودخپـل ځان اوخپل ولس دغولولویوه ناکامه هڅه ده. اوباما ژوندو هغو انسـانانوته غږېـدلوچې دټولې صلیبي ټلوالې په مقابل کې یې دطالبانو تېره ۱۵کلنه مقابله مخې ته ده.

پرافغانستان دیرغل نه وړاندې اودیرغل په ړومبو ورځوکې به چې امریکا کومې باټې وهلې اودغرورنه په ډک کوم انداز به یې چې طالبانوته ګواښونه کول ټولوخلکوته معلوم دي اوداهم دهرچا په علم کې ده چې دې ګواښونو د طالبانوپه ارادوکې هیڅ ډول بدلون نه و راوستی او د امریکا په مشرۍ کې رامنځته شوی دانساني تاریخ ترټولو لوی جنګي صلیبي اتحاد مقابلې ته چې د نړۍ بل یوطاقت هم د راوتلو جرأت نه شوکولای او ټول ورته تسلیم وو دملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ په مشرۍ کې طالبان ددې ستر اتحاد په مقابل کې د استقامت د غر په څېر میدان کې ودریدل اوپه پوره مېړانې یې د شرموونکې ماټې سره ددې اتحاد د مخامخ کولو پورې دا پیل شوي سپېڅلي جهاد جاري وساتلوچې دا یقینا د نړۍ په سطحه بې ساري اتلولي ده ؛ پدې جریان کې په لسګونوزره شهیدان اوټپیان شول ؛ ګڼ شمېر پکې له اعضاءو نه محروم شول په لسګونوزره پکې دوحشت نه ډکو زندانونو ته لاړل خودې هیڅ هم ددوئ عزایم متزلزل نه کړل ؛ نه دخپل مسیرنه واوښتل ؛ نه دخپلو اهدافونه تېرشول ؛ نه یې دښمن ته سر ټیټ کړ او نه هم ددښمن زورته تسلیم شول، بلکې دهرې ورځې نه بلې ته یې خپله مبارزه دومره ځواکمنه کړه چې ټول صلیبي اتحاد یې په ګونډوکړ. نو اوس چې اوباما ګواښونه کوي اودا تمه ښکاره کوي چې دیو امیر په شهادت به طالبان خپله حقه مبارزه پرېږدي ؛ یابه دخپل معقول اومشروع دریځ نه واوړي اویابه هم دخپلوعالي اهدافونه تېرشي دایې لوی حماقت اودځان اوخپل ملت دغولولوناکام کوشش دی.

ټولې نړۍ ته معلومه ده چې اسلامي امارت په قوي بنسټونوولاړه یوه ځواکمنه، په ښکاره ساده خوپه حقیقت کې خورا منظمه اداره ده، دکشر اومشرمقام پکې معلوم دی ؛ دهېواد دزیرکوعلماءکرامو، سیاست پوهانو اوجهادي قائدینونه جوړه داهل الحل والعقد مقتدره شورى لري ؛ همدې شورى دامیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ تعالی دوفات داعلان نه پس ملا اخترمحمدمنصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ تعالی د افغانستان داسلامي امارت امیرجوړکړی و او دده دشهادت نه پس اوس همدې شورى شیخ القرآن والحدیث هبة الله آخندزاده ته په اتفاق دامارت مسئولیت ورپه غاړه کړ اود

مولـوي جـلال الـدين حقـاني حفظـه الله زوی سـتر اتـل سراج الـدين حقـاني او دامیرالمـؤمنین مـلا محمـد عمرمجاهـد رَحِمَهُ ٱللَّهُ زوی مولـوي محمـدیعقوب تـه د نائبانومسئولیت ورکړ ؛که څه هم داهـر یومسـئولیت دلـویې قربـانۍ غوښـتونکی دی خوچې په شوری کې امارت دزبده مشرانو پرېکړه وه نودرې واړوپه سرسترګو ومنله.

۱۷\٦\۲۰۱٦

## په ننني عصرکي دمسلمانانو دسر تاجونه

**لیکنه: ملنګ- دجهادي چارو څارونکی**

دامت مسلمه لپاره دنړۍ پرمخ دخلفاو راشدینو څخه را وروسته دمسلمان ملـت دیووالي او ویاړ داسې رهبر به شاید ونه موندل شي.

لومړی، امیرالمؤمنین مرحوم ملامحمدعمر مجاهـد رَحِمَهُ ٱللَّهُ چـاچې دنـړۍ ټولـو مسلمانو ولسونو ته داسې نوښتونه وروښل چې تردې دمخه يې دنړۍ پـرمخ بېلګـه نـه شو وړاندې کولی د مرحوم لوی ملاصاحب دګفتار اوکردار تـرمنځ دومـره نږدېـوالی او مماثلت هم دنړۍ دکوم پاچا یا رهبر په ژوند کې نه شو وړاندې کولی.

دلوی ملاصیب دژوند پروخت دمسلمان امت دنظم او یو والي کیسې خـو ډیـرې دي، مګر دا یوه بیلګه دسلیمان ع پرته څوک هم نه شي وړاندې کـولی چـې تـر وفـات وروسته يې په خپل صف او ملت دومره واک او کنترول و چې آن دوه کاله ټول آمـارت او دنړۍ مسلمانو دهغوی اطاعت اوبیعت وساتلو.

همدا راز ددویم امیرالمؤمنین شهید الامـت مـلا اخترمحمدمنصـور رَحِمَهُ ٱللَّهُ څـه داسې ابتکارات او افتخارات دي چې دتل لپاره به پرې دنـړۍ مسـلمان روان وي او دا ویاړ به دهغوی دژوند یوه نه هېرېدونکې بیلګه وي چـې پـه دومـره سـختو شرائطـو او

ستونزو کې دلوی ملاصیب تروفات وروسته دهغوی آمارت منظم کول او مسلمان ملت ته دفتوحاتو زېري ورکول.

همدا راز دلوی ملاصیب دوفات دومره لوی راز ساتل داهرڅه ددوی دخلوص، تقوا، دیانت او دښه مدیریت بیلګې دي، اوس چې زمونږ په شمول د تمامې نړۍ مسلمانان ویاړ او افتخارات ترلاسه کوي دادهمدوی درهبرۍ او امت ته دښه مشرتابه نتیجه ده، پاک رب العلمین دې دواړه (امیران) په جنتونو ونازوي، الله دې دواړو ته ددوی دسعې بدل ورکړي. آمـیـن!

۱۸\٦\۲۰۱٦

## د مبتکر قاید د شهادت دردوونکې پېښه!!

**ابوظهیر - لیکوال او د دیني او سیاسي چارو څېړونکی**

د۱۳۹۵ لمریزکال دجوزاپه لومړۍ نیټه دافغانستان داسلامي امارت مشرامیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور دامریکا یي بې پیلوټه الوتکې په برید کې د شهادت لوړ مقام ته ورسید انا لله وانا الیه راجعون.

دنوموړي دشهادت پېښې دهېواد دننه اوبهر لوی شمېر مسلمانان په خاصه توګه په اازادۍ مین افغانان دویر اوغم په ټغر کینول، له دنیا څخه هره ورځ خدای خبر څومره خلک داخرت په سفر درومي! خو داسې خلک خال، خال پیداکېږي چې دهغوی په مړینه یاشهادت دې نړدې په ټوله اسلامي نړۍ کې مسلمانان دغم اوښکې توی کړي! اویادې دنړۍ په هرځای کې رښتیني اومخلص مسلمانا ن دهغوی مړینه خپل غم وبولي.... یادې دهغه چا په بیلتون اوفراق کې له سترګو نه اوښکې توی کړي چې په ژوند کې یې یوځل هم نه وي لیدلی! رښتیاهم دمنصور صاحب په دردوونکي شهادت له ختیځ نه ترلویدیځه مسلمانان غجمن برېښي او له امله یې پخپلو زړونو کې یودرد او غم محسوسوي. الله تعالی دې درجات لوړ کړي نوموړی داسې شخصیت و،

چې شهادت يې نه يواځې دهغه درنې اومجاهدې کورنۍ لپاره دروند غم اوزيان دی بلکې په سهې معنی دټولې اسلامي نړۍ په خاصه توګه دافغان ولس اجتماعي غم اودرددی، چې په وجه يې هر با احساسه افغان او مسلمان دردمن او غمجن ښکاري.

دامير المؤمنين ملا اختر محمد منصور دشهادت پېښه يواځې له دې املـه نـه جبرانيدونکې ضايعه نده چې هغه داسلام او مسلمانانو دازلې دښمن هېواد (امريکا) دبې پيلوټه الوتکې په بريد کې په شهادت ورسيد، بلکې له دې امله چې هغه داسلامي امارت او مسلمانانو يوزړه سواند، مهربان، موفق او کامياب مشر ـ و، دګران هېواد د ازادۍ او خپلو اکۍ ګټلو علمبردار و، داسلام او مسلمانانو ددفاع قوي مبارز و، شپه ورځ دمجاهدينو ا ومسلمانانوپه خدمت بوخت و او په قوي عزم اومېړانه يې په هېواد کې دصليبي يرغل په وړاندې دتاريخ لوی افغان جنګ رهبري کاوه. هغه په دې کې دومره مخلص، وفاداراوسرشار و چې آن له ځانه بې پروا و، د خپلو وينو قرباني يې هم دريغ نکړه، خپل ځان اوهر څه يې قربان کړل خو داغيار نامشروعه ارادو اوشومو اغراضوته يې خدای پاک سرټيټ نکړ، دې ځانګړنو ته په پام ويلای شو چې دشهيد منصور صاحب دقربانۍ مثال په نړۍ کې ډېر کم مونـدل کېږي چې ديوګونـد رهبر خپله وينه دخپل هدف لپاره قربان کړي...

دا داسلامي امارت ځانګړتياده چې مشران او قيادت يې له شهادت او قربانۍ سره دومره سر شاره مينه لري چې ورنه خپلې وينې هم نه دريغوي، داسلامي امارت مؤسس [امير المؤمنين ملامحمد عمر مجاهد] هغه اولوالعزمه هستې وه چې دخپلې حقې داعيې څخه دژوند تر وروستيو سلګيو وروسته نشو اونه يې اغيارته خپل خدای پاک سرټيټ کړ. منصور صاحب هم د خپل سلف په نقش قدم په قوي عزم اوهوډ ترپايه دکومې دسيسې ښکارنشو او نه يې داشغالګرو په وړاندې په جهاد اومبارزه کې نرمې راوسته او نه دخپل سر او خپلو وينو له قربانولو څخه په شاشو.

په دې علاوه اروښاد امير المؤمنين (منصور) يو ستر عملي مبتکر اوپه کارپوه مشر و، دځان دننه يې ديو پراخ نظام درهبري کولو توان اوصلاحيت درلود، هم دغه

وجه وه کله چې دملا برادر اخند داسارت وروسته داسلامي امارت دچارو ټول مسؤلیت نوموړي ته ورکړل شو، نو په پوره امانتداری او دیانتداری سره دامارتي چارو په رهبري کولو یې په ټول هېواد کې دمجاهدینو صفوف لا تقویه او منظم کړل او په دښمن دمجاهدینو لخوا دپرېکنده جنګي عملیاتو او تاکتیکونونوښت یې رامنځته کړ، چې له امله یې دښمن د درنو زیانونو او تلفاتو زغملوته اړشو او ور ته دافغانستان لویشت، لویشت خاوره سور انګار وګرځید ه.

په دې سربیره منصور صاحب یونظم خوښوونکی مشر و، هغه لومړی دنیابت په دوره کې او بیا دامارت په دوره کې داسلامي امارت اداري تشکیلات هغسې چې دوخت، حالاتو، ظروفو او شرایطو اړتیاوه جوړ اومنظم کړل، دچارو دقانوني او اصولي ګرځولو په موخه یې دنیږدې ټولو ادارو اوکمیسیونو لپاره کاري لائحې ترتیب او جوړې کړي، په کومو کې چې دهرې اداري اوکمیسیون مشخص مسؤلیتونه او مقررات ښودل شوي اوبیا یې هرکمیسیون او اداره په دې مکلفه ګرځولې وه چې خپل کارونه دټاکلو اصولو له مخې پرمخ یوسي، په اداروکې دادارې نمیکړتیاوو دله منځه وړلو پخاطر یې لازم پلانونه او تدابیر په کار واچول چې دهغو په وجه نن داسلامي امارت په ټولو ادارو کې مونږ دیو ښه نظم او دسپلین شاهدان یو.

شهید منصور داسلامي امارت په لیکو کې دامیر المؤمنین ملامحمد عمرمجاهد څخه وروسته منلی مشر و، ترکومه ځایه چې مامحسوس او لیدلي دامارت ټولو مشرانو اوکشرانو یې کلک اطاعت کاوه او ورته احترام یې لاره، بل پلو اروابنباد منصور صاحب هم پخپلو ملګرو، مجاهدینو او ولس مهربان و، زړ سواند او خواخوږی مشر و، دامارت له کشرانو او مشرانو سره یې برخورد همیشه له درناوي او خلوص نه ډک و. دهېواد دعلمي قشر دقربانیو قدردان او دعلماوود لارښوونو او مشورومنونکی و، وخت په وخت یې دهغوی (علماوو) رایې پوښتلې اودهغو په رڼا کې یې دعمل کوښښ کاوه او هم یې مجاهدین دعلماوو لارښوونو ته متوجه کول او ددې لپاره چې داسلامي امارت کارونه یومخ داسلامي شریعت له اصولو سره سمون ولري په مختلفو سیاسي، جهادي،

علمي او فرهنګي برخو کې يې دعلماوو نظرونه اخيستل اوبيا يې دهغو په اړه مجاهدينواومسؤلينوته هدايت ورکاوه.

دلوی ملا صاحب مړينه چې داسلامي امارت لپاره له قوي حادثې او جټکې څخه کمه نه وه، خو شهيد منصور صاحب پخپل مدبرانه قيادت سره دهغه د ځای تشه داسې ډکه کړه چې هيڅ محسوس نشوه چې گواکې امير المؤمنين دې له نړۍ حرکت کړی وي، بلکل دهم هغه په نقش قدم يې جهاد ته دوام ورکړ او په هېواد کې يې دمجاهدينو مورالونه او روحيات دومره لوړ کړل چې آن مجاهدينو په تيرو پنځلس کلو کې په لومړي وار ولايتونه دسقوط سره مخ کړل او پراخې سيمې يې تر خپلې سلطې لاندې راوستې.

منصور صاحب يونه ستړی کيدونکی مشر و، هغه دخپل راتلونکي څخه ناهيلی نه و، دهېواد دازادۍ له مسيرڅخه په بله نه ته، سره ددې چې اشغالگرو کوښښ وکړ چې هغه په مختلفو حيلو اوبهانو له دغه مسير څخه واړوي حتی تردې پورې چې دنورو په لمسون اواشارو يوشمېر دخپل صف ملگري دهغه پرضد راپورته شول او ورسره له بيعت نه منکر شول او ورباندې د درواغو تهمتونه اوبهتانونه يې ولگول، خو منصور صاحب دا هر څه په سړه سينه وزغمل، دخپل هدف نه يواينچ هم په شاه نشو دچا دتهمتونو او پروپاگند د لومو ښکار نشو.

اشغالگرو دنومورې جهادي پلانودناکامه گرځولو لپاره مختلفې دسيسې او توطيئې په کار واچولې دځينو خودغرضو او ضعيفو اشخاصو لخوا دبغاوت ارتکاب، همدا راز دامريکايي څارگرو ادارو په طراحي دداعش فتنه پيدا کيدل او دهغوی لخوا په مجاهدينو بريدونه اوعمليات پيلول هغه ستونزې وې چې له امله يې امارت دکاله دننه ديوجدي گواښ او مشکل حالت سره مخ شو، منصور صاحب د وخت دنزاکت په حسولودعلماوو په فتوی اومشوره دداعشيانو دځپلو لپاره گامونه پورته کړل، چې دخدای په مرسته په لنډ وخت کې دغه دواړه فتنې په نطفه کې خنثی شوي او امارت او مجاهدين دهغوی له شر څخه خوندی شول.

په جهادي میدان کې دهېواد پراخې سیمې د نومورې د امارت په دوره کې داشغالګرو څخه ازادې شوې او دمجاهدینو واک ته ورغلې په ټول هېواد کې مجاهدینو تهاجمي عملیات پیل کړل ددښمن قوي مرکزونه یې ونړول اوپه اشغالګرو یې دژوندانه کړې تنګه کړه.

په سیاسي میدان کې یې داسلامي امارت لپاره یومعلوم ادرس پیدا کړ او دهغه له لارې یې دنړۍ دمختلفو هېوادو نو سره اړیکي او تماسونه جوړ کړل، په مهمو نړیوالو کانفرانسونو کې دامارت استازو ګډون وکړ چې دهغو له لارې امارت وکړای شول څو دخپلو مظلومو خلکو غږ ترنړیوالو ورسوي او هم یې ددغه ادرس له لارې دګوانټنامو دوحشتونو له تور زندان څخه دامارت څو مهم مشران دیو امریکا یي بندي په مقابل کې ازاد کړل، په دې توګه مرحوم یو جامع او مبتکر مشر و، چې په شهادت سره یې یوه لویه خلاء راغله، له څښتن تعالی نه ورته ددې ټولو زحمتونو او ستړیاوو په بدل کې فردوس جنت غواړو، پاتې کورنۍ ته یې دصبر غوښتنه کوو او داسلامي امارت دنوي مشر [شیخ الحدیث هبة الله اخندزاده] لپاره دکفارو دشرڅخه دحفاظت، نجات اوپه ټولو کارونو کې دموفقیت او بري دعاء کوو.

۲۷\٦\۲۰۱٦

# د شهید امیرالمؤمنین قیادي شخصیت

## شاهد غزنیوال- لیکوال او د جهادي او سیاسي جریانونو څېړونکی

له شکه پرته چې شهید امیرالمؤمنین (ملا اختر محمد منصور) د فعالیت او عملي ابتکاراتو له مخې یو امتیازي شخصیت و. نومورې د پوځي، سیاسي او اداري چارو د سمبالښت ځانګړی استعداد درلود. د اسلامي امارت د تأسیسي مشر ملا محمد عمر (مجاهد) رَحِمَهُ ٱللَّهُ د وفات تر پېښې وروسته یې له دغې درنې حادثې سره داسې نوښت وکاراوه چې هم په جهادي جبهاتو کې د مجاهدینو د جهادي فعالیت د جاري ساتلو لامل شو او هم د اسلامي امارت د تشکیلاتي نظام د متحد پاتې کیدو عامل.

له درنو پېښو سره مثبت تعامل او پرخپلو عزایمو ثابت پاتې کېدل د باعزمه مسؤلینو امتیازي خصوصیت وي، شهید امیرالمؤمنین ته الله تعالی په هرډول شرائطو او مشکلاتو کې د دغه خصوصیت سره حوصله ورکړې وه. نومورې د خپل جهاد او مبارزې د دوام لپاره د الله تعالی دا مبارک ارشاد خپل سرمشق ګرځولی و او کله هم د مصیبتونو او مشکلاتو په مقابل کې بیوسۍ او مایوسۍ ته نه و تسلیم شوي.

وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُواْ لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ الله وَمَا ضَعُفُواْ وَمَا اسْتَكَانُواْ وَالله يُحِبُّ الصَّابِرِينَ (١٤٦) آل عمران.

شهید امیر المؤمنین ته د اسلامي امارت د زعامت درونده مسؤلیت د هیواد د تاریخ په ترڅولو حساس پړاو کې وسپارل شو. حساسیت یې په دې کې و چې له یوې خوا د بهرنیو اشغالګرو په خلاف د افغانستان د مجاهد ملت برحق مقاومت د کامیابي درشل ته رسیدلی او له بلې خوا د دغه مقاومت د ځپلو او له منځه وړلو لپاره د

مقاومت پټو او ښکاره دښمنانو خپلې ټولې هلې ځلې د مقاومت په متفرق کولو اوشیندلو باندې متمرکزې کړې وي.

شهید امیرالمؤمنین د وخت د حساسیت په درک کولو سره خپل ټول جد و جهد د بهرنیو اشغالګرو په مقابل کې د مقاومت په جاري ساتلو باندې متمرکز کړ. کـه څـه هم چې دښمن له دغه محوري هدف څخه د امیر المؤمنین د منصرف کولو لپـاره ډول ډول سازشونه په کار واچول، د مقاومت له لیکو څخه د ځینـو ضـعیفو او خـود غرضـه شخصیتونو د بیلوالي او د مقاومت په داخل کې د ځینو وحشي اجرت کارانو (داعـش) په راپیدا کولو سره د مقاومت اصلي قیادت تـر ډېـر فشـار لانـدې ونیـو، خـو د شـهید امیرالمؤمنین جهادي عزم د دښمن دغه ټولې توطیې او سازشونه لـه مـاتې سره مـخ او له دې ټولو سازشونو او فشارونو سره سره یې بیاهم د اشغالګرو امریکایانو او د هغـوی د داخلي اجیرانو په مقابل کې خپل جهادي مقاومت تر پخوا لا زیات منظم، مسـتحکم او پریوه متحد محور را وچورلاوه.

که د شهید امیرالمؤمنین د قیادت محدود وخت ته وکتل شي هغه په تیرو لسـو میاشتو کې د مقاومت د بریالیتوب لپاره په پوځي، سیاسي او اداري برخو کې د پام وړ فعالیتونه او اجراآت تر سره کړل. په پوځي لحاظ یې د کندوز سوق الجیشي ولایت پـه فتح کولو سر بیره د هیواد په مختلفو ولایتونو کې ډیرې سیمې د امریکایانو او دهغوي د اجیرانو له ولکې څخه تصفیه کړلې. په سیاسي لحاظ یې د نړۍ له مختلفو هیوادونـو سره د رابطې جوړولولارې چارې ولټـولې اوعمـلا یـې ځینـي هیوادونـه د مقاومـت پـه رسمیت پیژندلو ته وهڅول. په اداري برخه کې یې د اسلامي امارت ټول تشـکیلات لـه سره منظم او د هرې برخې صلاحیتونه او واکونه مشخص کړل.

د شهید امیرالمؤمنین همدغه جهـادي او سـیاسي تحـرک و چـې دښـمن یـې لـه سختې وارخطایي سره مخ کړ، هغوی پوه شول چې د اسلامي امارت په خـلاف یـې ټـول پلان کړي سازشونه او توطیې له ناکامۍ سره مخ دي.

امریکایان چې د خپلو مخالفینو په مقابل کې د استدلال، منطق او انسانیت هیڅ معیار نه پیژني د دې په ځای چې په افغانستان کې یې د مقاومت له قیادت سره د ستونزې د حل په اړه مثبت تفاهم کړی وای او د هغوی معقولې طرحې و غوښتنې یې منلې وای، برعکس د هغوی په مقابل کې د وحشت او زور کارولو لاره غوره او د هغې په ترڅ کې یې د مقاومت د متحرک او مبتکر قیادت د له منځه وړلو او شهید کولو بُزدلانه اقدام غوره او امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد (منصور) یې شهید کړ.

خو امریکایان او د هغوی اجرتي همکاران باید په دې پوه شي چې د اشغالګرو په وړاندې د افغان مجاهد ولس برحق مقاومت شخص محوره مقاومت نه ؛ بلکې د باطل په وړاندې د حق هغه بې پروا فکري او جهادي پاڅون دی چې د شهیدانو له وینو څخه د تداوم او پرمختګ الهام اخلي او د الله تعالی په ځمکې باندې د الله تعالی د کلمې د لوړ والې لپاره د الله تعالی د دې مبارک ارشاد مطابق خپل فعالیت جاري ساتي:

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا {الأحزاب} ٢٣

٢٨\٦\٢٠١٦

## د عالیقدر منصور صاحب (رحمه الله) لار او مسیر!

**خلیل عزیز – لیکوال او دسیاسي چارو شنونکی**

امریکایانو اوغلامانو یې که دافکر کړی وي، چې داسلامي امارت دزعیم عالیقدر ملااختر محمدمنصور، (رحمه الله) په شهادت سره به داسلامي امارت نظم او جهادي فکر له ستونزو او خنډونو سره لاس او ګرېوان کړي او په ترڅ کې به یې په افغانستان ددوئ مفسد او سیکولر رژیم دارام ساه واخلي، ښکاره او منل شوی حقیقت دی چې امریکا یان او تالیځتې یې دلوی حماقت او اشتباه ښکار شوي دي.

دلیل یې دادی چې داسلامي امارت اډانه او ډانچه داشخاصو او افرادو په چاپیرچل اووجودباندي نده متکي، که داسې وای نو دمرحوم عالیقدر ملامحمدعمر مجاهد (نورالله مرقده) په وفات به تربل هروخت اوهرچا زیات داسلامي امارت مراندې لړزېدلې او کمزورې شوې وای، خو ولیدل شول چې دمرحوم ملاصاحب وفات نه داچې دمجاهدینوجهادي روحیه کمه اوله خپه سره مخ نه کړه، بلکې الله تعالی داسلامي امارت دقیادت لپاره یوداسې شخصیت اودملاصاحب دسنګر ملګری ولوراوه چې دخپل قیادت په لنډه موده کې یې په نظامي، سیاسي او نورو برخو کې دومره لاسته راوړنې ترګوتوکړې، چې دامریکا او کفري اشرابانو یې د۱۴ کلونو ټول پټ دامونه او دراتلونکو څوکلونو خطرناکې دسیسې یې شنډې او رسوا وګرځولې.

دعالیقدر منصور صاحب تر مدبرانه قیادت لاندې، دکابل داجیر رژیم څلور لکه اردو او امنیتي قطعات چې په روزلویې امریکایانویوه نیمه لسیزه خواری کړې وې او په ملیاردونو ډالرېې پرې لګولي و؛ دعزم اوعمري عملیاتو په توره یې دهیواد په هره برخه کې له شاګرځ سره مخ، ټول جنګي تکتیکونه یې دړې وړې وګرځول، دهیواد په ۷۰ فیصده ځمکه داسلامي امارت نجات بښونکی بیرغ ورپول شو.

په سیاسي میدان کې عالیقدر منصورصاحب په خپل بیساري زراکت د نړۍ غوږو ته داسلامي امارت برحقه داعیه په معقولو ټکواودلایلو ور ورسوله او تړېړه بریده یې عام نړیوال ذهنیت اوسیمه یزقضاوت خپل کړ، پرهغه سربیره یې داسلامي امارت دداخلي نظم دلاښه استحکام او چلیدو په نیت اوهم دولس دمصالحو دخوندیتوب لپاره تل پاتې ګامونه پورته کړل .

دا اودېته ورته نورې لاسته راوړنې وې چې مجاهد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ دنړیوال طاغوت په مخ کې نه برداشت کیدونکی ځواک اوګواښ جوړ شو، چې بالاخره یې دهغه په شهیدولو لاس پوري کړ.

مونږ امریکایانو او لاسپوڅو ته یې وایو، مرحوم منصور صاحب کـه څـه هـم اوس جسمانشته او له خپل حقیقي مالک (جل جلاله) سره وصل شوی، خو ترشا یې یـو خـورا میړنی او مجاهد ملت قرار لري، هیڅکله داسې سوچ ونکړئ چـې دمنصـور رَحِمَهُ ٱللَّهُ پـه شهادت سره به دهغه لار اومسیر کمزوری او بې حوصلې وګرځي، داحقیقت له زړه نـه درک کړئ چې اوس به هرمجاهد او دامت هـر غـازي لـه ځـان څخـه دشـهید منصـور رَحِمَهُ ٱللَّهُ دجوړولو هڅه کوي، کټ مټ به دهغه نقش قدم اختیاروي اوداسلام له ابـدي دښمنانو اومنافقینو څخه به پوښتنه کوي چې په کوم جرائت او سوچ مومسـلمانان لـه یوه مدبر، خواخوږي او مجاهد رهبرڅخه بې برخي کړل ؟!

امریکایان او غلامان یې باید ددې حقیقت او حقانیت رمـز هـم پیـدا کـړي چـې داسلامي امارت دزعـیم لـه شـهادت ورسـته، دقیـادت پـه سر ولـې یـو وړوکـی هغـه مخالفت چې هغوئ ورته سخت منتظر او لیواله و رانغی، په ډیرعاجل فرصت داسې یو مناسب قیادت او بهترین زعامت منتخب او رامخي ته شو، چـې دلـوی او متعـال رب (جل جلاله) پـه نصرت بـه دشـهید منصـور (رحمـه الله) ټولـو دینـي او جهـادي هیلـو اوارمانونو ته دعمل جامه وراغوندي.

مونږ امریکایانو او غلامانو ته یې په صراحت وایـو چـې اسـلامي امـارت یـو قـوي منهج اوپخه داعیه لري هغه هیڅکله دشخصیتونو په تغیـر اوشـهادت سره بـدلون نـه پیداکوي او نه هم هغه څوک چې داسلامي امارت دقیادت مسند تـه رازي او پـه دغـه منصب فائزکیږي، هغه دې الله مکړه دومره کمزوری ووسي، چې ستاسي په اخطـارونو او تهدیدونو وا رخطاشي اوهغـه څـه تـه چـې تاسـې (سـوله) وایـئ اوپـه حقیقـت هغـه دافغانستان دلوړو ارزښتونو او دیني خپلواکۍ جنازه پورته کول دي په سر یې لوبي او معاملي ته تیار شي (ان شاالله تعالی)

۲۸\٦\۲۰۱٦

# موږ تلپاتې نړۍ ته په همدغه لاره ورځو!

**دشهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور تقبله الله د ویاړمن شهادت په تأثر**

**مفتي ابو یاسر - شیخ الحدیث او دتخصص في الفقه استاد**

**دادغمونو اودردونو ډکې ورځې دادوحشتونو اوکړاونوتوري شپې یوائې ددې عصر په ترټولو سپېځلو نه دي راغلي ؛بلکې دبشر دسلسلې سره همداناخوالې دالله جل جلاله دلاري درښتونو لارویانوسره راروانې اولابه روانې وي، ځکه دبنده تقدس اوترفیع په همدغه کړاونو کې ده، درنو غمونو اوپه قضاء باندي رضاء ددوئ کلکه عقیده ده. ...قُلْتُ: يَا رَسُولَ الله أَيُّ النَّاسِ أَشَدُّ بَلاءً؟ قَالَ: "الْأَنْبِيَاءُ، ثُمَّ الصَّالِحُونَ، ثُمَّ الْأَمْثَلُ، فَالْأَمْثَلُ. رواه احمد. سعدرض وایې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې وپوښتل: په کوموخلګوزیات کړاوونه راځي ؟ راته ویې ویل: په انبیاو اوبیادامت په نیکوخلګو، بیاهغوئ ته په ورنږدې اوبیاپسې ورنږدي خلګوته.**

**هو! زموږعقیده ده: چې لوی رب دغه ډول امتحانونه په خپلوډیرو سپېځلواستازو اوپیغمبرانو راوستلي چې موږ ته یې په قرآن کریم کې پرې ډاډراکړی:**

**أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَى نَصْرُ الله أَلاَ إِنَّ نَصْرَ الله قَرِيبٌ} [البقرة: ۲۱۴]**

**آیا تاسو ګمان کوئ! چې جنت ته به ځئ ؟ اوپه تاسو به د وړاندینیو خلکو [انبیاو] حالات [کړاوونه] نه وي راغلي! چې بهرني اوداخلي سختیوکې به راګیروو [اودجهاد په لاره کې به] کړاونو سخت ټکانونه ورکړل. تردې چې دوخت پیغمبر اوورسره مؤمنانوبه ویل: دالله تعالی نصرت به کله راځي ؟ نولوی رب به ورته وویل: اګاه واوسئ چې دالله تعالی نصرت ډیرنږدي دی.**

هو! د الله جل جلاله طريقه هم داسې راغلې: چې داغمونه به په خوښيو بدليږي، داوحشتونه به له مورِ ګډه کړي اوتيارې به سهاريږي، سختۍ به مو په سوکالیو اوشدت به موپه نعمتونو بدليږي، ان مع العسر يسرا ان مع العسريسرا.

نيستۍ به مو په شتمنيو واوړي اوبيماري، زخمونه اودردونه به ددښمن په برخه شي، نوربه ټکانونه نه خورو، اوپه دښمن به دمجاهدينو دتوروزلزلې وي. الا ان نصرالله قريب.

سترپيغمبر ابراهيم عليه السلام په همدغه دين باندې اسيرشو، دمرګ فيصله وربانديې وشوه، ټولوپه يوه اواز وربانديې پريکړه وکړه: قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانْصُرُوا آلِهَتَكُمْ} [الأنبياء: ٦٨] ويې سوځوئ اودخپلو خدايانو غچ ځيني واخلئ!. هغه اورته لويدل مګر صبر اواستقامت يې الهي فيصله داسې نازله کړه قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًاوَسَلَامًا عَلَى إِبْرَاهِيمَ} [الأنبياء: ٦٩].

په موسى عليه السلام پسې دفرعون لښکرې ورسيدې ورسره خلقو جزعې فزعې پيل کړې چې إِنَّا لَمُدْرَكُونَ ٦١] مورِخوګيرشوو ؛مګر موسى عليه السلام ډاډه وويل يې: [ان ربي سيهدين] دريابونه کوڅې کوڅې شول. فرعون غرق شو اومصرـ دموسى عليه السلام دملګرو په لاس کې پريووت.

يوسف عليه السلام څاه کې واچول شو؛مګر استقامت اوثبات دمصر تربادشاهته ورساوه اوويل به يې: أَنَا يُوسُفُ ...إِنَّهُ مَنْ يَتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ الله لاَ يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ] يوسف: ٩٠]

دمحمد رسول الله خاتم النبيين په کور دمکې دبدمعاشانو له لوري چاپه وه، هغه راووت، غارثورته ولاړ، مديني ته يې هجرت وکړ، جهاد پيل شو، سختۍ ګالل کيدې، مګر لوی رب دفاتح په ډول مکې ته داخل کړ، هو! بياهغه ورځ هم راغله چې هر چابه فکرکاوه، چې دامت حالت به څرنګه شي؟ رب العزت يې امت لا متحدکړ، تردې چې ملګري يې دنړۍ دلويې برخې فاتحان شول.

بلال ترتیږو لاندې داحد احد نارې وهلې، مګر بیایې دکعبې په بام په لوړ غږ داذان کلمې اورولې. تاتاریانو مو خلافت ړنګ کړ، مګر بیایې ماته وخوړه اوخپله ډلې ډلې په اسلام کې داخلیدل.

موږ بیاتکراروو چې دالله تعالی په سپېځلو بندګانو به دغمونواودردونو ورځې راځې. دا دالله تعالی یوعادت دی اودالله تعالی عادت تغیرنه خوري وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللهِ تَبْدِيلاً{ [الأحزاب: ٦٢] مګر داهم عقیده لرو چې رب وایې: إِنْ تَنْصُرُوا اللهَ يَنْصُرْكُمْ. که موداالله تعالی ددین مرسته کوله الله جل جلاله به مونصرت کوي. اوکه موږ په دې مسیر نورهم دقوي عزم څښتان شو، نودرب الکریم داوعده مو هم په زړه ده: ان ینصرکم الله فلاغالب لکم. که موداالله تعالی ددین نصرت وکړ نوهیڅوک به په تاسو غالب اوبریمن نشي.

موږ بزدله دښمن ته وایو: که زموږ رهبران شهیدان کړئ. که موماشومان ټوټه ټوټه کړئ، که موځوانان دارته پورته کړئ، که مو مساجدوران کړئ، که موکورونه وسوځوئ، . اونورهغه وحشت اوظلم چې تطبیق یې په اولس کوئ. تاسوبه ددښ دابله ډیوه خاموشه نه کړئ. يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا نُورَ اللهِ.... والله متم نوره... ددې سپېځلې امت دښمنه! موږ په دې کړاوونو لوړیږو، ټیټیږونه، موږدحریت اودتل پاتې ژوندنعمتونوته په همدغه لاره ورځو.

زموږ عقیده ده: چې دالله عزوجل دین منصور دی، ددې لارې هرلاروی منصوردی، زموږ هرمجاهداوهرطالب منصور دی. زموږ عقیده ده چې داقافله به منزل اوهدف ته رسیږي: وَمَنْ يَتَوَلَّ اللهَ وَرَسُولَهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا فَإِنَّ حِزْبَ اللهِ هُمُ الْغَالِبُونَ. (٥٦) زموږ عقیده ده چې دشیطان ډله به بالاخره ماته خوري. أُولَئِكَ حِزْبُ الشَّيْطَانِ أَلَا إِنَّ حِزْبَ الشَّيْطَانِ هُمُ الْخَاسِرُونَ (١٩)

په اخیرکې وایو چې که دالله تعالی په دین باندې مواستقامت اویقین په برخه و، نودابه یادلرو چې ان نصرالله قریب

{إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ} [فصلت: ۳۰]. هغه زلمي چې درب دين مني اوبياورباندي استقامت وکړي، دنصرت ملکې به ورځې اوورته وايي به: چې ويريږئ مه، غم مه کوئ! اوهغه جنتونوته په ورتلوخوشحاله شئ چې له تاسوسره يې وعده شوې.

۱۳\۷\۲۰۱٦

# ملا اختر محمد منصور تاريخي طالب رهبر

**ليکنه: ظريف افغان- ليکوال او سياسي څېړونکی**

هر سياسي او پوځي ځوښت که په نړيواله او يا هېوادنۍ کچه وي، تل د خپلواکو څېړونکو له نظره ارزول کېږي او مثبت اومنفي اړخونه يې په ګوته کېږي. دلته د طالبانو په تحريک کې د يو تاريخي قائد ملا اختر محمد منصور د شخصيت او ځينو پېچلیو او پامونړ پېښو او جريانانو په اړه بحث کوو. د ښاغلي منصور دوره له څو لحاظو د طالبانو په مبارزاتي تاريخ کې اهميت لري، چې لاندې پرې بحث کېږي.

ارواښاد ملا اختر محمد منصور د طالبانو د مشر په توګه د خپل ليډرشيپ په لنډه او مهمه دوره کې داسې لاسته راوړنې او پرمختګونه لري، چې د طالبانو په تاريخ کې شايد کم ساري وي. مرحوم ملا محمد عمر مجاهد د طالبانو د غورځنګ موسس و چې د طالبانو غورځنګ يې په داسې شرايطو کې رامنځ ته کړ، چې د جهادي ډلو ترمنځ ويجاړوونکې کورنۍ جګړې د هېواد راتلونکي ته هيلې وژلې وې؛ خو د هغه له وفات او يا يې په ژوندوني له عامه انظارو د پناه کېدو وروسته مرحله يې د طالبانو د تحريک لپاره مهمه ده.

له ملا محمد عمر وروسته طالبانو کې یو له هغو کسانو چې ډېر محوري رول یې لوبولی او د پام وړ سیاسي، مدیریتي او نظامي وړتیا یې ښکاره کړې، ملا اختر محمد منصور و. کله چې د ښاغلي منصور مشرۍ کې د طالبانو داخلي نظم، نظامي پرمختګونه او د سیاسي اړیکو پراختیا ګورو، متوجه کېږو چې دغه مرحله د طالبانو د تحریک لپاره د عطف نقطه ګڼل کېږي. په دې معنا چې د منصور له دورې مخکې او وروسته د طالبانو غورځنګ یو له بل سره د پام وړ توپیر لري.

وایي، که انقلابونه مېرونه وژني، نو زېږوي یې هم. پر افغانستان د امریکا له یرغل وروسته، چې کابو ټول افغان سیاسي- نظامي جهتونه او تقریبا ټول ایډیالوژیک جریانونه د امریکا تر سیوري لاندې په کابل ډېره شول، ډېره تمه نه کېده چې د امریکاضد جګړې د رهبرۍ لپاره به داسې مدبر او ستراتیژیک مېرونه وزېږول شي؛ خو دې انقلاب هم په نظامي، سیاسي او اداري ډګرونو کې د اختر محمد منصور په څېر شخصیتونه وزېږول.

د دې لپاره چې بحث راټول وساتل شي، د اروابنسا د ملا اختر محمد منصور د شخصیت هغو ځانګړنو ته اشاره کوم، چې ماته بارزې ښکاري او زما د دلچسپۍ وړ دي. دغه ځانګړنې عبارت دي له: مدیریتي توانایي، نظامي وړتیا او سیاسي درک. زموږ له تېر جهاده راهیسې، په نظامي ډګر کې ښو شخصیتونو وده وکړه، محاربوي هنرونه یې زده کړل او په دې برخه کې یې ښه پرمختګونه وکړل، خو د تنظیمي تدبیر او سیاسي عقلانیت په برخه کې، سره له دې چې اکثرو جهادي مشرانو مو عالي تحصیلات لرل، خو بیا هم په دغو دوه برخو کې له کمي سره مخ وو. که ووایم زموږ د جهادي رهبرانو خامه سیاسي لوبه او تنظیمي تدابیر یا تنظیمي کلچر زموږ د جهاد په شکست کې محوري رول لوبولی، مبالغه به نه وي. طالبانو په ډېرو سختو او ضیقو شرایطو کې د جهادي رهبرانو د خامیو د جبیره کولو هڅه کړې ده.

دلته د ښاغلي منصور د شخصیت پر پورتنیو بارزو شخصیتي ځانګړنو تم کېږو:

## مدیریتي وړتیا:

د ملا اختر محمد منصور مدیریتي تدبیر او هنر د طالبانو د واکمنۍ په وخت کې هغه وخت ثابت شو، چې د طالبانو د حکومت تر پایه د ملکي هوایي چلند وزیر پاتې شو. که څه هم د طالبانو حکومت تر پایه مخالفینو سره په جګړه بوخت و، خو منصور د خپل مدبر مدیریت پر مټ وتوانېد چې د افغانستان نړیوال هوایي ډګرونه فعال کړي. په هغو شرایطو کې د هوایي ډګرونو یوازې فعاله ساتنه کافي ده چې د ښاغلي منصور مدیریتي توانایي تري ثابته شي؛ ځکه هغه وخت افغانستان نه یوازې دا چې په جنګ کې واقع و، بلکې د امریکا له خوا د بشر ـ ضد او غیرانساني اقتصادي بندیزونو لاندې له ربړوونکي پړاوه تېرېده. ملا اختر محمد منصور د هوایي ډګرونو له فعال ساتلو سره جوخت پر دې هم وتوانېد چې د کابل نړیوال هوایي ډګر او اړوند تاسیسات یې له سره ورغوي او وروسته یې د اریانا افغان نړیوالە هوایي کرښه د کورنیو او بهرنیو الوتنو لپاره په نړیوال ستنډرډ برابره کړه اونوې الوتکې یې ورته رانیولې. له دې سره سره، د کندهار، هرات، ننګرهار، مزار شریف او کندوز هوایي ډګرونه د هر ډول ملکي او پوځي الوتنو لپاره چمتو او په پرمختللو وسایلو سمبال وو.

د منصور صاحب د وزارت په ډېر کې بله کارنامه د افغانستان په نړیوالو هوایي ډګرونو کې د «ویسټ» دستګاه لګول و. د ویسټ دستګاه له لارې د وخت افغان حکومت کولی شول چې د افغانستان له فضا د تېرېدو له املە له تېرېدونکو الوتکو ټرانزیټ ترلاسه کړي چې دا په خپله په هغو سختو شرایطو کې له ملي بودیجې سره د پام وړ مرسته وه.

دلته یوه ټکي ته ډېره پاملرنه په کار ده. طالبان داسې واک ته نه و رسېدلي، لکه په کوم غربي پرمختللي دولت کې چې یو جهت په سوله ییز ډول له مخکیني حکومت څخه واک ترلاسه کوي. د طالبانو پاڅون د یوه داسې حالت پر ضد و، چې نه نظام و، نه امنیت او نه مشروع مرکزي حکومت. طالبان داسې وخت پر کابل مسلط شول، چې زمور پلازمېنه د واک پر سر د جهادي ډلو پنځه کلنې جګړې ښه ځپلې وه. د

افغانستان ملي هوايي ځواک د مختلفو ډلو لاسونو تـه لوبـدلی و او هـر چـا پـرې خپـل مخالف په نښه کاوه. منصور د داسې حکومت د هوايي چلنـد وزيـر شـو، چې لـه يـوه بشپړ انارشيزم او هرج و مرج وروسته يې واک ترلاسـه کـړ. نـو کـه لـه دې زاويـو يـې وګورو، د منصور صاحب کار واقعا د ستاينې او قدرداني وړ و.

د ملا اختر محمد منصور د شخصـيت د مـديريتي صـلاحيت نـورې ښلګـې چې ډېرې مهمې او د طالبانو د تحريک په تاريخ کې به تل ياد وي، د طالبانو تحريک لپـاره د يوه منظم اداري نظام ترتيب و. منصور، لکه څنګه يـې چـې نـژدې دوسـتان روايـت کوي، په شخصيتي لحاظ نظم او ضبط ته پابند انسان و. کله چـې د کنـدهار د ولايـت مسوول و، ان د منصور سـياسي مخـالفين پـر دې اعـتراف کـوي، چـې د ده ډلګـی او مجاهدين د طالبانو د نورو جنګيالیو په پرتله ځانګړی نظم او ترتيب درلود. وروسـته، کله چې د امـارت نائـب شـو، پـه هغـه وخـت کـې يـې د امـارت نظـام پـه څـو داسـې کمښيونونو ووښه چې نن د هر کمښيون کار د يوه وزارت له کاره ښـه روان دی. پـه دې سختو شرايطو کې چې طالبان او مقاومت ورسره مـخ دی، د کمښـيونونو د نظـام ايجاد واقعا چې نه يوازې نن امارت ته مفيد دی، بلکې د سبا لپـاره پـه اداري لحـاظ د يوه منظم افغانستان هيلې او زېرى له ځان سره لري. دا د هغـو لپـاره ښـه ځـواب دی، چې طالبان يوازې يوه جنګي ډله بولي، بلکې داسې مقاومتي ډله ده، چې د خپل هېـواد د راتلونکي لپاره له اوسه د نظام او اداري جوړښت طرحې او عملي اقدامات لري.

## الف: د امارت مرستيالي:

کله چې په ۲۰۱۰م کال کې پاکستاني ځواکونـو د طالبـانو د غورځنـګ مرسـتيال، مرحوم ملا عبيدالله اول اسير او بيا شهيد کړ او ملا عبـدالغني بـرادر يـې ونيـوه، مـلا محمد عمر مجاهد اختر محمد منصور د امارت مرستيال او د امـارت د ټولـو چـارو د عمومي مسوول په توګه وټاکه. د امـارت مرسـتيالي د منصـور صـاحب پـه مـديريتي- سياسي ژوند کې هغه مهـم پـړاو دی، چـې د ده ډېـر سـياسي- مـديريتي مهارتونـه او موهبې په کې ثابتې شوې او عملاً يې له لاسته راوړنو ټول امارت ګټمن شو. د امارت د

مرستیال په توګه د منصور صاحب ټاکنه د امریکا د ولسمشر اوباما لـه هغـې پرېکـړې سره هممهاله وه چې ۳۰۰۰۰ نور سرتېرې يې افغانستان ته رالېږل. سره لـه دې چـې پـه ۲۰۱۰ کې دېرش زره نور يرغلګر پوځيان هم راغلل، خو همدا کال پـه افغانسـتان کـې د بهرنيو ځواکونو لپاره د هغوی په خپل اعتراف تر ټولو خونړی کال و. همدغـه وخـت و چې امريکايي سياستوال يې دې اعتراف تـه مجبـور کـړل چـې د افغانسـتان مسـئله د جګړې له لارې نه شي اوارېدای. د ۲۰۱۰ م کال کې د طالبانو ټاکوونکی مقاومت و چې امريکايي سياستوال يې له طالبانو سره د سياسي چاينلونو پرانيستو ته مجبور کړل.

## ب: د ملا محمد عمر وفات او د اختر منصور عملي رهبري

ملا محمد عمر مجاهد، د طالبانو له خوا د خپرې شوې اعلاميې له مخې، د ۲۰۱۳ کال د اپرېل په ۲۳ وفات شوی و. خو منصور چون مخکې له مخکې د امارت نائب او د ټولو چارو مسوولت ورته ملا محمد عمر سپارلی و، دعلماوو او د شوری د مهمـو غړيـو په مشوره يې دا مناسبه نه بلله چې د وفات خبر دې خپور کړي. سره له دې چې امارت د نړۍ له ډېرې پُرمصرفه او پرمختللو استخباراتي شبکو سره په جګړه کې ښکېل و، خو د هېڅ استخباراتي شبکې سر نه و خلاص، چې ملا محمد عمر وفات شـوی دی. دا پـه خپله د منصور صاحب مديريتي صلاحيت ثابتوي چې دومره مهم راز پـه دومـره فـوق العاده درايت او حکمت سره پټ ساتي!

په حقيقت کې ملا محمد عمر مرحوم داسې مهال وفات شو، چې راتلـونکی کـال يې د افغانستان په پوځي- سياسي ډګرونو کې ځانګړی ارزښت او اهميت درلود. بارک اوباما اعلان کړی و چې د ۲۰۱۴ تر پايه به په افغانستان کې د خپلـو يرغلګـرو ځواکونـو شمېره صفر ته راکښته کوي. سربېره پر دې د کرزي حکومت ته ۲۰۱۴ کال د بقا او فنا کال ښکارېده. ۲۰۱۴ ربښتيا هم ټاکونکی کال و. تر ۲۰۱۴ راوروسته چې طالبـانو کـومې سياسي او نظامي لاسته راوړنې لرلې دي، واقعا بې ببلګې دي. په دې اساس منصور نـه غوښتل چې د خپل مشر د وفات خبر په داسې ټاکونکي او محوري کال کې افشا کړي.

که د ملا محمد عمر د وفات خبر هغه مهال افشا شوی وای، د دې وېره ډېره جدي موجوده وه، چې د طالبانو مورال کمزوری شي او بهرني ځواکونه بیا سا واخلي.

## سیاسي درک:

د ملا اختر محمد منصور د شخصیت تر ټولو بارزه ځانګړنه، زما په نظر دا ده، چې په روانو سیاسي لوبو، سیالیو، ټکرونو او تفاهمونو د ده سر خلاص و. هغه څه چې نشت یې زمور د تېر جهاد هیلې خاورې کړې. د تېر جهاد پر مهال زمور جهادي مشرانو په پوځي برخه کې ښې لاسته راوړنې درلودې؛ خو د دوی د سیاسي تعقل ازموینه هغه وخت پیل شوه، چې د جهاد د پوځي بریا نښې راڅرګندېږي. په دې برخه کې جهادي مشران کمزوري وختل.

د طالبانو د حکومت له سقوط وروسته، د اختر محمد منصور د عملي رهبرۍ په دوره کې چې له ۲۰۰۷ وروسته پیل شوه، طالبان وتوانېدل چې یو ځل بیا د امریکا له متحده ایالاتو سره اړیکې ونیسي او دا پیغام وورسوي چې د امریکا سیاسي مشران په خود راشي، د افغانستان د سولې او جګړې ځمکني واقعیتونه درک کړي او خپله ماتې ومني. منصور چې په پاکستاني زندان کې د مرحوم ملا عبید الله له شهید کېدو او د ملا برادر اخوند له اسارت وروسته د ملا محمد عمر له خوا د طالبانو د ټولو چارو مسوول وټاکل شو، وتوانېد چې ملا محمد عمر قانع کړي، چې استازي یې له امریکایانو سره، له هر ډول فشار پرته، خبرې اترې وکړي.

## الف: سیاسي دفتر

د ملا اخترمحمد منصور د مرستیالۍ په دوره کې طالبان په دې وتوانیدل چې په قطرکې خپل دفتر پرانیزي، د طالبانو سیاسي دفتر پرانیسته په حقیقت کې طالبانو ته د نړیوال سیاسي مشروعیت ورکولو په معنا وه. نړۍ، په تېره متحده ایالاتو عملاً ومنله چې طالبان د افغان ولس په استازیتوب د ملي مقاومت ډله ده، د خپلواکۍ لپاره مبارزه کوي او غواړي په خپل وطن کې د خپلې خوښې نظام راوړي. کله چې د

۲۰۱۳کال د جون په ۲۰ نېټه سیاسي دفتر د طالب استازو، قطري چارواکو او نړیوالو معتبرو رسنیو په حضور کې پرانیستل شو، د وخت افغان ولسمشر، حامد کرزي سخت مخالفت وکړ. پر کرزي سربېره، سیمه ییز هېوادونه او د سیمه ییزو استخباراتو په ملاتړ ژوندۍ ډلې هم په دغه کچه د طالبانو د سیاسي دفتر له پرانیستو ناخوښي برېښېدل. د طالبانو سیاسي دفتر د «اسلامي امارت» له سقوط وروسته لومړی ځل و چې طالب استازي په ښکاره د طالبانو د دفتر پرانیسته کوي. وروسته د سیاسي دفتر استازو له قطر څخه چین، روسیې، جاپان، فرانسې، جرمني، ایران او د سیمې نورو هېوادونو ته سفرونه وکړل او خپل غږ یې تر نړۍ ورساوه.

## ب: افغانستان د سیمې د هېوادونو د تفاهم پر مرکز بدلولو هڅې

د اختر محمد منصور د مشرۍ پر مهال په دیپلوماتیکه برخه کې هڅې پیل شوې، چې د افغانستان په اړه د سیمې د هېوادونو اندېښنې لرې کړي. لکه څنګه چې پورته ورته اشاره وشوه، د منصور په هڅو له ملا محمد عمر څخه اجازه واخیستل شوه چې د طالبانو لپاره سیاسي دفتر پرانیستل شي. خو منصور د ۲۰۱۳ په اپریل کې د ملا محمد عمر له وفات وروسته، د طالبانو عملي مشر و. په دغه دوره کې، پر سیاسي دفتر سربېره، ملا اختر محمد منصور په سیمه کې ځینې داسې دیپلوماتیکې شبکې فعالې کړې وې، چې هڅې یې کولې له امریکا سره د سیمې د مهمو هېوادونو له ټکر ګټه پورته کړي او ورسره دغو هېوادونو ته ډاډ ورکړي، چې طالبان به د یوه مسوول جهت په توګه په راتلونکي کې هېڅ دولت ته ستونزې نه پېښوي.

په دې برخه کې د منصور هڅو هم د پام وړ لاسته راوړنې درلودې. ملا اختر محمد منصور د یوه ژورفکره مشر په توګه په راتلونکي کې احتمالي راټوکېدونکې ستونزې لیدلې. منصور ځکه مخکې له مخکې هڅې کولې، چې د طالبانو نظامي پرمختګونو سره په موازې ډول په سیاسي ډګر کې هم پرمختګونه ولري، چې هسې نه د پرمختګ په درشل کې د امریکا له ماتې وروسته د سیمې له هېوادونو سره په ټکر وانه وړي. ښاغلي منصور هڅې کولې، چې د سیمې هېوادونه د امریکا د تبلیغاتو تر اغېز

لاندې رانه شي او سياستونه يې په سيمه کې، په ټبره د طالبانو په ټراو د بدګومانۍ ښکار نه شي. په حقيقت کې طالبان کولی شي، د سيمې له هېوادونو سره په راتلونکي کې د افغانستان په مشرۍ موثر او ګټور ګډ دريځ ولري او هغه فرصتونه له لاسه ونه وځي، چې راتلونکي کې کولی شي د ټولې سيمې د ښېرازۍ او هراړخيزې ودې لامل شي.

## ج: په کوردننه د سياسي مشارکت ډاډ

د طالبانو د حکومت پر مهال د دوی يوه لويه ټبروتنه دا وه چې پر واک يې انحصار وکړ. که څه هم د طالبانو مشران د هغه وخت نامساعد شرايط، د جګړې دوام او نړيواله سياسي انزوا او اقتصادي بنديزونه د خپلو اصلاحاتي تګلارو پر لار خنډ بولي؛ خو بيا هم طالبان له ۱۹۹٦ تر ۲۰۰۱ پورې پر کابو ټول افغانستان مطلق واکمن وو، چې کولی يې شوای د افغانستان په سياسي جوړښت کې اصلاحات راوړي، د ملي روغې جوړې اجنډا ته عملي کار وکړي، بهرمښتي فعال سياسي جريانونه او ملي شخصيتونه په واک کې دخيل کړي. متاسفانه د ۲۰۰۱ کال تر اکټوبر، د امريکا تر يرغل پورې طالبان ونه توانېدل چې د افغانستان په سياسي جوړښت کې مهم او ضروري اصلاحات رامنځ ته کړي.

خو له ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کلونو راهيسې چې د طالبانو سياسي فعاليتونه پيل شول، وخت نا وخت د ملا محمد عمر مجاهد په پيغامونو او د طالبانو په رسمي اعلاميو کې ډاډ ورکول کېده چې دا حُل به پر واک انحصار نه کوي او مختلفو قومونو، سياسي جريانونو او ډلو ته به په ملي سياست کې د مشارکت حق ورکوي. د طالبانو په خوځښت کې د دغه سمون يو مهم باني هم ملا اخترمحمد منصور و. کله چې اختر محمد منصور د طالبانو مشر وټاکل شو، د طالبانو رهبري شورا يې پراخه کړه او څو تنه تاجکو، ازبکو او ترکمنو مخورو او علماوو ته يې په کې غړيتوب ورکړ. پر دې سربېره په نړيوالو ناستو کې د طالبانو په استازولۍ کې تاجک، ازبک او د نورو قومونو افغانان ليدل شوي چې د طالبانو د باصلاحيته استازو په توګه ګډون کوي.

د طالبانو د فرهنګي کمېسیون په حواله، ملا اختر محمد منصور ټینګار درلود چې «اسلامي امارت د ټولو افغانانو ګډ کور دی او همداسې باید ټول خپل ځانونه په کې وویني». منصور په دې برخه کې واقعا د یوه ملي افغان مشر په توګه تبارز وکړ. په افغانستان کې په ملي واک کې د ټولو قومونو او توکمونو معقول سیاسي مشارکت کولی شي افغان وطن کې د پردیو لاسوهونکو دولتونو د مداخلو مخه ونیسي. او د هغوی اهداف خنثا کړي. موږ نه شو کولی قومي مسئله په پټو سترګو رد کړو. له دې مسئلې سره یو داسې معقول تعامل ته اړ یو چې تر اوسه یې په افغان حکومتونو کې بېلګه نه ده لیدل شوې او ملا اختر محمد منصور وکولی شول چې یو بېه حل وړاندې کړي.

## د: د سیاسي فشارونو پر وړاندې مقاومت

هغه څه چې د ملا اختر محمد منصور پوځي هوډ یې په ډاګه کاوه د سیمه ییزو استخباراتو لخوا د تپل کیدونکو جریاناتو په وړاندې د ده بې پروا مقاومت و. د پاکستان په مرې بېارګوټې کې له جعلي مذاکراتو وروسته منصور له هر ډول فشار سره سره د سیمه ییزو استخباراتو تحمیلي طرحې ناکامه او خنثي کړې او د هغو زړو طالب چارواکو د تمایلاتو پروا یې هم ونه ساتله، چې له دغو استخباراتي کړیو سره پر تحمیلي جریاناتو هوکړې ته رسیدلي وو، لکه ملا حسن رحماني، ملا عبدالرزاق او ملا جلیل.

طالبانو ته نړدې سرچیني وایي چې منصور د پاکستان په منځګړیتوب له افغان حکومت سره مذاکرات بلواک او سپکوونکی جریان ګانې او خپلو ملګروته یې په یوه غونډه کې بېکاره وویل چې «د خپلې مبارزې د خپلواکۍ لپاره به مې وجود ټوټې ټوټې یا هم کباب کباب شي خو مغرض هیوادونه اوحلقې به پرېنړدم چې زموږ پاکه مبارزه د خپلو ځانګړو اهدافو قرباني کړي» چې د ډیرې طالب چارواکو په اند د منصور همدې خبرې ژوندی مصداق خپل کړ او رښتیا هم کباب کباب شو خو پردي فرمایشونه یې ونه منل.

له همدې امله خو طالبان له ملا محمد عمر وروسته د خپلې مبارزې د خپلواکـه ساتلو او پاتې کیدلو ستر محسن ملا اختر محمد منصـور یـادوي. د امریکـا د ځـانګړو ځواکونو له خوا په دومره پیچلې سیمه کې، په دومره لوړه کچه د ډرون الوتکو له لورې د ملا اختر محمد منصورهدف ګرځول چې د اوبا ما د ځانګړې فرمان او د سي آی اې د بې ساري هڅو پایله وه، طالبانو ته دا الهام ورکړ چې د دوی دغه مشر نړیوالو یرغلګرو ته څومره ستر او مهم هدف و، چې له همدې امله له طالبانو د جلا شوې ډلې حیثیـت یې زیانمن کړ، ځکه چې د منصور په اړه د هغـوی د معـاملګرۍ او لـه یرغلګـرو سره د نژدېوالي تبلیغاتي داعیه نوره هم پوچه او سپکه شوه اوترننه هم د منصور سره مخالفت کوونکو اشخاصو که هغه ناپخلا دي اوکه پخلا شوي دي، د طالبانو په مبـنځ کـې خپـل زوړ حثیت اوباور لاهم نه دی ترلاسه کړی .

د ۲۰۱۵ په اوړي کې د طالبانو جګړو ډېر زور واخیست، د کندوز ولایت سقوط د افغان امنیتي ځواکونو مورال کمزوری او طالبانو کې یې بیا د منصور پر رهـبرۍ بـاور زیات کړ. کابل د همدې کال په ژمي کې بیا د مذاکراتو په پار اسلام اباد ته د مرسـتې ځولۍ خوره کړه. دا ځل د اسلام اباد په نوښت د څلور اړخیزو ناستو لړۍ پیل شوه. په دغو ناستو کې د پاکستان، افغانستان، چـین او امریکـا اسـتازو ګـډون درلـود. دا ځـل پاکستان بیا پر طالبانو فشارونه زیات کړل. د سرچینـې پـه حوالـه، منصـور د رهـبري شورا د یوې ناستې له دایرېدو مخکې ټولې رهبري شورا ته ویلي و چې «زه د پردیـو پـه فرمایش خبرو ته نه کښنم، زما شخصي نظر منفي دی». د شورا غړو ورته ویـلي و چـې پر تا فشارونه دي، ده ورغبرګه کړې وه چې «له دغو فشارونو رامنځته شـوې سـتونزې زموږ د خپلواکۍ او استقلالیت بیه ده». منصور نه یوازې دا چې د سیمې د هېوادونـو فشارونو ته تسلیم نه شو بلکې نظامي طالبانو ته یـې د سـختو جګـړو امـر هـم وکـړ. د څلور اړخیزو هېوادونو پنځه ناستې په کابل او اسلام اباد کې بې له کومې نتیجـې پـای ته ورسېدې. د پاکستان حیثیت هم زیانمن شو. په وروستۍ ناسته کې چې کابـل کـې ترسره شوه، د چین او امریکا د استازو د ګډون سطحه هم ټیټه وه.

د ځلور اړخیزو هېوادونو د ناستو له بې پایلې پای لږ وروسته، د ۲۰۱٦م کال په مې کې، طالب مشر داسې مهال د امریکا د بې پیلوټې د برید ښکار شو، چې تازه د ایران له پولې د پاکستان د بلوچستان لرې پرتې سیمې ته اوښتی و. د چارو د ځینو شنونکو باور دا دی، چې د منصور په نښه کېدو کې امریکا سره د سیمې د استخباراتو له خوا دقیقه مرسته شوې وه. ځینې نور داسې شواهد هم شته چې دغه باور لا پخوي. د اختر محمد منصور د مشرۍ په دوره کې، پر طالبانو سیاسي فشارونه خپل اوج کې و. د دغو فشارونو پر وړاندې د منصور استقامت او د خپلې داعیې او قضیې په وړاندې د مسوولیت او مالکیت احساس هغه څه دي چې منصور په یوه ارزښتپال او پر خپله خبره ټینګ سیاستوال په توګه ښیي.

## نظامي وړتیا:

د طالبانو په څېر په جهادي- مقاومتي ډلو کې د داسې شخصیتونو کمی ډېر نه محسوسېږي چې نظامي وړتیا دې ولري. خو د منصور په شخصیت کې بارز ټکی دا دی چې نه یوازې یې نظامي وړتیا درلوده، بلکې مدیریتي تدبیر او سیاسي عقلانیت هم ورسره مله و، چې د داسې څو مختلفو صفاتو جمع په یوه شخص کې ډېر لږ پېښېږي.

د ۲۰۰۱ په اکتوبر کې پر افغانستان د امریکا یرغل د امارت ډېر مشران مجبور کړل، چې هم سیاسي شي او هم نظامي. خو منصور صاحب بیا له شاذو مشرانو څخه و چې په څو ډګرونو کې وځلېد. کله چې د اسلامي امارت له سقوط وروسته د طالبانو لیکې مقاومت ته بیا منظمېدې، منصور صاحب ته د رهبري شورا غړیتوب او د کندهار ولایت مسوولیت وسپارل شو. کندهار چې د اسلامي امارت پر مهال د رهبرۍ استوګنځای او تقریباً په عملي پلازمېنه بدل شوی و، له سقوط وروسته د یرغلګرو له خوا هم تر ډېرې پاملرنې لاندې و. له دې امله د طالبانو رهبرۍ هم کندهار لپاره

داسې مسوول ته اړتیا لرله، چې د یرغلګرو د هراړخیز تمرکز او فوکس ځواب کړای شي.

د کندهار د ولایت په دوره کې منصور صاحب وکولی شول چې په خپل پوځي ابتکار سره کندهار په جنوب غرب حوزه کې د مقاومت د ثقل پر مرکز بدل کړي. له کندهاره د مقاومت پلانونه پراخ شول او ګاونډي روزګان، زابل او هلمند کې یې یرغلګرو ته مرګوني ګوزارونه ورکړل. د منصور صاحب د مشرۍ په دوره کې یو ځل په ۲۰۰۳ او بل ځل په ۲۰۰۸ کلونو کې د کندهار مرکزي محبس د مجاهدینو په لاس مات شو او ګڼ شمېر اسیر طالبان ازاد شول. د کندهار د مسوول په توګه د منصور صاحب مشري دومره مهمه وه چې کله په ۲۰۰۷ کال کې د امارت پخوانی مرستیال، ملا عبیدالله اخوند اسیر شو، منصور سره له دې چې د ملا برادر تر څنګ د امارت دویم مرستیال و، خو د کندهار مسوولیت یې هم ورسره پرېښود.

## الف: منتظره قطعه

د منصور صاحب د عمومي مشرۍ دوره نه یوازې دا چې ډېره لنډه وه، بلکې له ډېرو ننګونو سره هم مخ وه. د طالبانو په څه کم یوه کلنه رسمي مشرۍ کې منصور داسې کارنامې لري، چې د طالبانو او د افغانستان د راتونکي امنیت او بشپړتیا لپاره حیاتي ارزښت لري. یو له دغو مهمو کارونو د منتظره قطعې په نوم د ځانګړو کمانډو ځواکونو د تشکیل جوړول و.

منتظره قطعه له شپږو سوو تر زرو تنو طالبانو منظم پوځ ته ورته کمانډو ځواک ته ویل کېده، چې په مرکزي او جنوب غرب حوزه کې د منصور صاحب د رسمي مشرۍ پر مهال تاسیس شوه. د دغه ځانګړي ځواک دنده دا وه، چې هغه نامسووله وسله والې ډلې وځپي چې د سیمې او نړیوالو استخباراتو په مالي او نظامي ملاتړ رامنځ ته شوې وې. د ملا اختر محمد منصور د مشرۍ په دوره کې یوه ننګونه د

نامسووله وسله والو د پروژې مسئله وه، چې د هغه د موثرې نظامي ستراتیژۍ له املـه وځپل شوه او استخبارات په خپلو دسیسو کې تش لاسي شول. د ملا اختر منصور د پـه نښه کېدو یو دلیل شاید همدا وي چې په ډېره بېړه یې د بهرنیو اړخونو د پـروژو مخـه ونیوله.

د منتظـره قطعـې بلـه مهمـه دنـده دا وه چـې پـه طالبـانو کـې دننـه د ځینـې قومندانانو او وسله والو د غیرمسووله کړنو مخه به یې نیوله. قطعې وکـولی شـول چـې په مشرقي او مرکزي افغانستان کې د طالبانو داسې قومندان بې وسلې کړي، چې یا به یې د رهبرۍ اطاعت نه کاوه او یا به یې هم د مـلي شـتمنیو او مـلي ګټـو پـه تـړاو بـې تفاوته وو. د منصور صاحب د نظامي تګلارې یوه مهمه ځانګړنه همدا وه چې یوازې بـه یې د نظامیانو په پوځي لاسته راوړنو حساب نه کاوه، بلکې له ولس، د طالبانو لایحې او ملي پراختیایي پروژو او بیارغونې چارو په تړاو یې هم د هغوی چلن ته ځانګړې پاملرنه کوله. د قطعې تشکیل یوه ګټه دا وه، چې د طالبانو نظامیان سر له اوسه په مسـوولیت وروزي. که د تېر جهاد د نظامیانو خپلسرۍ ته وګورو، د نظامیانو د روزنـې اهمیـت لا جوتېږي. قطعې وکولی شول، چې نظامیان وېښ او مسوولیتونو ته متوجه کړي، چـې د دوی جګړه د یوه کامیاب نظام لپاره ده، نـه لکـه نـورې ډلـې د اسـتخباراتو د دسیسـو لنډمهاله پروژې نه دي.

## ب: نظامي پرمختګونه

د طالبانو د مشر او موسس په توګه د ملا محمد عمر د مړینـې خـبر خپرېـدل د طالبانو غورځنګ ته هم تقریبا سیاسي زلزلې ته ورته وه. د ملا محمد عمر شخصیت د طالبانو پر فکري- سیاسي ایډیالوګ بدل شوی و؛ ځکه نو د هغـه مړینـه او د بـل مشرـ ټاکنه څه اسانه چاره نه وه. له بلـې خـوا د افغـان حکومـت او سـیمې اسـتخباراتو هـم مسلسلې هڅې کولې چې که وکولی شي طالبان په څو ډلـو ووېشـلی شي. د مـلا اخـتر محمد منصور له ټاکنې سره ځینې اشخاص له طالبانو جلا او ځینې په کـور کښناسـتل.

یوازې یوه کوچنۍ ډله، د ملا محمد رسول په مشرۍ اعلان شوه. خو داسې ښکاري چې هغه ډله هم څو ورځې په رسنیو کې ژوندۍ وه او کرار کرار سړه او مړه شوه. د ځینو اختلافاتو او د تبلیغاتو د مخنیوي لپاره د کندوز نیول د طالبانو د مورال په لوړېدو کې ډېر مهم و.

طالبان په ۲۰۰۱ کې د خپل حکومت له سقوط څوارلس کاله وروسته وتوانېدل چې د افغانستان د یوه ولایت مرکز ونیسي. د منصور له تاکنې ژر وروسته، د ۲۰۱۵ د سپټمبر په وروستیو کې طالب ځواکونه د کندوز مهم اقتصادي ښار ته ننوتل. د کندوز ښار نیونې نه یوازې طالبانو ته یوه نظامي بریا ګټل کېده، بلکې په ورته وخت کې سیاسي، تبلیغاتي او د مورال لوړېدو کې مهم رول درلود. د کندوز نیول د طالبانو لپاره د امریکا پر ضد په ټول مقاومت کې تر ټولو ستره بریا وه.

پر کندوز سربېره، د ملا اختر محمد منصور له رهبرۍ سره طالبان وتوانېدل چې په فاریاب، جوزجان، بغلان، هلمند، روزګان، بدخشان او بادغیس کې پراخې سیمې ونیسي. دا ځل د تېرو کلونو پرخلاف طالبانو وکولای شول چې پراخې سیمې له نیولو وروسته وساتي.

ملا اختر محمد منصور په نظامي برخه کې له یوې خوا خپل ځواکونه لا منظم او تجهیز کړل او له بلې خوا یې د ملي وحدت حکومت کې له خپلمنځي نااندریو او اختلافاتو هم کافي ګټه پورته کړه. دغه دوره کې طالبان ځکه په نظامي برخه کې ډېر وځلېدل، چې هم په خپله د ستراتیژیسټ رهبر خاوند شول او له بلې خوا بهرني ځواکونه تر ډېره ووتل او په پای کې یو کمزوری افغان حکومت تر ډېره ونه توانېد چې د طالبانو د پراخو حملو مخنیوی وکړي.

## ځینې شخصیتي ځانګړنې:

اختر محمد منصور یو پرګماټیک رهبر و چې د کار او فعالیت له ډېر لوړ ډینامیزمه برخمن و. دی په شخصیتي لحاظ یو پُرکاره، زحمت کشه او متحرک انسان

و. د منصور په اړه يې نژدې ملګري وايي چې ورو ورو ګامونـه بـه يـې اخيسـتل، خپلـو مخالفينو سره يې دروند چلن کاوه.

پاخه سياستوال ته ورته نرمي به يې کولـه او نـه بـه احساسـاتي کېـده. کلـه چـې کندوز د طالبانو لاس ته ولوېد، منصور په خپل پيغام کې ټولو د دولت کارمندانو ته د هغوی د امنيت ډاډ ورکړ او ښښنه يې ورته اعلان کړه.

دقيق اهداف يې په نښه کول او دقيقه پلان ګـذاري بـه يـې ورتـه کولـه. لـږې او شمېرلې خبرې به يې کولې. په داخلي اختلاف کې يې دريځ ډېر محتاط و. تر ډېره يـې هڅه وکړه چې ناراضه ملګري پخلا کړي.

هم د مالي سرچينو په موندنه کې برلاسی و او هم به يـې بيـا پـر ځـای لګښـتونه کول. د ملګرو په خبره يې نه يوازې د غورځنګ نظاميانو ته پراخې مـالي سرچينـې پـه واک کې ورکولې، بلکې د طالبانو يتيمانو او د اسـيرانو کورنيـو بانـدې يـې هـم خاصـه پاملرنه کوله.

د اختر محمد منصور د رهبرۍ دوره د طالبانو پـه مبـارزاتي تـاريخ کـې د دغـو ځانګړنو له امله يو جلا باب ګڼل کېږي چې په هره برخه کې يـې غورځنـګ کـې پـاموړ اصلاحات رامنځ ته کړل.

مرجع: ځلاند ويب پاڼه

٦\٢\٢٠١٧

# څلورم څپرکی

## دشـــهید امیرالمـــؤمنین د شـــهادت دلـومړي تلـین پـه مناسـبت د څېړونکـو او لیکوالو تاثرات، څېړنې او ارزونې

# شهید منصور د افغان مقاومت نوښتګره څېره

**لیکنه: خپلواک- شاعر او لیکوال او د سیاسي چارو څېړونکی**

هره ټولنیزه پدیده، ډله، ګوند یاپاڅون درانه ټولنیز بدلونونه را مېنځ ته کوي او د دې ترڅنګ په خپل جریان کې رجال هم زیږوي. که مورِ تاریخ ته پام واړوو، نو په نا مسلمانو ټولنوکې هم د دې ګڼ مثالونه شته، لکه د سکندر په اړه چې هیڅ یوناني فکر نه کاوه چې د لومړي "فلیپ" نه وروسته به د سکندر مقدوني غوندي هڅانډ اتل دیونانیانو اومقدونیانو په برخه شي اونه هم چا فکر کاوه چې له "سقراط" نه وروسته به دهغه ځای "افلاطون" نیسې او یوناني فلسفه او افکار به نه یواځې ژوندي ساتي، بلکې نوی رنګ او ارتقا به ورکوي.

بل خو ا په مسلمانانو کې له معاویه رضی الله عنه وروسته چا فکر نه کاوه چې عمر ابن عبدالعزیز به پیداکیږي اونه هم چا فکر کاوه چې په عباسیانو کې به هارون رشید پیداکیږي. نه هم چا فکر کاوه چې له امام ابوحنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ وروسته به د هغه له شاګرد ابویوسف نه قاضي الأُمة جوړیږي. خو د زماني چاپ ضعف او قوت، حسن اوبدرنګي، کینه اونفرت دواړه زیږوي.

د ۲۰مې او ۲۱مې پیړۍ د امیرالمومنین ملامحمد عمر رَحِمَهُ ٱللَّهُ نابغه شخصیت اوعظیم المرتبة هستي چې یو حرکت یې تخلیق کړ او دیوې سترې باغچې زړي یې وکرل. دهغه په رحلت د دې باغ دمالیاري تصور هم ممتنع و. خو الله د هغه په رحلت د زمانې پر غلبیل بیا سپک اودرانه وچنل؛ چا د شخصي خواهشاتو په بدل کې د ټول طالب غورځنک ستنو ته لتې ورکولې خو بل خوا د کایناتو رب د زماني منصور په خپل نصرت د دې وړ کړ. چې همدا کشتۍ یې نه یواځې له غرقیدو بچ کړه بلکې د ارتقا نا

لیدلیو ساحلونو ته یې نړدې کړه او دهمدې متانت په بدله کې یې د خپل وجود غوښې او هډوکې پرې کباب کړل.

د شهید امیرالمومنین ملا اخترمحمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ نوښتګر او انعام ښونکی شخصیت د طالب غورځنګ په تاریخ او فلسفه کې یو ځانګړی باب و. هغه نه یوازې د خپل مرحوم قاید کاروان همداسې ګړندی وساته، بلکې دې کاروان ته یې لاره نوره هم رښا او روښانه کړه او طالب غورځنګ یې په حساس وخت او حساسه مرحله کې له سختو متوقع چیلینجونو وژغورې. هغه په طالب غورځنګ او امریکا ضد مقاومت کې د بریالۍ جګړې ترڅنګ د بریالي سیاست او دیپلوماسي بنسټ کیښود.

ځلور ستر قایدانه صلاحیتونه ډیر کم په یوه شخص کې جمع کیږي: حلم، شجاعت، جوادت او غوره تدبیر. شهید منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ پر یوه وخت د اځلور واړه صفات لرل. منصور ررحمه الله هغه مخالف ته هم کورته ورته چې دی به یې په بدو نومونو ښکانځه؛هغه به تل د سختو پیښو او خطرونو پروخت ارام او مطمئن ښکاریده او ټولې شورا ته به یې ویل چې تاسو ځانونه وساتئ زما د مرګ او اسارت هیڅ فکر مکوئ! هغه به مجاهدته دخپلې خولې ګولې ورنیمې کولې او دشهیدانو کورنیو او یتیمانوته یې جلا مالي بودیجه ساتله. د منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ د تدبیر او عمیق فکر اندازه هغه چاته معلومیږي چې هغه یې د نړیوالو روابطو او مهمو داخلي پرېکړو پروخت لیدلی و. د هغه د تدبیر او پلان ګذاري پرمټ په سختو حالاتو کې د طالب غورځنګ ځواک او یوالی وساتل شو او د داعش غوندې فتنه یې ۸۰ فیصده په نطفه کې خنثا کړه.

د طالب غورځنګ دغه د بخت ستوری په داسې وخت کې وځلید چې په سیمه، نړۍ او داخل کې د طالب غورځنګ د خپل منځي تقسیم، کمزوري کولو او له مینځه وړلو ته په لویه پیمانه استخبارتي اتحادونه شوي و، خو شهید منصور همدغه ستر اتحادونه په خپل تدبیر ناکامه او کمزوري کړل.

د یو چا د شخصیت لوړوالی او ټیټوالی د هغه په مخالفینو او ملګرو هم پیژندل کیږي!. د منصور سره مخالفت لرونکې د دې وړ وو چې مخالفت یې ورسره کړای وای، که سړی د قیق نظر وکړي، نو په طالب غورځنګ کې تر اعتراض لاندې او له پخوا نه متنازعه اشخاصو د منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ سره مخالفت کاوه او ټولو ستر و علماوو، نیکو اشخاصو او افرادو هغه ته د بیعت کلک لاس ورکړ، چې دا دهغه د لوړ شخصیت او حقانیت ښکاره دلیل دی.

منصورصیب د ښې سابقې، درونده د ینې او سیاسي شخصیت په لرلو سره په روان مقاومت او طالب غورځنګ کې بې شماره کارنامې لري، چې څو بارزې کارنامې یې د بیلګې په توګه راوړم:

الف – د کامیابه سیاست او موثرې جګړې په یوه وخت امتزاج یې ممکن کړ.

ب – د نړۍ په کچه یې د طالب دیپلوماسۍ معاصر بنیاد کیښود.

ج – د جګړې په برخه کې یې په سخت وخت کې طالب غورځنګ له فوځي تقسیمه وساته.

د – د نړیوالو اړیکو په برخه کې یې حدود او اطراف خپله هم وپیژندل اوپر طالب غورځنګ یې هم وپیژندل.

ر- په نړیوالو روابطو کې یې اوسني مقاومت ته بندې دروازې خلاصې کړې.

س – د طالب غور ځنګ مشرتابه یې تر یوه حده افغان شموله کړ.

ع – د یوه باندني سازش په توګه یې د داعش پروسه په نطفه کې ناکاره کړه.

الله دې خپل بیساري رحمتونه پرې ساري اودائم ولري.

پای

۲۱\۵\۲۰۱۷

# امیر المؤمنین ملا اخترمحمد (منصور)
# د محراب، سنگر او دفتر نوښتگر نابغه

**شاهد غزنیوال**

**یو کال وړاندې په همدې شپو ورځو کې د اسلامي امارت امیر او د مقاومت نوښتگر مشر ملا اختر محمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ د یرغلگرو امریکایانو د یوه ناځوان مردانه برید په ترخ کې شهید کړای شو.**

**امیر المؤمنین شهید ملا اختر محمد (منصور) د محراب یو بې ریاء عابد، د سنگر متهور مجاهد او په سیاسي فعالیت کې یو نوښتگر دیپلومات و. امیرالمؤمنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ یو له هغه قیادي شخصیتونو څخه و چې د صلیبي یرغلگرو په خلاف مقاومت کې یې د مقاومت د بریالیتوب لپاره نه هېرېدونکې کارنامې او نوښتونه تر سره کړې. د نومورې دا نوښتونه د دې لامل شول چې د مقاومت لمن د هیواد ټولو ساحو ته پراخه او پر افغانستان د امریکایانو اشغال له چلینج سره مخ کړي. کولای شو د امیر المؤمنین دا نوښتونه چې په داخلي او نړیواله کچه د مقاومت د بریالیتوب لامل ګرځیدلي په دوو برخو و ویشو.**

**لومړی اداري یا داخلي برخه: شهید امیرالمؤمنین د مقاومت د منظم والي، مستحکم والي او متحد والي لپاره داسې لارې چارې عملي کړي چې په داخلي کچه یې د مقاومت لیکې له هرډول پراګنده ګي او تفرق څخه محفوظ کړې. نومورې هغه مهال چې د امارت د یوه پر نفوذه قومندان او بیا تر هغه وروسته د امارت د مرستیال په حیث دنده لرله د مقاومت د ټولو تشکیلاتو لپاره یې یو لړ اصول او مقررات وضع کړل. په دې مقرراتو کې د هر مسؤل د مسؤلیت قانوني صلاحیت او په جهادي**

فعالیت کې د هغه د کار ساحه مشخصه شوې وه، د همدې مقرراتو له مخې هم د مقاومت په لیکو کې د تشتت مخه ونیول شوه او هم هرچاته خپل وظیفوي مسؤلیتونه معلوم شول. همدا راز یې په مجموع کې د مقاومت د ټولو نظامي، امنیتي، قضایي، اداري او مالي فعالیتونو د کنټرول لپاره عمومي لایحه او یا د مقاومت د مسؤلینو لپاره د کار عمومي لارښود ترتیب کړ چې د ټول هیواد په کچه یې د مقاومت په عمومي وضعیت ډیر مثبت اغیز وکړ او د هغو ټولو بې نظمیو، ګډوډیو او یو لړ اشتباهاتو مخه یې ونیوله کوم چې د مقاومت په پیل کې په نا فهمي او لاعلمي کې تر سره شوې وو. د جهادي فعالیتونو د انسجام، نظارت او کنټرول لپاره دغه لائحه د دې لامل شوه چې د امارت لیکې له هغو ټولو ګډوډیو څخه وساتي کوم چې له افغانستان پرته د نړۍ په نورو سیمو کې مجاهدین ورسره مخ او د هغوی د جهاد د ناکامي او بدنامي سبب شوي. د همدې لائحې په برکت د امارت د ټولو مسؤلینو فعالیتونه منظم او کنټرول شول، د مقاومت په لیکو کې د بې اطاعتي مخه ونیول شوه او د اداري فساد او له واکه د ناوړې ګټې اخیستنې ټول امکانات له منځه ولاړل.

پورتني اداري لوائح یواځې دا نه چې تش د کاغذ په مخ ترتیب او عملي بڼه یې نه درلوده، بلکې د هغو د تطبیق او عملي کولو لپاره یې د امارت په پوځي او اداري تشکیلاتو کې ځانګړې مراقب مسؤلین تعین کړل تر څو هغوی په ساحه کې د دغو لوائحو او مقرراتو له عملي کېدو نظارت وکړي او په اړه یې د امارت مشرتابه ته اطمینان ورکړي. همدا راز شهید امیر المؤمنین د مقاومت د لا ښه انسجام لپاره د امارت په تشکیلاتو کې وسعت راوست او د ځینو مهمو فعالیتونو لپاره یې نوې تشکیلاتي ځانګې ایجاد کړې. د بیلګې په توګه د جذب و جلب او دعوت ارشاد کمیسیون چې له جګړې پرته یې د دښمن د پوځي ځواک په تضعیف کې ښه رول لوبولی، همدا راز د ملکي تلفاتو د کنټرول او مخنیوي لپاره د سمع شکایات کمیسیون چې تر ډیره حده یې د ولسي تلفاتو مخه نیولې، د دښمن په محابسو کې د اسیرو مجاهدینو د چارو د بررسي کمیسیون، د جګړې د زخمیانو د معالجې د چارو

کمیسیون او همداسې نورې اداري څانګې چې د امارت تشکیلاتو ته یې له خالص پوځي تشکیلاتو څخه د یوه منظم او جامع نظام تشکیلاتو ته ارتقاء ورکړه. دا خو په داخلي کچه د مقاومت د نظم او انسجام لپاره د شهید امیر المؤمنین فعالیتونه وو چې له شکه پرته یې د امارت په منظم والي او د هغه په پرمختګ کې خاص رول لرلی دی. د هغوی برکت دی چې دښمن له خپلو ټولو هڅو سره سره نه دی توانیدلی چې د مجاهدینو په منځ کې نفوذ وکړي او یاهم په خپلو پراخو تبلیغاتو سره مجاهدین بدنامه کړي. ځکه د مجاهدینو د اختلاف او بد نامي عوامل ټول د جهادي لائحې په عملي کولو سره مخکې ترمخکې له منځه وړل شوي.

دوهم په سیاسي یا خارجي برخه: د شهید امیر المؤمنین اصلاحي فعالیتونه یواځې د مقاومت په داخلي برخې پورې نه وو محدود ؛ بلکې په سیاسي برخې کې یې هم د توجه وړ کارونه کړي چې ښې لاسته راوړنې یې لرلې. نوموړي وروسته تر دې چې په پوځي لحاظ یې د مقاومت لیکې دومره پیاوړې کړې چې هغوی وکړای شول په عسکري لحاظ د امریکا په مشرۍ د ۴۸ هیوادونو پوځي ټلوالې او ناټو ته شکست ورکړي، د امریکایانو په مقابل کې یې د مقاومت سیاسي او دیپلوماتیک اړخ ته مخه کړه. نوموړي د دې کار لپاره د مجاهدینو په منځ کې ورزیده، خبیر او د سیاسي درک لرونکي اشخاص تعین او په کاروګمارل. دغه کسان چې مستقیما د امیر المؤمنین تر هدایت لاندې په فعالیت لګیا وو د بهرنۍ نړۍ په تیره د افغانستان له نیږدي ګاونډیو هیوادونو سره دیپلوماتیک روابط بر قرار کړل. دې کار مقاومت ته دا ګټه ورسوله چې د امارت د نظامي برلاسي ترڅنګ یې په سیاسي لحاظ په نړۍ کې د هغه حمایت پراخ کړ او عملا د امارت سیاسي استازي وتوانیدل چې د چاپان، فرانسې، ناروې او جرمني په شمول منځنۍ اسیا او یوشمیر نورو هیوادونو ته سفرونه وکړي او هلته په مطبوعاتي کنفرانسونو کې په ګډون کولو سره د امارت سیاسي تګلاره نړیوالو ته ابلاغ کړي.

د شهید امیر المؤمنین دغه دیپلوماتیک فعالیت دښمن له سختې وارخطایي سره مخ کړ، ځکه دښمن پوهیده چې په دیپلوماتیکه ساحه کې د مقاومت بریا په نړیواله کچه په افغانستان کې د امریکا شکست منعکس کوي، هماغه و چې امریکایان د دې په لټه شول چې د مقاومت د مبتکر قیادت په له منځه وړلو اقدام وکړي. شهید امیر المؤمنین چې په داخلي لحاظ د امارت له پوځی فعالیته مطمئن و شخصا یې د امارت د سیاسي پرمختګ لپاره په خپله کار شروع کړی او په ډیر کم وخت کې یې یو شمیر بهرنیو هیوادونو ته سفرونه وکړل. خو امریکایي او منطقوي استخباراتو د مبتکر امیر المؤمنین هر ډول فعالیت او تحرکات ډیر په دقت څارل. که څه هم چې شهید امیر المؤمنین لکه څومره چې په سنګر کې د دښمن څار او مراقبت ته متوجه و په هماغه اندازه په خپل سیاسي فعالیت کې هم ډیر محتاط او د دښمن هر ډول تحرک ته متوجه و. خو الهي تقدیر و چې امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور ډیر فرصت تر لاسه نه کړي چې په خپلو موفقانه هلو ځلو سره د امارت سیاسي بخش لا تقویه او یرغلګر دښمن ته په دې برخه کې هم داسې ماتې ورکړي لکه په نظامي برخه کې یې چې د هغوي مجهز ځواک له شکست سره مخ کړی و. هماغه و چې د ۱۴۳۷ هجري قمري کال د شعبان د میاشتي په (۱۵نیټه) چې د ۲۰۱٦ م کال د می د میاشتې له (۲۱) سره سمون خوري د امریکایي الوتکې لخوا په نښه او د شهادت لوړ مقام ته ورسیده. انا لله و انا الیه راجعون.

سره له دې چې د اسلامي امارت په قیادت کې د شهید منصور صاحب د مشرتابه دوره ډیره کمه وه، مګر په هماغه محدوده دوره کې یې داسې مؤثر ابتکارات رامنځته کړل چې د هغو له برکته د امارت په لیکو کې دومره انسجام راغلی و چې د ده تر شهادت ۲۴ ساعته وروسته د امارت لپاره نوی امیر په داسې ترتیب تعین شو چې هیڅ شخص یې هم له تعین سره مخالفت ونکړای شوای. که څه هم چې له پوځي لحاظه د شهید امیر المؤمنین شهادت ډیره ستره خلا وه چې د مقاومت د مشر تابه په سطحه رامنځته شوه، خو د ده له لوري مخکې ترمخکې پوځي انسجام مجاهدین له

داسې یوې ورځې سره عادت کړي وو چې که یوه ورځ دی د مقاومت په قیادت کې نه وي هم هغوی به له هیڅ ډول ګډوډي او بې نظمي پرته د یرغلګرو خلاف جهادي مقاومت په منظم ډول پرمخ بیایي. ځکه نوموړي د جهادي چارو د پرمخ وړلو لپاره داسې مقررات وضع کړي وو چې هغوی ته په رجوع کولو سره د مجاهدینو ترمنځ نه د کوم اختلاف امکان موجود و او نه هم د زعامت او قیادت په سر خپل منځي منازعه.

الله تعالی دې د جهاد او سیاست پر دې نوښتګر مشر رحمتونه وکړي، امثال دې الله په امت کې ډېر کړي او پاکې وینې دې د جهاد د کامیابي او هیواد د خپلواکي لامل وګرځوي ... امین یارب العالمین.

هرگز نمیرد آنکه دلش زنده شد بعشق

ثبت است برجریده عالم دوام ما

۲۱\۵\۲۰۱۷

## د شهید امیر المؤمنین د قیادي شخصیت په اړه څو ټکي...

**ابوظهیر شمس**

دځرک جهادي، علمي او سیاسي مجلې ښاغلی مسؤل او چلوونکي له دې پلوه دستاینې او شابسي حقداربولم چې دشهید امیر المؤمنین ملا اخترمحمد منصور دشهادت نیټې (۲۱مې) په مناسبت یې دځانګړې ګڼې چاپولو هوډ کړی دی

ښکاره ده زمونږ په افغاني ټولنه کې دایوه همیشنۍ کمزورتیا شتون لري، چې مونږ خپل نومیالي، قهرمانان، مشران او اتلان چې هغسې حق لري نه ستایو، نه یې یادوو او راتلونکو نسلو ته د هغوی د میړانو اوشهامتونو نکلونه یاکیسې نه لیکو، دهمدې غفلت په وجه دتاریخ زیات نومیالي، مشاهیر او مفاخر شخصیتونه نن له مونږ

ورک دي او دکارنامو او قربانيو په اړه يې مونږ کم معلومات لرو، بل پلوته دنړۍ پرمختللي او ازاد ولسونه بيا دخپلو ملي مشرانواو اتلانو د ژوندون او کارنامو خوندي کولو په باب خورا حساس او بيدار ليدل کېږي، هغوی يې په اړه ځانګړې اداري اوټولنې جوړې کړې، هغوته يې پراخ وسايل، اسباب او مواد ور کړي څو ملي مشرانو او د نوميالیو خدمتونو او کارنامو ته په دې ډول ژوند وروبښي.

له نيکه مرغه په دا وروستيو کې زمونږ په يوشمير اشخاصوکې هم دغه جذبه راټوکېدلې او ددې لپاره متحرک ښکاري چې دهېواد دمشاهيرو او نوميالیو شخصيتونو په ژوند، کارنامو او دهغوی په اجتماعي خدمتونو مستقل کتابونه ورباندې وليکي، په اړه يې اختصاصي ګڼې چاپ کړې او ځانګړې مقالې پرې وليکي؛ په دې لړ کې تازه مثال دځرک مجلې لخوا دشهيد امير المؤمنين ملااختر محمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ دشهادت نيټې راتلو په مناسبت د هغه دجهادي او سياسي کارنامو ستايلو په اړه دځانګړې ګڼې چاپول دي، رښتيا هم د فقيد امير المؤمنين ژوند، دهغه جهادي او سياسي خدمتونه زمونږ د تاريخ يو زرين باب دی، اوددې باب ليکل دمجاهدو قلموالو او ليکوالو ديني، ملي او اخلاقي مسؤليت دی. دکوم باب دليکلو په اړه چې هغوی ته له الله تعالی نه توفيق اومرسته غواړو.

په ټوله کې که دارواښاد منصورصيب د رسمي خدمتونو او مسؤليتونو برخې ته پام وکړو، نو پنځه دورې يا مرحلې په نظر راځي، په کومو کې چې نومورې بېلابېل مسؤليتونه او خدمتونه سرته رسولي، دمسؤليتونوپه لړ کې يې لومړۍ مرحله يا دوره دطالبانو داسلامي تحريک دپيل سره سمه پيلېږي، کله چې دهېواد تاريخي ښار (کندهار) دطالبانو له لوري فتحه شواوددغه ويارلي ولايت نه دشر او فساد کرغېړن څادر ټول شو، د تحريک د مؤسس او امير ملامحمد عمر مجاهدرحمه الله لخوا شهيد منصورصيب دکند هار د نړيوال هوايي ډګر د مسؤل په حيث په رسمي دنده وګومارل شو.

په همدې دوره کې د منصورصیب په شخصیت کې پټ صلاحیتونه بیرون ته وځلیدل او هم د مشر ملاصیب دتوقع سره سم دکندهار نړیوال هوایي ډګرپه څېر دخورا مهم مسؤلیت لپاره دنوموړي په څېر دحلیم، بردبار، همیشه متحرک اوفعال انسان انتخاب په نتیجه کې یوښه انتخاب ثابت شو، شهید منصورصیب پخپل ټول بشري توان او اخلاص دهوایې ډګر اړوند چارې په ښه سلیقه مندی رهبرې کړې، دشراو فساد د تاړاکونو ځپلی هوایی ډګر یې د شته ظروفو او امکاناتو نه په استفاده د کورنیو اوبهرنیو الوتنو لپاره چمتوکړ، هم یې پکې د دولتي نظم او ډسپلین مقررات پلي کړل که څه هم منصورصیب دمدرسې طالب و، طبعاً دادارې او مسلکي کارونو د سرته رسولو عملي تجربه - به یې یوځه کمزورې وه، لیکن دخدای ورکړي ذهانت او زیرکتیا په لرلو یې دکندهار نړیوال هوایې ډګر د پېچلو اداري او مسلکي چارو په ښه توګه رغولو او منظمولو سره وښوده چې په نوموړي کې د ښې حکومتداری په اړه د فطري ذوق او خاصې علاقې لرلو څخه برخمن دی.

## دمسؤلیت دوهمه دوره:

همدې وړتیا او پوهې ته په پام دکابل دفتحې سره سم دامیر المؤمنین د فرمان له مخې دهوائي چلند او توریزم دوزیر او هوایې قواوو داعلی قومندان په حیث تعین شو، داچې نوموړی د امیر المؤمنین دخاصو، اعتمادي او فعالو وزیرانو له ډلې څخه و، تر پایه یې د یاد وزارت نه بل ته تبدیل نکړ، چې دا که یو لورته په منصور صیب رَحِمَهُ ٱللَّهُ دمشر امیر المومنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ کامل باور، ډاډ او اعتمادښیي له بل پلوه د منصور صیب د کمال او صلاحیتونوښکارندویه دی، چې نوموړی دخپلو اړونده اموراتو په سرته رسولو کې برلاسي لرله، نو ویلای شو چې منصورصیب دوزارت په دوره کې یو موفق، کامیاب او فعال وزیر و، ولې که موفق اوفعال نه وای هیڅکله نشوای کېدای چې دطالبانو دنظام په څېر صاف او شفاف نظام کې یې ترپایه خپل موقف ساتلی وای، ولې یواځینی شی چې دطالبانو په صف کې دموقف او مقام لرلو ذریعه او وسیله ګڼل کېده هغه کامله تقوا او په ټولو چارو کې داسلام دمبین دین دلارښوونو عملې

تابعداري اوپه پوره اخلاص سره د خپل مسؤليت په سرته رسولو کې فعال رول درلودل په کوم کې چې منصورصيب حساس او بيدار و.

## دمسؤليت درېيمه دوره:

په ګران هېواد دامريکا ديرغل او داسلامي امارت دسقوط وروسته چې دامير المؤمنين ملامحمد عمر مجاهد په حکم د جهاد او مقاومت ليکې تنظيم شوې، منصورصيب دکندهار لپاره داسلامي امارت دوالي او درهبري شوری دغړي په حيث تعين شو او ښکاره ده چې کندهاردهېواد په ولايتونو کې يو ترټولو مهم او ستراتيژيک اهميت لرونکی ولايت دی؛ په خاصه توګه دطالبانو داسلامي تحريک دتاسيسي مرکز او دامير المؤمنين داستوګنې د مقر په حيث يې پوځي او سياسي اهميت نور هم سيواو، په دې وجه امريکايي يرغلګر له پيل څخه ديته متوجه ول چې کندهار کې ترنورو ولايتونو زيات جارحيت او ظلمونه ترسره کړي، منصورصيب په لنډ وخت کې کندهار ولايت اړوند ولسوالیو او مربوطاتو کې دامريکايي او کاناډايي يرغلګرو پرضد دمجاهدينو صفوف منظم کړل اوهغوی ته يې ملاماتوونکي زيانونه ورسول او په دې سربيره يې درهبري شوری دغړي په حيث داسلامي امارت په مشورتي بورډ کې ديومخکښ او فعال غړي په توګه رول اداء کړ.

## دمسؤليت څلورمه دوره:

څلورمه دوره کله چې داسلامي امارت نايب ملا عبيد الله اخند اسير شو، په ځای يې مشر امير المؤمنين داسلامي امارت دنايب ملاعبد الغني برادر ترخنګ منصور صيب هم داسلامي امارت د نايب په حيث مقرر کړ، څو دملابرادراخند سره په ګډه دامريکايانو په خلاف دافغان تاريخ ترټولو ستر جهاد په رهبري کولو کې ونډه واخلي، منصور صيب د کريمانه اخلاقو په لرلو او مخلصانه کوښښونو په وجه دمجاهدينو ترمنځ پراخ مقبوليت اوکلک باور پيدا کړ، د هرمشر او کشر مجاهد له خولې به يې دښه سلوک، حسنه اخلاقواونيکې رويې نکلونه کېدل، کله چې ملا برادر اخند هم اسير شو (الله تعالی دي نوموړي ته د بند له اذيتونو نجات نصيب کړي) مشر امير المؤمنين

د خپل لزوم دید له مخې دمنصورصیب ترځنګ دبل نایب په حیث بل څوک مقررنکړ یواځې دمنصورصیب وجود یې دنیابت لپاره کافي وبالـه، دخدای تعالی په مرسته اوکومک منصورصیب پرلپسې بریاوې او سوبې ترلاسه کولې آن تردې چې په ټول هېواد کې دمجاهدینو صفوف او لیکې یې منظمې کړې، داسې ولسوالۍ او سیمه پاتې نشوه چې هلته داسلامي امارت تشکیلات او مجاهدین شتون ونلري او په یرغلګروبریدونه او عملیات نه وې روان، دمجاهدینو دپراخ شتون له امله دښمن په ټول هېواد کې دکلک او پراخ مقاومت سره مخ شو، ورته درانه ځاني اومالي تلفات واوښتل او هم یې هغه ټول هوسونه او ارمانونه دخاورو سره ګډشول دکومو په نیت یې چې په افغانستان یرغل کړی وو.

داهم د منصورصیب دمدابرانه قیادت برکت و چې داسلامي امارت لیکې ترپایه دهرډول انشعاب او چاودون څخه خوندي پاتې شوې، ځکه نومورې دامارت ټول مشران او کشران مجاهدین پخپل اخلاص او للهیت باوري کړي وو، چې زما هدف یواځې او یواځې دالله تعالی رضا ده او ددې پرته بل هیڅ مادي او دنیاوي هدف یا غرض نلرم دیته په کتوویلای شو چې داسلامي امارت دمشرانو او کشرانو مجاهدینو او مسؤلینو په زړونو کې دامیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد وروسته چې دکوم شخصیت په اړه د بې پناه احترام او مقبولیت جذبې شتون لاره هغه شخصیت دشهید منصورصیب و، چې هرمشر او کشرمجاهد ته له ځانو هم ور ګران و.

منصورصیب نوښتګر انسان و نومورې دخپل نیابت په دوره کې داسلامي امارت مرکزي هسته ورغوله، د ټولو کلیدي چارو په اړه یې منظم کمیسیونونه تشکیل کړل اوبیا یې دټولو کمیسیونولپاره کاري لایحې ترتیب کړې، په خاصه توګه هغه کمیسیونونه چې دهغو کاري وظایف زیات مهم دي لکه دنظامي چاروکمیسیون، محاکمو کمیسیون، تعلیم و تربیې کمیسیون، فرهنګي چارو کمیسیون، سیاسي چارو کمیسیون، صحت کمیسیون، داقتصاد او مالي چارو کمیسیون دهر یو لپاره یې ځانګړې توجه ورکړه او دهغوپه کارونوکې دتعطل ټول موانع یې لرې کړل او هم یې

دټولو ادارو دپرمختګ لپاره ټولې اړینې اسانتیا وې دوخت اوزمان دشرایطو سره برابرې کړې.

دوالیانو او نورو مسؤلینو دشرعي پوهاوي لپاره یې دشرعي دورو او تدریس لړۍ پیل کړه څو په اخلاقي لحاظ دمجاهدینو صفوف پاک او سپیڅلی اوسي او تل یې ټینګار کاوه چې دجهاد د هغو اهدافو پخاطر چې مجاهدین خپلې معصومې وینې قربانوي باید دهغو په کلکه ساتنه وکړو، مسؤلین ورته ښه ځیر او متوجه اووسي نو په دې توګه دشهید منصورصیب دنیابت دوره دبېلابېلو لویو جهادي او سیاسي لاسته راوړونو دوره وه؛ دمجاهدینو د بریمن تاریخ یوه شاندار پړاو و، چې اسلامي امارت او مجاهدینوته یې د معنوي او فکري پلوه هم ډېر څه ورکړل؛ نن الحمد الله مجاهدین دهغو معنوي برکاتو اونظریاتي اساس اهمیت حسوي.

## دمسؤلیت پنځمه دوره:

دمسؤلیت پنځمه دوره یې داسلامي امارت د زعیم او امیر المؤمنین په حیث هغه شانداره، تاریخي اودعظمتونو ډکه دوره وه، چې کله داسلامي امارت مؤسس امیر المومنین ملامحمد عمر مجاهد دورپیښې ناروغۍ له املې وفات او دخپل حقیقي خالق سره یوځای شو؛ په رواني لحاظ دهغه مړینه داسلامي امارت دمرګ او ژوند ترمنځ دجنګ مرحله وه؛ داسلامي امارت دبقا او فنا ترمابین دکشمکش مرحله وه؛ یو طرف ته دمشر ملاصیب دوفات غمیزې ټول افغانان او مجاهدین ولړزول او د یو ستر ویر په ټغر یې کینول بل پلو ددښمن دسیسو، توطیئو او شوموپلانونو نیږدي وچې داسلامي امارت د صف وحدت ټوټې، ټوټې کړی وای او مجاهدین یې د یوبل ناورین په ګرداب کیباسلي وای، چې دهغه نه د رابهر کیدوچانس یې نه و، په دغه نازکه مرحله کې چې داسلامي امارت رهبري شوری په کوم تدبر او هوښیارتیا د اسلامي امارت لیکې دانشعاب او انشقاق له ناورین وژغورلې له املې یې ټوله رهبري شوری دشابسي مستحق ده اوپه خاصه توګه دمنصورصیب پشان، حلیم، مخلص، متعهد، اسلامپال، په

وطن او ولس مین او عقلمند انسان دامارت د قیادي مقام لپاره وړاندې کولو په وجه درهبري شوری دغړو فراست او بصیرت ته دوه لاسي سلام!!

ځکه منصورصیب ته الله تعالی داسې کمالات، صلاحیتونه او صفات ورکړي وو، دکومو شتون چې ددغسي یونازکې، حساسې مرحلې لپاره اړین و، نومورې چې دغه مهال په کومو سړو مغزو داسلامي امارت دلیکو دننه دوحدت، یو والي او نظم روحیه خوره کړه ایله د یو انقلابي رهبر او مشره یې تمه کیدای شي!! وې ښوده چې نومورې دملګرو سره دافهام او تفهیم په برخه کې دښې مؤثرې ملکې خاوند دی، هیڅکله معانداو ضدي انسان ندی، دهرتن د دلیل او منطق د اوربدو زغم او حوصله لري، کنه ډېری کتونکي په لومړي سرکې ډادمن نه وو، چې ګواکي منصورصیب به دټولو لپاره یومنلي مشر شي لیکن ژر ښکاره شوه چې نوموړی د مخالفتونو په کنترولولو او دصف په یو ساتلو کې نه یواځي برلاسی دی، بلکې دصف دټولو مسؤلینو او مجاهدینو ترمنځ ورته د هغسي احترام اودرناوي په نظر کتل کېږي په کوم نظر چې به امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد ته کتل کېدل.

د شهید منصورصیب یوه تلپاتې یادګاري کارنامه دا هم ده چې درهبري شوری لخوا دبعیت وړاندیز یې په دې شرط ومانه چې دی به دځان لپاره دوه نائبین ټاکي؛ او هغه دواړه یې پخپله ونومول (شیخ الحیث مولوي هبة الله اخندزاده او خلیفه صیب سراج الدین حقاني)، رهبرې شوری دکوم ځنډ پرته د نومورې داشرط ومانه، په دې کار سره دصف دننه داتحاد او یو والي پر ضد ټولې دسیسې لاړې شنډې او ناکامه شوې او ورسره دمنصور صیب په وقار او درنښت کې ترپخوا نورهم زیاتوالی راغی، اود اسلامي امارت مسؤلینو ته یې دیو تلپاتې ابدي وحدت روحیه هم وښښله، په خاصه توګه کله چې منصورصیب خپله شهید شو او اسلامي امارت بیا د قیادت له خلاء سره مخ شو؛ دتېر ځل په نسبت د اځل دقیادي خلاء ډکولو هغومره زحمت او وخت ونه غوښته کوم چې یې دلومړی قیادي خلاء ډکولو پر مهال غوښتی و؛ولې داځل دامیر المؤمنین دوه مرستیالانو له وړاندې شتون لاره، دهغوی په لارښوونو دامارت ټولې

جهادي، سیاسي او فرهنګي چارې په عادي شکل روانې وې؛ له بلې خوا داسلامي امارت رهبري شوری هم په اسانه وکړای شول چې د ځنډ او کوم تاخیر پرته دامیر المؤمنین له دواړو نائبینو څخه یو یې (شیخ الحدیث مولوي هبةالله اخندزاده حفظه الله) داسلامي امارت د نوي زعیم او امیر المؤمنین په حیث غوره کړي، یقیناً که منصورصیب له وړاندې اوپخپل ژوند کې دامارت دنائبینو ټاکلو ابتکار نه وای کړی طبعاً به دنوموړي دشهادت وروسته ستونزې اومشکلات وو.

په دې علاوه شهید منصورصیب دخپل امارت په لنډه دوره کې داسلامي امارت ټولې اداري او کمیسیونونه عملاً فعال کړل، نن ورځ اسلامي امارت د پیاوړي او منظم سیاسي، جهادي، علمي او اجتماعي ځواک په حیث دهېواد دننه او بهر شتون لري، په ټولو برخو او مواردو کې دمنظمو پلانونو په رڼا کې کارونه روان دي، هرچا ته دخدمت او کار ځای معلوم دی، په دومره ترینګلو او ضیقو شرایطو کې دومره پراخ دسپلین او نظم رامنځته کول هیڅکله معمولي کارنامه نده، ددې ټولو ترشاه د منصورصیب او دنورو مشرانو کلک عزم او قوي ارادې شتون درلود.

په نظامي ډګر کې مجاهدین دومره پیاوړي، منظم او غښتلي شول چې بسته ولایتونه فتحه شول او ځینې دسقوط سره مواجه شول پراخې سیمې او ولسوالۍ داسلامي امارت مجاهدینو و نیولې، ورته لوی شمیر وسلې، جنګي شوبلې، رینجرې او ټانګونه په لا س ورغلل، ددښمن په مهمو مرکزونو او هډو باندې تندریز فدایې بریدونه ترپخوا لا منظم او منسجم شول.

په سیاسي ډګر کې دقطر سیاسي دفتر که څه هم دنوموړي دنیابت په دوره کې خلاص شوی و، داسلامي امارت استازو دقطر دفتر له ادرس نه دنړۍ دبېلابېلو جهتونو سره دافهام اوتفهیم پالیسې په لړ کې دپام وړ لاسته راوړنې ترلاسه کړې، لکه دیو امریکایي بندي عسکر خوشي کولو په بدل کې له ګوانټانامو زندان څخه داسلامي امارت دواکمنۍ په مهال د څوتنو نومیالیو مشرانو ازادېدل دسیاسي او دیپلوماتیک

ډګر یوه ستره بریا ګټل کېږي. په ورته ډول دافغانستان په اړه نړیوالو کانفرانسونو کې داسلامی امارت د استازو دپرلپسې ګډون د لارې وکړای شول چې دخپلو خلکو دمظلومیت غږ ترنړیوالو ورسوي او په افغانستان کې شته پټ واقعیتونه بیرون ته ښکاره او څرګند کړي، دمنصورصیب دامارت په دوره کې ددې بهیر پراخولو هڅې و شوې او په یو لړ مهمومجلسونو کې دګډون له لارې امارت وکړای شول چې دخپل ولس دحقه حقوقو نه دهر ډول ډار او ویرې نه په لا پرواهۍ سره دفاع وکړي اوله خپل دریځ او مسیر نه یو اینچ هومره هم په شارانشي او نه په دې لړ کې د هیڅ کوم فشار اچونکي ارادې ته تیټ شول او نه دکوم لالچ ورکونکي دلالچونو په لومو کې ونښتل...

منصورصیب دخپل مدبرانه مشرتابه په دوره کې په سیاسي میدان کې یوه بله مهمه کامیابي دا ترلاسه کړه چې دافغانستان ټولو ګاونډي هېوادوته یې ډاډاو باور ورکړ چې دافغانستان اسلامي امارت هیڅکله دوی ته ګواښ ندی او نه د دوی په کورنیو چارو کې دمداخلې او لاسوهنې په باب کوم نیت لري او نه نورو هېوادو ته دخپل سیاسي فکر او ایډیا دصادرولو هوډ لري، بلکې دهر هېواد سره دخپل هېواد دمصالحو اوګټو په پام کې نیولو سره دوستانه اړیکي لرل غواړي او ګاونډیان باید داسلامي امارت دبریاوو او سوبو نه کومه اندېښنه ونلري کنه دامریکا په مشرۍ یرغلګر هېوادونه له پیل څخه په دې کوښښ او پروپاګند کولو لګیا دي څو اسلامي امارت او مجاهدین ټولې سیمې ته څه چې ټولې نړۍ ته دخطر په توګه وښیي او په اړه یې نړیوالو ته ناسم ذهنیت ورکړي، لیکن منصورصیب وکړای شول چې په دې لړ کې دزیاتې هوښیارتیا څخه په کار اخیستلو دسیمې ټول هېوادونه دمختلفو ذریعو او وسیلو له لارې قانع کړي چې دافغانستان اسلامي امارت نه نړۍ ته خطر دی او نه هم دسیمې دهېوادو ګټو او امنیت ته ګواښ دی، دغه وجه ده چې نن په سیمه او نړۍ کې داسلامي امارت دموقف پذیرایې کېږي او هر بیطرفه هېواد په دې قانع دی چې امارت دهیڅا لپاره ګواښ او خطر ندی بلکې دامارت په رهبرې کې جنګېدونکي

مجاهدين دخپل هېواد دازادي لپاره جهاد کوي چې دادهغوی مشروع او منلی حق دی هیڅوک ترې دخپل هېواد دازادۍ او خپل ولس نه ددفاع حق نشي اخستلی.

نو په ټوله کې ویلای شو چې شهید منصور صیب یو موفق، کامیاب، مدبر، هوښیار زیرک او زړورقاید و، چې اخر یې داسلامي امارت د جهادي، علمي او سیاسي صف د ښېرازتیا او سمسورتیا لپاره خپلې وینې هم نذرانه کړې او پخپل مشرتوب کې یې داسلامي امارت مجاهدینوته د ویاړونو ډک داسې داعتدال مسیر په میراث پرېښود چې ددښمن دډېرو کوښښونو باوجود چې غوښتل یې طالبان او اما رت داسې وښیي چې گواکې دټولې نړۍ گټې او امنیت گواښې دنړۍ ازاد هېوادونه او ولسونه دامارت په منځلاریتوب او حقانیت معترف دي او داسلامي امارت اسلامي او انساني کردار ته دقدر په سترگو گوري، نو له شک پرته ددې یوسرلوړی او سرلاري قاید دقربانیو تاریخ او کارنامې خوندي کول د هر مجاهد قلموال دقلمي دیانت له مخې مسؤلیت دی هغه باید دمنصورصیب مدبرانه کردار ته ژوند وښي.

هو! یواځي دژوندانه دسوانح پاڼو په لیکلو ځانونه دمسؤلیت نه خلاص ونه بولي بلکې ددې ستر رهبر د افکارو، خیالاتو او نظریاتو خوندي کولوته متې راونغاړي ځکه ژوندي قومونه دخپلو مشرانو افکارو، لارښوونو، او نظریاتو په رڼا کې خپل راتلونکی ځاري او ورته اړتیا لري بناً مورِ دسوانح لیکلو ترڅنگ باید دمشرانو عمده لارښوونې، وینا‌وې او دبصیرت او فراست نه ډک افکار خوندي او راتلونکو نسلونو ته یې ورسوو، په دې لړ کې دځرک وزیني مجلې لخوا دمنصورصیب دشهادت نیټې په مناسبت داختصاصي گڼې چاپولو گام دستاینې وړ دی خو متل دی وایي: په یوگل! نه پسرلی کېږي!! باید دې لړ کې ورته گامونه نور هم پورته شي څو داسلامي امارت دمشرانو دکارنامو، خدمتونو، او افکارو څخه راتلونکی دیني او جهادي قشر۔ اگاه اووسي په خاصه توگه د اسلامي امارت د ځوان نسل لپاره خو دخپلو اسلافو او اکابرود مجاهدانه سیرت او کردار پاڼو لوستل خورا ضروري دي، په پای کې دعاء کوو چې الله تعالي دې دمنصور صیب په قبر رحمتونه نازل کړي، بیرته پاتې درنې کورنۍ ته یې دجمیل صبر

توفیق غواړو او داسلامي امارت اوسنیو مشرانو ته دنوموړي دمعنویت څخه د ډکې تګلارې پر لیکو دتلو التجاء کوو.

۲۱\۵\۲۰۱۷

# دامیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور له ویاړ نه ډکې کارنامې!

**لیکوال: م - عاصم**

د جهادي خوځښتونو په تاریخ کې د اسلام ستر شهید، ملا اختر محمد منصور تقبله الله داسې یو قائد ؤ چې دوستان او دښمنان دواړه یې په سیاسي، استخباراتي او نظامي ډګر کې لاسته راوړنو او اتلولیو ته ګوته په غاښ دي؛ په ځانګړې توګه لاندې لاسته راوړنې به یې راتلونکو نسلونو ته د تاریخ په پاڼو کې په زرینو کرښو ثبت وي او د سرلوړۍ، آزادۍ او په خپل ځان د اتکاء الهامونه به ورته ډالۍ کوي.

شهید امیرالمؤمنین داسلامي امارت تشکیلات د یو حکومت په څېر منظم کړل، د دې کار ګټه دا وه چې د طالبانو خپلمنځي وحدت یې ټینګ وساته، د اشخاصو پر ځای نظام پیاوړی شو، د پردیو استخباراتو لاسونه د اسلامي امارت له تشکیلاتو لنډ شول، د قوماندان سالاریو مخه ونیول شوه، په خپلسرۍو او بغاوتونو ټولې لارې بندې شوې.

شهید منصور صاحب تقبله الله د دښمنانو د تجرید د نبوي سیاست په خپلولو د اسلامي امارت په وړاندې د ډیرو هغو احتمالي ستونزو او خنډونو مخه ونیوله، چې شاید وخت په وخت امریکایانو ترې د اسلامي امارت په وړاندې استفاده کړې وای. د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د اړیکو ټینګښت او په دې یې قانع کول چې له امریکایانو څخه خپله لار بیله کړي او په دې یې قانع کول چې د امریکایانو په هڅونه په افغانستان کې د شام په څیر مداخله ونکړي، د شهید امیرالمؤمنین له سترو لاسته راوړنو څخه دي او ډیره مهمه پکې دا چې شهید امیرالمؤمنین تقبله الله دغه سیاست

په داسې ډول تعقیب کړ چې له خپلې خوا یې نه له کوم اړخ سره په خپلو ارزښتونو سودا وکړه او نه د اسلامي امارت په اهدافو او آرمانونو.

د اسلام د ستر خادم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ د وفات خبر پټ ساتل ډیر لوی کار و، ناخبره خلک شاید د مرحوم امیرالمؤمنین د وفات خبر پټ ساتلو ته په عادي سترګه وګوري او یا په انتقادي نظر؛ خو شهید امیرالمؤمنین تقبله الله په دې ابتکار سره له یوې خوا په حساسو شرایطو کې اسلامي امارت د دښمنانو له توطیو څخه وساته او له بلې خوا یې د نړۍ مسلمانانو ته دا ثابته کړه چې د اسلامي امارت په هسته کې د استخباراتي سازمانونو نفوذ نشته او په دې برخه کې یې ټول تورونه په عملي ډول بې بنسټه ثابت کړل، ځکه که د استخباراتي سازمانونو نفوذ وای نو دغه خبر به پټ نه وای پاتې شوی.

شهید امیرالمؤمنین د مرحوم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ له لوري جوړه شوې د رهبري شورى لا پراخه او له زیاتو اختیاراتو څخه برخمنه کړه او دې کار دې ته زمینه مساعده کړه چې د اسلامي امارت قیادت میراثي نشي، د اسلامي امارت پایې او ستنې لا مضبوطې شي، د قیادت د خلاء پر مهال ډېر ژر د قیادت خلاء ډکه او خبره اختلافونو او جنجالونو ته لاړه نشي.

شهید امیر المؤمنین د اسلامي امارت په رهبري شورى کې سترو دیني علماء کرامو ته لویه برخه ورکړه. د معلوماتو له مخې د اسلامي امارت په رهبري شورى کې تر (۷) کسانو پورې ستر ديني علماء کرام چې هر یو یې شیخ الحدیث دی عضویت لري. په دومره زیاته کچه د دومره لویو علماء کرامو موجودیت په شورى کې که الله ته خوښه وه اسلامي امارت له هر ډول انحراف څخه ژغوري.

د مرستیالانو په توګه د ځان لپاره د شیخ الحدیث مولوي هبة الله حفظه الله او الحاج ملا سراج الدین حقاني حفظه الله ټاکل، د شهید منصور صاحب له لوري د اسلامي امارت د مرستیالۍ د منصب لپاره د وخت دا تر ټولو زیات مناسب او اهل شخصیتونه و او همدا لامل و چې کله شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور

تقبله الله د شهادت جام نوش کړ، د اسلامي امارت مشران او کشران ډير ژر په دوی را چاپير او له دوی سره يې بيعت وکړ او اسلامي امارت د قيادت له خلاء سره مخ نشو.

د اسلام ستر شهيد اميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور تقبله الله ډيرې زياتې لاسته راوړنې او کارنامې لري چې کتابونه ليکل غواړي خو موږ يې په دې ليکنه کې پورتنۍ څو تاريخ جوړوونکې لاسته راوړنې ذکر کړې. الله جل جلاله دې د اميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور تقبله الله شهادت قبول کړي او الله جل جلاله دې په جنت کې لوړ مقامونه ورکړي. آمين

۲۱\۵\۲۰۱۷

## يا ته کوم خوب وې يا مونږ لا ويده يو!!

**صفي الله رائد- ليکوال او مبصر**

نه پوهېږم، هغه ورځ مې څنګه تېره کړه، چې ستاسو د شهادت دردوونکی خبر مې واورېد. آه څومره بوږنونکی خبر، څومره دردېلې کيسه، چې نه پوهېږم څنګه يې انځور کړم.

شهيد امير المؤمنينه!

زه خو ستا د ډېر عمر په ارمان وم، همدا به مې دعا وه، ستا د ليدو په انتظار وم. ستا د نرمو او خوږو خبرو ارمانجن وم، همدا مې ستره هيله وه، خو...!!! خو رهبره! تقدير مو دغه ارمانونه هغه وخت له خاورو سره خاورې کړل، چې ته وکوچېدې، ته رانه لاړې.

زړه ته رانېږدې شهيد رهبره!

له څه وخته مې چې ستا د شهادت دردوونکی خبر اورېدلی، تر ننه مې بيا له زړه څخه نه يې وتلی، لا مې هم يادېږې! لا مې هم پر زړه يې!. ستاسو د شهادت درانه

غم دومره اغیزمن کړی یم چې له هغې ورځې وروسته مې حواس له لاسه ورکړي دي او لاهم په ذهني توګه ارام نه یم.

د زړه سره!

ستاسو په درانه شخصیت، بصیرت او سیاست ډېر څه لیکلو ته اړتیا ده. هو! ستاسو د علمیت، شخصیت او ځیرکتیا به کتابونه ډک شي خو بیا به مو هم کارنامې او ویاړونه خلاص نه شي.

ګرانه رهبره!

ستاسو د شهادت له امله اسلامي امارت څه چې ان اسلامي امت هم اوس په هغه حال نه دی پاتې، مګر د یوه ستر جهادي رهبر او لارښود ستره خلا احساسوي چې ډکول به یې وختونه څه چې کلونه ـ کلونه وغواړي.

شهید منصور رهبره!

اکثره وخت ستا راپاتې ویاړمنو کارنامو ته ځیر شم، ستا د فراق غمونه مې وزنګوي، په ژړغونې غږ ووایم: د زړه سره! یا ته کوم خوب وې یا خو مونږ لا ویده یو.

زړه ته رانېږدې شهیده رهبره!

ته مه خفه کېږه، ځکه مونږ ټول ستا نائب او خپل زعیم امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله سره، ستا په څېر کلک ولاړ یو، مونږ یې ملاتړي یو، مونږ یې عسکر یو. ته مه خفه کېږه! ځکه ستا امارت ژوندی، ستا تګلاره ژوندی، ستا مسیر لا ژوندی دی. او تر هغې به ستا مسیر پرې نږدو تر څو مو چې د بدن غوښې ستا په څېر په اورونو کباب کړې نه وي.

الله دې جنتونه درنصیب کړه!

الله دې شهادت قبول کړه!

امین ثم امین!

۲۱\۵\۲۰۱۷

# حاوي شخصيت...

## جمال الدين اديب- ليکوال او د جهادي چاروڅېړونکی

څومره چې نړۍ پر خپل مادي پرمختګ اعتماد کوي، څومره چې ترقيپال په رواني ماتې کې خپل ارزښتونه بايلي، څومره چې حريصان او طامعين د پرديو دربانۍ ته دلايل وايي او څومره چې ډارن خلک ان ښکاره دښمن سره غاړه وړي؛ هغومره په امت کې د ايمان څلي پيدا کيږي، هغومره د مومنو پرګنو منځ کې د عقيدوي تعالي پامته‌داران زيږي، هغومره د مبارزې يارانو کې د قناعت قامتونه لوړيږي او هغومره د تاړاکونو مخې ته د ټينګار او ثبات غرونه دريږي.

کله چې د مشر اميرالمؤمنين د وفات خبره اعلان شوه، د يوه ژورنالیست يو تاثر مې ډېر خوښ شو. ويل يې نن هغه وخت دی، چې د استقلال او حريت خبره په کې ورکه ده. سره له دې، چې هر څوک استقلال او حريت ته د ارزښت په توګه ګوري او هر څوک ځان د استقلال او حريت علمبردار ګڼي، مګر رښتيا دا دي، چې امت کې نن استقلال او حريت نه شته، ځکه خو په کې د ملاعمر غوندې سړی په نامعلوم ځای کې ښخيږي.. ځکه خو د ملاعمر غوندې سړی په کې په مرګ هم مجرم دی! نن که څوک ملاعمر نه پېژني، نه به يې پېژني؛ مګر کله چې استقلال او حريت معنی پيدا کړي، بيا به يې د ننيو دعوی‌طلبو غلامانو لمسي هم په واز کومي د اتل په حيث وپېژني!

مورِ ته جهاد ستر شخصيتونه راکړل. مورِ که دفتر خوښي او ذوقپال وی، شايد چې د ننيو ذوقپالو څټونه تورو او غاړې دار ته برابرې وی. په بنګله دېش او مصر- کې همدغسې خلک اعدام شول، چې د طاغوتي نظام غبرګه کې د دعوت او سمون خبره کوي. دا چې د کفر توره د مجاهدينو په وينو خړوبه ده، نو دوی د خير پر غونډۍ ارام تنفس وباسي.

زمورِ د جهاد سترو شخصيتونو په يوه ساده موقف د تاريخ هغه تېر اسلامي معيارونه راژوندي شول، چې د ذوقپالو او سليقه خوښو د ټول حرکت دوره يې لا د

منهج په دعوی له ډاره یادولی نه شي. کټ مټ لکه مشر امیر؛ شهید امیر هم د بې قدره ګوهریانو قیمت ته پاتې شو. هغه د شاعر خبره:

د بې قــدره ګوهــریانو پــه بازار کې

خرموره لعل وګوهر درې واړه یو دي

د اسلامي فکر قاموس کې شاید له جهاد و مبارزې وراخوا بلـه لـوړه کارنامـه نـه وي، خو که د جهاد په دایره کې د شهید منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ پر شخصیت څه وایو، ډېر څـه پرې ویل کیږي، مګر د لیکنې د عنوان په توګه مې نظـر دا دی، چې شـهید منصـور د روان اسلامي جهاد یو حاوي شخصیت و.. د جهادي بریاو لارې چـارې یـې ډېـرې ښې ټاکلې.. نړۍ او سیمه‌ییزو امنیتونو سره یې په داسې کړلېچونو کې بې رُخه مزل کـاوه، چې ایله په شهادت یې دښمنانو ځان له حرکتي الغـازو خـلاص کـړ. د یـوه هوښـیار او جدي مدیر په توګه یې په داسې مرحله کې حرکت له شړېدو وژغوره، چې ډېرو ناځوانو یې له پخوا خوبونه لیدل او ډېرو نامردو ورته پخوا نه له شوقه ژبې پر شونډو تېرولې..

## جهادي بریاوې:

ټولې نړۍ سره دوامداره او بریالۍ جګړه پر مخ بېـول سـتراتیژیک فکـر، هـوډ او سرښندنه غواړي. په هیاهوی، غلبلې او شعارونو مقابلـه نـه کیـږي. مبـارز بـه د خپـل دښمن د قوت حجم پېژني، په هماغه اندازه به ورته ځپونکی قوت برابروي. مبـارز بـه وخت پر وخت د خپل کار د نیمګړتیـاو تـدارک کـولی شي، د پروګـرام لـه مخـې او د شرایطو له امله به د کار بڼې ته تغییر ورکولی شي. د ټول خوځښت لپاره به د امکانـاتو معقولې او شفافې لارې چارې سنجوي او د ورځ تربلـې پرمختګونـو سره بـه د امکانـاتو ډېرول هم مدِنظر وي. حرکت او مبارزه به پر واقعیتونو بناء وي. هغه علتونه به دقیـق او پر ځای وي، چې پر بنسټ یې جهادي حرکت ولاړ وي.

شهید منصور ته د خپلې مبارزې حجـم معلـوم و، پـه همـدې اسـاس د امکانـاتو برابرولو کې هم موفق و. همدا ډول د ترکیز نقاط هم ښه ورمعلومېدل. همدا لامـل بـه

**و، چې د ده له امارته وروسته د سترو مراکزو فتحې پیل شوې. د جهادي ډسپلین په موخه منظم کمېسیونونه وټاکل شول او منظم فعالیت پیل شو. ما ته خو داسې ښلګه نه ده معلومه، چې د جهاد او هغه هم دفاعي جهاد جریان کې دې یو حرکت د یوه ستر دولت په څېر تشکیلات ولري او هغسې منظم فعالیت دې ولري، لکه باثباته حکومت. شهید منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ هم امارت ته د جهاد وهجرت مرحله کې هم دولتي تشکیل برابر کړ او هم یې ورته مناسب امکانات په ډېره عادي طریقه برابرول، چې دا یې لومړۍ ځانګړتیا وه.**

## امنیتي ځیرکتیا:

**له بده مرغه زمورږ سیمه امنیتي (استخباراتي) دریځونو محاصره کړې. دوه هېوادونه په ډېره عادي موضوع کې هم امنیتي اهداف لټوي. سیاسي تحرکات هسې یو تظاهر دی، اصل کار هغه دی، چې امنیتي اړخ لري او د امنیتي اهدافو تناظر کې مربوطې اداري سره خبره حل وفصل شي. پر همدې اساس سفارتونه ټول جاسوسي دفترونه دي. سفیر چې ګورې د خپل هېواد د امنیتي اداري متقاعد جنرال به وي. همدا لامل دی، چې سیمه کې ستونزې ورځ تر بلې ډېرېږي، غټېږي او معضلو ته رسېږي. په دغسې حالاتو کې که د حرکت مشر امنیتي زراکت ونه لري، خامخا به حرکت د کوم امنیتي هدف قرباني کېږي. د اسلامي امارت لومړي مشر خو دومره هیبت درلود، چې ان چا یې نوم بې اودسه نه شو اخیستلی او دا خو پرېږده، چې کوم امنیتي مغز دې د هغه د استعمالولو کوښښ وکړي.**

**شهید منصور بیا د نړۍ او سیمې امنیتي تیورسنانو ته د سر کاسه کې اوبه ورکړي. د منصور صیب تحرکات او فعالیتونه لکه ادبي الغاز داسې ول، چې «بې ادبه» امنیتپال یې په سر او بر هم نه پوهېدل. همدا زیرکتیا وه، چې د نړۍ استعماري او نیمه استعماري دولتونه سره سلا شول او ایله په دې وتوانېدل، چې شهید یې کړي. د سیمې مغرور امنیتپال هلته ده ته متوجه شول، چې شهید منصور کلونه د مشر ـ ملا**

صاحب د وفات خبره دومره پټه وساتله، چې یادو کلونو کې چا شک قدرې هم نه و کړی.

همدا ډول د امارت سیاسي تحرکات یې د سیمې امنیتونو نه تر اخره بریده خوندي وساتل. دا نن چې په سیاسي کچه کومه غوغا ګډه ده، د همغه مهال تاثیر دی. شهید منصور په ډېره فعاله بڼه د نړۍ ستر ستر هېوادونه په خپل سیاسي زراکت په بدبینۍ سره مخامخ کړل. یو وخت، چې د نړۍ ټولو هېوادونو سره مخالفتونه هېر کړي ول او د «اسلامي ترهګرۍ» هیولی یې پر سرونو سپره وه او ټولو په یوه قوت مسلمانانو ته مخه کړې وه، ډېرې په کې د شهید منصور د زراکت له املې پوه شول، چې موضوع هغسې نه ده، چې امریکا یې وایي. دا دی وینئ، چې اوس خپلو کې یې سره بې اعتباري تر ډېر لرې ځایه ورسېده.

د سیمې او نړۍ ډېر هېوادونه چې پر امارت یې د ګاونډیو د تاثیر فکر درلود، له یوې مخې پر دې پوه شول، چې دا هسې افواهات دي او هغو خلکو، چې له دې افواهاتو یې استفاده کوله، ټولې نړۍ ته معلوم شول. تېر کال چې څلور اړخیزې ناستې پیل شوې، پر اسلامي امارت سخت فشارونه راوړل شول، چې مازې ناسته کې ګډون وکړي. کنځاوې دې وکړي، خو ګډون دې وکړي. شهید منصور هیڅ ډول فشار ته غاړه کښته نه کړه او یو «نه» یې ورته وویل. کله چې د څلور اړخیزو ناستو لړ کې یو ځل چین کوربه و او پر اسلامي امارت سخت فشارونه وارد شول، شهید منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ په ډېره چټکتیا چینایان پر موضوع وپوهول او چین له کوربنې تېر شو. دغه نقطه شاید نړۍ او سیمې ته بیخي د زغم نه وه، نو کوښښ یې وکړ، چې ایله په شهادت یې له غمه خلاص شي.

د سیمې یو عالم د شهید منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ له خولې نقل کا چې مورږ ورته د توصیو لړ کې وویل، چې سختې دندې ته دې غاړه ورکړې، خو چې د مذاکراتو په اوازو دې ونه غولوي یا دې مجبور نه کړي، وایي هغه وویل: ټوټې ټوټې به مې کړي، خو دغه شرم ته به مې راکش نه کړي.

## د صف یووالی:

ډېرو خلکو د مشر ملاصاحب وفات ته انتظار کاوه. ما خپله له خلکو اوربدلي: خدای خو دې بنګړی مات کړي، بیا به ګورو. بنګړی مات شو، ډېرو خلکو شور وغوغا هم ګډه کړه. اختلافونه شول او دلایل شول، مګر منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ په هر صورت د صف یووالي ته توجه وکړه، ټول یې پر ځان رامات کړل. چا چې ښې ارادې نه درلودې یا منزوي شول یا ببرته په بیعت مجبور شول.

نړۍ او سیمه‌ییز امنیتونه هم منتظر ول، چې د امارت د ماتېدو چانس پیدا کړي، دوی هم سخت کوښښ وکړ، چې درزونه غټ کړي، مګر څومره چې امنیتونه ګړندي شول، هغومره ده له خپلې مشرۍ رغنده کار واخیست. صف یو پاتې شو او غرضي خلک مختوري شول.

اسلامي امارت، چې د مخکیني جهاد حزبي تقسیماتو پایله کې تاسیس شوی؛ یوه خبره هم په کې دومره منفوره نه ده، لکه انقسام او انشعاب. هغه خلک چې دغه ډول کوښښ کوي یا تري دا ډول علایم بریښي د مجاهدینو منځ کې تر ټولو منفور خلک دي. شهید منصور ته که له یو لوري خپل زراکت ګټه ورسوله، بل لوري ته د مجاهدینو دغه حس هم ډېر کار وکړ. که نه انشعاب ته ښې زمینې برابرې وې. چا شرعي دلایل ویل، چا تاریخي دلایل ویل او چا هم سیاسي. هر چا ته امکانات او ظروف هم برابر ول، مګر له نېکه مرغه، چې مجاهدین د تېر جهاد دغه ترخه خاطره یاده ساتي او ځان تري تر اخره بریده ژغوري.

د یو حرکت نورې نیمګړتیاوې دښمن ته دومره کاري ګټه نه شي رسولی لکه حرکتي تیندکونه او انشعابونه. استعماري ځواکونه همدې نیمګړتیا ته تر نورو نیمګړتیاو ډېر په طمع وي، کار پرې کوي، مصارف پرې کوي، ځکه چې انشعاب په هر صورت حرکت ته زیان اړوي او دښمن ته ګټه.

۲۱\۵\۲۰۱۷

# د منصور صاحب سره دانډیوالۍ عجیبې خاطرې

عبدالمتین عاطفي- لیکوال او شنونکی

نن مې د ذهن او خیال مارغه له یوې لسیزې هم ور وړانـدې د مـاضي ټولـو هغـو لوړو- ژورو ته وروالووت، چیرته چې ما له امیرالمؤمنین شهید مـلا اخترمحمدمنصـور رَحِمَهُ ٱللَّهُ سره لیدلي- کـتلي او د خپـل ژوندانـه د یـوې مهمـې برخـې حسـاس او نـازک پړاوونه مې د هغه په مشري کې وهلي او طی کړې وو.

خو دا بیا زما د روابطو د نه پاللو او سیاسي او درایتـي کمزورتیـا او یـا بدنصـیبي وه، چې د دومره لوړ شخصیت سره د دومره نږدې انډیوالي سره –سره بیا هم کله کلـه په وروستیو کلونو کې په یو څه واټن کې لرې پاتې شوم، خو د خدای ج شکر کاږم چې د خپلو دواړو قائدینو) ملامحمدعمرمجاهد او شهید منصورصیب (سره مـې رسـمي او غیر رسمي لیدنې څه چې ما یې تر قیادت لاندې کلونه- کلونه ورسره د یوه انډیوال پـه څېر تیرکړي دي، چې د ځینو کتنو خاطرې به یې دلته وکاوږم:

- د منصور صیب په مشرتوب کې مې د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریک د پیل کېدو له کاله د امریکایي او صلیبي اسـتکبار د یرغـل تـر مهالـه لانـدې خدمتونـه کړیدي:

۱- د کندهار په هوایي ډګر کې د مخـابرې د مسـلکي پـه حیـث ۲- د هـرات پـه هوایي ډګر کې د انتقالاتو د مسئول په حیث ۳- دکابل په هوایي ډګر کې د نظام قراول د مسئول په حیث ۴- او په)) دلاړام ((کـې د جګـړې پـه لـومړي کرښـه کـې د منصـور صیب تر مشري لاندې د یوه مجاهد په حیث.

- له امیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ سره زما اړیکه او لیدل د منصور صیب له برکته کېدل. ما په ټول ژوند کې له خپلو مشرانو سره تشریفاتي مناسبات نه دي پاللي) په بل چا هم دا بدګماني نه کوم (تشریفات مې نه دي کارولي او ملامحمدعمرمجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ او ملا اخترمحمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ خو بیخې له تشریفاتي وضعیته بد وړل، نو اوس چې زما دواړه محبوب مشران راځخه د اخرت په ډېر اوږده سفر تللي او په دې له حسرتونو ډکه نړۍ کې راسره نشته، نو اوس به هغوی ته څه طمعه او هیله وړاندې کړم.

زه چې د خپل شهید قائد ملااخترمحمدمنصور په اړه دلته څه لیکم دا لفاظي، خانه پُرې او مصنوعي ستاینه نه ده، بلکې دا زما د زړه خبرې، سترګو لیدلې او غوږونو اورېدلې خاطرې او زما له هغه رَحِمَهُ ٱللَّهُ سره د رښتونې مینې یو څو په زړه پورې زرین یادګارونه او د هغه د جدایي د حسرت څو د او ښکو څاڅکې دي:

۱- زما له شهید منصورصیب سره په لومړۍ ځل پیژندګلوي هغه مهال وشوه چې موږ له قدرمنو استاذانو: شیخ الحدیث مولوي شهاب الدین دلاور- حفظه الله- او مولاناسیدقریش بابا رَحِمَهُ ٱللَّهُ څخه د تکمیل درجې کتابونه ویل، چې بېلو- بېلو مسجدونو کې او سیدلو خو دی به کله- کله د جمعې په شپه د خپلو هغو ملګرو پوښتنې ته راتلو چې له موږ سره یو ځای اوسېدل، نو دا اولنۍ پیژندګلوی مې که څه هم ورسره غیر مستقیم ا و د ده د انډیوالانو په وجه وشوه، خو باور وکړئ چې زما او د هغو ملګرو چې په یوه اطاق کې را سره اوسیدل په چال- چلند کې یې چندان توپیر ندی کړی.

۲- زما(لیکوال) له هغه سره د امارت د اولو او دا راز د صلیبانو له یرغل را وروسته کلونو کې بېلا بېلې لېدنې- کتنې شوي دي، چې د یوې کتنې څه جزئیات چې زما په حافظه کې پاتې دې هغه دادي:

۳- زما (لیکوال) ورسره بله کتنه او له ده سره انډیوالي هغه مهال وشوه چې د افغانستان د طالبانو اسلامي تحریک د ملامحمدعمرمجاهدرحمه الله په قیادت کې د

کندهار له سنګسار څخه پیل شوی وو او زه ورسره د کندهار په لوی هوایي ډګر کې یو ځای او ملګری شوم، دا د تحریک د اولو شپو ورځو خبره ده، د شر او فساد په مقابل کې د طالبانو او زړورو مخلصو مجاهدینو ببړني فتوحات په ډېره چټکۍ سره مخ پر وړاندې روان وو، چې غربي میډیا د طالبانو دې پرمختیاوو ته د (طالبانو ډراماتیک) پرمختګ نوم ورکاوه.

مظلومو هیواد والو له پاټک سالاري او ملوک الطوائفي لعنت نه نجات موندلی و. دا زما بلکې د هر افغان لپاره د ژوند هغه خوښې شېبې وې چې د کلونو- کلونو د اسلامي نظام د راتګ ارمان مو د یوه سپیڅلي دیني قشر) طالبانو (په لاس تحق موندلی و.

شهیدمنصور راسره په دې کتنه کې ښه له صممیت نه ډک چلند وکړ او ما ورته د اسلامي نظام د فتحې مبارکې ورکړه او د هغه رَحِمَهُ ٱللَّهُ شخصیت راته دومره محترم وبرېښېده چې بیا مې ورسره څو مسلسل کلونه اندېوالي شوه.

۴- له منصور سره مې بله کتنه هغه مهال وشوه، چې هغه په شبرغان کې د غدار او قاتل مالک له زندان څخه را خلاص شوی و.

۵ ـ د حاجي علاؤالدین آغا په موټرسایکل یوه ورځ موږ دری ملګري سپاره شوو چې دشهید منصورصیب لیدلو ته ورتلو، رابطه آغاجان( علاؤالدین آغا ) جوړه کړې وه، په لارې چې درې ملګري په یوه موټرسایکل سپاره وو، نو اغاجان عجیبه خبره وکړه هغه دا چې: "پخوا به چې مشر ملا صاحب یو موټر راکړ نو څه وخت وروسته به مو د ملګرو په نو م بل تر هغه ښه موټر تري غوښت، خو نن دا دی- الحمدلله- درې ملګري په یوه موټر سایکل سپاره یو او خوشاله هم یو. "

دلیدلو پر مهال له ډېر وخت لیدلو وروسته بیاهم زه د شهید منصور صیب په ذهن کې د پخوا په څېر پاتې وم، همغسې د پخوا په څېر یې له مینې او صمیمیت نه ډک مجلس له موږ سره وکړ، تر دې چې ما د مجلس د مالګې او خوند برابرولو لپاره

ځینې ټوکې هم د هغه په مخ کې وکړي، د دې پر ځای چې هغه مهربانه مشر راته ټنډه تروه کړي، بلکې دومره یې زما ګپو ته وخندل چې له ډېرې خندا به ټول سره ښورېده... تر دې چې زه په دې خبره ووېرېدم، چې هسې نه منصور صیب زما په ساده توب وخاندې...او ما ته یې په خندا کې وویل: ملا....! زمونږ او ستاسو هغه حکومت او دبدبه او موټران او رش و کش دې په یاد دي او اوس د خدای ج د دین په سر له هغه هرڅه تېر شوو....

۲۱\۵\۲۰۱۷

## شهید منصور رح، د امارت او ملت لپاره څه وکړل ؟!

**موسی فرهاد**

د اسلامي او عربي نړۍ نومیالي مجاهد او د خپلواکۍ د لاري وتلي مبارز، عمرمختار ویلي: «إن الضربات التي لاتقصم ظهرك؛ تقويك» کوم ګذارونه چې دې ملا ماته نکړي؛ نوردې ځواکمن کوي) .

د تاریخ له مطالعې نه څرګندیږي چې تاریخ پخپلو پاڼو کې تل هغه څېرې په ښه نوم ثبت کړي دي چې هغوی د آزادۍ د ترلاسه کولو په لاره کې له هیڅ ډول ایثاراو فداکارۍ نه ځان نه وي سپمولی. او هغه څوک بیا د تاریخ په پاڼو کې ترټولو منحوس او بدترین وګړي ثبت شوي چا چې د خپل هیواد، خاوري، ناموس، کور او کلي په اشغال کې د یرغلګرو ملا ټرلې وي. زمونږ د هیواد تاریخ له ابتداء نه تر اوسه همیشه د سختو ازمایښتونو تاریخ پاته شوی چې پورتنۍ دوې کټګورۍ وګړي یې پخپلو پاڼو کې راته ثبت کړي او ثبتوي یې.

اوسنی جریان چې د امریکا په مشرۍ د کفري اشغال پر ضد د شهید منصور غوندې مؤمنانو جهاد ته ملا ټرلې، د خپل دین، ناموس او خپلې خاورې د آزادۍ لپاره سرونه قربانوي؛ د عمرمختاررح د خبرې ژوندی مصداق دی. څومره چې دا وګړي ټکول شوي؛ همدومره پیاوړي شوي دي، حقیقت دا دی چې د دې قافلې ټولو لارویانو ښه امتحان ورکړی، ولې شهید منصورصاحب هغه څوک دی چې تر أمیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد وروسته زمورږ د تاریخ یو ستر باب جوړوي.

هغه له دې امله چې په ډېرو سختو شرایطو کې یې د جهادي صف د سمبالښت چارې ورله غاړې شوې، تر ده وړاندې د امیرالمؤمنین ملامحمدعمرمجاهد دوه ځای ناستي یو په بل پسې اسیران او بیا یو په بندیخانه کې شهید کړل شو؛ نو د امارت ټولې چارې د امیرالمؤمنین لخوا منصور صاحب ته وسپارل شوې. په داسې حال کې چې دا مهال په هیواد کې د خارجي یرغلګرو پوځي قوت هم اوج ته رسیدلی و، تر سل زره زیات عسکر یې ځای پرځای کړي وو.

مجاهدین له نظامي، مالي، سیاسي او اجتماعي پلوه داسې ګنډل کېدل چې له یو متلاشی حالت سره مخ دي. خو منصورصاحب په ښه متانت سره د همغو سختو حالاتو او مجبورو شرایطو سره داسې مقابله وکړه چې جهادي صف یې د بل هر وخت په نسبت پیاوړی او په سیستماتیک لحاظ ښه منظم کړ. ډېر داسې کارونه یې وکړل چې اوږدمهاله اغیزې به یې نه یوازې د امارت، بلکې د ملت پر ژوند هم پاتي وي. ان شاءالله

## د منصورصاحب ترټولو ستره کارنامه:

دا وه چې جهادي صف یې د ټول هیواد په سطحه په یو داسي چوکاټ کې تنظیم کړ، چې له مشرتابه تر ډېرې وړې دلګۍ پورې ټول صف د یو ځنځیر غوندې سره وپیل شو، د منظمو پوځي تشکیلاتو ترڅنګ یې داسي اداري واحدونه د کمیسونونو او کمیټیو په شکل کې رامنځ ته کړل چې هر یو یې د یو وزارت حیثیت لري او د کارونو په ترسره کولو کې هر یو پخپله محدوده کې پوره بااختیاره او باصلاحیته وي. په دې

کار سره جهادي صف په اتومات شکل، له یو غورځنګ نه ورپورته د یو موازي حکومت بڼه غوره کړه، چې اغیزه یې مستقیماً پر ولسي ژوند راڅرګنده شوه.

دا ځکه چې تر دې وړاندي که څه هم مجاهدین د یوه امیر په قیادت کې په جهاد بوخت ول، د دښمن په وړاندي عملیات یې خپلسري نه وو، مګر چونکه تحرکات یې یوازي پوځي او هغه هم په چریکي بڼه وو ؛ نو طبعي ده چې دا ډول حالت نظم او ډیسپلین څه ناڅه متاثره کوي. او هغه بیا هرو مرو د ولسي وګړو د ژوندانه چاري له ستونزو سره مخ کوي.

خو شهید منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ د یو لایحوي دستور په جوړولو او بیا د هغه په عملي کولو سره په دې بریالی شو چې لومړی د مجاهدینو نظامي صفوف د زونونو، محاذونو، قطعاتو، حلقاتو، وړو او سترو دلګیو په شکل له سره تنظیم کړي، ورپسې یې نور اداري واحدونه د کمیسونونو په بڼه رامنځ ته کړل، لکه قضائي، سیاسي، مالي، فرهنګي، دعوتي، او داسي نور. د هیواد د ټولو ولایاتو او ولسوالیو لپاره یې د نظامي مسئولینو ترڅنګ ملکي مسئولین هم وټاکل. چې دا لږ تر ننه پوري د یو موازي حکومت په شکل بڼه پرمخ روانه ده.

نن یې مورِ او تاسو وینو چې زیاتره وخت غربي مطبوعات او د کابل په اداري کې دننه ځیني حلقې په دې اعتراف کوي چې اتیا فیصده ولس خپل ټول حقوقي او ورځني مسائل د کابل د رشوت خوره حکومت پرځای د طالبانو محاکمو او نورو ادارو ته راجع کوي. ځکه چې د طالبانو له نظام نه یې د انصاف او د مسائلو د رښتیني حل توقع وي، نه د کابل د فاسد رژیم نه.

کله چې د امارت ټول جهادي صفوف په یو چوکاټ کې په عملي بڼه منسجم کړای شول، نو سمدستي یې اثرات د مجاهدینو پر بریا او د ولسي ـ خلکو پر ژوندانه راڅرګند شول. همدا لامل دی چې نن په ملي او نړیواله کچه اسلامي امارت ته د یو خپلواک، منظم، باصلاحیته او د افغانستان د نماینده نظام په حیث کتل کیږي. چې

**دا ټول د شهید منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ د ابتکار او زیار پایله او د نوموړي هغه کارنامه ده چې له امله یې نن امارت او ملت دواړه د بریا تر پولي رسیدلي ښکاري. ان شاء الله**

**۲۱\۵\۲۰۱۷**

## منصور؛ رهبری که برای دین خدا کباب شد!

**به قلم: احمد تنویر (مدیر مسئول مجله حقیقت)**

**ایام شعبان امسال یاد و خاطره رهبر عزیز عالیقدر منصور شهید – تقبله الله – را در ذهن ها و یادها تداعی می کند؛ رهبری که در چنین روزهای جام زرین شهادت را نوشیده و با افتخار در راه حق سبحانه و تعالی قربانی شد، کسیکه همه چیز خود را برای اعلاء کلمه الله، آوردن نظام مستقل شرعی، صلح و صفاء و زندگی خوش و با عزت برای امت مسلمه و افغانها گذاشته بود و از هیچ چیز حتی خون اش برای حق و دین اودریغ نکرد.**

**شهید عالیقدر منصور صاحب – تقبله الله – چنان شهادت با افتخاری را حاصل کرد که شاید در زندگی اندک رهبران سیاسی و تنظیم های مختلف اسلامی در سطح دنیا نصیب نشود کسیکه شب و روز در فکر خدمت به خلق خدا، نجات سرزمین اش از شر اشغال و تجاوز، ترقی و بهبود اوضاع و فعالیت های مختلف جهادی وقف کرده و گاهی آرام و قرار نداشت؛ چون فریاد و ناله های مظلومیت و بی کسی آحاد ملت خویش را ازعمق وجود لمس و احساس می کرد و با زبان حال می فرمود: «چگونه آرام و قرار داشته باشم در حالیکه ملت مسلمان ما از دست طاغوتیان زمان و ایادی اجیرشان آرام و قرار ندارد. «**

منصور، رهبر عالیقدری بود که شرایط را می فهمید، اوضاع را درک، حساسیت ها را احساس، مشکلات را سنجش، ناملایمات را دیده و همواره در فکر راه حل با عزت معضله افغانستان بود او در عین حال، چنان باغیرت بود که وقتی پای مسائل مادی و معنوی پیش می آمد به مراتب مثل استاد جلیل القدر خود (عالیقدر امیرالمومنین ملامحمد عمر مجاهد – رَحِمَهُ ٱللَّهُ –) معنی را بر ماده ترجیح داده و در مقابل سرسخت ترین دشمنان دین و ملت، از مواضع اسلامی و انقلابی به اندازه سر سوزنی کرنش نکرده و حاضر بود جان خود را فدا کند تا آرمان شهداء و آرزوی دیرینه ملت مسلمان (که همانا سربلندی اسلام و عزت و استقلال مسلمیناست) بر آورده شود.

امیرالمومنین منصور شهید – تقبله الله – هرگز به دنبال آسایش فکری و آرامش مادی نبود او شیفته مسیری بود که منجر به رضای حق تعالی شود، تلاش می کرد، شب و روز نمی شناخت، زندگی شخصی اش را دراولویت نمی دانست، هم و غم او دنیا نبود، از سیاستی که موجب نارضایتی خدا و آزردگی خلق می شد کاملا متنفر بوده، با جرئت و شهامت، صبور و بسیار با حوصله و بردبار بود، از تفرقه به شدت متنفر و به وحدت، یکپارچگی و اتحاد بین مسلمانان فکر می کرد؛ و در عمل نیز ثابت کرد که تا چه حد حاضر است بخاطر دین خدا سختی ها، مشکلات و نارسایی ها را تحمل کند.

شهید عالیقدر – تقبله الله – از مرگ هراسی نداشت بلکه همیشه تشنه شهادت بود با آنکه دشمنان او در دنیا (مخصوصا از وقتیکه با شخصیت والا و واقعی منصور صاحب آگاهی و از اهمیت منحصر به فرد وی درجماعت مجاهدین پی بردند) شب و روز وی را در هدف و کمین داشتند؛ اما ایشان با وقار و عزم راسخ و همچنین با توکل و یقین به ذات رب العالمین برای هر نوع قربانی بخاطر دین خدا آماده بود، او نبود که دنبال امتیاز باشد بلکه بزرگترین امتیاز را در این می دانست که رضای خدا حاصل شود و در این ره، از ملامت هیچ ملامت گری خوف و هراس نداشت.

شهید منصور صاحب – تقبله الله – طوری مدبرانه، مقتدرانه، حکیمانه و خردمندانه، امارت اسلامی افغانستان را قیادت می نمود که گویا برای قیادت ساخته شده بود و چنان با صلابت، درایت و شهامتِ ایمانی درجهت اهداف والای نظام مقدس جهادی گام برداشته و موثر واقع می شد که تمام مجاهدین در عرصه های مختلف با الهام از حیات و نشاط آن شخصیت والا، خود به خود قوت قلب حاصل کرده و اخلاصمندانه شوق وذوق خدمت و فعالیت بهتر و بیشتر پیدا می کردند.

شهید عالیقدر – تقبله الله – پس از عمری طولانی جهاد و مجاهده، مبارزه و جانفشانی برای دین، سرانجام به آرزوی دیرینه اش نایل گردید و چنان شهادتی نصیب او شد که نصیب کمتر کسی از مجاهدین می شود اوتوسط سرسخت ترین دشمن اسلام؛ یعنی امریکای جنایتکار از طریق هواپیمای بدون سرنشین هدف قرار گرفت و جسد او در راه حق کباب شد.

سبحان الله...

یکی از بزرگان جهادی پس از شهادت عالیقدر منصور صاحب – تقبله الله – تاثرات خویش را اینگونه بیان فرمودند: «وقتی بر جسد بی جان و کباب شده منصور صاحب حاضر شدم که چگونه پاها و سر و صورت اوبخاطر دین خدا کباب شده غبطه خوردم و گفتم ایکاش خداوند متعال چنین شهادتی نصیب ما می کرد. «

او درست است برای دین خدا کباب شد و به آرزوی دیرینه اش نایل گردید؛ اما خبر شهادت او شاید تلخ ترین و سخت ترین خبری بود که مجاهدین امارت اسلامی و البته کافه مسلمانان جهان و بالخصوص ملت شریف و با احساس افغانستان پس از خبر رحلت جانگداز ملاصاحب (عالیقدر امیرالمومنین ملامحمدعمر مجاهد – رَحِمَهُ ٱللَّهُ –) شنیدند؛ و تحمل آن خبر واقعا که بسیار سخت و طاقت و فرسا بود.

»حسبناالله و نعم الوکیل«

**لکن اګر منصور صاحب شهید رفت اما راه و آرمان او بر قوت خود باقی است و سربازان فداکار او برای هر نوع جانفشانی و قربانی آماده و حاضراند.**

**...و اینک پس از یکسال کاروان منصور شهید با عملیات جدید بهاری که به اسم گرامی او مسمی گردیده نشان از اخلاص و دلبستگی شدید پیروان راه منصور به آرمان او و سایر شهداء دارد که امید است ان شاء الله تعالی شاهد تحولات بسیاری در تمام عرصه های جهادی باشیم و (تحت قیادت جانشین والامقام و شخصیت عالی شیخ صاحب محترم حفظه الله و سایر عزیزان جهادی) پوزه استکبار جهانی و ایادی اجیر آن به خاک ذلت مالیده شده و نظام مستقل اسلامی، عزت و حاکمیت قرآن را در سرزمین شیران و شهداء را یکبار دیگر احساس کنیم و درفش کلمه توحید در نقاط مختلف افغانستان به اهتزاز در آید.**

**و ما ذلک علی الله بعزیز**

**۲۱\۵\۲۰۱۷**

# د اسلامي امارت په تېره دوره کې
# د شهید امیر المؤمنین مقام او خدمتونه

**لیک: ملا ګل اغا اخند**

**داسلامي امارت زعیم شهید امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ داسلامي امارت دحاکمیت په تېره دوره او داشغال پرضد دروان جهاد په تېره یوه نیمه لسیزه کې نه ستړي کیدونکي هڅې او نه هیریدونکي خدمتونه کړي دي. شهید امیر المؤمنین د یو مجرب جنرال، ماهر سیاستوال، ښه مدیر او مدبر او مخلص رهبر په صفت مختلفې دندې په داسي ډول ترسره کړې چې دښمن یې اغېز او کمال ته ګوته په**

غاښ ؤ. دلته فقط داسلامي امارت دحاکمیت په ۷کلنه دوره کې د شهید منصور تقبله الله رول ته ځغلنده کتنه کوو، ځکه دنوموړي دجامع شخصیت دسیاسي، نظامي، اداري او ټولنیز و ابعادو څېړل او یادول یوه لیکنه کې نشي احاطه کیدای.

په ۱۳۷۳ هش کال چې په کندهار کې دامیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ په قیادت کې د شراوفساد پرضد د طالبانو اسلامي تحریک (امارت) پیل شو، ملا اختر محمد منصور د لومړنیو کسانو څخه و چې په دې تحریک کې شامل شو، دکندهار تر نیولو وروسته نوموړی دکندهار د نړیوال هوایې ډګر دمشر په توګه وټاکل شو، دکندهار هوایې ډګر هم د وران هیواد په څېر ویجاړ او کنډوکپر شوی و، د هیڅ ډول ټرانسپورتي او پوځي الوتکو د ناستې او پرواز جوګه نه و، خو منصور صاحب په لنډ وخت کې دکندهار هوایې ډګر داسې فعال کړ چې دهر ډول الوتکو دناستې او الوت وړ وګرځېد، د رادار فلج سیستم پکې له سره ورغول شو، نه یوازي داچې دخپلو الوتکو څار او رهبري به ترې کیده، بلکي د جنوب غرب حوزې په هوایې حریم کې یې د بهرنیو الوتکو تګ راتګ څاره او ټیکس یې هم ځیني اخیسته، چې داسلامي امارت ډیرې مالي اړتیاوي له همدې لارې پوره کیدلې.

د ۱۳۷۵ هش کال میزان په ٦مه چې داسلامي امارت فاتحو پوځونو کابل فتحه کړ، منصور صاحب دافغانستان د هوایې چلند او توریزم د وزیر په حیث مقرر شو، منصور صاحب دوزارت په مهال دافغانستان زیاتره هوایي ډګرونه ورغول او په عصري رادار سیستم یې سمبال کړل. منصو رصاحب دکندهار، هرات، کابل، ننګرهار، بلخ او کندز په هوایي ډګرونو کې د بهرنیو ترانزیټي الوتکو د ښه څار او رهنمایي په موخه د ویست دستګاه نصب کړه چې له املې یې هر کال دافغانستان په فضاء کې د تېریدونکو الوتکو څخه په ملیونونه ډالر ټیکس ترلاسه کیده.

منصور صاحب د هوایې چلنـد او سیاحت د وزارت پـه مهـال ۴۴ ترانسـپورټي او محاربوي الوتکې او چورلکې ترمیم او داستفادې لپاره چمتو کړې:

دری این ۱۲ – څلور این۳۲ – دوه این ۲٦

**جنګي الوتکې**

**اته جیت میګ۲۱ – دری جیت سو– M٤٢٠ پنځه جیت سو۲۲**

**هلیکوپتر:**

**شپږ می ۸ – اته می۳۵ – پنځه ایل ۳۹**

**ترانسپورتي الوتکې:**

**یوه روسي ساخته ۴۱ ډوله او یوه این۲۴)) اوداریاناافغان هوای شرکت امریکایي بوینګ الوتکي.**

**منصور صاحب د ۴۴ بیلابیلو الوتکو او طیارو پر ترمیم سربیره پر افغانستان داقتصادي یو طرفه بندیزونو سره سره، پنځه روسي ساخته ترانسپورتي الوتکي په ازادبازارکې وپېرودلې.**

**دهوایې ډګرونو ساتل او سمبالول په هر حالت په ځانګړې توګه دجګړې په جریان کې خورا حیاتي ارزښت لري، د دښمن سنګرونه تر بریدلاندي نیول کیږي، پوځیان له یوې سیمې بلې ته دهوا له لارې په اسانۍ او لنډ وخت کې انتقالیږي، پوځي او لوژیستیکي توکي، درمل، طبي عمله، ټپیان اود اړتیاوړ مختلف شیان دضرورت او مقصود تر ځایه رسول کیږي.**

**دمنصور صاحب د ښه زیار او مدیریت له امله له ډیر وخت وروسته یو ځل بیا افغانان دحج دفریضې داداء کولو لپاره له خپل هیواد څخه په خپلو الوتکو کې سعودي ته ولاړل. ممکن ځیني خلګ همدا دومره ستر کار ونه ګڼي، خو هماغه مهال په جنګ ځپلي افغانستان کې له داخل څخه په خپلو الوتکو کې بهر ته سفر داسي لویه لاسته راوړنه او ابتکار و، چې ولس ډیر پرې خوشحاله، هوسا او دګاونډیانوله احتیاج څخه پرې خلاص شو.**

**امریکا چې پرګران هیواد افغانستان وحشیانه یرغل پیل کړ دکندهار دهوایې ډګر نیول یې په لومړنیو اهدافو کې و، دګل اغا شیر زي په مشري ټوپکیانو دیرغلګرو**

په هوايې ملاتړ دهمدې هوايې ډګر دنيولو په موخه ډيرې هڅې وکړې، خو تر دوو مياشتو پرله پسې وحشيانه بمباريو او بريدونوسره - سره ونه توانيدل چې همدا هوايې ډګر ونيسي، په د ې وخت کې د کندهار دهوايې ډګر دحفاظت او په همدې استقامت د جګړې قومانده دمنصور صاحب په غاړه وه، دهمدې استقامت جنګي- حفاظتي کرښې د کندهار ښار له سقوط څخه ساته او دکندهار دښار اهميت په دې کې و چې امير المؤ منين رَحِمَهُ ٱللَّهُ همدلته و او ديرغل سره دمقابلې عمومي قومانده له کندهاره صادريده، که دکندهار هوايې ډګر خوشی شوی وای، کندهار سقوط کاوه، دکندهار له سقوط سره د يرغل په لومړۍ اونۍ کې دکابل او نورو ولايتونو سقوط هم حتمي و.

**پر منصور صاحب دامیرالمؤمنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ داعتماد یوه بېلګه:**

هوايې ډګرونه دنظام په بقا او دفاع کې خورا مهم رول لري، له همدې امله نظام ته ډير وفادار کسان دهوايې ډګرونو دمسؤلينو په توګه غوره کيږي. پرمنصور صاحب د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ د ډير اعتماد او ښه خدمت له وجې نوموړي ته دکندهار دهوايې ډګر مسوليت او د هوايې مدافعې قوماندانې وسپارل شوه او نوموړی (منصور صاحب) داسلامي امارت تر پايه دهوايې چلند دوزير اوهوايې عمومي مدافعې د قوماندان په صفت پر مهمو دندو پاته شو، منصور صاحب د خپلې دندې له پيله تر ترپايه اوږده موده کې له مرحوم امير المؤمنين سره نژدې په کندهار کې پاته شو، حال داچې د وزيرانو شورى، کابينه او نور وزيران کابل کې اوسيدل.

شهيد امير المؤمنين ملا اختر محمد منصور تقبله الله د ډيرو نيکو اوصافو څښتن و، الله تعالى منصور صاحب ته په سياسي، نظامي او اداري برخو کې د داسي لويو کارونو استعداد ورکړی و چې مسلکي او تجربه لرونکي کسان يې له ترسره کولو څخه عاجز وو.

د امير المؤمنين ملا محمد عمر مجاهد دوفات له اعلان څخه وروسته امريکا، کابل رژيم او په سيمه کې بيلابيلو جاسوسي شبکو اسلامي امارت کې د انشعابونو هڅې وکړې، خوشهيد اميرالمؤمنين په ډير جرات او تدبير سره داسلام، افغانستان او

په ځانګړې توګه داسلامي امارت ددښمنانو بیلابیلې دسیسې او شومي موخي خنثی کړي. نه یوازي داچې اسلامي امارت یې له ټوټه کیدو څخه وژغوره، بلکې په ډیر لنډ وخت کې یې اسلامي امارت په سیاسي او پوځي ډګرونو تر بل هر وخت لاپیاوړی کړ. حیف داچې داسلامي امت دغه ستر سپه سالار، مبتکر زعیم، خاکسار قائد او دخدای جل جلاله د رحمت سیوری (شهید امیر المؤمنین رحمه الله) ډیر ژر دامت مرحومه او بالخصوص دافغان مجاهد ولس له سره واخیستل شو.

انا لله وانا الیه راجعون

۲۱\۵\۲۰۱۷

# پنځم څپرکی

د شـــــهید امیرالمـــــؤمنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ دشـهادت ددوهـم تلـین پـه مناسـبت دنوموړي دخدمتونو او شهادت په هکله د لیکوالو او سیاسي شنونکو شننې، معلومات او تاثرات

# شهیدمنصور دجګړې او ډیپلوماسۍ اتل

**سید شریف- لیکوال او څېړونکی**

**شهید امیر المومنین ملا اخترمحمد منصور تقبله الله هغه رهبر و، چې پر تدبر، شجاعت او دجهادي مقاومت پر پیاوړتیایې دښمن هم اعتراف کوي. شهیدمنصور دصلیبي اشغال پر ضد روان جهادي مقاومت پراخ اوځو اړخیز کړ، د جګړې دجوش سره یې د ډیپلوماسۍ هوش هم غاړه غړۍ کړ او په مټ یې نړیوال قانع کړل چې امریکا پر افغانستان ناروا یرغل کړی او پر ضد یې دطالبانو په مشري ملي پاڅون یو مشروع غبرګون دی.**

**شهید منصور صاحب په نظامي ډګر کې نوښتونه رامنځته کړل، دمجاهدینو د بدني او فکري روزنې لپاره یې معسکرونه پرانستل. نظامي ځانګړې قطعې یې جوړې کړې، دچریکي بریدونو ترځنګ یې د جبهیې حملو امکانات برابر کړل چې له املې یې داشغال ضد په یوه نیمه لسیزه مقاومت کې مجاهدین په لومړي ځل وتوانیدل چې د یو ولایت (کندز) مرکز هم ونیسي، دهلمند پر ۹۰ سلنه واک ټینګ کړي، د فراه له ۷۰ سلنې دښمن فرار کړي، په بغلان، فاریاب، سرپل، بادغیس، غور، بدخشان، ننګرهار، لوګر، میدان وردګ، غزني، زابل او.... کې ګڼې ولسوالۍ او پراخې سیمې له دښمن څخه تصفیه کړي او دامن سپین بیرغ پکې ورپوي.**

**شهید منصور صاحب دزمان او مکان په خورا ترینګلو حالاتو کې سیاسي هلې ځلې پراخې او چټکې کړې، د نومورې دنیابت په مهال قطر کې سیاسي دفتر پرانستل شو، د همدې دفتر له لارې داسیا او اروپا مختلفو هیوادونو ته سفرونه وشول، په لویو کنفرانسونو کې دامارت استازودامارت موقف په داسي ډول بیان کړ چې ډیرې ګډونوالو یې دامارت دداعیې ملاتړ وکړ.**

د شهید منصور صاحب په هڅو فرهنګي او مطبوعاتي مبارزه غښتلې شوه. ددښمن په منځ کې دعوت پیل شو. د ملکي تلفاتو دمخنیوي لپاره ځانګړې اداره تشکیل شوه. معارف ته دومره وده ورکول شوه چې دجګړې له امله ټړل شوي او زیانمن شوي زیات ښوونځي بیرته فعال اوپرانستل شول، حتی په بیلابیلو ولایتونو کې دلسګونو مدرسو او ښوونځیو د بنسټ ډبرې کښېښودل شوې.

شهید منصور صاحب په ډیر تدبیر او پوره زړه ورتیا د داعشي فتنې او بغاوت پر ضد ګامونه پورته کړل، اسلامي امارت کې دانشعابونو مخه یې ډب کړه، پر اشغالګر دښمن او مختلفو یونیفورم لرونکو اجیرانو یې ځپونکي بریدونه وکړل. که د یادوو شوو فتنو پر ضد د منصور صاحب پر وخت اقدام نه وای، افغانستان به دوهمه سوریه وای، خپلمنځي شخړو به د یرغلګرو شتون او کرغېړن پلانونه له خلګو هېر کړي وای او افغانستان به دنړیوالو زبر ځواکونو دجګړې تود ډګر وای.

منصور صاحب امارت کې داسي اداري جوړښت رامنځته کړ چې ډیر حکومتونه ځني بې برخي دي، دبهلګې په توګه ټول کمیسیونونه او ادارې ځانګړې لایحې او طرز العملونه لري، دمشرتابه له لوري وخت په وخت د ټولو نظامي او ملکي چارو او ادارو ارزونه ترسره کیږي، دمکافاتو او مجازاتو اصل تطبیق دی، دمشرتابه له لوري چې دنصب او عزل کوم فرمان صادر شي، څوک چون وچرا نشي پکې زیاتولای.

دښمن دمنصور صاحب لیاقت او اهلیت درک کړ، له ډیرو لارو یې ددغه ستر شخصیت او نومیالي اتل دجرحه کولو هڅې وکړې، د پروپاګند ډیر چینلونه یې پسې پرانستل، دترور هڅې یې وکړې، خو الله تعالی دمنصور صاحب نصرت وکړ په ټولو ډګرونو کې پر معلوم او پټ دښمن بریالی شو. منصور صاحب ددښمن بدې ارادې درک کړې وې، خو نوموړي په یو وینا کې وویل چې موږ ته دخپلو سرونو تر حفاظت د خپلو اهدافو ساتنه لومړیتوب لري. منصور صاحب دزمان او مکان په ډیرو سختو حالاتو کې دډیرو فشارونو او تهدیدونو سره سره دامارت د لا قوي کولو او ددښمن د ټکولو په موخه خپلې هڅې جاري وساتلې.

په ډير ارمان سره په هغه رهبر مو چې په ډير سخت حالت او کمه موده کې يې تر اټکل ډير خدمتونه وکړل ارمان پوره نشو. هو! د سنګر او دفتر اتل، د سولې او جګړې مخکښ رهبر (شهيد امير المو منين منصور تقبله الله) له نن څخه دوه کاله وړاندې د تور مخي غليم په يوه بزدلانه حمله کې خپل ارمان دشهادت عالي مقام ته ورسيد.

الله تعالى دې د انبياوو، صديقينو، شهداوو او صالحينو په انعامونو ونازوي، امين يا رب العالمين!

۲۱\۵\۲۰۱۸

## شهيد منصور ولې شهيد کړای شو؟!

**احمد مختار- ليکوال او څېړونکی**

ښايي پورتنی سرليک درنو لوستونکو ته هيښوونکی وي خو که ليکنه تر پايه ولولې بيا به د ليکل شوي سرليک په اړه استفهام ورته بې ځايه نه وي.

شهيد ملا اخترمحمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ د طالبانو د تأسيسي مشر ملا محمد عمر (مجاهد) د ژوند په مهال په جهادي فعاليتونو کې يو مؤثر او مبتکر شخصيت و.

دا هم د جهادي مقاومت د مطرحو او بانفوذه علماوو په مشوره د شهيد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ يو ابتکار و چې د امير المؤمنين د وفات تاريخ يې د ډيرو جهادي مصالحو د تحقق په خاطر تر يوه وخت پور مخفي او د امريکايانو او نورو اشغالګرو په خلاف يې جهادي مقاومت په بريالي ډول جاري وساته.

د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر (مجاهد) رَحِمَهُ ٱللَّهُ د وفات تر اعلان وروسته چې د دښمن په ډيرو خطرناکو دسيسو د امارت په ليکو کې د ګډوډي رامنځته کولو هڅې

پیل شوې شهید منصور د هغو د له منځه وړلو لپاره یو لړ جدي ابتکارات په کار واچول او و یې کړای شول چې په ډیر کم وخت کې د دښمن دا خطر ناکه حربه بې اثره او شنډه کړي.

شهید منصور وکړای شول د امارت د تأسیسي اعضاوو په ځان راټولو سره جهادي مقاومت په هغه مسیر رهبري کړي کوم چې د ده سلف او جهادي پیشوا ملامحمد عمر (مجاهد) ورته ترسیم کړی و. دا چې ثبات او استقامت د جهاد او مبارزې د لارې یو بنسټیز اصل دی نو شهید منصور دغه اصل ته په توجه او اهتمام سره د مقاومت راتلونکي جهادي او سیاسي ستراتیژي بې له هیڅ کم او کاسته د خپل پخواني مشر په جوړې شوې ستراتیژۍ باندې عیار کړه.

د شهید منصور د بریالیتوب بل رمز د نوموړي له لوري د مقاومت افاقي کول و، افاقي په دې معنی چې د هغه د بریالیتوب لپاره یې په سیاسي او دیپلوماتیک لحاظ ډیر مؤثر ګامونه واخیستل. شهید منصور د خپل جهادي بصیرت په مټ دا درک کړې وه چې امریکایان د خپل اشغال او نامشروع واکمنۍ لپاره د افغانستان او سیمې په کچه داسې تخریبي پلانونه لري چې هغه د دوی په خلاف د منطقوي او حتی نړیوال حساسیت لامل ګرځیدلي او له دغه حساسیت څخه د امریکایي اشغال په خلاف استفاده کول یو جهادي مصلحت او د افغانانو لپاره یو ښه فرصت دی. سره له دې چې شهید منصور د طالبانو د مشر تابه په حیث تر سخت امنیتي رقابت او څارنې لاندې و خو بیا هم نوموړي وکړای شول چې شخصا مختلفو هیوادونو ته سفرونه وکړي او د افغانستان د ګاونډ مهم هیوادونه په افغانستان کې د امریکایي یرغلګرو په خلاف د مقاومت پر مشروعیت، او شمولیت قانع کړي.

ملا اختر محمد منصور د مقاومت د مشرتابه او د یوه فوق العاده نوښتګراو بې ډاره دیپلومات په حیث یو زیات شمېر هغه منطقوي هیوادونه چې مستقیما د امریکایي ایتلاف برخه او پر افغانستان د هغوی د اشغال ملاتړي وو پر دې ته قانع کړل چې په افغانستان کې له امریکایي موجودیت نه د هغوی حمایت شخصا د هغوی

او په مجموع کې د ټول منطقوي ثبات لپاره خطرناک دی. هماغه و چې د شهید منصور د دغو خلاقانه دیپلوماتیکو هڅو په نتیجه کې هغه اجماع چې امریکایانو د ملګرو ملتونو د امنیت شوری د پریکړې په پلمه د افغانستان په اشغال کې جوړه کړې وه له منځه یو وړه او د ده د خاصو هڅو په پایله کې د امنیت د شوری دائمي او د ویټو حق لرونکی اعضاء له طالبانو سره د تماس جوړلو او تفاهم په لټه کې شول.

د شهید منصور دې نوښتګرانه اقدام امریکایان، ناټو او د هغوی پوځي ایتلافیان د پوځي مقابلې ترڅنګ په یولړ دیپلوماتیکه مقابله کې هم راګیر کړل. ځکه د دغو هڅو په نتیجه کې د طالبانو استازي وتوانیدل په مختلفو هیوادونو کې په یوشمېر نړیوالو غونډو کې ګډون وکړي او هلته د خپلې قضیې په اړه عیني واقعیتونه نړیوالو ته څرګند او تشریح کړي. حتی ځینې هیوادونه حاضر شول طالبانو ته په خپلو هیوادونو کې سیاسي نماینده ګي وي ورکړي.

د افغانستان د اشغال په اړه د شهید منصور لخوا د نړیوالې اجماع له منځه وړل هغه خطر ناک اقدام و چې د نوموړي د شهادت او سربایللو په بیه ورته تمام شو.

امریکایان او ناټو وپوهیدل چې که نورهم شهید منصور د طالبانو په قیادت کې پاتې کیږي ښایي د خپل مقاومت د مشروعیت او په پوځي او سیاسي لحاظ د هغه په پرمختګ کې داسې ابتکارات په کار واچوي چې بیا به د هغوی له منځه وړل او شنډول مونږ له یوې نړیوالې افتضاح سره مخ کوي. هماغه و چې د شهید منصور د له منځه وړلو لپاره مستقیما امریکایان لاس په کار شول. سره له دې چې د شهید منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ د قیادت موده ډیره محدوده، خو تر سره کړي پوځي او سیاسي اقدامات یې دومره زیات او موثر وو چې دښمن ته نور د یوې لحظې لپاره هم په طالب قیادت کې د دغسي محرک، فعال، مسلط او مبتکر شخص شتون د زغملو وړ نه و.

شهید منصور هم د خپلو سیاسي او پوځي تحرکاتو خطورت درک کاو مګر د هغه جهادي سرښندنه، توکل، اخلاص او د الله په نصرت اعتماد هغه څه و چې نوموړی یې له دغو ټولو یقیني خطرونو بې پرواکړی و.

شهید منصور د خپل هیواد له آزادي او په هغه کې د اسلامي حاکمیت له ټینګښت سره بي ساري مینه لرله، همدا وجه وه چې هغه په دې لاره کې داسې جدي ګامونه واخیستل چې هیواد یې تر ډیره له بهرني اشغال څخه د آزادۍ درشل ته ور نیږدي خو خپل ستړی صورت یې په دې لاره کي په اور وسوځاوه... .

روح دې خوشاله، او ترشا پاته نیمګړی آرمان دې د هیواد په بشپړي خپلواکي سره الله ور پوره کړي.

در مسلخ عشق جُزنکو را نکُشد ... روباه صفتان زشت خورا نکُشد
گر عاشق صادقي زکُشتن مگریز ... مُردارشد هرآنکو را نکُشد... .

۲۲\۵\۲۰۱۸

# ملا اخترمحمد منصور د خپل بې دريغه زړورتوب قرباني شو

**خالد افغان زوی- د سیاسي او جهادي چارو څارونکی**

**د ۱۳۹۵ هـ ش کال د جوزا د میاشتې په لومړۍ نیټه ماسپښین مهال د طالبانو د اسلامي خوځښت دوهم مشر ملا اختر محمد منصور د پاکستان په بلوچستان ایالت کې د افغانستان د سیمې ولسوالۍ ته څېرمه د امریکایانو د بې پیلوټه الوتکې په برید کې په شهادت ورسید.**

**موږ عقیده او ایمان لرو چې د دنیا ټول کارونه د الهي تقدیر له مخې ترسره کیږي او د هیڅا اجل له ټاکلې نیټې وړاندې یاوروسته کیدلای نشي. خو د هر چا مرګ ضرور د نیوی اسباب او ظاهري علتونه هم لري. چې له دې جملې د ملا اختر محمد منصور د شهادت یو علت د هغه بې دریغه زړورتیا، جرأت او د دښمن په ځواک او لاسرسي باندې ری نه وهل و.**

**د اسلامي امارت یو بل مشر ملا عبیدالله اخند چې د منصور صاحب په شان د مرحوم ملاصاحب نائب و او دامریکا خلاف یې په لومړیو کلونو کې د پام وړ جهادي مبارزه ترسره کړه، هغه به همیشه ویل چې زموږ او ستاسو احتیاط باید د دې لامل نشي چې جهادي کارونه مو له خنډ سره مخامخ شي. له همدې امله خو به یې ټیلفون همیشه فعال ساته چې بالاخره د پاکستاني استخباراتو لخوا ونیول شو او وروسته په زندان کې شهید شو.**

**ملا اختر محمد منصور په داسې حال کې چې د طالبانو د جهادي صف مشري یې په غاړه وه، د امریکا غوندې له نړیوال او ستر طاغوت سره یې جګړه کوله، هغه امریکا چې د دې عصر دجال بلل کیږي، په دنیا کې تر ټولو قوي استخبارات لري، انټرنیټ او ټولې اتصالاتي شبکې یې په کنټرول کې دي او که وغواړي د هر چا انلاین**

اکاونټونه تعقیبولای او مکالمې اوریدلی شي. دغه راز د همدې امکاناتو نه په استفاده دهر چا موقعیت هم په آسانه معلومولای شي. تر دې چې موږ وینو چې دهیواد په لراوبر کې ډېر دټیټې سطحې طالب مشران او مسؤلین په ډیر دقیق ډول په نښه کوي او ډرون بریدونه وربانديې ترسره کوي.

خو د امریکایي دښمن له دې ټولو لاسرسیو سره سره شهید منصور صاحب د خپل امارت په مهال له ایمیل ادرس، واټس آپ او نورو اپلیکشنونو څخه په خلاص مټ استفاده کوله. حتی ډیر ځله خو یې مبایل ټیلفون هم کاراوه. لکه څنګه چې د مرحوم ملاصاحب په وخت کې د امارت زعیم له مجاهدینو سره د ځانګړو استازو په توسط رابطه ساتله او همدا امنیتي تدبیر یې د محفوظ پاتې کیدلو سبب هم شو. منصور صاحب بیا له اکثرو مسؤلینو سره مخامخ رابطه درلوده او د جهادي بهیر په رهبرۍ کې په خپله او بالفعله بوخت و.

د منصور صاحب دغه وړ ریسک آمیزه چلند لکه څومره چې خطرناک و همدومره یې په جهادي بهیر ښه اغیز هم درلود، که موږ د شهید منصور صاحب د لس میاشتني زعامت کارنامې او جهادي فعالیتونه مطالعه کړو، نوپوهیږو چې د هغه د مخامخ او مباشر جهادي رهبریت په وخت کې په جهادي جبهاتو کې اساسي تغیرات راغلل او د فتوحاتو سترې لړۍ پیل شوې.

شهید منصور صاحب د ۱۳۹۴ هـ ش کال د اسد دمیاشتې په اتمه نیټه رسما د اسلامي امارت د زعیم په حیث وټاکل شو، له دې نیټې لږ وروسته د هیواد په لراوبر کې جهاد یو نوی فاتحانه شکل خپل کړ، مثلا د ورپسې سنبلې په میاشت کې د سرپل کوهستانات ولسوالي فتحه شوه، په روزګان کې سلطان محمد ناوه، په فاریاب کې د استانه بابا، خواجه کتني پراخې سیمې چې هره یوه د ولسوالۍ حیثیت لري فتحه شوې، په بدخشان کې راغستان فتحه شوه او د هلمند د شمالي ولسوالیو د فتوحاتو یو داسې بهیر پیل شو چې له مخې یې نوزاد، سنګین، واشیر او موسی کلا په بشپړ ډول فتحه او په کجکي کې په دښمن دمحاصره کړۍ نوره هم تنګه شوه. د همدې سنبلې

میاشتې په ۲۳ مه د غزني ولایت په زندان برید ترسره شوه، زندان مات او سلګونه مجاهدین ازاد شول. دغه وخت چې د منصور صاحب په ابتکار ځانګړې ضربتي قطعې جوړې شوې وې د دې مهال په ځنځیري فتوحاتو کې یې غوڅ لاس درلود.

د همدې کال ورپسې میاشتې میزان په شپږمه طالبانو د کندز ښار په لومړي ځل فتحه کړ، دا د افغانستان په څوارلس کلن جهادي بهیر کې لومړنی ولایتي مرکز و چې د طالبانو تر واک لاندې راته، د کندز فتحه په شمال ختیځ افغانستان کې د فتوحاتو لړۍ پرانیسته چې ورپسې د د تخار ینګي قلا، د کندز امام صاحب، د بغلان تاله و برفک هم فتحه شوې، په همدې میاشت کې د هیواد په نورو سیمو کې هم ګڼې ولسوالۍ فتحه شوه، لکه د فراه خاک سفید او بالابلوک، د فاریاب خواجه ناموسی او ګرزیوان، د کندهار غورک، د بادغیس غورماچ او دهرات غوریان ولسوالۍ د طالبانو تر واک لاندې راغلې.

په دې ډول د امریکا او د هغوی د اجیرانوپه خلاف روان جهادکاملا نوی شکل غوره کړ، د سیمو د ازادۍ او دولسوالیو د فتحو لړۍ پیل شوه چې تراوسه پورې جریان لري. دغه راز د داعش په شان دبدمرغه فتنې په وړاندې جدي اقدامات وشول او لومړني تهاجمات یې خنثی شول چې په دې ټولو لاسته راوړنو کې د منصور صاحب مخامخ رهبري او مباشرې قوماندې لاس درلود، خو لکه څنګه چې په هر کار کې د ګټې او زیان تناسب برابر وي د منصور دغه علني او مخامخ رهبري که دغه ګټې درلودې ورسره خطرات هم ترلي وو، هغه دا چې دښمن نومورې په ډیر اسانه تعقیبولای او هدف ګرځولای شوای چې بالاخره موږ د همداسې غمیزې شاهدان شوو.

## منصور صاحب له شهادت وړاندې چېرته اوسیده؟

له شهادت نه مخکې شهید منصور صاحب د افغانستان د هلمند او نیمروز تر منځ په یوه کلیوالي سیمه کې له خپلو څو تنو خاصو ملګرو مجاهدینو سره ژوند کاوه. ملا اغاجان چې په همدې مرحله کې څه موده له شهید منصور صاحب سره یو ځای

پاته شوی وایي چې دا مې د ژوند تر ټولو خوږه خاطره وه. ځکه د اسلامي امارت زعیم د خپل وطن په سپیرو کوډلو کې داسې ساده ژوند درلود لکه یو عام دسنګر مجاهد.

په دې سیمه کې نومورې له ۸ کسو مجاهدینو سره اوسیده، دوی د عامو مجاهدینو په شان مسلح ګرځیدل اود سیمې مجاهدینو او عامو خلکو ته یې ځانونه د یوه محلي ډلګی مشر په اندیوالانو معرفي کړي وو تر څو د اوسیدو ځای یې افشا نه شي. د اړتیا په وخت یې شاوخوا نورو سیمو ته هم سفر کاوه.

په دې مرحله کې منصور صاحب د احتیاط په خاطر له عامو مجاهدینو سره مخامخ لیده کاته نه کول. د اړتیا په وخت به کله یوې داسې سیمې ته له خپلو ملګرو سره نږدې شو چې انټرنټ به کار کاوو بیا به یې د ایمیل او واټس آپ له لارې له مسؤلینو سره رابطه کوله او د وظایفو په باره کې یې ورسره سلا مشوره کوله. په دې میشت ځای کې په جهادي او ورځنیو رسمي وظائفو سربیره نومورې ډیر وخت مطالعه کوله او یا به له ملګرو سره په موټر کې ګرځیده او د جهاد او اولس حالت به یې ځان ته معلوماوو.

## له شهادت وړاندې یې د برید خطر احساس کړی و:

د امریکایانو لخوا په وروستیو کې افشاء شوي معلومات ښیي چې منصور صاحب وړاندې له دې چې حمله وربانده وشي د حملې خطر احساس کړی و، نو ځکه یې د ټیلفون په توسط چې امریکایانو څاره له خپلې کورنۍ سره خبرې کړې وې او هغوی ته یې وروستۍ توصیې اورولې وې.

کومه سیمه چې د منصور صاحب موټر په کې د ۱۳۹۵ هـ ش کال د جواز په لومړۍ نیټه ماسپښین مهال هدف وګرځید، احمدوال نومیږي. دا د بلوچستان ایالت سرحدي سیمه ده چې د کندهار له ښوراوک سره نږدې پرته ده. د نیمروز ولایت د اوسیدونکي ملا عبدالله بلوڅ په استناد د برید له سیمې لږ مخکې د لارې د سر د یوه هوټل څښتن خپل دسترګو لیدلی حال داسې بیانوي: په هماغه ورځ ماسپښین مهال د

منصور صاحب دسپارلې موټر د هوټل سره ودرېد، په دې ورځ د معمول خلاف په هوا کې د بنګنو الوتکو غږ و، منصور صاحب چې ما نه پیژاند له مانه یې وپوښتل چې آیا دا الوتکې دلته همیشه ګرځي او که یوازې همدا نن یې غږ اوریدل کیږي. هوټل والا وایي ما ورته وویل نه پخوا مو دلته درداسې الوتکو غږ نه دی اوریدلی. منصور صاحب چې همدې الوتکو تعقیب کړی و، شاید له همدې ځایه پوه شوی وي چې امریکایانو یې پل موندلی، نو ځکه د هوټل والا په قول نومورې د ډوډۍ خوړلو په عوض اودس وکړ، ورپسې یې د ماسپښین لمونځ اداء کړ او بیا په ډیر اوږده لمانځه (غالبا صلاة التسبیح) باندې ودرېد. د موټر ډرایور ورته بیا بیا اوازونه کول چې راځه ناوخته کیږي، خو منصور صاحب په نفلي لمانځه بوخت و، وروسته یې ډیره اوږده دعاءوکړه او بیا یې څو ځله په ټیلفون خبرې وکړې.

منصور صاحب دغه وروستۍ خبرې له خپلو نږدې قریبانو سره کړې وې، هغوی ته یې دخطر په اړه څه نه و ویلي یوازې یې عمومي توصیې ورته کړې وې. شاید منصور صاحب به د برید خطر یقیني نه باله، بلکې احتمالي به یې باله، نو ځکه له لمانځه او دعاګانو وروسته له هوټل څخه وځي او په موټر کې سپریږي چې شیبه وروسته همدا موټر د امریکا د ځانګړې بې پیلوټه الوتکې لخوا هدف وګرځید او نوموړی شهید شو.

د امریکا مشهورې ورځپاڼې واشنګټن پوسټ په دې اړه په خپاره کړیو معلوماتو کې لیکلي چې د منصور صاحب د ویشتلو فرمان د امریکا د ولسمشر اوباما لخوا ورکړل شو چې په افغانستان کې د موجودو امریکایي ځواکونو لخوا عملي شو. واشنګټن پوست وایي امریکایي استخباراتو یوه ورځ وړاندې د مې میاشتې په شلمه نیټه د منصور صاحب څرک لګولی و چې د می په ۲۱ مه هدف وګرځید.

د منصور صاحب ایثار او جرئت که په امنیتي لحاظ د ملاحظې وړ و، مګر په معنوي لحاظ یې دا خبره ثابته کړه چې هغه ته خپل جهادي خدمت تر خپل ژوند ډیر ارزښت درلود، هغه د جهادي خدمت اود کفر په وړاندې دمبارزې په لاره کې هر وړ قربانۍ ته حاضر و، د هغه دا وړ شهادت هغه امتیاز دی چې د دې زمانې ډیر کم

جهادي مشران يې وياړ لري. الله تعالى دې د هغه قرباني قبوله کړي. آمين يا رب العلمين

۲۲\۵\۲۰۱۸

# شخصیت چند بُعدی و ابتکارات جهادی
# شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ

**ابن مبارک احمدزی- نویسنده و تحلیلگر امور جهادی وسیاسی**

شهادت امیرالمؤمنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ آن همه اتهامات و دروغ های شاخدار اداره‌ء طاغوتی را که گویا سران و رهبران امارت اسلامی خودشان در مراکز محفوظ، امن و جاهای دور از خطر مرگ نشسته اند اما فرزندان مردم را به کام مرگ می کشانند از بین برد، شهادت امیرالمؤمنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ اگرچه ظاهراً یک ضایعه‌ء بزرگ برای امت و امارت اسلامی پنداشته می شود، اما حقیقتاً این همانا افتخاریست که بعد از قرن ها اینک امیر ما آن را بدست آورد، چه زیباست که پیشوند «شهید» را کسب کرد.

امیرالمؤمنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ دارای شخصیت کاملاً چند بعدی بود، اوصافی که باید یک رهبر سیاسی در سیاست اسلامی داشته باشد. او همواره در غم امت اسلامی بوده و برای معالجه‌ء رنجها و مشقت های امت بطور خستگی ناپذیر می کوشید، مساعدت با فقراء، بیوه زنان و مظلومین از خصوصیات بارز او شمرده می شد. برای اینکه ملت بتواند به آسانی آراء، نظریات و مشکلات شان را با مجاهدین شریک سازند ادارات و مراکز جداگانه را تأسیس و یا هم جدیداً بگونه‌ء نوین ایجاد کرد.

فراست و درایت سیاسی اش به حدی بود که توانست، خبر وفات امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ را (با در نظر داشت ملاحظات شرعی) از استخبارات

جهان چون سیا، ام آی سیکس و امثالهم پنهان نگه داشت. بعد از نشر خبر وفات امیرالمؤمنین ائتلاف صلیبی میلیون ها دلار را مصرف ساختند تا باشد معلومات بیشتری کسب کنند، اما از آن عاجز شدند و هیچ سرنخی از محل دفن و یا هم خاکسپاری او بدست نیاوردند.

هنگامیکه خبر وفات امیرالمؤمنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ رسماً نشر شد همه سراسیمه شدند، دشمنان فکر کردند گویا (خدا نخواسته) امارت اسلامی دیگر آن امارت سابقه نیست و مجاهدین هم در حد کثیر چنین برداشت داشتند که آیا قیادت امارت اسلامی با همان کیفیت و کمیت باقی خواهد ماند (در واقع هرکس باشد چنین تصور خواهد نمود زیرا امارت اسلامی از بدو تأسیس خود با چنین حالت اصلاً روبرو نشده بود)، اما مدیریت مدبرانه و سیاست طاغوت ستیزانهء شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ بود که جهان بر آن انگشت بر دهان نهاد.

منصور دیگر با ما نیست، او شهید شده است، اما از آن جاییکه الله عز و جل فرموده است که شهید را مرده خطاب نکنید، در حقیقت او زنده است، ما این حقیقت را با چشم سر مان مشاهده میکنیم، جسد سوخته سوخته و وجود پارچه پارچه شدهء او در واقع مسیر امارت اسلامی را از نقطه نظر قیادت تعیین می کند.

هر کس نمی تواند رهبر شود و رهبر بماند، رهبریت و آن هم در نظام اسلامی و در سرزمین اسلامی به فهم و درک کاملاً خردمندانه و منور با بصیرت اسلامی نیاز دارد. رهبر کسی شده می تواند که پایه های مستحکم شرک و طاغوت از فعالیت ها و تحرکاتش به لرزه در آید، الحمد لله که رهبر ما با همین اوصاف آراسته بود و این افتخاریست که هر کسی نمی تواند از آن مستفید شود.

## شهید امیرالمؤمنین و تعهدات اش نسبت به ملت/امت

بر همه آشکار است که هدف از قیام، مبارزه و همه جدوجهدهای رهبران امارت اسلامی همانا آسایش و رفاه مردم است در محیط کاملاً شرعی، اما وقتی در اینجا

مسأله اشغال آمریکایی مطرح می شود دیده شد که مردم با موجی از مشکلات و مشقت های دشوار روبرو شدند و ملت در یک نبرد کاملاً بزرگ دخیل ساخته شد، شهید ملا اختر محمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ با درایت و بینش سیاسی که داشت برای نجات ملت خود از چنگ اشغال آمریکایی دست به اقداماتی زد که می توان آن را به خط طلایی نوشت و این نشان دهندهء اخلاص، ترحم، شفقت و محبت او به مردم و ملت است.

## جلوگیری از تلفات ملکی و کشته شدن افراد بیگناه:

امیرالمؤمنین رَحِمَهُ ٱللَّهُ هنگامیکه نائب امارت اسلامی بود تا اینکه امیر آن شد؛ با وجود آنکه ملت مجاهد افغانستان با دشمن تا به دندان مسلح و وحشی روبرو بود و عساکر ۴۹ کشور اشغالگر جهان در اینجا حضور داشتند، انبوهی از مشکلات بر سر شانه های امیرالمؤمنین قرار داشت، از نظر تمویل، تجهیز و امکانات جنگی با فقر و مشکلات دست و پنجه نرم میکرد، اما با آن هم از روی عاطفه و مسؤولیتی که داشت در چنین حالتی نیز در غم مال و جان افراد ملکی و جلوگیری از تلف شدن آنها بود.

بخاطریکه در نبرد، جان و مال مردم حفظ شود یک ادارهء با صلاحیت و مخصوص را ایجاد کرد و برایش طرز العمل ساخت و تا عملی شدنش از آنرا نظارت جدی نمود. الحمد لله نتیجه همین تدبیر بود که تلفات افراد ملکی از جاییکه مسؤولیت مجاهدین دانسته میشود به ٦٠٪ کاهش یافت و اینک اکنون نیز میکانیزم شهید منصور در حال عملی شدن است.

## شنیدن شکایات مردم و رفتار با آنها:

جنگ پدیدهء است که طبعاً انسان در آن دل سخت و فعالیت جدی را اختیار میکند. مجاهدین نیز از این امر مستثنی نبوده و از همین جهت بود که نشود خدای ناخواسته افراد امارت اسلامی با استفاده از نام و نشان مجاهد و در لباس مجاهد

مردم را آزار و اذیت کنند یک ادارهء مستقل را بنام (سمع شکایات) تأسیس کرد تا باشد از این طریق صدای هر کس به گوش مسؤولین برسد و کسی آزرده نشود.

شنیدن شکایات مردم و اهمیت دادن به آن از خصوصیات رهبران و امیران اسلامی بشمار میرود. رهبرانی که در طول تاریخ در این عرصه اقدامات لازم برداشته اند به نام نیک از آنها یاد شده است، شهید منصور نیز این صفت را داشت، مشکلات مردم را میشنید و خود برای رفع آن دست بکار میشد. مجاهدین ماتحت امرش را همواره توصیه مینمود تا به مردم رویهء نیک و اخلاق پسندیده برقرار سازند تا از این طریق جهاد مجاهدین در متن مردم ریشه های ژرف بدواند.

## توجه به تعلیم و بهداشت (صحت:

جنگ حالتی است که نمی توان بسیاری از کارهای معمول در زنده گی را در آن عملی نمود. اما منصور شهید نظر به محبت و اخلاصِ که نسبت به مردم داشت در زمینهء تعلیم و تعلم توجه خاص نمود. برای فرزندان این سرزمین فضای تعلیمی را مساعد نمود. یک کمیسیون با صلاحیت را برای تعلیم و تربیه اختصاص داد، تا حد توان امکانات برابیش فراهم ساخت. با مکاتب، مدارس و دانشگاهای کشور ارتباطات مجاهدین را برقرار ساخت، در ساحات جنگی و جنگزده نیز شرایط کسب تعلیم را برای اطفال کشور فراهم ساخت. مجاهدین را از نبرد در نزدیکی پوهنتون، مدرسه و مکتب منع کرد. پروگرام های تشویقی را برای فرزندان رشید این سرزمین برپا کرد و حتا پرسونل دشمن را که برای معارف کار میکند از هر نوع تعرض و حمله مستثنی دانست.

در بخش بهداشت (صحت) باید گفت که: همه میدانیم که کشور مان متشکل از یک ملت فقیر و ناچار است، در مناطق اطرافی برعلاوهء سهولت های دیگر در بخش صحت نیز مشکلات فراوان را تجربه میکنند. شهید منصور برای از بین بردن این چالش گام های اساسی برداشت؛ در جاییکه کلینیک و شفاخانه ها وجود داشت و ساحه توسط مجاهدین اداره میشد، به مجاهدین امر کرد که باید ادارات یاد شده

کاملاً محفوظ باشند و شما مکلف اید تا از آن حفاظت کنید. اگر سرپرستی کامل ان از توان مجاهدین بالاست باید مؤسسات خیریهء جهانی را جلب کنید. امنیت را برایش تأمین ساخته و به آنها اطمینان دهید که شما در امان استید و باید خدمات صحی را برای مردم داغدیده و رنجدیدهء این سرزمین تقدیم کنید. اکنون صدها باب کلینیک و شفاخانه ها در مناطق تحت کنترول مجاهدین فعال اند و خدمات عرضه میکنند.

بر علاوهء ان در بعضی از مناطق، شفاخانه هاییکه تخریب شده بودند و یا ضرورت به باسازی داشتند آنها را بگونه معیاری دوباره ترمیم ساخت تا مردم بتواند در حین مشکلات از مزایای آن مستفید شوند.

## ارائهء خدمات به مردم در بخش قضاء:

جنگ پدیدهء است که میتواند جلو بسیاری از کار های خیریه را بگیرد و میتواند حل منازعات مردم را به چالش بکشد. اما شهید منصور از روی مسؤولیت و همچنان محبت خویش که با مردم و ملت خود داشت همواره سعی کرده است تا برای آنها خیلی از سهولت ها را فراهم سازد. با وجودیکه جانب مقابل دونر های خارجی و امکانات بیش از حد دارد دست به رشوت، ظلم، بی عدالتی و استبداد میزنند و ازینرو پایه های قضایی شانرا استوار نگه داشته اند.

شهید منصور صاحب، به تمام ساحات تحت کنترول مجاهدین که در آنجا قضاء ممکن بود؛ بخش قضایی امارت اسلامی را در آنجا فعال ساخت. محاکم ابتداییه – مرافعه و تمیز را در آنجا ایجاد کرد و مجاهدین را مأمور ساخت تا در جریان قضاوت میان مردم کاملاً محتاط بوده و از اساسات حقیقی اسلامی استفاده کنند. الحمد لله که مجاهدین دست آورد های قابل لمس را در زمینه داشته و دارند. همه روزه صدها قضیهء شخصی و منازعات حقوقی به محاکم امارت اسلامی میرسد که دشمن به مثبت بودن و شفافیت آن اعتراف نموده است. رسانه ها راپورتاژ در باره ساخته اند و به سطح والی در ادارهء کابل به صراحت اعتراف نموده است که؛ محاکم طالبان در

مقایسه با محاکم دولتی شفافتر اند، ازینرو بیشتر مردم قضایای خود را در آنجا برده و حل میسازند.

در واقع، زندگی شهید امیرالمؤمنین ملااختر محمد منصور رَحِمَهُ ٱللَّهُ، خدمات سیاسی و جهادی اش فصل زرین در فصل های تاریخ ما بشمار می رود، پرداختن و تفسیر این فصل، مأموریت و مسؤولیت مجاهدین قلم بدست، شعراء و نویسنده گان نخبهء اسلامی است.

## ابتکارات سیاسی و جهادی امیرالمؤمنینِ شهید:

الله عز و جل امیرالمؤمنینِ شهید رَحِمَهُ ٱللَّهُ را فراست و درایت کاملاً سیاسی اعطاء نموده بود. هنگامیکه کابل بدست مجاهدین فتح شد، بعد از صدور یک فرمان از طرف امیرالمؤمنین (رحمه الله) بحیث وزیر توریزم و قومندان اعلی قوای هوایی تعیین شد. از اینکه او یک شخص کاملاً صادق و مخلص بود تا پایان از وزارت نامبرده به اداره یا وزارت دیگری تبدیل نشده بود، از ابتکارات وی می توان همین استقامت و پابرجایی او را قلمداد نمود، یکی از دلایلی که امیرالمؤمنین شهید را تا پایان در پُست وزارت نگه داشت تقوا و پرهیزگاری او بود، زیرا در نظام شفاف امارت اسلامی تقریبا دشوار است که یک منصب را کسی تا پایان حفظ بکند جز به تقوا و ایمان مستحکم.

آمریکا افغانستان را اشغال کرد و امارت اسلامی مجبور به عقب نشینی شد، امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رَحِمَهُ ٱللَّهُ امر جهاد و مقاومت را صادر کرد، هنگامیکه صفوف امارت اسلامی جدیداً منظم می شد شهید منصور بحیث والی ولایت قندهار (زون جنوب) و عضو شورای رهبری امارت اسلامی تعیین شد، همه می دانیم که ولایت قندهار چقدر برای اشغالگران مهم بود و در موقعیت جغرافیایی افغانستان نقش مهم و بارز را همواره در طول تاریخ داشته است، یکی از ولایات استراتیژیک در زون جنوب افغانستان بوده و حیثیت آن برای آمریکایی ها بسا مهم بوده است، پس در چنین شرایط و چنین ولایت، مقام ولایت را بدست آوردن و سپس

امور جهادی را به وجه احسن آن انجام دادن واقعاً دشوار اما به نصرت پروردگار و تدبیر همه جانبهء منصور شهید خیلی ها خوب سپری شد.

منصورِ شهید در وقت بسیار کم صفوف جهاد را بر ضد اشغالگران آمریکایی و کانادایی کاملاً منظم ساخت. او ضربات کوبندهء بر تنهء آنها وارد ساخت و بر علاوه در شورای رهبری امارت اسلامی نیز یکتن از اعضای فعال آن شمرده می شد.

وقتیکه نائب امارت اسلامی ملا عبیدالله آخند رَحِمَهُ ٱللَّهُ اسیر شد، مشر ملا صاحب بجای او منصور شهید را بحیث نائب امارت اسلامی تعیین نمود، تا با ملا عبدالغنی برادر یکجا بزرگترین مقاومت را بر ضد صلیبیون رهبری نماید، منصور شهید با صداقت و تعهد که داشت محبوبیت زیاد در بین مجاهدین بدست آورد و از باور کامل برخوردار شد. اما وقتیکه ملا برادر نیز اسیر شد مشر ملا صاحب نظر به لزوم دید و حساسیت های سیاسی و یا هر ملحوظ که بود کسی دیگری را نائب مقرر نکرد و فقط امیرالمؤمنین شهید نائب باقی ماند.

به نصرت پروردگار امیرالمؤمنین رسالت خویش را کاملاً به وجه احسن انجام داد، در سطح کشور صفوف مجاهدین را محکم تر و قویتر از سابق ساخت، برای هر ولسوالی و ولایت افغانستان مجاهدین و مسؤولین را استخدام نموده و هیچ ناحیهء از سرزمین مان نماند که مسؤول نداشته باشد.

از ابتکارت سیاسی اش یکی این بود که تا اخیر توانست با بکار بردن رهبریت مدبرانهء خویش صفوف امارت اسلامی را از هر نوع انشعاب و شکست نجات دهد، زیرا او همه رهبران و مسؤولان امارت اسلامی را با اخلاص و حسن نیت خود متیقن ساخته بود. که هدف من فقط رضای الله عز و جل است و بس، برای کسب هیچ امتیاز مادی و دنیاوی تلاش نمی کنم و نخواهم کرد.

آری!

منصور صاحب انسان مبتکر بود، در هنگام نیابت خود هستهء مرکزی امارت اسلامی را درست کرد و برای تمام امور کلیدی نظام، کمیسیون ها و ادارات با صلاحیت ایجاد کرد. و سپس برای تماماً آنها ضوابط و لوایح درست کرد، خصوصاً کمیسیون های که خیلی ها مهم اند؛ چون کمیسیون امور نظامی، کمیسیون محاکم، کمیسیون تعلیم و تربیه، کمیسیون امور فرهنگی. کمیسیون امور سیاسی، کمیسیون بهداشت، کمیسیون امور اقتصادی و امور مالی توجه فوق العاده به خرچ داد تا باشد در کارهای آن تعطیل و تأخیر رخ ندهد.

برای والی صاحبان ولایات سلسلهء دروس شرعی و تدریس آن را آغاز کرد تا باشد فهم و درک اسلامی آنها فزونی یابد و همچنان از نقطه نظر اخلاقی، صفوف مجاهدین اصلاح شوند. همیشه تأکید می کرد برای اهدافی که مجاهدین خون سرخ شان را می ریزانند باید متعهد بود، در رابطه به حفاظت و تعقیب همان اهداف مسؤولین را باید متوجه سازیم.

یکی دیگر از کارنامه هایش این بود که توانست همسایه ها و در کل، نظر به ملحوظات سیاسی؛ کشورهای منطقه را قانع سازد که امارت اسلامی برای همسایه های خویش خطر نبوده و کاری با آنها ندارد.

تداوم جنگ و مبارزه در یک وقت با تمام جهان کار دشوار و حتی نا ممکن است، اگر ممکن باشد پس به مغز متفکر، عزم، فکر استراتیژیک و تعهد بر قربانی نیاز دارد، به شعار های خالی و بانگ زدن های بی معنی نمی توان بجای رسید، مبارز باید حجم قوت و استعداد نظامی دشمن خود را تشخیص دهد و بعداً به همان اندازه آماده گی خود را در مقابل اتخاذ کند، که خوشبختانه این همه صفات را امیرالمؤمنین شهید داشت و از همین رو باب فتوحات نوین در حین قیادت اش تندتر و سریعتر شد.

از ظرفیت و دقت استخباراتی اش میتوان یک مثال زد و آن اینکه توانست خبر وفات أمیرالمؤمنین را از چشم استخبارات تمام جهان پنهان کند، در طول این مدت

کسی اصلاً باور نمی کرد که گویا مشر ملا صاحب وفات نموده باشد، این بینش سیاسی و استخباراتی رهبر شهید بود که جهان را متعجب ساخت و متحیر کرد.

هنگامیکه نشست چهارجانبهء پیرامون صلح و مذاکرات به میزبانی کشور چین در حال دایر شدن بود، امیرالمؤمنین شهید با استفاده از تجارب سیاسی خویش توانست چین را وادار سازد تا از میزبانی این نشست بپرهیزد که کاملاً چنین شد و چین از میزبانی این نشست منصرف شد، اما چه زود! امیرالمؤمنین را شهید ساختند...

یک عالِم می گفت: ما به أمیرالمؤمنین شهید در بین توصیه هایی خود گفتیم که مسؤولیت دشواری را بدوش گرفتی، اما متوجه باشی که به شایعات و آوازه های مذاکرات ادارهء کابل فریب نخوری و مجبورت نکنند، او در پاسخ به ما گفت: حاضرم توته توته شوم اما به این ذلت تن نخواهم داد.

وجود سوخته و جسد تکه تکه شدهء امیرالمؤمنین شهید همچون خورشید یک دلیل واضح بر حقانیت این صف است.

پایان

۲۲\۵\۲۰۱۸

## کاش چې شهید رهبر خو مې یو ځل لیدلی وی!

**لیک: احمد منصور**

دوه کاله دمخه منصور صیب د افغانستان او پاکسان ګډې پولې ته څېرمه د وحشي امریکایانو لخوا د ډرون طیارې په واسطه په نښه او شهید کړی شو، کله چې د نوموړي د شهادت خبر په همغې ورځ په ټوله نړۍ کې لکه د طوفان په څېر خپور شو

آن اوباما هم د دې خبر تصديق وکړ او ويې ويل چې منصور صيب مو ځکه په نښه کړو چې زمونږلپاره په نظامي ډګراو پوځي کچه سخت دريځه انسان و، اود سولې مخالف و.

اوس پوښتنه دا مطرح کېږي چې آيا منصور صيب رښتيا هم د سولې مخالف وه؟

خو نه! هيڅکله هم نه، منصور صيب د سپېڅلې سولې د را وستولو لپاره شپه او ورځ په ځان يوه کړې وه، هغه د سپېڅلې سولې په لټون کې و، هغه تش په خوله د سولې چيغې بدرګه کولو څخه بد منل، او د رښتونې سولې په تلاش کې و. هو! هغه سولې ته د قدر په نظر کتل خو له هغې سولې يې بد منل چې د تسليمۍ بوی تړې راتلو، لنډه دا چې منصور صيب د سولې تړې او وړې و، د سپېڅلې سولې د راوستو لپاره ستر مبارز و، او په سپېڅلې سولې مين انسان و.

منصور صيب زيات سخت دريځه هم نه و، خو طاغوطيانو ته ځکه سخت دريځی ښکارېده چې په خپل دين (اسلام) د کلکو منګولو لګولو خاوند و، د هغه – رَحِمَهُ ٱللَّهُ – له خپل دين سره د بې کچې مينې له امله نړيوالو ته سخت دريځه ښکارېده، هغه رَحِمَهُ ٱللَّهُ د خپلو اسلافو په نقش و قدم روان و. منصور صيب سياست شريعت ته تابع کړی و، نه لکه د اوسني اسلامي ممالکو مشران چې شريعت يې سياست ته تابع کړی.

منصور صيب نه يوازې ديني عالم، بلکې يو ستر سياستدان و، د يوه امير په توګه يې دا غوره بلله چې د نړيوالو خوصوصا ګاونډيو ممالکو سره سياسي اړيکې ولري. د ذبيح الله مجاهد صيب په قول منصور صيب د خپلې مشرۍ په دوران کې د ګاونډيو ملکونو په شمول له يو شمېر نورو ممالکو سره هم سياسي اړيکې درلودلې او سفرونه يې دغو ممالکو ته کړي.

که څوک وايي چې د دغو اړيکو فايده څه وه؟!

دا چې د هيواد اکثريت خلکو طالبانو ته د قدر په نظر کتل او ورته ګوري هم، او حمايت يې کړی او لا يې په خدمت بوخت دي، او هغه وخت کې چې منصور صيب

ژوندی و د دښمن د یو شمیر چارواکو په اعتراف چې طالبان د هیواد په ۷۰سلنه خاوره واکمن دي، نو طالبانو هم د افغانانو د نماینده حکومت په څېر غوښتل چې نړیوالو سره سیاسي اړیکې ولري چې هم هغسې وشول، او دا نن ترکیه، روسیه، ایران، قطر، او یو شمېر نور ممالک طالبانو ته د سیاسي او پیاوړي ځواک په توګه ګوري.

ګرانه رهبره! همدا ته وې چې د ملا صیب په غیر موجودګی کې مو د امارت ټولې چارې په احسنه طریقه ترسره کړې!. هو ګرانه امیره! همدا تاسو وئ چې طالبان مو نړیوالو ته د یو سیاسي ځواک په حیث ور وپېژندل.

ګرانه رهبره! رښتیا هم منصور وې او په منصوري مینه ټوټې ټوټې شوې، سوزېدلی وجود مو خپل رب ته یوړ او هغه خبره دې ثابته کړه چې یو شیخ صیب ته دې کړې وه «شیخ صیب که مې ځان د فدایانو په څېر ټوټه ټوټه نه کړو نوزه به د فدایانو امیر نه یم».

شهیده رهبره! کاش چې یو ځل مې لیدلی وای، یو ځل مې سترګې ستا په لیدلو یخې شوې وای. ګرانه څاروانه! ستا لیدو ته ډېر مسلمانان تږي ناست وو، الله ﷻ ته یې لاسونه لپه کړي وو او داسې دعاوې یې له ربه غوښتلې:

ای الله! رب العزته! هغه شخصیت خو مو ونه کوت چا چې په خپل یو عرب ورور غیرت وکړ او خپله بادشاهی یې ترې قربان کړه، یا الله! د هغه ځای ناستی خو را باندې وګوره کوم چې نن د عربو او عجمو د سترګو تور دی، خو د دغو مسلمانانو زما په شمول دغه آرمانونه هم له خاورو سره خاورې شول، خو ای په امیرالمؤمنین پسې غمژنو مسلمانانو! مه خپه کېږئ ان شاءالله چې له ملا صیب او منصور صیب سره به په جنت کې ملاقات وکړو خیر که په دې دنیا مو سترګې د هغوی په لیدلو یخې نه شوې.

دښمنان دې هم په خلاصو غوږونو واوري، چې د منصور صیب وینه دومره ارزانه نه ده ان شاء الله چې دا پاکه وینه به ضرور رنګ راوړي او له هر څاڅکي څخه به په زرګونه منصوریان پیدا کېږي.

د یو سوچه اسلامي نظام په هیله،

۲۳\۵\۲۰۱۸

## دررثای منصور!

راشد_مبارز

تـو مـاه پرنـور جهـاد تـو آفتـاب انـوری!
در آسـمان عشـق مـن تـو آن یگانـه اخـتری!
در انتظـار مقـدمت گذشـته سـالیان سـال
چشـم ودل جهانیـان ندیـده چـون تـو رهـبری!
لـرزه بـر انـدام عـدو ز اسـم تـو فتـاده بـود
زاده نشـد در ایـن زمـان شـبیه تـو دلاوری!
شکسـته ای جهـان کفـر تـو ای امیـر غازیـان
ز نسـل خالـدی یقـین، تـو یادگـار بـوذری!
موسـی قـرن مـا بُـدی ز بهـر فرعـون زمـان
تیـغ برهنـه ی خـدا بـر سر قـوم سـامری!
نـاصر دیـن حـق شـدی بـا همـه وجـود خـود
مـن بـه فـدای غیرتـت، تـو ام یگانـه رهـبری!
در ره عـز دیـن حـق سر بـه نمـوده ای فـدا
جسـم وتـن نـازک تـو گشـته کبـاب و اخگـری!

**بـه نـار نمـرود زمـان برشـته گشـتی ای امیـر**
**چه سان نگویمـت کـه تـو خلیـل دور حـاضری!**
**صـداقت وشـجاعتت زبـان زد یـار و رقیـب**
**نگفتـه هرگـز بـد تـو بجـز دوسـه کـور وکـری!**
**چـودل شـود بـه یـاد تـو ز بهـر سرکـوب سـتم**
**دیـده شـود کاسـه خـون نیابمـت چـون اثـری!**
**بهشـت عـدن حـق بـود مسـکن و منزلگـه تـو**
**نشسـته در حـریم تـو جماعـت حـور و پـری!**
**ز بهـر یـاد بـود تـو نوشـته راشـد ایـن بیـان**
**بـه مـدح خوبـان خـدا نمـوده رو بـه شـاعری!**
**در آسـمان عشـق مـن تـو آن یگانـه اخـتری!**
**چشـم ودل جهانیـان ندیـده چـون تـو رهـبری!**

**این شعر را به مناسبت دومین سالگرد شهادت امیر المؤمنین وقائد المجاهدین ملا اختر محمد منصور زعیم فقید امارت اسلامی افغانستان سروده ام**

**۲۲\۵\۲۰۱۸**